Afghan Salar Library

# شتمن پلار

## نېستمن پلار

لیکوال: رابرټ کیوساکي
ژباړه: میراحمد یاد



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

# شتمن پلار نیستمن پلار

لیکوال: رابرټ کیوساکي

ژباړه: میراحمد یاد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# شتمن پلار نېستمن پلار

ليکوال: رابرټ کيوساکي
ژباړه: مير احمد ياد
بيا کتنه: صفي الله ناصري
ډيزاين چارې: حسيب الرحمن ساحل
خپرندوی: اکسوس کتابپلورنځی
چاپځی: وايګل چاپ
چاپ کال: ۱۳۹۷ / ۲۰۱۸
ISBN: 978-9936-626-72-0

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی

کابل، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0202 504 652, 0798 98 96 96
aksosbookstore@gmail.com
aksosbookstore.af
aksos book store
aksosbookstore

ددې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لیکلړ

سريزه ........................ ۵

شتمن پلار او نېستمن پلار ........................ ۵

د رابرټ فراسټ درس ........................ ۱۶

لومړی څپرکی

شتمن پیسو لپاره کار نه کوي ........................ ۲۰

شراکت پیل شو ........................ ۲۲

درسونه پیل شول ........................ ۳۲

۳۰ سېنټه وروسته ........................ ۳۸

د شنبې په ورځ، لیکه کې په تمه ........................ ۴۱

لومړی درس: شتمن پیسو لپاره کار نه کوي ........................ ۶۳

د ژوند له یوه لوی دامه ځان ژغورل ........................ ۶۵

دویم څپرکی

مالي نبوغ ولې مهم دی؟ ........................ ۹۸

د مالي خوب هڅو، خنګه وپروونکی خوب وزېږاوه ........................ ۱۲۲

شتمن پلار ولې شتمنېږي؟ ........................ ۱۴۲

د منځنی طبقې خلک ولې مالي ستونزې لري؟ ........................ ۱۴۳

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## دریم څپرکی

خپل کار کوئ ........................................ ۱۵٤

## څلورم څپرکی

د مالیاتو تاریخ او د سوداګریزو ادارو قوت ........................ ۱۷۰

## پنځم څپرکی

شتمن پیسې جوړوي ........................................ ۱۹٤

## شپږم څپرکی

کار زده کړې ته وکړئ، پیسو ته یې مه کوئ ........................ ۲٤۳

## اووم څپرکی

خنډونه لرې کول ........................................ ۲۷۳

## اتم څپرکی

پیلول ........................................ ۳۱۲
۳) په خپلو زده کړو پانګوونه وکړئ ........................ ۳۲۱

## نهم څپرکی

بس نه دي؟: نبه دا هم وکړئ ........................ ۳٦۳
وروستۍ خبرې ........................................ ۳۷۳
پیل یې کړئ! ........................................ ۳۸۰
د لیکوال په اړه ........................................ ۳۸۲

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سریزه

## شتمن پلار او نېستمن پلار

زما دوه پلرونــه وو، یــو شــتمن و او بــل نېســتمن (غریــب) و.

یــوه ښــې زده‌کــړې کــړې وې، تکــړه و، دوکتــورا یــې لرلــه او د درســونو څلــور کلنــه دوره یــې پــه دوو کلونــو کــې پــای تــه ورســوله. دې پســې بیــا د شــیکاګو (ســټنفورډ) پوهنتــون او نــورټ ویســټرن پوهنتــون تــه لاړ چــې خپلــې لــوړې زده‌کــړې بشــپړې کــړي او پــه دې ټولــه دوره کــې ورتــه وړیــا بورســونه ورکــول کېــدل، خــو بــل پــلار مــې اتــم ټــولګی هــم نــه و ختــم کړی.

دواړه پــه خپلــو ډګرونــو کــې تکــړه او زیارکښــه خلــک وو او ښــه عایــد یــې درلــود، خــو دواړو کــې یــوه پیســو پســې منــډې تــړلې وهلــې او بــل د اوهــایو شــتمن ســړی شــو، یــو چــې مــړ شــو خپلــې کــورنۍ تــه یــې پرېمانــه پیســې پرېښــودې او بــل چــې مړ کېده، په څان پسې یې پوروړنه پرېښودل.

دواړه تکــړه، اغېزنــاک او کارزماتیــک(منلي) شخصــیتونه وو، دواړو ماتــه نصیحتونه کــول، خــو د یــوه خــبرې بــل تــه ورتــه نــه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وي. دواړه د لـوړو زده کـړو پلويـان وو، خـو دواړو راتـه يـو ډول درسونه او سبقونه ونه ښودل.

که ما يـو پـلار درلـودی د هغـه خـبره بـه مـې يـا منلـی او يـا رد کـړې وی، خـو دوو پلرونـو راتـه دا وړتيـا راکـړه چـې د دوی پـه دوو تـوپير لرونکـو نظريـاتو کـې يـو وټـاکم او يـوه لاره ونيسـم، يو پلار مې شتمن او بل نېستمن و.

خـو مـا پـه پټـو سـترګو يـوه خـبره ونـه منلـه، مـا بايـد دواړه وينـاوې سره ليـدلی، پرتلـه کـړی او تللـی وی او بيـا مـې لـه خپـل فکـر وروسـته يـوه لاره ځانتـه ټـاکلې وی. سـتونزه دا وه چـې زمـا شـتمن پـلار لا پـوره شـتمن شـوی او نېسـتمن پـلار مـې لا پـوره نېسـتمن شـوی نـه و. ځکـه دواړو کارونـه نـوي پيـل کـړي وو او دواړه د پيسـو او کـورنی پـه کشـمکش کـې وو، خـو د پيسو په اړه د دواړو ليدلوري او نظريات سره جلا وو.

مـثلاً يـوه بـه ويـل چـې: (د پيسـو مينـه يـا شـوق د ټولـو بـديو مـور ده) بـل بـه ويـل چـې: (د پيسـو نشـتون د ټولـو بـديو مـور ده.)

زمـا پـه سر د دوو قـاطعو او قـوي پلرونـو سـيوری و او دا حالـت راته د يـوه ځـوان پـه توګـه لـږ سـخت و. مـا غوښـتل چـې د يـوه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



منـونکي زوی پـه څېـر خـبره ومـنم، خـو سـتونزه دا وه چـې د پیسـو پـه اړه د یـوه نظـر یـو څـه او د بـل، بـل څـه و. دې کـار زه پلټنې ته اړ کړم او د خبرو په اړه به مې ژور فکر کاوه.

زیـاتره وخـت بـه چـې یـوازې شـوم، وخـت بـه مـې لـه ځانـه پـه دې پوښـتنو تېـراوه چـې (ده راتـه ولـې داسـې وویـل؟) او بیـا بـه مـې همـدا خـبره د بـل پـلار د خـبرې پـه اړه هـم کولـه. مـا کـولای شـول چـې اسـانه تاکنـه وکـړم او ووایـم چـې (هـو! دا سمه خـبره کـوي، زه یـې ورسره مـنم) یـا بـل نظـر رد کـړم چـې: (نـه، دا نـور زوړ شـوی دی او پـه موضـوع یـې سـم سر نـه خلاصـېږي.) خـو دا چـې زمـا پلرونـه دوه وو او دواړه راتـه گـران وو، نـو زه یـې مجبـور کـړم چـې ځانتـه خپلـه یـوه لاره پیدا کـړم. اخـر دا د فکـر کولـو عـادت زمـا ژونـد تـه راغـی او بیـا مې په ژونـد کـې لـه فکـر او پلټنـې پرتـه هـېڅ پرېکـړه ونـه کـړه. خپلـې تـاکنې یـا انتخـاب تـه وخـت ورکـول او پـه اړه یـې فکـر کولـو راتـه خپلـه تاکنـه ډېـره ارزښـتمنه کولـه، د هغـې پـه پرتلـه چې په اسانه یوه خبره ومنم یا یې رد کړم.

د شـتمنو د شـتمن کېـدو، د نېسـتمنو د نېسـتمن کېـدو او د منځنـی طبقـې پـه پـور کـې ډوبېـدو یـو لامـل دا دی چـې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پیسو درس د ښوونځیو پر ځای کورونو کې ورکول کېږي.
د پیسو په اړه موږ زیاتره شیان له خپل مور و پلار زده کوو؛ نو نېستمن مور و پلار خپلو بچو ته د پیسو په اړه څه معلومات ورکولای شي؟ دوی یوازې دومره وایي: (ښوونځي ته لاړ شه او په درسونو کې ښه خواري وکړه).
بچې ښایي په ښو نومرو فارغ شي، خو د پیسو په اړه یې ښایي تفکر او ذهنیت بیخي کمزوری وي.
البته د پیسو مضمون په ښوونځیو کې نه تدریسېږي، د پوهنتون موضوعات بیا د مالي مهارتونو پر ځای په مسلکي مهارتونو ډېر ټینګار کوي، په دې خاطر د مالي مضامینو په برخه کې د محصلینو معلومات لږ او مهارتونه ټیټ وي، همدا لامل دی چې بانکوالان، ډاکټران او حسابداران سره له دې چې په پوهنتونو کې ښې نومرې اخلي، خو د پیسو په اړه یې معلومات بیا نیمګړي وي، همدا خلک بیا په مالي ستونزو کې ښکېل وي او ټول ژوند یې هم دې ستونزې سره مل تېرېږي.
زموږ په هېواد کې د لویو پورونو مسئول همدا سیاستوال او حکومتي چارواکي دي، دوی لوړې زده کړې کړې وي،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د هېـواد پـه اړه لـويې پرېکـړې کـوي، خـو د پيسـو پـه اړه يـې معلومات نيمګړي وي.

زه اوس پـه دې فکـر يـم چـې هغـه وخـت بـه څـه کېـږي چـې ميليونونـه خلـک بـه مـالي او روغتيـايي مرسـتو تـه اړ شي؟ دوی بـه دې مـالي او روغتيـايي مرسـتو لپـاره حکومـت او خپلو کورنيـو تـه اړ وي. هغـه وخـت بـه څـه کېـږي چـې د مـالي تـامين او روغتيـايي مرسـتو لپـاره شـته پيسـې ختمـې شي؟ هغـه ملـت بـه اخـر څـه کـوي چـې د ځوانـانو د پيسـو او مـالي مسايلو زده کړه يې د ښوونځي په دوره کې نه وي شوې؟ ...

مـا دوه پلرونـه لـرل، دواړه اغېزناکـه خلـک وو، لـه دواړو مـې ډېـر څـه زده کـړل او بيـا زه مجبـور شـوم چـې د هغـوی د وينـاوو پـه اړه فکـر وکـړم او د ژونـد پـه اړه د دواړو پـه ژورو ليـدلورو ځـان پـوه کـړم. مـثلاً يـوه بـه يـې تـل ويـل چـې: (زه دا شـی نشـم لـرلای) بـل يـې بيـا زه لـه دې خبـرې منـع کـولم او ددې پـر ځـای بـه يـې پـه دې وينـا ټينګـار کـاوه چـې: (زه دا شـی څنګـه لـرلای شـم؟) لـومړۍ جملـه وينـا ده او دويمـه پوښـتنه، يـوه قناعـت درکـوي او لـه مسـئوليته مـو بېغمـه کـوي، خـو دويمـه مـو بيـا فکـر او فعاليـت تـه اړبـاسي. کـوم پـلار مـې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې په مخ په شتمنېدو و، راته به يې ويل: که و دې ويل چې دا کار نشم کولای يا دا شی نشم لرلای؛ نو دا خبرې مو ذهني فعاليت په ټپه دروي، خو که دا پوښتنه دې وکړه چې دا کار څنګه کولای يا دا شی څنګه لرلای شم؟ نو دا ستاسو ماغزه فعاليت ته اړباسي. هغه دا نه ويل چې ستاسې زړه څه غواړي هغه واخلئ، خو د مغزو په فعاليت او له دې په کار اخيستو يې ډېر کلک باور درلود، ماغزه يانې په نړۍ کې تر ټولو قوي کمپيوټر. هغه به ويل: (زه د ماغزو تمرين کوم، ماغزه مې هره ورځ قوي کېږي او څومره مې چې ماغزه قوي کېږي، هومره به ډېرې پيسې راته ګټي).

هغه په دې باور و چې (زه يې نشم لرلای) جمله، اصلاً د ذهني لټۍ نښه ده.

دواړو ډېر زيار ويسته، خو د پيسو خبره به چې راغله يوه به ترې ځان بېغمه کړ او خپل ماغزه به يې ارام کړل، خو بل به له خپلو ماغزو کار اخيسته. پايله دا شوه چې اخره کې يو شتمن کېده او بل نېستمن کېده. دا بيخي داسې ده لکه يو کس چې هره ورځ لوبغالي ته ځي او ورزش کوي او بل ارام

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په توشک ناست وي او تلویزیون ګوري، خو لکه څنګه چې د هره ورځ منظم ورزش په برکت بدن قوي کېږي همداسې د ماغزو یا اعصابو په تمرین او ورزش د انسان ذهن قوي کېږي او شتمني یې ورسره زیاتېږي. لټې د ذهن او بدن دواړو روغتیاوو ته زیان اړوي.

زما د دواړو پلرونو ذهنیت د یو بل ضد و، یوه پلار مې ویل شتمن باید مالیات ورکړي چې د بېوزلو لاسنیوی وشي، بل پلار به مې ویل: (څوک چې عاید لري مالیات ورته جزا ده او څوک یې چې نه لري مالیات ورته امتیاز دی.)

یوه به ویل: (ښه درس ووایه چې په ښه شرکت کې دنده پیدا کړې) بل به ویل: (ښه درس ووایه چې د اخیستو لپاره ښه شرکت پیدا کړې).

یوه به ویل: (زما د نېستی یو لامل دا دی چې تاسې (بچې) لرم)، بل به ویل: (زه چې باید شتمن شم، یو لامل یې دا دی چې تاسې (بچې) لرم.)

یوه به هڅوولو چې: (په دسترخوان د پیسو او کاروبار په اړه وغږېږو) او بل په دسترخوان د پیسو او کاروبار خبرې بندې کړې وې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



یوه پلار به ویل: (د پیسو په موضوع کې احتیاط کوئ او هېڅ ډول خطر مه منئ.) بل به ویل: (دا زده کړه چې خطر به څنګه مدیریت کوئ.)

یو په دې باور و چې: (زموږ کور زموږ لویه شتمني ده.) بل په دې باور و چې: (زما کور لویه لانجه ده او که ستا کور دې لویه شتمني شوه؛ نو له ستونزو سره به مخ شې.)

دواړو پلرونو به مې خپل بېلونه او پوروونه پرې کول، خو یوه به مخکې پرې کول او بل وروسته. یو پلار مې په دې باور و چې: (شرکت یا دولت تل ستا ژوند او اړتیاوې تامینوي.)، په دې خاطر به تل د تنخواو لوړېدو، تقاعد، د ناروغۍ رخصتیو، روغتیایي ګټو او نورو امتیازاتو په لټه کې و. هغه له دې ډېر اغېزمن شوی و چې دوه ترونه (کاکاګان) یې په پوځ کې وو، له شل کاله فعال خدمت وروسته یې ټول عمر لپاره د تقاعد امتیاز ترلاسه کړی و. دا پلار مې په روغتیایي ګټو او د پېر په تخفیف سخت مئین و، دغه امتیازات له پوځي خدمت وروسته هم ورکول کېدل. بل دې ته خوشاله و چې اوسني نظام د پوهنتون په مرسته پراختیا موندلې وه، داسې ښکارېده لکه له خپلې دندې چې ورته کاري امنیت او امتیازات ډېر زیات مهم وو. زیاتره وخت به یې ویل: (زه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دولت ته ډېر زيات کار کوم او په دې خاطر دغه ګټې او امتيازات ماته هم را رسېږي.)

بل په مالي خپلواکۍ او ځان باورۍ باور درلود. دی د تنخواو او امتيازاتو مخالف و او ويل به يې چې دا شيان خلک له مالي پلوه کمزوري او اړ کوي. ده به ټينګار کاوه چې له مالي پلوه بايد پر ځان بسيا يو.

يوه پلار به د څو ډالرو ساتلو لپاره سخت زيار ويست او بل به ښه په اسانۍ پيسې پيدا کولې. يوه به دا را ښودل چې پېژندپانه (سي وي) څنګه په ښه ډول وليکو چې ښه دنده پرې پيدا کړو او بل به بيا دا را زده‌کول چې څنګه د کاروبار ښه پلان وليکو، چې نورو خلکو ته هم کار او دندې رامنځته کړو.

د دوو قوي پلرونو شتون زه ددې وړ کړم چې په خپل ژوند د دواړو د ذهنيتونو او فکرونو اغېز وڅېړم. زه پوه شوم چې خلک خپل ژوند د خپل فکر له مخې جوړوي.

مثلاً زما نېستمن پلار به تل ويل: (زه هېڅکله نه شتمن کېږم) او دا اټکل يې رښتيا شو. له بلې خوا به مې شتمن پلار، تل خپل ځان شتمن باله او ويل به يې: (زه شتمن سړی يم او شتمن خلک دا کار نه کوي). تر دې چې يو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وخت یې ستر مالي زیان ولیده او مفلس شو، خو بیا به یې هم ځان شتمن باله. هغه به ځانته د ډاډ ورکولو لپاره ویل: (په غریبۍ او مفلسۍ کې توپیر دی، مفلسي یا د پیسو نشتون تل نه وي، خو غریبي تل وي.)

زما غریب پلار به ویل: (زما پیسو سره نه لګېږي) یا (پیسې مهمې نه دي)، خو شتمن پلار به مې ویل چې: (پیسې قدرت دی.)

ښایي زموږ د افکارو زور هېڅ وخت د اندازه کولو او ارزونې وړ نه وي، خو ماته له ماشومتوبه دا مهمه وه چې په خپلو فکرونو پوه شم او ځان ځرګند کړم. زه پوه شوم چې نېستمن یا بېوزله پلار مې نېستمن دی، په دې خاطر نه چې عاید یې ټیټ و او دا ښکاره وه، بلکې په دې خاطر چې د هغه افکار او عملونه غریب وو.

له ماشومتوبه د دوو پلرونو لرلو د دې وړ کړم چې کوم فکرونه په ذهن کې وساتم او وده ورکړم او د چا خبره ومنم، د شتمن پلار او که د نېستمن پلار؟

دواړو به زده کړو ته ډېر درناوی کاوه، خو مخالفت یې په دې کې و چې کوم فکر یې زده کولو ته ډېر مهم دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



یوه به غوښتل چې زه ښه درس ووایم، ښې نومرې واخلم او (د پیسو لپاره د کار کولو) په خاطر یوه ښه دنده پیدا کړم. ده غوښتل چې زه ډېر درس ووایم او په وکالت یا حسابدارۍ کې متخصص شم یا په سوداګرۍ کې ماسټري وکړم. بل به راباندې د دې درسونو ټینګار کاوه چې ځنګه شتمن شم، په دې پوه شم چې پیسې ځنګه کار کوي او په دې پوه شم چې پیسې باید ما ته ځنګه کار وکړي. ده به تل دا خبره تکراروله چې: (زه پیسو لپاره کار نه کوم، پیسې ما لپاره کار کوي!)

نهه کلنۍ کې مې پرېکړه وکړه چې د پیسو په اړه د خپل شتمن پلار خبرې او نصیحتونه ومنم او د نېستمن پلار خبرو ته غوږ نشم، سره د دې چې نېستمن پلار مې د پوهنتون ټول سندونه لرل.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د رابرټ فراسټ درس

رابــرټ فراســټ (Robert frost) زمــا د خوښــې شــاعر دی، دده ډېـر شـعرونه مـې خوښـېږي، خـو د (شـاړه لار[۱]) شـعر مـې ډېر زيات خوښېږي. زه د دې درس هره ورځ تکراروم:

### شاړه لار

په يو ژېړ او ګڼ ځنګل کې، لارې دوه سره بېلېږي
نه ! په دواړو خو تګ نشي
زه يوازې مسافر وم او تر ډېره سوچ کې ډوب وم
زه د سترګو تر نظره، دې يوې لارې ته ځير شوم
تر هغې چې دغه لاره، په شنو بوټو کې شوه ورکه
بيا مې سترګې واړولې، د دويمې لارې خوا ته
چې ښه لاره به پيدا کړم
دغه لاره ډېره شنه وه، ما وې ځان به ورته جوړ کړم
هسې هم د تلو لپاره، دواړه لارې تکې شنې وې
او په دغه شنه سهار کې
دواړه لارې وې پوښلې په شنو پاڼو، په شنو بوټو
د پښو نښې پکې نه وې

---

[۱] The Road not Taken

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه یوه ورځ منتظر شوم
چې دا لاره به نو څنګه، نورو لارو ته رسېږي
زړه مې ویل چې راشه بېرته، په راغلو پلونو لاړ شه
زړه مې ویل چې افسوس وکړه، په افسوس افسوس کې وایه
چې د ژوند ځنګل کې داسې، دواړه لارې جلا کېږي
خو زه هغه لاره نیسم، چې پرې لږ خلک وي تللي
او همدا به توپیر وکړي

رابرټ فراسټ (۱۹۱٦)

او همدې توپیر وکړ.

ما د رابرټ فراسټ په دې نظم ډېر ځله فکر کړی دی. د خپل لوستي(باسواده) پلار نظریات پرېښودل او د شتمنې په اړه زما ځانګړی لیدلوری جوړول اسانه کار نه و، خو همدې پرېکړې زما راتلونکي ژوند ته بڼه ورکړه او همدې پکې توپیر راوړ.

ما چې ځان سره پرېکړه وکړه چې د پیسو په اړه به د شتمن پلار خبرې ته غوږ نیسم؛ نو په دې برخه کې زما زده کړې او درسونه هم ورسره پیل شول. زما پلار تر ډېرش

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کـالو یـانې زمـا د عمـر تـر ۳۹ کلنــۍ دې کـار تـه دوام ورکـړ. بیـا چې هغـه پـوه شـو چې د هغـه کـړې خـبرې زمـا پـه ذهـن کـې ناسـتې دي او مـا یـې پـه بشـپړه توګـه خـبرې درک کـړې او اخیستې دي؛ نو نور یې راته دا درس بند کړ.

پیسـې د قـدرت یـو ډول دی، خـو تـر دې قـوي شـی بیـا مـالي پوهـه ده. پیسـې ځـي راځـي، خـو کـه تاسـې پـه دې پـوه شـئ چې پیسـې څنګـه کـار کـوي؛ نـو هغـه قـوت مـو ترلاسـه کـړ چې پیسـې درتـه جـوړې کـړي. یـوازې مثبـت فکـر کـار نـه کـوي او لامـل یـې دا دی چې زیـاتره خلـک ښـوونځیو تـه ځـي، درسـونه وایـي، خـو دا نـه زده کـوي چې پیسـې څنګـه کـار کـوي، پـه دې خـاطر بیـا ټـول عمـر دوی د پیسـو لپـاره کار او دندې کوي.

مـا چې د پیسـو درس پـیلاوه نهـه کلـن وم، پـه دې خـاطر مـې راتـه پـلار اسـانه درسـونه راکـړل، خـو درسـونه مـې چې بشـپړ شـول؛ نـو پـوه شـوم چې پـه دې دېرشـو کـالو کـې زمـا پـلار ماتـه یـوازې ٦ درسـونه تکـرار کـړي او هڅـه یـې کـړې چې همدا مې ذهن کې کېنوي.


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا کتاب د هماغه شپږو درسونو یا اصولو په اړه دی او ما هماغه دومره اسانه کړي، لکه څنګه چې ماته خپل شتمن پلار اسانه کړي وو. دا درسونه څوابونه نه دي، دا ځینې لارښود اصول دي، دا اصول تاسې او ستاسې بچو سره په شتمن کېدو کې مرسته کولای شي، که په نړۍ کې هر بدلون راشي، دا اصول به تل لکه د لارې مشالونه تاسې ته لارښوونه کوي.

لومړی درس: شتمن پیسو لپاره کار نه کوي

دویم درس: مالي پوهه ولې مهمه؟

درېیم درس: خپل کار پورې کار لره

څلورم درس: د مالیاتو تاریخ او د ادارو قدرت

پنځم درس: شتمن پیسې جوړوي

شپږم درس: پیسو ته کار مه کوئ، زده کړو ته کار وکړئ



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لومړی څپرکی

## لومړی درس

## شتمن پيسو لپاره کار نه کوي

**د دوو پلرونو لرلو راته د دوو ليدلورو د ټاکلو وړتيا راکړه:**
**يوه د شتمن ليدلوری او بل د نېستمن ليدلوری**

(پلاره، زه به څنګه شتمن شم؟)

پلار مې ماښامنۍ ورځپاڼه له سترګو تېټه کړه وې ويل:

(زويه ولې شتمن کېږې؟)

(ځکه چې نن د جيمي مور په خپل نوي کېډلاک موټر کې ناسته وه، ويل يې چې رخصتۍ لپاره خپل ساحلي کور ته ځي. درې ملګري ورسره وو، خو زه او مايک يې ځان سره يو نه وړلو، ويل يې تاسې ځان سره ځکه نه بيايو چې تاسې نېستمن (غريبانان) يئ.

پلار مې په حيرانتيا پوښتنه وکړه: (رښتيا! همداسې يې وويل؟)

ما په غمجنه لهجه وويل: (هو پلاره، همداسې يې وويل)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پلار مې سر وخوځاوه، عينکې يې بېرته سترګو ته کړې او د ورځپاڼې په لوستو بوخت شو، زه يې ځواب ته په تمه ولاړ وم.

دا د ۱۹۵۶ کال خبره ده او هغه وخت زه ۹ کلن وم. د تصادف له مخې ما په هغه ښوونځي کې درس لوسته چې شتمنو به هم ورته خپل بچي لېږل. زموږ په سيمه کې به ګنې کرل کېدل، د دې ځای د ځمکو خاوندانو او نورو مخورو خلکو لکه: ډاکټرانو، سوداګرو، بانکوالانو او نورو به خپل بچي زياتره همدې ښوونځي ته لېږل. دلته له لومړي تر شپږم ټولګي وو. وروسته به ماشومان خصوصي ښوونځيو ته لېږل کېدل. په کوڅه کې ښوونځي ته مخامخ پورې لاس ته زموږ کور و، په دې خاطر زه هم په همدې ښوونځي کې داخل شوی وم. که زموږ کور دلته نه وی، ښايي زه به يې هم هغو ښوونځيو ته لېږلی چې زما په څېر ماشومان ورته لېږل کېدل، دا ماشومان به هلته له شپږم ټولګي وروسته دولتي ليسو ته تلل، ځکه ما او هغو ماشومانو ته خصوصي ښوونځي نه و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زما پلار اخر ورځپاڼه لاندې کېښوده، په فکر کې ډوب و، ورو یې راته وویل: (زویه! که غواړې شتمن شې، نو د پیسو ګټلو په طریقه باید پوه شې.)

ما ترې پوښتنه وکړه: (نو زه به څنګه پیسې وګټم؟)

هغه موسکی شو، راته یې وویل: (خپل ذهن دې وجنګوه)

موخه یې دا وه چې زه درته یوازې دومره ویلای شم چې له خپل ذهن دې کار واخله، یا دا چې ماته د دې پوښتنې ځواب نه راځي، هسې مې نور مه تنګوه)

**شراکت پیل شو**

په سبا سهار مې خپل نږدې ملګري مایک ته د خپل پلار خبره وکړه. تر څو چې زه پوهېږم زموږ په ښوونځي کې یو زه او بل مایک نېستمن وو. مایک هم زما په څېر تصادفاً دې ښوونځي ته راغلی و. د ولسوالۍ په ښوونځي کې به چې قطار جوړ شو او چا به پکې لږ ځان وښوراوه؛ نو موږ به پکې د شتمنو د بچو له لاسه لښتې خوړلې. موږ اصلاً غریبانان نه وو، خو خپله مو دا احساس درلود، ځکه نورو ټولو هلکانو به د بیسبال نوې دستکشې، نوي بایسکلونه او ټول نوي وسایل درلودل، موږ به چې دا شیان ولیدل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځانونه به راته نېستمن ښکاره شول. زموږ مور و پلار به یوازې زموږ لومړنی اړتیاوې لکه سرپناه، خواړه او کالي پوره کول. خو ستونزه دا وه چې زما پلار به راته ویل: (که څه شي غواړې؛ نو د ترلاسه کولو لپاره یې کار وکړه.) موږ دا ټول شیان غوښتل، خو نهه کلن ماشوم ته یې کار کول او بیا ترلاسه کول ممکن نه وو.

مایک وپوښتلم: (د پیسو ګټلو لپاره څه وکړو؟)

ورته مې وویل: (زه نه پوهېږم، خو ته راسره شریکېږې؟)

هغه راسره ومنله او په همغه شنبه مې دا د کار لومړنی شریک شو. سهار تر ناوخته مو په دې فکر کاوه چې پیسې څنګه وګټو؟ بیا مو هغه هلکان رایاد کړل چې جیمي دوی سره ساحل ته د چکر لپاره تللي وو، هلته یې مزې کولې او له سرې هوا یې خوند اخیسته. دې فکر موږ له ځورولو، خو په موږ کې د انګېزې پیدا کولو او د پیسو ګټلو د فکر د دوام لپاره مهم و. بلاخره ماسپښین زموږ په ذهن کې یوې انګېزې ځرک وواهه. مایک دا مفکوره د ساینس له یوه کتابه راخیستې وه، موږ دواړه خوشاله شو،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



یو بل ته مو لاس ورکړ او اوس مو شراکت یوه موخه درلوده.

له دې وروسته څو اونۍ ما او مایک د ګاونډیانو دروازې وټکولې او ورته مو وویل چې د غاښونو د کریم تش ټیوبونه دې موږ ته وساتي. زیاتره ګاونډیان به دې عجیبې غوښتنې ته حیران وو، بیا به یې په نرۍ موسکا دا خبره راسره ومنله. ځینو به یې پوښتنه کوله چې تاسو پرې څه کوئ؟ او موږ به ورته ویل چې: (دا درته نشو ویلای، دا کاروباري راز دی).

مور مې هم په دې څو اونیو کې نوره تنګه شوې وه، ځکه موږ د جامو ماشین سره نږدې د رُب یو خړ رنګه کاټن ایښی و او د غاښونو د کریم ټیوبونه مو د خپل کار د خامو موادو په توګه پکې زېرمه کول.

اخر مې د مور صبر هم تمام شو، موږ له ګاونډیانو د غاښونو د کریم ټیوبونه راټولول او ده ته موږ کور کې ډېری جوړ کړی و، هغه هم له دې حالته نوره تنګه شوه راته یې وویل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



(تاسې دواړه څه کوئ؟ او دا به راته نه وايئ چې دا کاروباري راز دی، هر څه چې کوئ چې زر يې وکړئ؛ گنې دا ډيری به مې درته باندې گوزار کړی وي.)
ما او مايک مې مور ته زاری شروع کړې چې يو څو ورځې نور دې هم راته صبر وکړي، چې دغه خام مواد سره لېږ ډېر شي؛ نو موږ به خپل توليد پيل کړو. ورته مو وويل: (موږ خپلو دوو گاونډيانو ته په تمه يو چې هغوی هم خپل ټيوبونه تش کړي) بلاخره مو مور يوه اونۍ وخت نور هم راکړ.
د توليد وخت رانږدې شوی و، په موږ فشار ډېر و، زما د لومړي شراکت د ختمېدو وېره وه، ځکه مور مې اخطار راکړی و چې د خامو موادو زېرمه به راته له منځه يوسي.
د مايک کار دا و چې په گاونډيانو به يې ټينگار کاوه چې زر زر دې خپل د غاښونو کريمونه ختم کړي، ورته به يې ډاکټران وايي غاښونه زر زر برش کوئ او بلخوا ما د توليد لپاره خپل وسايل، د توليد په کرښه ترتيبول.)
يوه ورځ زما پلار او ملگری يې له موټره راښکته شول، مخامخ د گراج دروازې ته راغلل، په گراج کې دوه نهه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کلن هلکان لګیا دي، د تولید په دستګاه کار کوي، د ګچو سپین پوډر خلورو خواو ته شیندل شوی دی. په یوه لوړ میز د ښوونځي د شیدو ډبي ایښي وو، تر ځنګ یې زموږ د کورنۍ د کباب پخولو منقل پروت و او انګار پکې تور سور ښکاریده، پورته ترې تودې شغلې پورته کېدلې.

موږ چې له کومې ورځې د تولید دغه دستګاه جوړه کړې وه، پلار به مې موټر د انګړ په منځ کې ودراوه. دوی چې له موټره راښکته شول، موږ پلو را روان شول، دواړه چې رانږدې شول، ګوري چې یوه اوسپنیز دیګ په انګار ایښی دی، ښه تود دی او د غاښونو د کریم ټیوبونه پکې ویلې کېږي. هغه وخت به د غاښونو کریم په پلاستیکي ټیوبونو کې نه راته، بلکې له سُرب به جوړېدل. د ټیوب د پاسه به چې رنګ وسوځېده، بیا به مو ټیوب واخیست او دیګ ته به مو واچوه چې اوبه شي. دلته به چې ټیوب اوبه شو، د شیدو ډبي مو تیار له ګچ ډک کړي وو او پاس مو پکې یو سوری پرېښي و، دا سپین ګچ هماغه وخت ګراج کې تویې شوی و. بیا به مو اوبه شوي سُرب په خمڅې (کاشوغه) کې واخیستل او د شیدو د ډبي په سوري کې



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



به مو وځځول. زما پښه په تادې کې د گچو يوې کڅوړې سره لگېدلې وه او ټوله کوټه يې سپينه کړې وه، د شيدو نور ډبې هم تيار له گچو ډک وو.

زما پلار او ملگرى يې موږ ته ځير وو، چې موږ څنگه ويلي شوي سُرب را اخلو او د گچو په يوه قالب کې يې پاس د يوه سوري له لارې را څځوو.

پلار مې وويل: پام کوئ!

ما ور ونه کتل، خو سر مې د اطاعت په اشاره ورته وخوځاوه.

بلاخره د سربو د ويلي کېدو او څځلو وخت پای ته ورسېد، ما اوسپنيز ديگ له اوره ښکته کړ او پلار ته مې موسکى شوم، پلار مې هم موسکى شو او پوښتنه يې وکړه: څه کوئ ځوانانو؟ ما ورته وويل: هماغه کوو چې تا راته ويلي وو، پيسې گټو چې شتمن شو.

مايک په موسکا خپل سر وخوځاوه او ورته يې وويل: موږ دواړه شريکان يو.

پلار مې پوښتنه وکړه: د گچو په قالب کې څه دي؟

ومې ويل: ته صبر، دا به ښه راغلي وي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



یـو وړوکـی ختـک مـې را واخیسـته، هغـه نښـه مـې ورو یـو ټـک ووهلـه چـې مکعـب یـې پـه دوو برخـو ویشـه، ورو مـې د قالـب پورتنۍ برخه لرې کړه او د سربو یوه سیکه ترې را ولوېده.

پـلار مـې وویـل: (اوه! دا خـو تاسـو لـه سربـو د پیسـو سـیکې جوړوئ؟)

مایـک ورتـه وویـل: (هـو مـوږ لـه سربـو پیسـې جـوړوو، ځکـه همدا تا راته ویلي وو چې د پیسو جوړول زده کړئ.)

زمـا د پـلار ملګـري مـخ واړوه او پـه کـړس یـې وخنـدل، پـلار مې هم موسکی شو او سر یې ټیټ کړ.

زمـوږ مخـې تـه اور بـل و، ګردچـاپېره د غابښـونو د کـریم تـش ټیوبونـه پراتـه وو او مـوږ لـه سر تـر پښـو پـه ګچـو تـک سـپین وو، موږ هم ورسره خندل.

پلار مـې وویـل چـې دا هـر څـه پرېـږدئ او راشـئ د کـور مخـې تـه پـه برنـډې مـا سره کېنـئ، یـو څـو خـبرې درتـه کـوم. هلتـه چې لاړو هغه د جعلي سیکو د جوړولو په مفهوم پوه کړو.

زمـوږ ټولـو خوبونـه دانـه وانـه شـول، مایـک پـه لړزېـدلي غـږ پوښتنه وکړه: یانې دا موږ چې څه کوو، غیر قانوني دي؟



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د پـلار ملگـري مــې وویــل: (پرېــږده یــې، دوی خپلـه طبیعــي ورتیا څرګندوي.)

پــلار مــې ورو وویــل: (هــو دا ناقانونــه دي، خــو تاســې دواړو هلکـانو بېسـاري وړتیـا وښـودله، عجـب نوښـت مـو وکـړ، دوام ورکړئ، زه واقعاً په تاسې ویاړم.)

زه او مایـک نـږدې شـل دقیقــې غـلي او نهـیلي وو او لـه هغـه ځایـه مـو پاتې شـوني ټولـول. زمـوږ کـار د پیـل پـه ورځ پـه ټپـه ودرېـده. زه لګیـا وم د ګـچ سـپین پـوډر مـې جـوړول، مایـک تـه مـې وویـل: (زه خـو وایـم چـې جیمــي او ملګـرو یــې ربښـتیا ویل، موږ غریب یو!)

زمـا پـلار پـه وتـو کـې دا خـبره واورېـده راتـه یـې وویـل: هلکـو! تاسـې تـر هغـې غریبـان یـئ چـې لـه کـاره لاس واخلـئ، مهمـه خـبره دا ده چـې تاسـې خپلـه هڅـه وکـړه، زه پـه تاسـې دواړو ویـاړم او دا درتـه ووایـم چـې خپلـو هڅـو تـه دوام ورکـړئ، مـاتې مه منئ.)

زه او مایــک غــلي ولاړ وو، دا خــبرې پــه زړه خــوږې لګېــدې، خو موږ لا هم نه پوهېدو چې څه وکړو.

پلار مې وپوښت: (نو ته ولې شتمن نه یې؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پلار مې وویل: (ځکه چې ما غوښتل ښوونکی شم او ښوونکي عموماً په شتمنېدو فکر نه کوي، مور یوازې دې ته خوشاله یو چې درس ورکړو، کاشکې مې درسره مرسته کولای شوی، خو له بده مرغه چې زه د پیسو ګټلو په چلونو نه پوهېږم.)

زه او مایک بېرته د ځای په پاکولو بوخت شو.

پلار مې وویل: (خو یوه خبره ده، که تاسې رښتیا غواړئ چې شتمن شئ؛ نو له ما مه پوښتئ، د مایک له پلاره وپوښتئ.)

مایک په حیرانتیا وویل: (زما له پلاره؟)

پلار مې په موسکا وویل: (هو ستا پلار! زما او ستا د پلار حسابونه په یوه بانک کې دي او د بانک مدیر ستا د پلار د ورتیاوو ډېره ستاینه کوي، ماته یې څو ځله ویلي چې د پیسو ګټلو په موضوع کې ستا د پلار ساری نشته.)

مایک بیا په حیرانتیا پوښتنه وکړه: (زما پلار یې ښوده؟ نو بیا مور ولې د نورو خلکو غوندې ښه موټر او ښه کور نه لرو؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زما پلار ورته وویل: (انسان په ښه موټر او ښه کور نه شتمنېږي او نه دا په دې مانا ده چې د کور و موټر خاوند دې د ګڼي د پیسو ګټلو په چل ښه پوه شي.)

پلار مې خبره وغځوله: ( د جیمي پلار د ګنو په پټي کې کار کوي، حالت یې ما سره چنداني فرق نه کوي، هغه په شخصي- شرکت کې کار کوي او زه حکومت کې دنده لرم. دا موټر ورته هماغه شرکت اخیستی دی، هغه شرکت نن سبا له مالي ستونزو سره مخ دی او ښایي چې دی به هم ورسره له هر څه خلاص شي، خو ستا پلار داسې نه دی مایکه! ستا پلار داسې ښکاري چې په یوې امپراتورۍ کار کوي او زه فکر کوم چې نږدې وخت کې به شتمن انسان شي.)

په دې خبره یې زه او مایک یو ځل بیا خوښ شو او د پخواني ناکام شوي کاروبار، د پاتې شونو او خځلو په پاکولو بوخت شو. په دې لړ کې مو دا خبرې هم سره کولې چې د مایک پلار سره به کله او څنګه وګورو. ستونزه دا وه چې د مایک پلار کار کې بوخت و او د شپې ناوخته کور ته راته. د مایک پلار یو سرای (ګودام)، یو ساختماني

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شرکت، څو دوکانونه او درې هوټلونه لرل، همدې هوټلونو کې به تر ناوخته بوخت و.

د ځای پاکارۍ چې ختمه شوه مایک په بس کې کېناسته او خپل کور ته روان شو، هغه غوښتل چې بېګا ته خپل پلار سره وغږېږي، که مور ته د پیسو ګټل را زده کړي. مایک ماته وویل چې پلار سره یې خبرې وکړې؛ نو ماته به په ټیلیفون احوال راکوي.

د شپې اته نیمې بجې وې چې ټیلیفون زنګ وواهه.

ما وویل: (ښه سمه ده، راتلونکې شنبه)، غوږې مې کېښوده، د مایک پلار منلې وه چې مور دواړو سره وګوري.

سبا سهار اووه نیمې بجې په بس کې سپور او د ښار غریب مېشتې سیمې ته روان شوم.

**درسونه پیل شول**

ما او مایک باید د مایک له پلار سره په ۸و بجو کتلي وی. مور چې لاړو سړی ډېر زیات بوخت و او له یوه ساعته په کار لګیا و. مور چې کور ته ورسېدو، د ساختماني چارو مسئول یې په خپل ډاټسن موټر کې کېناست او روان و،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه چې ښايسته واړه او منظم دفتر ته ننوتم، مايک له وړاندې همالته ناست وو.

دروازه يې چې پرانيسته وې ويل: (پلاره مې چا سره په ټيليفون غږېږي، مور ته يې وويل چې شاته دالان کې ورته په تمه شو.)

زه چې ځنګه دفتر ته ننوتم، د فرش تختو کرنجار پيل کړ، دننه يوه قالينه پرته وه او ښايي د دې لپاره به يې اچولې وه، چې دا فرش له کلونو کلونو له پښو سره سولېدلی و او هغه د پښو نښې يې په دې قالينې پټې کړې وې، دا قالينه که څه هم پاکه وه، خو بدلولو ته يې اړتيا لرله.

زه چې وړې کوټې ته ننوتم، ووېرېدم، په کوټه کې زاړه کوچونه او مېزونه پراته وو، دا شيان نور په موزيم کې د اېښودو وو. په يوې اوږدې څوکۍ کې دوې ښځې ناستې وې چې زما له مور لږې مشرانې ښکارېدې. ښځو ته نږدې يو سړی ناست و چې خړ پتلون او يخن قاق يې اغوستي وو، جامې يې پاکې او اتو کړې وې ګونځې پکې نه وې، بوټان يې تازه رنګ کړي وو. دا سړی زما له پلاره نږدې لس کاله مشر-يانې شاوخوا ۴۵ کلن و. مور چې د دوی


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په څنګ کې تېرېدو، نو راته یې را وکتل او موسکي شول. پخلنځي ته ننوتو او له دې لارې شاتني دالان ته لاړو، د دالان مخې ته انګړ و، مور همالته لاړو. ما ځان سره له شرمه ډکه خندا وکړه.

مایک مې وپوښت چې: (دا خلک څوک وو؟)

هغه وویل: (دا خلک زما سره کار کوي. دا مشر- سړی چې د ولید زما د پلار د سرایونو (ګودامونو) مسئول دی او ښځې د هوټلونو مدیرانې دي، مخکې چې دې کوم سړی ولید هغه د ساختماني چارو مسئول دی، چې د پنځوس میله په واټن، د یوه سرک په جوړولو کار کوي. یو بل د کورونو د جوړولو مسئول دی، هغه ستا له راتګه مخکې له دې ځایه ووت.

ما وپوښت: (دلته هر وخت همداسې حال وي؟)

وې ویل: (نه تل نه وي، خو زیاتره وخت وي.)

بیا مایک موسکی شو، یوه څوکۍ یې را واخیسته چې زما تر څنګ کېښي، خبره یې وغځوله: (پلار ته مې وویل که امکان لري مور ته دا را زده‌کړه چې پیسې څنګه وګټو؟)

ما ترې زر پوښتنه وکړه: (نو څه یې درته وویل؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



مایک وویل: (لومړی خو یې له طنزه ډکه موسکا وکړه او بیا یې وویل چې تاسې ته یو وړاندیز لرم.)

ما د څوکۍ مخکنۍ دوې پښې پورته کړې وې او څوکۍ مې شاته دېوال ته تکیه کړې وه، مایک هم په همدې کار بوخت و، ورته مې وویل: (ښا! ته یې په وړاندیز پوهېږې؟)

مایک وویل: (نه ولا، خو زر به پوه شو)

ناڅاپه د مایک پلار په دروازه رانوت، موږ دواړه زر په خپل ځای کې ودرېدو، خو دا درېدل د احترام له مخې نه بلکې د وېرې له امله وو، ځکه هغه ناڅاپه راغی او موږ یې وارخطا کړو.

د مایک پلار یوه څوکۍ راکش کړه، زموږ مخې ته یې کېښودله او وې ویل: (ښه تاسې دواړه چمتو یاست؟)

موږ دواړو هم خپلې څوکۍ له دېواله را دېخوا کړې، د مایک د پلار مخې ته کېناستو سرونه مو د (هو) په نښه وخوځول.

د مایک پلار لوړ دنګ سړی و، وزن به یې ۲۰۰ پاونډه و. زما پلار په ونه له ده دنګ و، خو وزن به یې همدومره و او د مایک پلار زما له پلاره ۵ کاله مشر و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دواړه يو ډول ښکارېدل، خو ځانګړني يې يو ډول نه وې، فکر او کرکتر يې توپير کاوه او انرژي يې ښايي سره ورته وه.

زه يې وپوښتلم: (مايک راته ويل چې ته غواړې د پيسو ګټلو يا ترلاسه کولو طريقه زده کړې، همداسې ده؟)

ما زر سر د هو په نښه وخوځاوه، لږ وېرېدلی هم وم، د ده د خبرو او موسکا شاته لوی قوت پروت و.

د مايک پلار وويل: (ښه نو وړانديز دا دی چې زه به تاسې ته درس درکوم، خو دا درس به د ښوونځي د ټولګي په څېر نه وي. تاسې به ما ته کار کوئ او زه به درته درس وايم. که تاسې کار ونه کړئ زه درس نه درکوم او که کار کوئ نو زر زر به درس درکوم او که تاسې غواړئ چې د ښوونځي غونډې کېنئ او خبرې واورئ؛ نو بيا زه هسې خپل وخت ضايع کوم. زه درته دا وړانديز لرم، نوره ستاسې خوښه چې منئ يې که نه.)

ما وويل: (ښه په پيل کې يوه پوښتنه کولای شم؟)

وې ويل: (نه! يوازې دومره ووايئ چې منئ يې که نه؟ ما ته ډېر کارونه پراته دي، هسې مې وخت مه ضايع کوئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



که تاسې کوټلې پرېکړه نشئ کولای؛ نو د پیسو ګټل هېڅ وخت نشئ زده کولای. فرصتونه ځي راځي، خو ته باید دا ورتیا ولرې چې په وخت پرېکړه وکړې او په وخت زر پرېکړه کول مهم مهارت دی. تاسو فرصت غوښتی و، ما درته درکړ، ستاسو درسونه به په دې لسو ثانیو کې پیل یا ختم شي.)

د مایک پلار له طنزه ډکه موسکا وکړه او په تمه شو.

ما ورته وویل: زه یې منم.

مایک وویل: زه یې هم منم.

د مایک پلار وویل: (ډېر ښه، په لسو دقیقو کې مېرمن مارټین دلته را رسېږي، ما چې ورسره خبرې وکړې تاسې دواړه ورسره لاړ شئ. تاسې به مغازې کې کار کوئ، په یوه ساعت کې به لس سېنټه مزدوري درکول کېږي او د هرې شنبې په ورځ به درې ساعته کار کوئ.

ما ورته وویل: (زه خو نن د کرکېټ لوبه لرم؟)

د مایک پلار په ټیټ او درنه غږ وویل: (ستا خوښه، منې یې که نه!)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما ورته وویل: (منم یې، د لوبو پر ځای کار او زده کړه کوم.)

## ۳۰ سپنته وروسته

د شنبې په ښایسته ورځ، نهه بجې ما او مایک مېرمن مارټین ته کار پیل کړ. مېرمن مارټین مهربانه ښځه وه. تل به یې ما او مایک ته ویل، ستاسو په لیدو خپل هغه دوه زامن رایادېږي چې اوس لوی شوي او له ما بېل شوي دي. مېرمن مارټین که څه هم مهربانه ښځه وه، خو په کار کې به یې سختي کوله او له موږ به یې ډېر کار اخیست. موږ به درې ساعتو کې د کنسروا ډبې یو یو راخیستې، سم به موږ پاکاوه او بېرته به مو په ترتیب په خپل ځای کې کېښووده، خو ډېر زړه تنګی کار و.

د مایک پلار چې زه یې خپل (شتمن پلار) بولم، د نهو مغازو خاوند و، دې مغازو خپل تمځایونه (پارکېنګونه) لرل، دا د (سیون ایلیون) مغازو لومړنی بڼه وه، نږدې دوکانونه وو چې خلک به ورته د شیدو، ډوډۍ، غړیو، سیګرېټو او نورو شیانو پسې راتلل. ستونزه دا وه چې دا مغازې تولې په اوهایو ایالت کې وې، هغه وخت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ایرکنډېشن هم دومره رواج نه و او ګرمي دومره ډېره وه چې خلکو د مغازو دروازې هم نشوې پورې کولای. مغازو به دوه دروازې لرلې چې یوه به سرک او بله به تمځای (پارکینګ) پلو وه او دواړه به بېرته وې. تمځای ته به چې موټر راغی خاورې به راپورته شوې او په مغازې به رانوتې، یانې تر څو چې ایرکنډېشن سیستم نه و راغلی زموږ کار به پرېمانه و. تر درېیو اونیو په منظم ډول موږ مېرمن مارټین ته ورتلو او درې ساعته کار به مو ورسره کاوه. تر ماسپښینه به زموږ کار ختم شو او هغې به موږ ته دېرش دېرش سینټه په موټي کې کېښودل. ان هغه وخت چې موږ نهه کلن وو، په ۱۹۵۰ مو کلونو کې هم دېرش سېنټه چنداني پیسې نه وې. د طنزیه اونیزو بیه لس سېنټه وه، ما به زیاتره خپلې پیسې په همدې اونیزو لګولې او خپل کور ته به ستنېدم.

د ځلورمې اونۍ تر چهارشنبې زه کار پرېښودو ته چمتو وم. زه دې کار ته یوازې په دې خاطر راضي شوی وم چې د مایک پلار راته د پیسو ګټلو طریقه ښودلې وي خو ښه طریقه نه وه. یوازې په لس سېنټه فی ساعت یې خپل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



غلام کړی وم، سرباري يې لا ده چې له هغې شنبې وروسته مې د مايک پلار ان په سترگو هم نه و ليدلی.

ماسپښين د ډوډۍ پر وخت مې مايک ته وويل چې زه دا کار پرېږدم، د ښوونځي خواږه هم چنداني نه وو، بل مې د دې ځای له درسونو سره هم علاقه نه وه او د شنبې په ورځ به ما د کرکېټ لوبه هم کوله، خو دې کار رانه دا ټوله تفريح اخيستې وه او يوازې ۳۰ سېنټه به مې لاس ته راتلل.

مايک موسکی شو.

ما په غوسې او نهيلۍ وپوښت: (ته نو راته ولې خاندې؟)

مايک وويل: (پلار مې ويلي وو چې داسې به کېږي، هغه په تمه و چې کله به ته کار پرېږدې او ورسره به گورې.)

ما په غوسه وويل: (څه؟ يانې هغه دلته زما تنگېدو ته په تمه و؟)

مايک وويل: همداسې يې وبوله، زما پلار لږ متفاوت دی، د درس ورکولو طريقه يې هم متفاوته ده. ستا پلار ډېر نصيحتونه کوي او زما پلار غلی سړی دی، لږ غږېږي. تر



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شنبې پاتې شه، زه به ورته ووایم، ته یې لیدو ته په تمه اوسه.

ما ورته وویل: (یانې ته څه وایې چې دا هر څه یې په لوی لاس کړي دي؟)

مایک وویل: (نه! داسې نه ده، خو ځینې کارونه یې کړي، د شنبې په ورځ به مې پلار په دې اړه درسره وغږېږي.)

**د شنبې په ورځ، لیکه کې په تمه**

زه د شنبې په ورځ د هغه لیدو ته چمتو وم، ان زما خپل پلار هم ترې خپه و، خپل پلار مې هغه دی چې زه یې نېستمن پلار بولم. نېستمن پلار به مې ویل چې شتمن پلار د کار قانون نقض کړی دی، په ماشومانو اجباري کار کوي او دا موضوع باید وڅېړل شي.

لوستي نېستمن پلار مې راته وویل چې خپل حق وغواړه، په یوه ساعت کې خو باید لږ تر لږه ۲۵ سېنټه مزدوري درکړل شي. راته یې وویل که زما د ۲۵ سېنټو غوښتنه ونه منل شي؛ نو سمدستي کار پرېږده.

نېستمن پلار مې راته مشوره راکړه چې: (ته هسې هم دې لعنتي کار ته اړتیا نه لرې.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د شنبې په ورځ د مایک مېلمستون ته ننوتم، ما چې دروازه بېرته کړه او دننه ننوتم د مایک پلار راته وویل: (کېنه او خپل وار ته په تمه شه.) هغه بېرته د خوب کوټې سره نښتي واړه کاري دفتر ته ننوت.

ما گردچاپېره ولیدل، مایک مې تر سترگو نه شو، زړه مې نارامه و، ورو د هماغو دوو ښځو تر څنگ کېناستم چې څلور اونۍ وړاندې مې دلته لیدلې وې. هغه دواړه موسکۍ شوې او په څوکۍ کې یې ماته هم ځای راکړ.

پنځه څلوېښت دقیقې واوښتې، زړه مې راتنگ شو، غوسه راتله. دوو ښځو ورسره ولیدل او نږدې نیم ساعت مخکې له دې ځایه لاړې، بل مشر- سړی هم دفتر ته ننوت او نږدې شل دقیقې مخکې له دې ځایه رخصت شو.

کور تش و، ورځ لمرینه وه او زه دلته په هاوایي کې، په تیاره او زړه کوټه کې ناست وم او د یوه داسې سړي انسان لیدو ته په تمه وم چې په ماشومانو یې کار کاوه.
غږ یې راته وکړ چې په دفتر کې به بې پروا گرځېده او په ټیلیفون به یې خبرې کولې. تا به ویل چې زه یې بیخي


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هېر شوی يم، يو ځل مې وويل چې راځه ترې روان شه، خو بيا مې ځان کلک کړ او په تمه کېناستم.

بلاخره، پنځلس دقيقې وروسته پوره په ۹ بجو، شتمن پلار له خپل دفتره را ووت، ماته يې په پټه خوله اشاره وکړه چې سولېدلي دفتر ته يې ورننوځم.

زه چې ننوتم، شتمن پلار په خپله څرښکي څوکۍ کې تاوېده، راته يې وويل: (ما اورېدلي چې که پيسې درته زياتې نه کړم، ته دا کار پرېږدې؟)

(هو کېدای شي، څکه تا خپله کړې ژمنه پوره نه کړه)، دا خبره مې تقريباً په ژړا کې ورته وکړه، څکه له پاخه سړي سره د نهه کلن ماشوم مخ کېدل سخت او وېروونکي وي.

بيا مې خبره وغځوله:

(تاسو ويلي وو چې که زه درته کار وکړم؛ نو تاسې به راته درس راکوئ، ما درته کار وکړ، ډېره خواري مې وکړه، ان خپلې لوبې مې پرېښودې او کار کې بوخت شوم، خو تاسو راته تر اوسه هېڅ ونه ويل. خلک رښتيا وايي، ته رښتيا هم ښه سړی نه يې، ځانغوښتونکی يې، بخيل يې، ته وايې چې ټولې پيسې دې زما شي، خپلو مزدورانو ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هېڅ پام نه کوې. ته په ما دومره انتظار کوې او بیا ماته لږ درناوی هم نه کوې، زه وړوکی هلک یم او ښه چلند باید راسره وشي.)

سړي څوکۍ کې تکیه ووهله، لاسونه تر زنې لاندې کېښودل، ماته ځیر شو، وې ویل: (بده نه ده، له یوې میاشتې په لږ وخت کې دې زما د کاریگرو ژبه زده کړه.)

ومې پوښت: (څه؟) زه نه پوهېدم موخه یې څه وه، خپلو گیلو ته مې دوام ورکړ: (ما خو ویل چې تا ما سره یوه ژمنه کړې ده، هغه به پوره کړې، ماته به درسونه راښیې، خو اوس گورم چې ته ما ځوروې، دا کار بیخي زیاتی دی.)

سړي په ارام وویل: (زه تاته درس درکوم)

ما په غوسه وویل: (کوم دی درس؟ ما چې ستا مغازې کې کار پیل کړی یو ځل هم راسره نه یې غږېدلی. په یوه ساعت کې لس سېنته راکوې، زه به حکومت ته دا خبره وکړم، موږ د ماشومانو د کار په اړه قوانین لرو، ته به په دې خبره ښه خبر یې او زما پلار هم د دولت مامور دی.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمن پلار وويل: (اوس بيخي د هغو په څېر غرېږي چې پخوا يې ماته کار کاوه، هغوی يا ما شړلي يا يې خپله کار پرېښی دی.)

ما ورته وويل: (نو ته څه وايې؟) ځان مې زړور احساساوه، ورزياته مې کړه: (تا ماته دروغ ويل، ما درته کار وکړ، خو تا خپله ژمنه پوره نه کړه، تا ماته هېڅ هم را ونه ښودل.)

شتمن پلار په ډاډ وويل: (ته څه پوه شوي چې ما څه نه دي درښودلي؟)

ما په بوڅه خوله وويل: (تا ماسره خبرې هم نه دي کړې، ما درته درې اونۍ کار وکړ او په دې درېيو اونيو کې تا ماته هېڅ هم را ونه ښودل.)

شتمن پلار راته وويل: (ستا په نظر زده‌کړه يوازې خبرې اترې او لکچر ورکول دي؟)

ما ورته وويل: (هو)

شتمن پلار په موسکا وويل: (ښوونځيو کې يې تاسې ته همداسې درس درکاوه، خو ژوند داسې درس نه درکوي او زه فکر کوم چې ژوند تر ټولو ښه استاد دی. ژوند درسره نه غږېږي، فشارونه دربانـدې راوړي او هر فشار درته وايي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې: (را وېښ شه، ځينې شيان شته چې بايد در زده يې کړم.)
ما ځان سره ووېل: (دا سړی لا څه وايي؟ يانې ژوند په ما فشار راوړي او ماسره خبرې کوي؟)
اوس پوه شوم چې کار بايد پرېږدم، ځکه بېخي له لېوني سره مخ شوی وم.
هغه لګيا و: که له ژونده دې سبق واخيست او زده کړه دې وکړه، ژوند به ښه وکړي، ګنې همدا ژوند به دربانډې فشار راوړي، جېکټې به درکوي، خلک دوه کاره کوي: ځينې خلک د ژوند دا فشار په ځان زغمي، خو ځينې نور خلک بيا بېرته غبرګون ښيي او دا فشار په خپل رئيس، کار، ښځې يا مېړه راوړي، خو دوی په دې نه پوهېږي چې په دوی خو فشار خپل ژوند راوړی دی.) زه بېخي نه پوهېدم چې دا سړی څه وايي.
خبره يې وغځوله:
(په مور تولو ژوند فشار راوړي، ځينې خلک تسليمېږي او ځينې نور مبارزه کوي، لږ ترې درس اخلي او پرمختګ کوي. دا خلک د ژوند فشار ته ښه راغلاست وايي، دا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خلک پوهېږي چې د ژوند فشار په دې مانا دی چې دوی باید څه ترې زده کړي. دوی زده کړه کوي او مخ ته ځي. زیاتره خلک وسله وغورځوي او لږ خلک ستا په څېر مبارزه وکړي.)

شتمن پلار ودرېده، کړکۍ یې بنده کړه، کړکۍ زړه وه، ترمیم یې غوښت، خپله خبره یې وغځوله: (که په دې درس پوه شوې، نو زر به تکړه، شتمن او خوشاله ځوان شې او که پوه نه شوې؛ نو ټول عمر به د خپلو ستونزو له امله کله ټیټه تنخوا، کله رئیس او کله خپله دنده ملامتوې. ته به ژوند کې ټول عمر هغه فرصت ته په تمه یې چې هغه به ستا ټولې مالي ستونزې در حل کړي.)

شتمن پلار را وکتل چې زه یې خبرې ته غوږ یم که نه؟ ما هم ور وکتل، سترګې مو سره ولګېدې او په سترګو کې سره وغږېدو. اخر مې چې د هغه وروستي پیغام ترلاسه کړ، نو سترګې مې ترې واړولې. پوه شوم چې هغه رښتیا وایي، ما هغه ملامتوه او ورته مې ویل چې څه دې را زده کړي. دا خپله مبارزه وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمن پلار خبره وغځوله: (که ته له هغو خلکو یې چې زړور نه یې؛ نو که لږ فشار دربانديې راغی تسلیمېږې، که ته داسې انسان یې ډېر محافظه کار به یې، ډېر سم کارونه به کوې او ځان به هغو پېښو ته چمتو کوې، چې هغه پېښې به بیخي ونه شي. بیا به ته زوړ سترۍ کوونکی سړی یې، مړ به شې، ډېر ملګري به دې ښه یاد کړي چې زیارکښه انسان وې، خو که تاسې یې؛ نو حقیقت دا دی چې د ژوند فشار ته تسلیم شوی یې، په تا کې به ټول عمر له خطرونو یو ډول وېره پټه پرته وي. ته به ګټه غواړې، خو د بایلات وېره به د ګټې له خونده ډېره او زوروره وي. یوازې ته به پوهېږې چې تا هڅه نه ده کړې او ټول عمر دې محافظه کار چلند کړی دی.

زمونږ سترګې بیا سره ولګېدې، لس ثانیې مو یو بل ته وکتل او بیا مې چې پیغامونه ترلاسه کړل؛ نو سترګې مې واړولې.

پوښتنه مې ترې وکړ: (نو تا په ما فشار راووړ؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه موسکی شو وې ویل: (ځینې خلک به یې دا بولي، خو ما غوښتل چې د ژوند خوند دربانديې وڅکم او ورسره بلد دې کړم.)

ومې پوښت: (څنګه بلدتیا؟) زه لا هم مرور وم، خو د پلټنې احساس را کې پیدا شوی و او زده کړې ته تیار وم.

شتمن پلار وویل: (تاسې دواړه لومړي خلک وئ چې له ما مو وغوښتل، چې زه درته د پیسو ګټل در زده کړم. ماسره ۱۵۰ تنه کار کوي، خو یوه هم رانه د پیسو ګټلو د طریقې په اړه پوښتنه نه ده کړې. دوی یوازې کار او تنخوا غواړي، خو د پیسو ګټلو د چل پوښتنه نه رانه کوي. په دې خاطر به دوی ټول عمر د پیسو ګټلو لپاره کار وکړي، خو په دې به پوه نشي- چې دوی ورته کار کوي دا څه شی دي؟

زه غلی ناست وم او خبرو ته مې غوږ ایښی و.

(بیا چې مایک وویل ته غواړې د پیسو ګټلو چل زده کړې؛ نو ما درته «ژوند» ته ورته یو درسي پروګرام برابر کړ. ما به درته ډېرې خبرې کړې وې، خو تاسې زما خبرو ته غوږ نه نیوه یا پرې نه پوهېدې، په دې خاطر مې پرېکړه وکړه،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



«ژوند» په تاسې لړ «فشار» راوړي او تاسې زما په خبرو د پوهېدو وړ شئ، یوازې په همدې خاطر مې درته په یوه ساعت کې لس سپنته مزدوري درکوله.)

ما وپوښت: (نو له لس سپنته مزدورۍ ما څه درس واخیست؟ چې ته سپېره بخیل سړی یې او له خپلو کارکوونکو ناوړه ګټه اخلې؟

شتمن پلار په خپله څوکۍ کې تکیه شو او په کړس کړس یې وخندل، بیا یې چې وخندل بیا یې وویل: (تاسې باید خپل «لیدلوری» «بدل» کړئ، ما مه ملامتوئ، که تاسې داسې فکر کوئ چې ستاسو د ستونزو اصلي لامل زه یم؛ نو ما باید «بدل» کړئ او که ستونزه مو په ځان کې ولیدله؛ نو ځان به «بدل» کړئ. نوي شیان زده کړه او فکر دې پراخه کړه. په نړۍ کې زیاتره خلک غواړي چې نور خلک بدل کړي، خو د ځان بدلولو ته یې «پام» نه وي، خو زه به درته ووایم چې د نورو په پرتله خپل ځان بدلول اسانه دي.)

ما ورته وویل: (زه پوه نه شوم.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د شـــتمن پــلار حوصــله پــه ختمېــدو وه، وې ويــل: (د خپلــو ستونزو لپاره ما مه ملامتوئ.)

مــا ورتــه وويــل: (خــو تــه ماتــه پــه يــوه ســاعت لــس ســېنټه راکوې.)

شتمن پلار په موسکا وويل: (نو تا څه زده کړل؟)

په موسکا مې ورته وويل: (دا خو ته ښه سړی نه يې)

وې ويل: (نو ته څه وايې چې ستونزه په ما کې ده؟)

ومې ويل: (خود نو)

راتــه يــې وويــل: (کــه تــه داســې فکــر کــوې نــو هــېڅ بــه زده نــه کــړې، کــه تــه فکــر کــوې چــې ســتونزه پــه مــا کــې ده، نــو بــل کوم بديل لرې؟)

ومــې ويــل: (کــه تــه زمــا تنخــوا لــوړه نــه کــړې، زمــا درنــاوی ونــه کړې او درس راته رانه کړې؛ نو زه به دا دنده پرېږدم.)

شــتمن پــلار وويــل: (ښــه دې وويــل، زيــاتره خلــک همداســې کــوي، يــوه دنــده پرېــږدي او پــه بلــې داســې دنــدې پســې ګرځــي چــې پيســې پکــې ډېــرې او فرصــتونه يــې ښــه وي، دوی فکــر کــوي چــې پــه دې توګــه بــه يــې ســتونزې حــل شي، خو «حل» کېږي نه.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما پوښتنه وکړه: (نو ستونزه به څنګه حل شي؟ په همدې لس سپنتو به ګوزاره کوم؟)

شتمن پلار موسکی شو: (نور خلک همداسې کوي، دوی په دې تمه وي چې تنخوا به یې لوړه شي او ستونزې به یې ورسره حل شي، زیاتره یې په همدې دندې راضي شي، ځینې نور یې نورې دندې ولټوي، ډېر زیار به وکاږي خو تنخوا به یې بیا هم دومره لوړه نه وي.)

زه ناست وم، فرش ته مې کتل او هڅه مې کوله چې په دې درس پوه شم، ما فکر کاوه چې همدا به د ژوند څکه یا ورسره بلدتیا وي، اخر مې سر راپورته کړ، پوښتنه مې بیا تکرار کړه: (نو څه شی به ستونزه حل کړي؟)

هغه په خپله څوکۍ کې را مخکې شو، زما په تندي یې ورو ګوته کېښوده او وې ویل: (دغه، ستا د غوږونو تر منځ شی(ماغزه) به یې حل کړي.)

دې وخت کې راته شتمن پلار هغه حقیقت وښوده چې دی یې زما له نېستمن پلار او خپلو مزدورانو جلا کړی و او د همدې په برکت لنډ وخت کې د هاوایي په شتمنو خلکو کې وشمېرل شو، بل خوا زما لوستی نېستمن پلار و

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې ښې زده کړې یې کړې وي، خو ټول عمر یې د مالي ستونزو د حل په هلو ځلو تېر شو. دا یوازینی لیدلوری و چې دومره ستر توپیر یې راوړ.

شتمن پلار دا لیدلوری ځو ځو ځله بیان کړ چې زه یې د ځان لومړی درس ګڼم: ***بېوزله او د منځنۍ طبقې خلک د پیسو لپاره کار کوي، خو شتمنو خلکو ته یې پیسې کار کوي.***

د شنبې په روښانه سهار ما بیخي یو جلا لیدلوری زده کړ، دې لیدلوري له هغه څه سره ډېر توپیر درلود چې زما نېستمن پلار یې فکر کاوه. په نهه کلنۍ کې زه په دې پوه شوم چې دواړو پلرونو غوښتل زه پوه شم، دواړو ویل چې زده کړې وکړم، خو دواړو ورته (یوه) موضوع نه رانبودله.

لوستي پلار مې غوښتل هغه څه وکړم چې هغه کړي دي، ویل به یې (زویه زه غواړم چې ته زیار وکاږې، درس ووایې، ښې نومرې واخلې، ښه دنده پیدا کړې او کومې لویې اداري کې په ښه امتیازاتو وګومارل شې.)

شتمن پلار غوښتل زه دا زده کړم چې پیسې څنګه کار کوي، زه ترې څنګه کار واخلم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا ټول درسونه ما د هغه له لارښووني زده کړي، نه له کوم ښوونځي او ټولګي.

شتمن پلار مې د لومړي درس په دوام وویل: (زه خوښ شوم چې په لس سېنټه یوه ساعت مزدوري ته غوسه شوې، که ته غوسه شوی نه وی او دا دې همداسې منلې وی، ما به درته ویلي وی چې زه درته درس نه درکوم. و دې لیدل چې رښتیني زده کړه انرژی، جذبې او شوق ته اړتیا لري. غوسه هم یکې مهمه ونډه لري، ځکه په جذبې یا ولولې کې مینه او غوسه دواړه وي.

بیا چې د پیسو خبره شي؛ نو زیاتره خلک ډېر زیات احتیاط کوي او ځان خوندي کوي، په دې وخت کې بیا دوی ته جذبه نه، بلکې وېره لارښوونه کوي.)

ما پوښتنه وکړه: (په دې خاطر به هغوی په لږو پیسو کار ته غاړه ږدي؟)

زما شتمن پلار وویل: (ځینې خلک وایي چې زه له مزدورانو ناوړه ګټه اخلم، ځکه د دولت او ګاڼیو (د ګنو فابریکو) په پرتله لږ تنخوا ورکوم، خو زه وایم هغه خلک

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خپله ځان ناوړه کاروي، ځکه دا د هغوی وېره ده زما نه ده.)

ما پوښتنه وکړه: (نو ته فکر نه کوې چې دې خلکو ته باید لوړه تنخوا ورکړل شي؟)

وې ویل: (نه! زه مجبور نه یم او ته څه وایې چې په ډېرو پیسو به د دوی ستونزه حل شي؟ ته دې خپل پلار وګوره، ښې پیسې ګټي، خو بیا هم خپل پورونه نشي- پرې کولای، ځینې خلک چې څومره ډېرې پیسې پیدا کوي، هومره ډېر په پور کې ډوبېږي.)

ما ورته وویل: (ښه، دا تاسې چې ماته د یوه ساعت لس سېنټه مزدوري راکوئ، دا د درس برخه ده؟)

وې ویل: (بالکل! ته پوهېږې ستا پلار ښې زده کړې وکړې چې ښه دنده ترلاسه کړي، دنده یې ترلاسه کړه، خو بیا یې هم مالي ستونزې حل نه شوې، ځکه په یوه ښوونځي کې یې هم د پیسو په اړه زده کړه ونه کړه او بل دا چې هغه د پیسو لپاره کار کوي.)

ومې پوښت: (نو تاسې پیسو لپاره کار نه کوئ؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وې ویـل: (کـه رښـتیا درتـه ووایـم نـه! کـه غـواړې پیسـو لپـاره کـار کـول زده کـړې، نـو ښـوونځي تـه لاړ شـه، ښـوونځی ددې چـارې زده کولـو لپـاره مناسـب دی، خـو کـه غـواړې پـه دې پوه شې چې ځنګـه پیسـې ولـرې او کـار درتـه وکـړي، نـو دا بـه زه در زده کړم، خو په دې شرط چې ته چمتو شې.)

ما پوښتنه وکړه: (نور خلک نه غواړي دا زده کړي؟)

وې ویـل: (نـه، ځکـه پیسـو لپـاره کـار زده کـول اسـانه دي، خصوصـاً کلـه چـې د پیسـو خـبره راشي، نـو سـتا لـومړنی احساس به پکې وېره وي.

ما ورته په نه زړه وویل: (خو زه پوه نشوم)

هغـه وویـل: (ښـه اوس دې خـبرې تـه اندېښـنه مـه کـوه، یـوازې دومـره پـوه شـه چـې همـدا «وېـره» ده چـې ډېـر خلـک یـې پـه کـار «سـاتلي» دي، د پـور نـه ورکولـو پـه صـورت کـې د حسـاب بندېـدو وېـره، لـه کـاره د ویسـتل کېـدو وېـره، د کـافي پیسـو نشـتون وېـره او بیـا لـه سره د پیـل کولـو وېـره. دا د هغـه زده کـړو بیـه ده چـې مـوږ پـرې د پوهېـدو لپـاره زده کـړې کـوو او بیـا پـرې د پیسـو لپـاره کـار کـوو. زیـاتره خلـک د پیسـو غلامان شي او بیا په خپلو رئیسانو غوسه کوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پوښتنه مې وکړه: دا زده کول چې انسان دې پيسې وګټي او پيسې دې بيا ده ته کار وکړي، په تحصيل کې جلا رشته ده؟

شتمن پلار ځواب راکړ: (هو بالکل!)

په هاوايي کې د شنبې په روښانه سهار غلي ناست وو، ملګرو مې د کرکېټ سيالي پيل کړې وه، خو زه په دې خوښ وم چې په يو رقم مې په لس سېنټه في ساعت کار کولو ته زړه ښه کړی و. ما داسې ګڼله چې يو درس زده کوم او دا درس مې ملګري په ښوونځيو کې نشي- زده کولای.

شتمن پلار وويل: (زده کړو ته چمتو ياست؟)

په موسکا مو ځواب ورکړ: (هو)

شتمن پلار وويل: (ما خپله کړې ژمنه عملي کړې، له لرې ځايه مې درته درس درکاوه، تاسې په نهه کلنۍ کې دا درک کړه چې پيسو ته کار کول څنګه وي. تاسې خپله تېره مياشت پنځو کالو کې ضرب کړئ، نو وبه ګورئ خلکو ټول عمر د څه شي لپاره کار کړی دی.

ما ورته وويل: (زه نه پوهېږم)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وې ویـل: (تـه چـې لیکـه (قطـار) کـې ناسـت وې او خپـل وار تـه پـه تمـه وې، څـه احسـاس دې کـاوه؟ یـو ځـل چـې راتـه د کار غوښتلو لپاره راغلې او بل ځل د تنخوا لوړولو لپاره).

ما ورته وویل: (ډېر بد احساس مې وکړ)

وې ویـل: (کـه د پیسـو لپـاره کـار کـوې ، نـو ټـول عمـر بـه همداسې په تمه یې.)

بیا یـې خـبره وغځولـه: (نـه لـه درې سـاعته کـار وروسـته چـې مېـرمن مـارتین دېـرش سـېنټه درکـول بیـا دې څـه احسـاس کاوه؟)

ومـې ویـل: (مـا داسـې احساسـوله چـې دا مـزدوري لـږه ده، بیخې ناڅیزه پیسې وې، سخت به نهیلی شوم.)

هغه وویـل: زیـاتره خلـک چـې خپلـې تنخـوا تـه ګـوري همدغـه احسـاس کـوي، خصوصـاً هغـه وخـت چـې مالیـات او نـور شـیان تـرې وضـع شي، تاتـه خـو بیـا هـم ټولـه( ۱۰۰٪) تنخـوا درکول کېده.)

مـا پـه حیرانـی وپوښـتل: (یـانې مـزدور تـه د هغـه ټولـه تنخـوا نه ورکول کېږي؟)

وې ویل: (نه، دولت ترې خپله برخه ګرځوي.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ومې پوښت: (څنګه يې ګرځوې؟)

وې ويـل: (ماليـات، چـې پيسـې ترلاسـه کـوې ماليـه بـه ورکـوې، چـې پيسـې مصرفـوې ماليـه بـه ورکـوې، پيسـې چـې سپموې ماليه به ورکوې او که مرې هم ماليه به ورکوې.)

ومې ويل: (نو خلک ولې دولت دې کارونو ته پرېږدي؟)

شـتمن پـلار موسـکی شـو: (شـتمن خلـک يـې نـه پرېـږدي، ماليـات يـوازې نېسـتمن او د منځنـی طبقـې خلـک ورکـوي، زه درسره شرط وهـم چـې زمـا عايـد سـتا لـه پـلاره لـوړ دی، خـو ماليه هغه تر ما زياته ورکوي.)

زه پـه نهـه کلنـی کـې پـه دې تضـاد نـه پوهېـدم، ورتـه مـې وويـل: (دا نـو څنګـه کېـږي؟ خلـک ولـې د دولـت د دې کـار مخه نه نيسي؟)

هغـه پـه څـوکی ارام ناسـت و، ماتـه يـې وويـل: (پوهېـدو تـه چمتو يې؟)

ما د (هو) په نښه سر وخوځاوه.

(لکه څنګـه مـې چـې درتـه وويـل، د زده کـړو لپـاره ډېـر شـيان دي، خـو دا چـې پيسـې پيـدا کـړې او هغـه درتـه کـار وکـړي، دا درس بايـد ټـول عمـر زده کـړې. زيـاتره خلـک څلـور کالـه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پوهنتون لولي، خو باوري یم چې د پیسو په اړه زما زده کړې او درسونه به تول عمر روان وي، ځکه څومره چې په پیسو پوهېږم، هومره مې پام کېږي چې د زده کړې لپاره ډېر وخت ته اړتیا لرم. زیاتره خلک دا درس نه لولي، ځنګه چې فارغ شي دستي کار ته لاړ شي، تنخواوې اخلي او خپل حسابونه بېلانس کوي، بس همدومره. بیا لا حیران هم وي چې له مالي ستونزو سره ولې مخ دي. دوی بیا فکر کوي چې ډېرې پیسې به یې ستونزې حل کړي، خو دې ته نه ګوري چې مالي ستونزې د پیسو په اړه د دوی د لږو یا نشت زده کړو له امله دي.

ما په حیرانۍ پوښتنه وکړه: (ښه، زما پلار چې مالي ستونزې لري، دا په دې مانا ده چې په پیسو نه پوهېږي؟)

ځواب یې راکړ: دا یو لوی درس دی چې ته څنګه پیسې پیدا کړې او هغه پیسې تاته کار وکړي، مالیات د دې درس وړه برخه ده. زه نن یوازې په دې پوهېدل غواړم چې د پیسو په اړه درس زده کولو ته لا هم لېواله یې که نه؟ ځکه زیاتره خلک یې نه غواړي چې زده کړي، دوی غواړي چې یوازې ښوونځي ته لاړ شي، یو کسب یا مسلک زده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړي په خپل کار کې خوښ وي او پیسې ترلاسه کړي، خو یوه ورځ چې لویو مالي ستونزو سره مخ شي، همدا ستونزې یې له خوبه راویښ کړي او بیا اړ کېږي چې کار ته لاړ شي. که غواړې چې ته پیسو لپاره کار ونه کړې او پیسې دې تا لپاره کار وکړي، نو دا د دې چل زده کولو یوازینی لاره ده. نو ته یې غواړې چې زده کړې؟

ما، سر د (هو) په نښه وخوځاوه.

هغه وویل: (ډېر ښه، اوس خپل کار ته ستانه شئ، دا ځل درته هېڅ پیسې نه درکول کېږي.)

ما په حیرانۍ وپوښتل: (څه؟)

هغه وویل: همدا چې وا دې ورېدل. تاسې به د تېر په څېر هره شنبه درې ساعته کار کوئ، خو دا ځل به درته د یوه ساعت هغه پخواني لس سېنته هم نه درکول کېږي. تاسو خپله وویل دا زده کوئ، چې پیسو ته کار ونه کړئ، نو زه درته بیخي پیسې نه درکوم.

بیخي مې باور نه کېده! هغه وویل: ما مایک سره په دې اړه مخکې خبرې کړې وې، هغه کار پیل کړی دی، وریا لګیا دی زده کړه کوي او د کنسروا قطعې پاکوي، ښه ده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې ته هم تادي وکړې او په خپل وخت خپل کار ته ورشې.

چيغه مې کړه: (دا خو انصاف نه دی، لږې پيسې خو بايد راکړې.)

هغه ځواب راکړ: خو تا وويل چې زده کړه کوم، که اوس دا موضوع زده نه کړې، سبا چې غټ شې، د هماغه خلکو پاخه عمره ښځې او سړي په څېر به پيسو ته کار کوې چې بهر ناست دي. دوی په دې هيله دي چې زه يې له کاره ونه شړم يا ستا د پلار غونډې نشي- چې ښې پيسې ګټي، خو بيا هم په پورونو کې ډوب دی، دوی په دې تمه دي چې پيسې به يې ډېرې ستونزې ور حل کړي. که ته هم داسې غواړې، نو زه هم بېرته هماغه په يوه ساعت لس سېنټه درکوم، ته هماغه کار پيل کړه چې ډېر خلک يې کوي، بس شکايت پيل کړه چې دا پيسې لږې دي، بيا استعفا وکړه او په يو بل کار پسې وګرځه.

بيا ترې ما وپوښتل چې زه څه وکړم؟

پلار مې ورو زما په تندي ګوته کېښوده وي ويل: له دې کار واخله! که له دې، د کار واخيست، زما د درکړي



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



فرصت له امله به رانه مننه هم وکړې او لنډ وخت کې به شتمن هم شې.

همالته ولاړم، هېڅ نه پوهېدم چې دا مې څه ډول معاملې ته غاړه ایښې وه. زه دلته راغلی وم چې تنخوا به مې زیاته شي، خو هغه شته تنخوا هم را نه وګرځول شوه او وړیا کار ته روان یم.

شتمن پلار مې بیا په تندي ګوته را کېښوده، وې ویل: (له دې کار واخله! څه اوس بېرته خپل کار ته ور ستون شه.)

**لومړی درس: شتمن پیسو لپاره کار نه کوي**

نېستمن پلار ته مې دا ونه ویل چې نور به کار هغه شته تنخوا هم نه راکوي، ځکه هغه دا خبره نه شوی درک کولای او ما هم نه غوښتل په هغه موضوع یې پوه کړم چې زه پرې لا خپله هم سم نه وم پوه شوی.

درې اونیو پورې ما او مایک هره شنبه درې ساعته وړیا کار کاوه. کار سره لږ عادت شوی هم وم، ډېر یې نه ځورولم، خو بس دومره وه چې د کرکټ لوبه مې نه شوی کولای او د ټوکو کتابونه مې هم نه پېرل.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د درېيمې شنبې ماسپښين شتمن پلار په موږ کار بند کړ، په پارکينګ کې يې موږ د موټر غږ واورېد. مغازې ته رانـنوت او مېرمن مارتين سره يې روغبړ وکړ. بيا يې مغازې کې هاخوا دېخوا وکتل او جاج يې واخيست. وروسته يخچال ته لاړ، دوه ايسکريمه يې را واخيستل، پيسې يې ورکړې، يو يې ماته راکړ او بل مايک ته، راته يې وويل: (هلکانو! راځئ چې چکر ته لاړ شو.)

له دوه درې سرکونو او ولاړو موټرو واوښتو، يوه ميدان ته لاړو، څو کسانو پکې د کرکېټ لوبه کوله. هلته لرې څنډه کې په يوې څوکۍ کېناستو او ايسکريم مو ختم کړل، شتمن پلار وويل: (څنګه چل دی هلکانو؟)

مايک وويل: (خيريت دی ما هم د هغه په تاييد، سر د (هو) په نښه وخوځاوه.)

شتمن پلار وويل: (څه نا څه کار مو زده کړی که نه؟)

ما او مايک يو بل ته وکتل، اوږې مو وښورولې او سرونه مو د نه پوهېږو په نښه وخوځول.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د ژوند له یوه لوی دامه ځان ژغورل

ښه نو، ښه ده چې تاسو دواړه «فکر» پیل کړئ، تاسې د ژوند یو لوی درس پیل کوئ. که دا درس مو زده کړ؛ نو له ازاد او بې خطره ژونده به خوند واخلئ. که دا درس مو زده نه کړ، نو برخلیک به مو د مېرمن مارټین او دېته ورته خلکو په څېر وي چې دلته لګیا دي کرکېټ کوي. دا خلک ډېر زیات کار کوي او په دې نیت یې کوي چې ډېرې پیسې ترلاسه کړي. دوی د کاري امنیت، کلنۍ رخصتیو او له پنځه څلوېښت کاله خدمت وروسته تقاعد ته سترګې نیولې وي. که تاسې ته هم دا کار خوند درکوي؛ نو زه به مو تنخوا په یوه ساعت کې پنځه ویشت سېنټو ته لوړه کړم.

ما په ټیټ غږ وویل: (خو دوی ډېر زیارکښه خلک دي، ته پرې ملنډې وهې؟)

شتمن پلار موسکی شو، وې ویل: مېرمن مارټین ما ته د مور حیثیت لري، هېڅکله یې په اړه نه داسې فکر کوم او نه دومره بې رحمه کېدای شم، دا مې په دې خاطر وویل چې ستاسې په نظر پوه شم. زه غواړم چې د دې مسایلو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library


په اړه ستاسې لید «پراخه» کړم، غواړم هغه څه ووینئ چې ډېر خلک یې لا له لیدو نه دي برخمن شوي، ځکه د هغوی لید ډېر محدود دی، زیاتره خلک هغه دام نه ویني چې دوی پکې ښکېل شوي دي.

زه او مایک ناست او دا ناخرګند پیغام مو اورېده، هغه بې رحمه ښکارېده او موږ احساس کاوه چې اوس یې هم په نهیلۍ غوښتل، موږ ته یو څه را زده کړي.

په هماغه موسکا یې خبره وغځوله: ستاسې په نظر د یوه ساعت پنځه سېنټه مزدوري ښه نه ده؟ خوند یې درنه کړ؟

ما سر د (نه) په نښه وخوځاوه، خو زړه کې یې خوند راکړی و، ځکه په یوه ساعت کې پنځه ویشت سېنټه ماته ډېرې پیسې وې.

شتمن پلار په موسکا وویل: (ښه، په یوه ساعت کې یو ډالر درکوم.)

دا ځل مې نو د زړه درزا هم زیاتېده، ذهن مې هیجاني شو. هغه وویل: (اوس خو یې ومنه.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زما باور نه راته چې داسې وړاندیز دې راته شوی وي، هېڅ مې ونه ویل، دا ځل یې وویل: (ښه په ساعت دوه ډالر؟)

زما کوچنی نهه کلن زړه او ماغزه نږدې له خوشالۍ چاودلي وو، بله دا چې په ۱۹۵۶ز کال کې، په یوه ساعت دوه ډالرو زه د نړۍ تر ټولو شتمن ماشوم کولای شوی. ما یې تصور هم نه شو کولای. همدا خبره مې خوښه شوه او زړه مې و چې ویې منم. د نوي بایسکل، د کرکېټ د دستکشو او د ملګرو هغه حیرانتیا مې نېغه مخ ته ودرېده، چې زما له جیبه د پیسو په راوتلو به یې کوله. پر دې ټولو سربېره دا چې جیمي او شتمنو ملګرو یې زه نور بېوزله نه شوم بللی، خو ځان مې په یو رقم غلی کړ.

ایسکریم مې په لاسو کې ویلي کېده. شتمن پلار هغه دوو ماشومانو ته ځیر وو چې خولې یې وازې پاتې وې او ذهنونه یې بیخي تش وو. هغه موږ ازمویلو او ښه پوهېدو چې موږ کې دننه حتماً دا احساس شته چې دغه معامله ورسره ومنو. هغه پوهېده چې هر انسان چې په ځان کې یوه اړتیا او کمزوري لري چې هغه پېرل کېدای شي او هر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



انسان داسې یو قوي او ډاډمن احساس هم لري چې هغه نه پېرل کېږي. پوازې یوه پوښتنه وه چې کوم یو قوي دی؟

شتمن پلار وویل: (نېه د یوه ساعت پنځه ډالره.)

زه غلی وم، خو یو بدلون راغی، دا ځل نو ورانديز بيخي لوی او افراطي و. په ۱۹۵۶ز کال کې ډېرو لويانو هم دومره تنخوا نه اخيسته، دې سره په ما کې شته وسوسه ختمه شوه او ارام شوم.

ورو کينې خوا ته وخرخېدم، مايک ته مې وکتل، هغه هم را وکتل. زما د نفس اړه او کمزورې برخه ارامه شوه، نه پلور کېدونکې برخه مې را خرگنده شوه. په ذهن کې مې د پيسو په اړه ډاډ او ارامتيا پيدا شول، پوه شوم چې مايک هم زما په خبر دې موضوع ته متوجې شوی دی.

شتمن پلار ورو وويل: (زياتره خلک يوه بيه لري او ځکه يې لري چې انسان د وېرې او تمې احساسات لري. لومړی مو د مفلسی وېره کار ته هڅوي بيا چې تنخوا واخلو؛ نو د تمې احساسات را پيل شي، د دې احساساتو


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



له امله په ټولو هغو شیانو فکر کوو چې موږ یې په پیسو پېرلای شو او په دې توګه مخبېلګه جوړېږي.)

پوښتنه مې وکړه: (څنګه مخبېلګه؟)

وې ویل: همدا د پاڅېدو، کار ته تلو، تنخوا اخیستو او بېرته د مصرفولو تکرار، ژوند په همدې اساس تکرارېږي، د انسان ژوند همدا دوه د وېرې او تمې د احساساتو له خوا کنټرولېږي. دوی ته چې ډېرې پیسې ورانديز شي، همدومره یې ورسره لګښتونه هم لوړېږي او دې چارې ته زه د موږکانو څغاسته وایم.

مایک پوښتنه وکړه: (نو بله لار شته؟)

وې ویل: که تاسې ماسره کار وکړئ او درس ووایئ، نو زه هیله لرم چې همدا به زده کړئ، په همدې خاطر زه تل د تنخوا لپاره کار ردوم.

مایک پوښتنه وکړه: (کومه لاره شته؟، موږ له دې وړیا کاره بیخي ستړي شوي یو.)

شتمن پلار وویل: لومړی خبره رښتیا ویل دي.

ما وویل: (موږ خو دروغ نه وایو.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پلار زیاته کړه: (ما نه دي ویلي چې تاسې دروغ وایئ، زه وایم چې رښتیا ووایئ.)

ما پوښتنه وکړه: د څه شي په اړه رښتیا ووایو؟)

پلار وویل: (د خپل احساس په اړه، تاسې اړ نه یئ چې دا خبره بل چا ته وکړئ، یوازې ځان ته یې ووایئ.)

مایک وویل: (یانې دا خلک چې دلته لوبې کوي او مېرمن مارتین چې تاسې سره کار کوي، دوی داسې نه کوي؟)

پلار وویل: (فکر نه کوم، ځکه دوی له خپلو ماغزو کار نه اخلي، ددې پرځای له مفلسۍ وېرېږي. دوی همدې مفلسۍ سره د مبارزې لپاره، د فکر کولو پر ځای غبرګون ښيي. یعنې له ذهن د کار اخیستو پر ځای له احساساتو کار اخلي. بیا چې دوی لږه تنخوا واخلي، بېرته یې هماغه د تمې احساسات راوپارېږي، بیا احساساتي چلند وکړي او فکر نه کوي.

مایک وویل: (یانې ماغزه یې د احساساتو په واک کې وي؟)

شتمن پلار وویل: همداسې ده. دوی د خپلو احساساتو په اړه رښتیا نه وایي، ددې پر ځای یې په مقابل کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



غبرگــون نېـيي او فکـر نشيـ- کــولای. دوی وېــره احساســوي، بيـا پـه دې نيـت کـار تـه ځـي چې پيسـې بـه يـې گنـي وېـره ختمـه کـړي، خـو داسـې نـه کېـږي. دوی سره همـدا وېـره وي، همـدا وېـره يـې ببرتـه بيـا کـار تـه راولي، بيـا پـه دې تمـه شي چې پيسـې بـه يـې ستونزې حـل کـړي، خـو بيـا هـم نـه حـل کېـږي. دوی د وېــرې پــه همـدې دام کـې نيښـتي وي چــې کـار کـوي، پيسـې ترلاسـه کـوي، بيـا کـار کـوي بيـا پيسـې ترلاسـه کــوي او همداسـې دوام کــوي، دا ټــول پــه دې تمــه کــوي چــې دا وېــره بــه گنــي ختمــه شي. خــو دا خلــک چــې هــره ورځ را ويښــېږي، همـــدا وېــره ورسره ســمه را ويښــېږي. همـدا وېـره ميليونونـه خلـک د شـپې خـوب تـه نـه پرېـږدي او ژونـد يـې ورتـه لـه خپگـان او اندېښـنو ډک کـړی وي. دوی سـهار راويښـېږي، کـار تـه ځـي، دوی پـه تمـه وي چـې د مياشـتې پـه اخـر کـې بـه تنخـوا واخـلي او دا تنخـوا بـه د دوی هغـه وېـره ختمـه کـړي چـې دوی د شـپې خـوب تـه نـه پرېـږدي. د دوی ژونـد پـه پيسـو روان وي، خـو دوی ځانتـه دا حقيقـت نـه وايـي چـې پيسـې د دوی پـه اروا او احساسـاتو واکمنې دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمن پلار، شېبه غلی شو چې خبرې یې زموږ په ذهن کې کېني. ما او مایک یې خبرې واورېدې، خو په هدف یې سم پوه نه شو. زه یوازې دېته حیران وم چې لویان ولې غواړي زر تر زره له کاره لاس په سر شي. دا کار هغوی ته ډېر په زړه پورې نه و، خو بیا یې هم کاوه.

د پلار په خبرو لکه چې د خپلې وسې سره پوه شوي وو، شتمن پلار وویل: (زه غواړم چې تاسې هلکان له دې دامه خبر کړم. زه غواړم چې تاسې په دې درس پوه کړم، نه دا چې یوازې شتمن شئ، ځکه یوازې شتمن کېدل ستونزه نه حل کوي.)

ما په حیرانۍ وپوښتل: (ستونزه نه حل کوي؟)

وې ویل: (نه، ښه راځه چې نور احساسات درته تشریح کړم: هیله، ځینې خلک یې حرص بولي، خو زه به ورته هیله (ارمان) ووایم. د لا ډېر ښه، ښایسته او خوندور شي هیله لرل طبیعي ده. نو خلک د پیسو لپاره هم، د همدې هیلې له امله کار کوي. دوی پیسې د دې لپاره گټي چې فکر کوي کوم خوندونه چې دوی غواړي هغه به پرې وپېري، خو په پیسو اخیستل شوی دا خوند ډېر لنډ تنگ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وي او دوی لــږ وخــت وروســته بیــا د نــور خونــد، هیجــان، هوســاینې او امنیــت لپــاره لا ډېــرو پیســو تــه اړتیــا پیــدا کــوي، دوی کــار کــوي او پــه دې تمــه وي چــې پیســې بــه ګنــي د دوی هغــه خــوا ســره کــړي چــې وېــرې او هیلــو نارامــه کــړې ده، خو پیسې داسې نشي کولای.

مایک پوښتنه وکړه: (ان شتمن خلک هم داسې کوي؟)

ځــواب یــې واورېــد: شــتمن خلــک هــم پکــې راځــي. ډېــر خلــک د هیلو لـه امله نـه، بلکـې د خپلـې وېـرې لـه املـه شـتمن دي.

دوی فکــر کــوي چــې پیســې بــه یــې ګنــي د نېســتمنېدو او مفلســېدو وېــره ووژنــي، بیــا چــې ښــې ډېــرې پیســې راټــولې کــړي پــوه شي چــې وېــره یــې لا پســې ډېــره شــوې ده، ځکــه دا وخــت ورسره بیــا د پیســو بــایللو وېــره وي. زه داســې کســان پېــژنم چــې ډېــر شــتمن دي، خــو بیــا هــم کــار کــوي او داســې خلــک هــم پېــژنم چــې اوس میلیــونران دي، خــو د غریبــۍ لــه وختــه اوس ډېــر پــه وېــره کــې دي. دوی سره دا وېــره وي چــې پیســې ونــه بــایلي یــا تــرې لاړې نــه شي. کــومې وېــرې چــې دوی شــتمن کــړي دي اوس هماغــه وېــره لاپســې ډېــره شــوې ده. دا اصــلاً د دوی د نفــس د اړې او کمــزورۍ برخــې غــږ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دي چې راپورټ کېږي. دوی نه غواړي چې لوی کورونه، موټرې او د ژوند هغه لوړه کچه وبايلي چې په دې پيسو يې جوړه کړې ده. دوی سره دا غم وي چې که دا پيسې ترې لاړې شي او بېرته غريب شي؛ نو ملګري او خپلوان به يې څه وايي، خلک به څه وايي. داسې خلک زياتره له احساساتي پلوه ګوښي او عصباني وي، سره ددې چې ښې ډېرې پيسې هم لري.

ما پوښتنه وکړه: (نو غريب خلک ډېر خوښ وي؟)

وې ويل: نه، فکر نه کوم، له پيسو مخ ګرځول له اروايي پلوه داسې دي لکه پيسو پورې نيښتل.

دې وخت کې يو بې کوره سړی زموږ له مخې تېر شو، د خځلو يوه ډېري ته ودرېده او لتون يې پکې پيل کړ. موږ درې واړه ورته څير وو. موږ چې ترې مخ را ګرځاوه. شتمن پلار له خپل جېبه يو ډالر را وويست او هغه غريب سپين ږيري ته يې اشاره وکړه، هغه چې پيسې وليدې زر را روان شو، پيسې يې واخيستې، دستي يې مننه وکړه او په خپل نېک بخت خوشاله شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شـتمن پـلار وویـل: دا زمـا لـه کـارکوونکو سره چنـداني تـوپير نـه لـري، مـا ډېـر داسـې خلـک ليـدلي چـې وايـي پيسـې مـې نـه خوښـېږي، خـو پـه وظيفـه کـې د ورځـې اتـه سـاعته کـار کـوي، دا پـه حقيقـت سـترګې پټـول دي. کـه دوی پيسـو سره علاقـه نـه لـري؛ نـو کـار ولـې کـوي؟ د فکـر دا بنـه د هغـه کـس پـه پرتلـه ډېـره رواني سـتونزه لـري چـې غـواړي پيسـې راټولې کړي.

شـــتمن سره ناســـت وم، دا خـــبرې مـــې چـــې واورېـــدې، د نېسـتمن پـلار هغـه خـبرې را يـادې شـوې چـې ډېـر ځلـه يـې راتـه کـولې، هغـه بـه ويـل: (زمـا پيسـې نـه خوښـېږي) هغـه دا خـبره کـوي او دليـل يـې بيـا دا وايـي چـې: (ځکـه چـې زه خپل کار سره مينه لرم.)

مـا ورتـه وويـل: (نـو مـوږ بايـد څـه وکـړو؟ تـر څـو چـې مـې دا وېـرې او تمـې نـه وي ختمـې شـوې تـر هغـې وړيـا او بـې پيسـو کار وکړو؟)

ځـواب يـې راکـړ: مـوږ پـه احساسـاتو انسـانان يـو، دا د حرکـت قـوت دی، خپلـو احساســاتو سره ربنــتيني اوســئ او خپــل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ذهن او احساسات د ځان په ګټه وکاروئ؛ نه د ځان پر وراندې.

مایک وویل: (ښا!!)

شتمن پلار وغځوله: اوس مې چې درته څه وویل ډېره اندېښنه ورته مه کوئ، دا درک پیدا کول ډېر وخت نیسي. تاسې باید د خپلو احساساتو پر وړاندې سیلبین ووسئ، نه غبرګون کوونکي. زیاتره خلک نه پوهېږي چې د دوی پر ځای یې احساسات فکر کوي، احساسات ستاسې خپل دي، خو دا هم باید زده کړئ چې تاسې خپله ځان ته فکر وکړئ.

پوښتنه مې وکړه: (مثلاً؟)

وې ویل: مثلاً که یو کس وایي چې زه دندې ته اړتیا لرم، مور ویلی شو چې په دې وخت کې یې احساسات فکر کوي او دا فکر د مفلسی وېرې پیدا کړی دی.

ما خبره وغځوله: (خو که خلک غواړي چې لګښت وکړي، پیسو ته اړتیا پیدا کوي کنه.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه راته وویل: هو اړتیا پیدا کوي، خو زه دا وایم چې زیاتره د دې خلکو پر ځای، د دوی همدا «وېره» «فکر» کوي.

مایک وویل: (زه پوه نه شوم.)

شتمن پلار وویل: گوره! مثلاً که په هغوی کې د کافي پیسو نشتون وېره پیدا شي، دوی باید دستي دا فکر وکړي چې ایا کار پیدا کول د دې وېرې تلپاتې حللاره ده که نه؟ خو دوی داسې نه کوي، دوی سمدستي په کار پسې وځي چې ویې کړي او یو مقدار پیسې پیدا کړي. زه فکر کوم دا د وېرې ختمولو لاره نه ده. ځکه «دنده» د اوږدمهالې ستونزې ختمولو «لنډمهالې» حللاره ده.

زه لږ گنگس شوی غوندې وم ومې ویل: (خو زما پلار تل وايي چې ښوونځي ته لاړ شه او ښې نومرې واخله چې خوندي او ډاډمنه «دنده» درته وگورې.)

شتمن پلار په موسکا وویل: (هو زه پوهېږم چې هغه څه وايي، زیاتره خلک دا وړاندیز کوي او دا ورته ښه لاره هم ده، خو خلک دا وړاندیز له وېرې مخکې کوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پوښتنه مې وکړه: (یاني زما پلار وېرېږي چې دا خبره کوي؟)

وې ویل: هو، هغه له دې وېرېږي ته به دا ورتیا ونه لري چې پیسې وګټې او ځان له تولنې سره سیال کړې. زما خبره ناسمه وانخلئ. په هغه ته ډېر ګران یې او ستا ښه غواړي، زه فکر کوم چې وېره یې پر ځای ده. «زده کړې» او «دنده» لرل دواړه مهم دي، خو د «وېرې» د کنټرول لپاره «بسنه» نه کوي. ګوره کومه وېره چې هغه سهار کې د څو پیسو ګټلو لپاره را ویښوي، هماغه وېره ستا پلار ستا د ښوونځي په اړه هم متعصبوي.

ما پوښتنه وکړه: (نو ستا وړاندیز څه دی؟)

وې ویل: زه غواړم تاسې دا زده کړئ چې د خپلو پیسو د قوت خاوندان شئ، نه دا چې وېره ترې ولرئ. دوی دا شی په ښوونځیو کې نه ښيي او که تاسي یې زده نه کړئ؛ نو د پیسو غلامان به شئ.

بلاخره مو خبره درک کړه، هغه غوښتل چې زموږ لیدلوری پراخه شي او هغه څه ووینو چې مېرمن مارټین، نور کارکوونکي او ان زما پلار یې نشي- لیدلای. هغه داسې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ببلگې وکاروليٍ چې هغه وخت کې ظلم ښکارېده، خو له ما هېڅکله هېرې نه شوې. په هغه ورځ زما ليډلورى پراخ شو او هغه دام راته په ښکارېدو و چې د زياتره خلکو پښو ته اېښى و.

شتمن پلار وويل: تاسې پوهېږئ چې موږ ټول کارکوونکي يو، خو په بېلابېلو موقفونو کار کوو. زه غواړم تاسې دواړه له هغه دامه د ځان ژغورنې فرصت ولرئ چې «وېرې» او «هيلې» درته اېښې دي. زما درس درته دا دى. زه نه غواړم تاسې ته دا زده کړم چې پيسې څنګه راټولې کړئ، ځکه دا وېره او هيلې نه ختموي. که تاسې دا وېره او هيله ختمه نه کړئ؛ نو که هر څه ډېر شتمن شئ، دا به په دې مانا وي چې د لوړې تنخوا مزدوران يئ.

پوښتنه مې وکړه: (نو له دې دامه څنګه خلاص شو؟)

ځواب يې راکړ: د بېوزلۍ او اقتصادي ستونزو اصلي لامل «وېره» او «ناپوهي» ده، نه اقتصاد، دولت او يا شتمن خلک. د انسان خپله دروني وېره او ناپوهي انسان په دې دام کې ساتي. نو تاسې دواړه ښوونځي ته لاړ شئ، د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لېسي سند واخلئ او زه به دا در زده کړم چې له دې دامه ځان څنګه وساتئ.

معما ورو ورو حل کېده. لوستي پلار مې نښې زده کړې او ښه دنده درلوده، خو دې سواد ورته هېڅکله دا نه وو ويلي چې څنګه خپلې پيسې يا دروني وېره کنټرول کړي. اوس نو زه هم په دې پوه شوم چې له خپلو دواړو پلرونو بېلابېل درسونه زده کولای شم.

مايک پوښته وکړه: (تا زموږ د مفلسۍ د وېرې په اړه وغږېدې، خو دا دې راته ونه ويل چې د پيسو هيله څنګه زموږ فکر اغېزمنوي؟

پلار يې ځواب ورکړ: ما چې درته د وېرې پيسې ورانديز کولې تاسې څه احساس درلوده؟ تمه مو ورسره لوړېده که نه؟

موږ سر د (هو) په نښه وخوځاوه.

شتمن پلار وويل: (تاسې په خپلو احساساتو برلاسي شوئ، خپل غبرګون مو وځنډاوه او فکر مو وکړ. دا تر ټولو مهم اصل دی. موږ ټول عمر د وېرې او تمې احساسات لرو. له دې وروسته درته مهمه دا ده چې په اوږد مهال

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې له دې احساساتو د ځان په ګټه کار واخلئ او په اسانه يې پرې نه ږدئ چې ستاسې په فکر برلاسي شي.
زياتره خلک وېره او هيله د ځان پر «ضد» کاروي. دا د «ناپوهۍ» پيل دی. دا خلک ټول عمر په دندو، لوړو تنخواوو او کاري خونديتوب پسې وي، دا هر څه يوازې د وېرې او هيلې له امله کوي، خو دې ته نه ګوري چې احساسات يې د دوی پر ځای فکر کوي او دوی يې چېرته روان کړي دي.
دا داسې ده لکه د يوه خره مخې ته چې يې خاوند د ګازرې انځور را ځوړند کړی وي، د خره خاوند په خره سپور خپل ټاکلي منزل ته روان وي، خو خر يوازې ګازرې پسې روان وي، په دې توګه د خره خاوند خپل منزل ته نږدې کېږي او خره ته سبا ورځ يوازې بله ګازره را ځوړندېږي.
مايک پوښتنه وکړه: (ياني موږ چې د بايسکل، نويو دستکشو، شيرينۍ او د لوبو د سامان فکر کاوه، دا داسې و لکه خره ته ګازره؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library


ځواب يې ورکړ: هو او څومره چې ته غتېږې دا د لوبو وسايل دې هم قيمتي کېږي، موټر، کور، په ملګرو کې موقف او مقام... وېره به دې له کوره وباسي او هيلې او غوښتنې به دې ببرته کور ته را بولي، دا دام دی.

مايک وپوښتل: (نو څه بايد وشي؟)

شتمن پلار وويل: «بې خبري» وېره او تمه «زياتوي». په دې خاطر زياتره شتمن خلک همدومره ډېره هم لري او بيا هم شتمنېږي. پيسې هماغه د خره ګازره ده، که چېرې خر تېوله صحنه ليدی شوی، ښايي ګازرې پسې په تلو يې بيا فکر کړی وی.

شتمن پلار غوښتل چې موږ ته دا تشريح کړي چې انساني ژوند د ناپوهی او رڼا (پوهې) تر منځ مبارزه ده.

هغه وويل انسان چې د پوهې او ځان پېژندنې لپاره د معلوماتو لټون بس کړ، ناپوهي ورته راځي. دغه مبارزه د زده کړې او د انساني ذهن د تړلو او خلاصولو شېبه په شېبه پرېکړه ده.

ګورئ ښوونځی ډېر مهم دی، تاسې ښوونځي ته ځئ يو مسلک او مهارت زده کوئ او د ټولنې ګټور غړي کېږئ.


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هر فرهنګ ښوونکو، ډاکترانو، مستريانو، هنرمندانو، آشپزانو، سوداګرو، پوليسو، سرتېرو او د اوروژني پوليسو ته اړتيا لري. دوی په ښوونځيو کې روزل کېږي او بيا تر ي تولنه د ودې او هوساينې په برخه کې کار اخلي. خو له بده مرغه زياتره خلکو ته «ښوونځی» د «پيل» په ځای «پای» وي.

اوږده چوپتيا خوږه شوه، شتمن پلار موسکی و. زه يې هغه ورځ په ټولو خبرو پوه نه شوم، خو د هغه خبرې راسره نن هم شته، دا خبرې د هغو سترو ښوونکو خبرې وې چې له هغه وروسته هم تر پېړيو پېړيو خلکو ته درس ورکوي.

شتمن پلار وويل: زه نن لږ بې رحمه وم، خو زه غواړم چې تاسې مې دا خبرې يادې وساتئ. زه غواړم چې تاسې تل د مېرمن مارټين په اړه فکر وکړئ او د هغه خره بېلګه ياده وساتئ. د هغه وېرې او هيلې هغه دوه احساسات مه هېروئ چې تاسې په دام کې بندولای شي او که تاسې ترې خبر نه شئ؛ نو په فکر مو برلاسي کېدای شي. ظلم يا بې رحمي دا ده چې په وېره کې ژوند وکړې او خپل



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خوبونـه رښـتیا نـه کـړي. دا هـم ظلـم دی چـې څـوک دې پیسـو لپـاره ډېـر زیـات کـار وکـړي او بیـا دې پـه دې تمـه وي چـې دا پیسـې او پـه دې پیسـو اخیسـتل شـوي شـیان بـه ګنـې د دوی سـتونزه حـل کـړي. دا هـم ظلـم دی چـې انسـان دې د پورونـو د وېـرې او اندېښـنې لـه امله نیمـه شـپه ناڅاپـه لـه خوبـه را ویښ شي، دا وېـرې او دا ژونـد هـم ظلـم دی. پـه تـاکلې تنخـوا خپـل ژونـد قربـاني کـول، هـم ژونـد نـه دی. دا بـه فکـر چـې دنـده بـه ګنـې ستاسـې ژونـد خونـدي کـړي، هـم ځـان تېرایسـتل دي. دا ظلـم دی او همـدا هغـه دام دی چـې زه وایـم تاسـې تـرې بایـد ځـان خونـدي کـړئ. نـو مـه پرېـږدئ چـې داسـې درسره وشي. هیلـه کـوم، پیسـو تـه دا اجازه مه ورکوئ چې ستاسې په ژوند واکمني وکړي.

پـه دې وخـت کـې د کرکېـټ تـوپ زمـوږ د مېـز لانـدې را ولوېد. شتمن پلار توپ واخیست او بېرته یې ور وغورځاوه.

مـا پوښـتنه وکـړه: (نـو دا نـاپوهي لـه وېـرې او تمـې سره څـه اړیکه لري؟)

شـتمن پـلار وویـل: د پیسـو پـه اړه نـاپوهي، وېـره او تمـه زېږوي. زه بـه یـې درتـه څـو بېلګـې ووایـم. ډاکټـر د خپلـو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



اسانتیاوو زیاتولو لپاره فیس لوړوي. دې سره عام ولس ته د درملنې بیه لوړېږي. دا په زیاتره بېوزلو خلکو اغېز کوي او د دوی روغتیا د شتمنو خلکو په پرتله کمزورې کېږي.

ډاکټر چې خپل فیس زیات کړ، مدافع وکیل هم ورسره خپله معاوضه لوړوي. د ده معاوضه چې لوړه شو، د ښوونځي استادان هم د تنخوا زیاتولو غوښتنه کوي. په دې توګه زموږ مالیات لوړېږي او دا لړۍ همداسې روانه وي. بیا په لږ وخت کې د شتمن او نېستمن تر منځ دومره واټن رامنځته شي چې له امله یې بې نظمي پیدا شي او یو ستر تمدن له ګواښ سره مخ شي. زموږ زیاتره تمدنونه په همدې خاطر له منځه تللي چې د شتمن او بېوزله تر منځ واټن یکې له حده اوښتی و. امریکا په همدې لاره روانه ده، ځکه موږ له تاریخ زده کړه نه ده کړې. یوازې مو نېټې او نومونه ترې زده کړي، نه درسونه.

ما پوښتنه وکړه: (نو دا بیې به نه لوړېږي؟)

وي ویل: (په لوستې او ښه حکومت لرونکې ټولنه کې باید بیې را ټیټې شي، خو دا خبرې یوازې په تیوریو کې صدق کوي. موږ وویل چې ناپوهي وېره او تمه پیدا کوي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



او دا د بیو لوړېدو لامل کېږي. که ښوونځیو کې خلکو ته د پیسو په اړه درس ورکول کېدی؛ نو پیسې به پرېمانه او بیې به ټیټې وې. په ښوونځیو کې خلکو ته یوازې دا ښودل کېږي چې د پیسو لپاره کار وکړي، نه دا چې د پیسو قوت څنګه کنټرول شي.

مایک پوښتنه وکړه: (خو موږ سوداګریز ښوونځي هم لرو او تا په ما ټینګار کاوه چې باید د کاروبار په مدیریت کې ماسټري (MBA) وکړم.)

شتمن پلار وویل: هو شته، خو په زیاتره ښوونځیو کې شاګردانو ته د حسابدارۍ لږه منظمه روزنه ورکول کېږي او لېږي ده چې داسې کس د کاروبار واکمن شي، دوی یوازې ارقامو ته ګوري، خلک له دندو شړي او بلاخره کاروبار له خاورو سره خاورې کوي. زه ځکه پوهېږم چې ما داسې خلک ګومارلي دي. دوی یوازې د لګښت ټیټولو او بیو لوړولو په فکر کې وي چې دا خپله نورې ستونزې پیدا کوي. دا حساب کتاب په خپل ځای مهم دی او زه په دې هیله یم چې ډېر زیات خلک پرې پوه شي.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



بیا شتمن پلار په غوسه وویل چې هر څه همدا حساب او کتاب نه دي!

مایک پوښتنه وکړه: (نو چاره څه ده؟)

شتمن پلار وویل: هڅه وکړئ چې د فکر کولو لپاره د احساساتو کارول زده کړئ؛ نه دا چې په احساساتو فکر وکړئ. تاسې دواړه چې په خپلو احساساتو برلاسي شوئ او ماسره مو وړیا کار ته غاړه کېښوده، زه پوه شوم چې یوه تمه وه. بیا چې درته ما ډېرې پیسې وړاندیز کړې، تاسې بیا هم خپل احساسات کنټرول کړل او له فکره مو کار واخیست، دا لومړی ګام و.

ما پوښتنه وکړه: (نو دا ګام ولې دومره مهم دی؟)

شتمن پلار وویل: دا ځواب باید تاسې خپله پیدا کړئ، البته که غواړئ پوه شئ زه به مو ځان سره د اغزنو ونو ځای (Briar[۲] patch) ته بوځم، دلته ډېر خلک نه ځي، که تاسې ماسره لاړ شئ، نو په دې به پوه شئ چې څنګه د پیسو لپاره کار ونه کړئ او پیسې د ځان لپاره وکاروئ.

[۲] Brair یو ډول ونه ده چې د قیر په رنګ تور اغزي لري او په صنعت کې نرې ګټه اخیستل کېږي. بله اسطوره دا ده چې په دې کې ځای کې یوه اغزن زوی(سویه) اوسېږي او له دې تصوره د ماشومانو وېرولو لپاره کار اخیستل کېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما پوښتنه وکړه: (که موږ تاسره لاړ شو زموږ به پکې څه گټه وي؟ او که دا ومنو چې له تا زده کړه وکړو؛ نو څه به ترلاسه کړو؟)

شتمن پلار، د ماشومانو کلاسیکي کیسې ته په اشارې وویل: (هماغه څه چې برابر سوی ترلاسه کړي وو.)

ما پوښتنه وکړه: (آیا دا ځای په رښتیا شته؟)

شتمن پلار وویل: هو دا ځای زموږ وېره او حرص (تمه) دی. د خپلو افکارو په تاکلو له دې وېرو، ضعفونو او اړتیاوو سره مخامخ کېدل ترې د وتو لاره ده.

مایک په حیرانی وپوښتل: (خپل افکار تاکل؟)

شتمن پلار وویل: هو، هغه فکرونه چې د احساساتي غبرگونونو پر ځای یې کوو. په ځای د دې چې موږ سهار راپاڅېږو او کار ته په دې خاطر روان شو چې خپل پورونه باید خلاص کړو، ددې پر ځای باید دومره فرصت ولرو چې موږ پکې له ځانه پوښتنه وکړو چې: آیا په دې وخت کې دومره ډېر کار کول د ستونزې اصلي حل دی؟ زیاتره خلک دومره وېرېدلي وي چې فکر نه کوي، ددې پر ځای چې څنگه راویښ شي دستي هماغه دندې ته روان شي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې کرکه هم ترې کوي.دوی فکر کوي چې اغزنه سوی گني کنټرول شوه. او همدا زه خپل فکر تاکل بولم.

مایک پوښتنه وکړه: (او دا مور ځنگه کولای شو؟)

شتمن پلار وویل: همدا خو درښییم. زه به تاسې ته دا در زده کړم چې د احساساتي غبرگون پر ځای، سم فکر ځنگه وټاکئ. احساساتي غبرگون داسې وي لکه سهار راپاځېدل، چای څښل او سمدستي دفتر ته روانېدل.

په یاد ساتئ چې مخکې مې درته څه وویل: دنده د اوږدمهالو ستونزو لنډمهالي حل دی. د ځینو خلکو په ذهن کې یوازې یوه ستونزه گرځي او دا لنډمهالي ده. دا ستونزه څه ده؟ دا د میاشتې په اخر کې د لگښتونو بېلونه دي او همدا هغه اغزنه سوی ده. د دوی د ژوند واگې د پیسو په لاس کې وي، هماغه یې ژوند کنټرولوي او زه خو لا وایم چې همدا وېره او د پیسو په اړه ناپوهي د دوی ژوند کنټرولوي. دوی بیا د خپلو پلرونو په پل، پل ږدي. هر سهار راپاڅېږي، د پیسو لپاره کار ته ورځي او د دې پوښتنې لپاره هېڅ وخت نه پیدا کوي چې: بله لاره شته،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



که نه؟ دې وخت کې د دوی فکر د احساساتو په کنټرول کې وي؛ نه د سر په کنټرول کې.

مایک پوښتنه وکړه: (آیا د احساساتي فکر او د سر د فکر یانې ذهني فکر تر منځ توپیر راته ښودلای شې؟)

شتمن پلار وویل: هو، زه یې ډېر اورم، زه دا خبرې ډېرې اورم چې:

- ښه نو، د پیسو لپاره خو باید کار وشي.
- شتمن خلک سخت وي.
- زه بله دنده واخلم، دا حق لرم او ته رابانديې فشار نه شې راوړی.
- دا دنده مې خوښېږي، ځکه خوندي او ډاډمنه ده.

خو هېڅوک دا پوښتنه نه کوي چې:

- ایا دلته د داسې څه کمی شته؟ چې احساساتي فکرونه ماتوي او تاسې ته د فکر وخت درکوي؟

بېرته چې مغازې ته را ستانه شو، شتمن پلار وویل چې شتمن خلک (پیسې جوړوي)، پیسو لپاره کار نه کوي. ده د هغه وخت خبره کوله چې ما او مایک له سربو د پنځو سېنټو سیکې جوړولې، مور هغه وخت فکر کاوه چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پیسې جوړوو. خو ستونزه دا وه چې دا کار نا مشروع و، دا کار بانکونه او حکومتونه کولای شي، خو موږ یې نشو کولای. شتمن پلار ویل چې د پیسو جوړولو قانوني لارې هم شته.

شتمن پلار ویل، شتمن خلک په دې پوهېږي چې پیسې یو انځور یا تصور دی، لکه خره ته چې گازره ځړېدلې وي. میلیونه خلک په دې فکر وي چې پیسې گنې رښتیا دي او همدا د وېرې او تمې احساسات دي چې د پیسو انځور یې دوی ته جوړ کړی دی، خو دا رښتیا نه وي. پیسې جوړېږي. دغه د سیند د سپینو شگو نه جوړ تخیُلي مجل د میلیونو هغو خلکو د باور او ناپوهۍ په اساس ولاړ وي چې وایي پیسې گنې رښتیا دي.

شتمن پلار بیا د امریکا د سرو زرو د معیار خبره وکړه او وې ویل چې دا هر ډالر د هغه سپینو زرو رسید دی چې په پیسو په نړیوال صندوق کې پراته دي. هغه دې اوازو ته اندېښمن و چې یوه ورځ به موږ د سرو زرو له معیاره ووځو او زموږ ډالر به په بانک کې هېڅ ډول منقول ارزښت ونه لري. او هلکانو که داسې وشول؛ نو قیامت به شي. بېوزله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



[redacted]

او د منځنـۍ طبقـې خلـک بـه يـوازې پـه دې خـاطر برباد شي چـې دوی بـه پـه دې فکـر مسـت وي چـې پيسـې رښتيا دي او دوی چـې پـه کومـه اداره يـا حکومـت کـې کـار کـوي هغوی به يې ژوند تامين کړي.

مـوږ هغـه وخـت پـوه نـه شـو چـې لـه دې خـبرو يـې موخـه څـه وه، خو د وخت په تېرېدو ورو ورو په خبره پوه شو.

## ده هغه څه ليدل چې نور يې نه ويني

له مغـازې چـې وواتـه او خپـل مـوټر تـه پورتـه کېـده، مـوږ تـه يـې وويـل: (هلکـانو کـار کـوئ، خـو هـر څـومره زر چـې د تنخـوا اړتيـا هېـره کـړئ، هـومره بـه راتلـونکی ژونـد اسـانه وي. خپـل مـاغزه وکـاروئ، وړيـا کـار وکـړئ، زر بـه مـو ذهـن درتـه د پيسـو جوړولـو داسـې لارې چـارې در وښـيي چـې لـه ورځنـۍ او مياشـتنۍ تنخـوا بـه مـو عايـد لـوړ وي. تاسـې بـه هغـه څـه ووينـئ چـې نـورو تـه نـه ښـکاري. هغـه فرصتونه بـه وګـورئ چـې نـورو خلکـو تـه پراتـه وي، خـو هغـوی دا فرصـتونه نـه ګـوري. يـو څـل مـو چـې فرصـت ومونـد، پـاتې ټـول ژونـد بـه فرصـتونه ګـورئ، بيـا بـه د فرصـتونو کمـی نـه وي او داسـې چـې وشـول زه بـه تاسـې تـه يـو شـی در زده


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کوم، که دا مو زده کړل؛ نو د ژوند له دامونو به خلاص شئ.

مایک له مغازې خپل وسایل را واخیستل، مېرمن مارټین سره مو خدای پاماني وکړه، بېرته هماغه میدان ته راغلو او په پخواني ځای کې کېناستو. مو،ږ څو ساعته هلته ناست وو او خبرې مو کولې.

بله اونۍ مو بیا ښوونځي کې په «فکر» او خبرو تېره کړه، دوه نورې اونۍ مو خبرې، «فکر» او «وړیا» کار وکړ.

د دویمې شنبې په مازیګر مې یو ځل بیا مېرمن مارټین سره خدای پاماني وکړه او د طنزیه مجلې المارۍ ته مې وکتل. د شنبې په ورځ ۳۰ سېنټه تنخوا چې راباندې بنده شوه، تر ټولو لوی زیان یې دا شو چې زه د دې کتابونو له اخیستو هم بې برخې شوم. مېرمن مارټین چې ما او مایک سره خدای پاماني وکړه ناڅاپه مې د یوه داسې کار په کولو ولیده چې تر دې وړاندې مې نه وه لیدلې.

مېرمن مارټین د طنزیه کتاب پښتۍ په منځ پرې کړې، دا نیمه پاڼه یې ځان سره ساتله او نور کتاب یې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کاغذونو کارتن ته ور غورځاوه. ما چې تري پوښتنه وکړه وې ویل: دا نیمه پانه هغه کس ته ببرته ورکوم چې کتابونه راته راوړي او نور کتاب غورځوم، بیا چې تري نوي کتابونه پېرم هغه راته پکې تخفیف راکوي، یو ساعت وروسته به راشي.

مور یو ساعت په تمه شو، سړی چې راغی ورته مې وویل آیا مور دا ببرته درستانه شوي کتابونه اخیستی شو؟ سړي راته وویل چې که تاسې په دې مغازې کې کار کوئ؛ نو دا کتابونه په دې شرط درکولای شم چې بیا به یې نه پلورئ.

دې سره زما او مایک شراکت بیا پیل شو. د مایک د کور په زېرزمینې کې یوه خونه تشه وه، دوی نه کاروله. مور هغه خونه پاکه کړه او د طنزیه کتابونو زېرمه مو پکې پیل کړه. لنډه موده کې مو یو طنزیه کتابتون جوړ کړ. د مایک کشره خور مو هم ځان سره کړه، هغې مطالعې سره ډېره مینه درلوده او د کتابتون مدیره مو کړه. هر ماشوم به چې کتابتون ته راته هغه به تري لس سېنته فیس اخیسته. د کتابتون د کار وخت د مازیگر له دوه



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



نیمـو تـر ځلورنیمـو بجـو و او د ښـوونځي لـه وخـت وروسـته بـه هـره ورځ بېرتـه کېـده. د ګاونـډیانو بچـي زمـوږ پېردونکـي وو، دوو سـاعتونو کـې بـه هغـوی دلتـه پـه خپلـه خوښـه د ټوکـو کتابونـه لوسـتل، دا هغـوی تـه ځکـه ښـه وه چـې کـه بـازار کـې یـې اخیسـتی؛ نـو د هـر کتـاب بیـه ۱۰ سـېنټه وه، خـو دلتـه بـه یـې ۲ سـاعتونو کـې پنځـه شـپږ کتابونـه یـوازې پـه لـس سـېنټه لوسـتل. لـه کتابتونـه د وتـو پـر وخـت بـه د مایـک خـور دا ماشـومان څـارل چـې کتابونـه ځـان سره یـو نـه سي. هغــې بــه دا کتابونــه لېســت کــول، د راتلونکــو ماشـومانو نومونـه او وړاندیزونـه بـه یـې ثبتـول. درې میاشـتو کــې زمــا او د مایــک د یــوې اونــۍ عایــد ۹،۵۰ ډالــرو تــه ورسېده.

د مایک خور ته بـه مـو پـه اونـۍ کـې یـو ډالـر ورکـاوه، خـو دا امتیـاز یـې درلـود چـې پـه خپلـه خوښـه طنزیـه کتابونـه وړیـا لوسـتی شي، خـو بیـا یـې هـم دا کتابونـه لـږ ځکـه لوسـتل چې هغه به د ښوونځي په درسونو کې ډېره بوخته وه.

مـا او مایـک خپـل کـار تـه دوام ورکـړ، هـره اونـۍ بـه مـو پـه مـنظم ډول مغـازه کـې وړیـا کـار کـاوه او لـه نـږدې مغـازو بـه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هم ورسره د ټوکو کتابونه را ټولول. کتابونه به چې زاړه شول هغه به مو سېځل. موږ وغوښتل چې د کتابتون یوه بله څانګه هم پرانیزو، خو بریالي پکې نه شو څکه نه شو چې د مایک د خور په شان بله صادقه کارکوونکي مو پیدا نه کړه.

موږ په ټیټ عمر کې پوه شو چې د زیارکښه کارکوونکي موندل څومره سخت کار دی.

درې میاشتې چې وشوې، په کتابتون کې شخړه راغله، د ګاونډ ځینې بېلارې ماشومان په زوره کتابتون ته رانوتل، د دې شخړې له امله د مایک پلار موږ ته وویل چې کاروبار بند کړئ. زموږ د طنزیه کتابتون کار چې بند شو، موږ هم په مغازې کې کار بس کړ. خو شتمن پلار به خوښ و، څکه هغه غوښتل چې نور شیان را زده کړي. موږ خپل لومړی درس سم زده کړی و او هغه هم رابانډې ډاډه و، موږ دا زده کړي وو: چې پیسې د ځان لپاره وکاروو.

مغازې کې وړیا کار موږ دې ته اړ کړو چې د پیسو د ګټلو په فرصتونو فکر وکړو. د کتابتون کار چې په پیسو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شــو مــوږ لــه مــالي پلــوه پــه ځــان تکیــه شــو او د چــا کــارکوونکي نــه وو. ښــه خــبره دا وه چــې مــوږ هلتــه وو هــم نه، خو کاروبار راته پيسې ګټلې.

شــتمن پــلار مــوږ تــه د تنخــوا او پيســو پــر ځــای داســې خبرې را وښودې چې له دې ډېر ارزښت يې درلود.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# دویم څپرکی

## دویم درس

## مالي نبوغ ولې مهم دی؟

**مهمه دا نه ده چې څومره پیسې دې ګټلې دي**

**مهمه دا ده چې څومره او تر څه وخته یې ساتی شې؟**

په ۱۹۹۰ ز کال کې زما نږدې ملګري (مایک) د خپل پلار د کاروبار مشري کوله او دده اجراات تر پلار لا پسې ښه وو. کال کې به مو سره یو ځل د ګلف په میدان کې لیدل. مایک او مېرمن یې ډېر زیات شتمن شوي وو. د شتمن پلار کاروبار په قوي لاسونو کې دی او مایک اوس لګیا دی خپل زوی روزي چې دده ځای ناستی شي، هماغسې لکه څنګه چې پلار «دی» روزلی و.

په ۱۹۹۴ ز کال کې زه د ۴۷ کالو په عمر له کاره ګوښه شوم او په دې وخت کې مېرمن (کیم) ۳۷ کلنه وه. له کاره ګوښه کېدل یا تقاعد، د کار نه کولو په مانا نه دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



تقاعد ما او زما مېرمنې ته د ناخاپي او زیانمنوونکي بدلون په مانا نه دی، مور کولای شول چې یا وکړو یا یې ونه کړو. شتمني مو په خپله زیاتېږي، ځکه له انفلاسیونه مخکې یو. زمور شتمني ډېره ده او پخپله وده کولای شي. دا لکه د ونې کرل دي. ته به ورته کلونه اوبه ورکوې، خو بیا داسې ورځ راشي چې تا ته اړتیا نه لري. ریښې یې ژورې تللې وي او ونه تاسې ته د مېوو ترڅنګ ارام او د تفریح لپاره سیوری درکوي.

مایک پرېکړه وکړه چې د خپل پلار کاروبار مخ ته یوسي او زه ګوښه شوم.

زه چې ځینو خلکو سره غږېږم، زیاتره راته وایي چې ستا وړاندیز څه دی چې :

- مور پیل څنګه وکړو؟
- آیا په دې اړه کوم کتاب شته؟
- د ماشومانو د روزلو او چمتو کولو لپاره څه وکړم؟
- د بریا راز څه دی؟
- څنګه میلیونر شم؟

زه چې دا پوښتنې واورم، نو لاندې حکایت را یاد شي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## شتمن سوداګر

په ۱۹۲۳ ز کال کې يوه ډله لويو رهبرانو او شتمنو د شيکاګو په «ايج واټر بيچ[۳]» هوټل کې يوه ناسته وکړه. په دې ناسته کې «چارلېس شواب[٤]»، د فولادو د ستر خپلواک شرکت مشر؛ «سيمويل انسل[۵]» د نباري خدمتونو د ستر شرکت رئيس؛ «ايور کروګر[٦]» د ميچ نړيوال شرکت رئيس؛ «ليون فريزر[۷]» د انټرنېشنل سېټلمنټ بانک رئيس؛ «ريچارډ ويټني[۸]» د نيويارک د ونډو د بازار رئيس؛ «ارتور کارټن[۹]» او «جيس ليورمور[۱۰]» د ونډو يا اسهامو لوی سوداګر او «البرټ فال[۱۱]» د

---

[۳] Edge Water Beach

[٤] Charles Shwab

[۵] Samuel Insull

[٦] Ivar Kreyger

[۷] Leon Frazier

[۸] Rechard Whitney

[۹] Arthur Cotton

[۱۰] Jesse Livermore

[۱۱] Albert Fall

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ولسمشر ـ هارډینګ[۱۲] د کابینې غړي، ګډون کړی و. پنځه ویشت کاله وروسته، پورته لیست کې یاد شوي (۹) کسان په دې حالت کې مړه شول:

- شواب پنځه ویشت کاله د پور په پیسو تېر کړل او بیا مفلس مړ شو.
- انسل په بهرني هېواد کې مفلس مړ شو.
- کروګر او کاټن هم مفلس مړه شول.
- هاپسن لیونی شو.
- وټني او البرټ تازه له زندانه را خوشې شوي؛ او
- او فرایسر او لایورمول ځانونه وژلي.

فکر نه کوم څوک دې دقیق ووایي چې په دوی ټولو څه شوي وو. که تاسې ۱۹۲۳ز کال وګورئ، دا د ۱۹۲۹ز کال د کساد بازارۍ او اقتصادي بحران لږ وخت مخکې زمانه ده او زه فکر کوم چې دې پېښو به په دې خلکو او د دوی په ژوند ژور اغېز کړی وي. اصلي ټکی دا دی:

---

۱۲ Harding

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې نن سبا د دې خلکو د زماني په پرتله د بدلون سرعت زيات دی. زه فکر کوم راتلونکي کلونو کې به هم داسې لوړې ژورې راځي، کومو سره چې دا خلک مخ شوي وو. زه دېته انديښمن يم چې زياتره خلک اوس هم په پيسو ډېر زيات تمرکز کوي او خپلې اصلي شتمنۍ (زده کړو) ته پام نه کوي. که خلکو کې انعطاف وي، په پراخه او خلاص ذهن زده کړو ته چمتو شي؛ نو بدلون سره به بيا هم وده کوي او شتمنېږي به. خو که فکر وکړي چې پيسې به يې ستونزې حل کړي، نو لا ډېرو لويو ستونزو سره به مخ شي. پوهه ستونزې زياتوي او پيسې پيدا کوي، خو که مالي نبوغ او پوهه نه وي؛ نو پيسې به ډېرې زر ببرته لاړې شي.

زياتره خلک ژوند کې دا نشي- درک کولای، مهمه دا نه ده چې ته څومره پيسې ګټې، مهمه دا ده چې څومره ساتې شې. مونږ د زياتره خلکو کيسې اورېدلي چې جايزې يې ګټلې دي، دا نبستمن خلک زر شتمن شوي او ډېر زر ببرته نبستمن شوي دي. دوی ميليونه پيسې ګټلې، خو زر ببرته هماغه د پولي تک ته ناست دي. د



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



مسلکي لوبغاړو او اتلانو کیسې مو هم اورېدلې چې په ۲۴ کلنۍ یې میلیونه عاید درلود، خو لس کاله وروسته به بیا تر پلونو لاندې ویده کېدل.

زما د باسکېټبال د یوه داسې لوبغاړي کیسه په زړه ده چې یو کال مخکې میلیونر و، خو نن په ۲۹ کلنۍ کې ادعا کوي چې ملګرو، وکیلانو او د حسابدارانو ډلې یې ترې پیسې وهلې، هغه سړی نن په ناڅیزه تنخوا د خلکو موټرې مینځي.

دا ځوان ۲۹ کلن دی، وروسته بیا له دې دندې هم وشړل شو، ځکه د اتلولۍ ګټلو پر وخت ده ته دوه ګوتمۍ د جایزې په توګه ورکړل شوې وې، د موټر مینځل‌ځای خاوند ورته ویل چې دا ګوتمۍ وباسه، خو ده ورسره ومنله او له کاره وشړل شو. رسنیو یې کیسه رسنیزه کړه، هغه اوس د مینځل‌ځای په خاوند د نسلي تعصب دعوه کوي. دا سړی وايي چې دا ګوتمۍ یې ټوله شتمني ده او که دا ترې لرې شي، نو مات به شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه داسې ډېر خلک پېژنم چې فوري میلیونران شوي، په دي هم خوښ یم چې ځینې شتمن لا پسې شتمنېږي، زه د دې خلکو په اړه وایم چې په اوږدمهال کې دا مهمه نه ده چې تا څومره پیسې پیدا کړې، مهمه دا ده چې څومره دې وساتلې او تر څو نسلونو یې دوام وکړ.

له مانه چې څوک پوښتنه وکړي چې: څنګه او له کومه یې پیل کړم؟ یا دا چې د زر شتمنېدو لاره راته وښيي؛ نو بیا زیاتره زما په ځواب خپه وي. زه ورته هماغه خبره کوم چې کلونه وړاندې راته خپل شتمن پلار کړې ده:

(که غواړې شتمن شې، مالي پوهه باید ولرې)

زه به چې شتمن پلار سره مخ شوم، همدا خبره به یې راته کوله او ټینګار به یې پرې کاوه چې ذهن کې مې کېني. لوستي پلار به مې د کتابونو په لوستو ټینګار کاوه، خو شتمن پلار به تل ویل چې په (مالي پوهه) کې ځان ورساوه او د پیسو پوهه ترلاسه کړه.

که غواړې چې ستره ماڼۍ جوړه کړې، لومړی باید ورته ژور تهداب وکیندې او قوي بنسټ ورته جوړ کړې. که عادي کور جوړوې، په تهدابونو کې پنځلس سانتي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کانکرېټ یا سنګ کاري کفایت کوي. زیاتره خلک د شتمنېدو په حرص، په همدې پنځلس سانتي کانکرېټ یا سنګ کارۍ لویه مانۍ ودانول غواړي.

زموږ ښوونیز سیستم بنسټ د بزګرۍ په دوره کې اېښودل شوی او اوس هم د بې بنسټه کور په جوړولو باور لري. اوس هم ددې ودانیو فرشونه خام دي او ماشومان چې له ښوونځي فارغېږي هېڅ ډول مالي پوهه او روزنه نه ورکول کېږي. زموږ دا د امریکایي خوب لټوونکي چې یو سهار را پاڅېږي؛ نو د پور پېټی یې په اوږو پروت وي او بیا د مالي ستونزو حل دا را وباسي چې زر تر زره د شتمنۍ پیدا کولو، کومه لاره پیدا کړي.

په دې توګه لوړه ودانۍ پیل شي، لوړوالی یې ورځ تر بلې زیاتېږي، بیا څه وخت وروسته د پخې مانۍ پر ځای د پیسو یو کوږ ځلی ودرېږي، دا کوږ ځلی بېرته د شپې وران شي او له منځه لاړ شي.

زما او د مایک حالت بیا جلا و، موږ ته له ماشومتوبه د قوي مالي بنسټ جوړولو روزنه نه وه راکړ شوې او چې را لوی شو؛ نو دواړو انتخابونه مو درلودل. خبره دا ده چې



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



حسابداري په نړۍ کې تر ټولو وچ مضمون دی او ځینې وخت انسان تریخ مزاجه کوي هم، خو که تاسې غواړئ چې شتمن شئ او بیا اوږده موده شتمن پاتې شئ؛ نو دا مضمون درته ډېر زیات اړین دی. اوس ستونزه دا ده چې دومره وچ کلک او پیکه مضمون ماشومانو ته څنګه تدریس شي؟ ځواب یې دا دی چې دا مضمون ساده او اسانه کړئ او د انځورونو په مرسته ورته ماشومان را وهڅوئ.

زما شتمن پلار ما او مایک ته قوي مالي بنسټ جوړ کړ، خو دا چې موږ ماشومان وو؛ نو موږ ته د زده کړې لپاره یې یوه ساده او اسانه لاره پیدا کړه.

هغه تر کلونو انځورونه جوړول او لږې خبرې به یې کولې. زه او مایک په دې ساده انځورونو، ساده خبرو، د پیسو په جریان پوهېدو او بیا وروسته پکې زموږ شتمن پلار اعداد او ارقام هم ورزیات کړل.

نن مایک د مالیاتو او محاسبو سختې قضیې د سترګو په رپ کې حلوي او هغه باید دا هر څه ددې لپاره وکړي چې د میلیونونو کاروبار پر مخ وړي. زه دومره تکړه ځکه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



نه یم چې زما کاروبار کوچنی دی، خو بنسټ د دواړو یو ډول دی. راتلونکو پاڼو کې به درته هغه ساده انځورونه وښییم چې شتمن پلار مایک ته جوړ کړي وو.

دا که څه هم ساده دي، خو دوو ماشومانو ته یې د شتمنۍ پیدا کولو لپاره قوي او ژور بنسټ برابر کړ.

**لومړی قانون: تاسې باید د شتمنۍ او پورونو (الزاماتو) په توپیر او شتمنۍ اخیستو پوه شئ.**

که غواړئ شتمن شئ په دې باید پوه شئ، دا لومړی او یوازینی اصل یا قانون دی. ښایي ظاهراً دا ډېر ساده ښکاره شي، خو زیاتره خلک یې په ارزښت او ژوروالي نه پوهېږي. خلک زیاتره وخت په مالي ستونزو کې له دې امله ښکېل وي چې ددې دواړو تر منځ په توپیر نه پوهېږي.

شتمن پلار ویل: شتمن خلک (شتمنۍ) ترلاسه کوي. د منځنۍ طبقې خلک او بېوزله خلک بیا (پورونه) اخلي او فکر کوي چې دا ګڼي شتمني ده.

ما او مایک ته چې شتمن پلار دا خبره کوله، موږ ویل توکې ګڼي کوي. موږ نوي زلمي وو، غوښتل مو د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمن کېدو په راز پوه شو او هغه راته ایله دا خبره وکړه.

دا خبره دومره اسانه وه چې ډېره موده پرې بیا موږ هېڅ فکر هم ونه کړ.

مایک وویل: (شتمني ASSET څه ته وایي؟)

شتمن پلار وویل: اوس ورته اندېښنه مه کوئ، پرېږدئ چې دا فکر مو ذهن کې کېني. که تاسې د دې ساده توب درک کړئ، ژوند به مو یو پلان ولري او له مالي پلوه به ښه یی. دا بیخي ساده ده، په دې خاطر پرې خلک فکر نه کوي.

ما پوښتنه وکړه: (یانې موږ ټول باید په دې پوه شو چې (شتمني) څه ده؟ که ترلاسه یې کړو شتمن به شو؟

شتمن پلار سر وخوځاوه وې ویل: هو، همدومره اسانه ده.

ما پوښتنه وکړه: (نو که دومره اسانه ده، ټول خلک ولې شتمن نه دي؟)

شتمن پلار موسکی شو: ځکه چې خلک د شتمنۍ او پورونو تر منځ توپیر نشي کولای.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما بیا پوښتنه وکړه: (دا لویان ولې دومره ناپوه دي، که دا دومره اسانه او مهمه وي ولې پرې ځان نه پوهوي؟)

زموږ شتمن پلار په څو دقیقو کې موږ ته د شتمنو او پورونو (الزاماتو) تر منځ توپیر څرګند کړ.

د یوه ځوان په توګه راته نورو ځوانانو ته ددې تشریح سخته ده، هغوی د دې موضوع د ساده توب او اسانۍ له امله بیخي ورته پام نه کوي، ځکه هغوی جلا زده کړې کړې وي. دا خلک نورو تکړه او مسلکي پوهانو لکه بانکرانو، حسابدارانو، د جایدادونو کاروباریانو او نورو روزلي وي. ستونزه دا ده چې ته ځوانانو ته وواییې هغه هر څه هېر کړه او بېرته له سره بېسواده ماشوم شه. تکړه ځوانان عموماً ساده او عام فهمه موضوعاتو ته ډېر پام نه کوي، بلکې له پېچلو موضوعاتو سره د تمرکز مینوال وي.

شتمن پلار د KISS په اصولو باور درلود: Keep it Simple, Stupid (or Keep It Super Simple). دا اصول وایي چې هر څه ساده کړئ، نو زموږ شتمن پلار



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هم موږ ته هر څه ساده او اسانه کړل، په دې توګه يې زموږ مالي بنسټ قوي کړ.

نو بيا لا اسانه لاره ورکېږي؟ يا دومره اسانه موضوع څنګه دومره سخته شوه؟ ولې څوک داسې يوه شتمني واخلي چې اصلاً پور وي؟ د ټولو ځواب په لومړنيو زده کړو کې دی.

موږ يوازې د «پوهې» په ټکي تمرکز کوو، نه په «مالي پوهې». د شتمنۍ او پورونو تر منځ توپير په ټکو او خبرو نه روښانه کېږي. اصلاً که ته غواړې چې لاره درنه ورکه شي؛ نو په قاموس کې د (شتمنۍ) او (پور يا الزاماتو) مانا وګوره. زه منم چې دا ماناګانې به يې، يوه روزل شوي حسابدار ته ښې وي، خو د يوه عام انسان لپاره د درک وړ نه دي. خو عموماً چې موږ لوی شو؛ نو په موضوعاتو د نه پوهېدو اعتراف هم راته د ځان توهين ښکاري.

موږ چې هلکان وو، شتمن پلار راته وويل: د شتمنۍ او پورونو تر منځ توپير په تورو نه، بلکې په شمېرو کېږي او


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



که تاسې په شمېرو نه پوهېږئ؛ نو د شتمنۍ او په ځمکه کې د کندې تر منځ توپير نشئ کولای.

شتمن پلار به ویل چې: په حسابدارۍ کې چې تر څو د شمېرو په ژبه پوه نشې تر هغې شمېرې هېڅ مانا نه لري. یانې د شمېرو په ژبه پوهېدل مهم دي، شمېرې توري نه دي، خو تورو په خبر پیغامونه لېږدوي او په دې پیغامونو پوهېدل اړین دي.

ما له خپل شتمن پلار یو ځل نه، بلکې زر ځله اورېدلي چې: (که تاسې غواړئ شتمن شئ؛ نو د شمېرو لوست او پرې پوهېدل باید زده کړئ) دا یې هم ویل چې: (شتمن خلک (شتمني) ترلاسه کوي او غریب او د منځنۍ طبقې خلک (پوروونه) ترلاسه کوي او فکر کوي چې دا ګني شتمني ده.)

د شتمنۍ او پوروونو تر منځ توپير داسې کېږي. زیاتره حسابداران او مالي چارو کارپوهان تعريفونو سره جوړ نه دي، خو دا دوه ساده انځوروونه، زموږ ځوانانو د قوي مالي بنسټ د پیل لپاره وو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د شتمنۍ د نقدي جريان نمونه




پــورتنی ډيــاګرام د Income statement دی، عمومــاً يــې د ګټــې او زيــان راپــور هــم بــولي. دا زمــوږ عايــد او لګښــت اندازه کوي: ياني د پيسو راتګ او تګ.

لانــدې ډيــاګرام بيــا د Balance Sheet دی. دا پــه دې خـاطر بـېلانس شـيټ بـولي، چـې شـتمنيو او پورونـو تـر منځ بېلانس يا توازن ښيي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د مالي چارو زياتره نوکي(تازه کاره) خلک د انکم ستېټ مېنټ او بېلانس شيټ تر منځ په اړيکه نه پوهېږي او په دې اړيکه پوهېدل ډېر اړين دي.

له مخکې مې چې وويل زما شتمن پلار به دوو نويو ځوانانو ته په ساده ټکو ويل چې: (شتمنې ستاسې جېبونو ته پيسې راوړي.) دا يې ساده، ښکلې او اسانه تعريف دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د پورونو د نقدي جريان نمونه

د عايد صورت حساب




د شتمنی او پورونو يا مالي الزاماتو تر منځ توپير موچې د انځورونو په مرسته څرګند کړ، اوس که يې په اړه خبرې هم وکړو، نبايي پرې پوه به شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمني (Asset) هغه شی دی چې زما جیب ته پیسې راوړي.

پور یا الزام (Liability) اپوته له جېبه پیسې وړي.

که ته غواړې شتمن شې، یوازې دېته باید پام وکړې چې ټول عمر (شتمني) وپېرې او که غواړې چې نېستمن یا د منځنۍ کچې اقتصاد لرونکی واوسې، نو بیا ټول عمر پورونه یا الزامات پېره. په حقیقي نړۍ کې زیاتره مالي ستونزې په همدې توپیر د نه پوهېدو له امله رامنځته کېږي.

په کلیمو او شمېرو نه پوهېدل د مالي ستونزو اساس دی. که څوک مالي ستونزې لري؛ نو لامل به یې دا وي چې له تورو او شمېرو د مفهوم په اخیستو کې ستونزه لري.

شتمن ځکه شتمن دي چې په دې ساحو کې تر مالي ستونزو لرونکو خلکو ډېر ښه پوهېږي، که تاسې غواړئ چې شتمن شئ او شتمن پاتې شئ؛ نو مالي پوهه درته ډېره اړینه ده او د تورو او شمېرو په توپیر باید پوه شئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په انځورنو کې وېکتورونه د پانګې جریان ښيي، یوازې شمېرې کفایت نه کوي، عیناً لکه څنګه چې یوازې توري کفایت نه کوي، اصلي خبره پیغام دی. د حسابدارۍ په ژبه کې، په شمېرو پوهېدل داسې دي لکه د کیسې په پلاټ پوهېدل او پیغام یې دا دی چې پانګه چېرې روانه ده؟

په نړۍ ۸۰ سلنه کورنیو کې مالي کیسه دا انځور جوړوي چې ډېر زیار وکاږئ او پرمختګ وکړئ. که څه هم دا زیار هېڅ مانا نه لري، ځکه دوی زیار کاږي، پیسې ګټي او د شتمنۍ پر ځای پرې پوروونه اخلي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د نېستمن کس د نقدي جريان نمونه

د عايد صورت حساب




د مالي توازن پاڼه




# د منځنی طبقې د نقدي جريان نمونه

د عايد صورت حساب




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د شتمن کس د نقدي جريان نمونه




دا ټول انځورونه او شکلونه بيخي ساده دي، هر څوک لګښتونه لري او خوراک، کور او جامو ته اړتيا لري.

خو په دې انځورونو کې دا څرګنده شوې چې د غريبو او منځنۍ طبقې خلکو او شتمنو خلکو د عايد او لګښتونو نقشه څنګه ده، يانې دوی پيسې څنګه ګټي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



او څنګه يې مصرفوي. همدا د پيسو نقدي جريان ښيي چې خلک خپلې پيسې څنګه کنټرولوي.

په پيل کې مې درته د امريکا د شتمنو خلکو کيسه، د دې فکر د ناسم ثابتولو لپاره وکړه چې پيسې به ګڼې تولې ستونزې حل کړي. په همدې خاطر چې څوک وايي د زر شتمنېدو چل را وښيه يا يې له کومه پيل کړم؟ نو زما وينښته ودرېږي. زه زياتره وخت اورم چې وايي: (زه پوروړی يم، نو پيسې بايد پيدا کړم.)

خو ډېرې پيسې هم زياتره وخت ستونزې نه حل کوي؛ حقيقت دا دی چې دا ستونزې زياتوي. عموماً شتمني زموږ کمزوري اړخونه څرګندوي او هغه برخې مو روښانه کوي چې موږ پرې نه پوهېږو. په دې خاطر چې دا زياتره خلک «زر» شتمن شي، «ميراث» ورته پاتې شي يا «جايزه» وګټي، همدا خلک که له پخواني حالت خراب نشي-؛ نو ډېر ژر خو بېرته هماغه د غربت پخواني حالت ته حتماً ورګرځي. ستاسو په ذهن کې چې د پيسو د جريان کوم ايډيال وي، پيسې چې زياتې شي همدا جريان ګړندی کوي. که ستاسو ذهنيت داسې وي چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په هر څه پیسې مصرف کړئ؛ نو د پیسو ډېرېدل به د لګښتونو د ډېرېدو په مانا وي. په همدې خاطر وايي چې «ناپوه» او «پیسې» تر ډېره یو ځای نشي- پاتې کېدای.

زه ډېر ځله وایم چې ښوونځي ته په تلو مور خپله تعلیمي او مسلکي پوهه زیاتوو او دا دواړه په خپل ځای مهم دي. په مسلکي پوهې مور پیسې پیدا کوو. ۱۹۶۰ز کال کې به چې چا په لیسې کې ښې نومرې واخیستې، خلکو به ویل چې دی باید طب پوهنځی ولولي، هېچا به له دې زده کوونکي دا پوښتنه نه کوله چې ته ډاکتر کېدل غواړې که نه؟ بس دوی به ویل چې ډاکتر شي او په ډاکترۍ کې کیسه دا وه چې د پیسو ګټلو امکان پکې ډېر و. خو نن سبا ډاکتران په داسې بد مالي حالت کې دي چې زما د سر په دښمن هم نه لورېږي: په کاروبار د بیمې شرکتونه واکمن دي، طبي اسانتیاوې دوی برابروي، دولت مداخله کوي، دوی له خپل غفلته سر ټکوي او حالات خراب دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خو نن سبا هلکان غواړي د اتلانو په څېر شي، فلمونو کې کار وکړي، سندرغاړي شي، نجوني غواړي چې د ښکلا ملکې، موډلې او د فلمونو نجونې شي، ځکه چې نن سبا په دې کې پیسې، شهرت او موقف دی. په همدې خاطر نن سبا درسونو او ښوونځیو ته د ماشومانو هځول سخت شوي دي.

دوی پوهېږي چې اوس د پخوا په څېر مسلکي بریا په تعلیمي بریا پورې نه ده تړلې او د پرمختګ اساس د پخوا په څېر علمي سویه نه ده. دا چې زده کوونکي له ښوونځیو (بې مالي مهارته) فارغېږي، په دې خاطر میلیونونه لوستي کسان مسلکي بریا ترلاسه کوي، خو وروسته بیا په مالي ستونزو کې ښکېلېږي. دوی ډېر زیات کار کوي، خو پرمختګ نشي کولای.

د دوی په زده کړو کې یو کمی وي او هغه کمی دا نه دی چې پیسې څنګه «وګټي»، بلکې دا دی چې پیسې څنګه «مدیریت» کړي.

(مالي ورتیا) دا ده چې ته یو ځل پیسې وګټې، په دې پیسو څه کوې؟ له خلکو یې څنګه ساتې؟ تر ډېره یې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



 څنګـه ساتې؟ او لـه پیسـو د ځـان لپـاره څنګـه ډېـر کـار اخلـې؟ زیاتره خلـک په دې نـه پـوهېږي چې مـالي سـتونزو سره ولــې مــخ دي، ځکــه دوی د پیســو پــه جریــان نــه پـوهېږي. یـو سـړی ښـایي ښــې زده کـړې ولـري، مسـلکي پرمختــګ بـه یـې کـړی وي، خـو پـه «مـالي» برخـه کـې بـه «بېسواده» وي.

زیـاتره خلـک لـه اړتیـا ډېـر زیـات کـار کـوي، ځکـه دوی دا زده کـړي وي چې ډېـر کـار وکـړي، خـو پـه دې نـه پـوهېږي چې له خپلو پیسو څنګه ډېر کار واخلي.

**د مالي خوب هڅو، څنګه وېرونکی خوب وزېږاوه**

د زیارکښـو خلکـو پخـوانی حکایـت یـوه بېلګــه وګرځېـده. هلــک او نجلــی نــوی واده کــړی و، سره خــوښ وو، لــوړې زده کـړې یــې درلـودې، دواړه یـوه واړه کرایــي اپارتمـان تـه لاړل. پــه لنــډ وخــت کــې دوی احســاس کــړه چــې دوی دواړه پیســې ســپموي، ځکــه دواړه پــه یــوه واړه او ارزانــه اپارتمان کې ژوند کوي.

ســتونزه دا ده چــې اپارتمــان کــوچنی دی. دوی پرېکــړه کـوي چې پیسـې وسـاتي او لـه خپلـې هیلـې سره سـم لـوی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کور وپېري، بيا به يې پکې ماشومان هم اوسېدی شي. دوی دواړه پيسې ګټي او عايد لري. دواړه خپل کار ته پام کوي او عايد يې لوړېږي. دا چې د دوی عايد لوړېږي، لګښت يې هم ورسره لوړېږي.

**د عايد صورت حساب**




د مالي توازن پاڼه




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د خلکو لومړی لګښت مالیات دي، زیاتره خلک فکر کوي چې دا ګني پر عایداتو مالیات دي، خو د امریکایانو تر ټولو لویه مالیه ټولنیز تامین دی. کارمند فکر کوي چې د ټولنیز تامین او روغتیایي مالیه ګني نږدې ۷٫۵٪ ده، خو دا په اصل کې ۱۵٪ ده، ځکه د کار خاوند باید همدومره پیسې په ټولنیز تامین کې ورکړي او دا پیسې د کارمند پر ځای دولتي خزانې ته ځي. پر دې سربېره چې کومې پیسې د ټولنیز تامین لپاره له تنخوا ګرځول کېږي، هغه عاید ګڼل کېږي او ددې باید بیا له سره مالیه ورکړل شي. دا هغه پیسې دي چې کارمند ته نه ورځي، مستقیماً د ټولنیز تامین خزانې ته ځي، خو دا چې د کارمند عاید حسابېږي، په دې خاطر ترې مالیه ګرځوي. دې سره پورونه یا الزامات لوړېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د عاید صورت حساب




د مالي توازن پاڼه




دا بېلګه د هغې کورنۍ په بېلګې کې ښه روښانه کېږي. د دوی عاید چې لوړ شي؛ نو خپل شخصي- کور پېري، په دې کور دوی بیا مالیه ورکوي، دا د جایداد مالیه وي، بیا دوی نوی موټر، موبل یا د کور نور وسایل پېري، بیا یې ناڅاپه پام کېږي چې د دوی د پورونو برخه د کرېډېټ کارت له پورونو ډکه شوې ده.


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دوی د موړک د څغاستې په تلک کې بندېږي، په دې وخت کې يې ماشوم هم پيدا کېږي. دوی کار و زيار لا ډېروي او دا کيسه همداسې تکرارېږي. عايد چې زيات وي د مالياتو کچه لوړېږي، دېته Bracket Creep وايي يا تصاعدي ماليات وايي. دوی ته د پوسټ له لارې يو کارت کور ته را رسېږي، دا کرېډېټ کارت وي، دوی ترې کار اخلي، لگښت له کارته لوړېږي، بيا ورته د کارت له شرکته زنگ وهل کېږي د شخصي- شتمنۍ يانې د دوی د کور بيه لوړه شوې او د تعمير د قوي کولو د پور وړانديز ورته کوي. دا چې دوی په منظم ډول خپل پورونه خلاص کړي وي او باور يې جوړ وي، ورته وايي چې که تاسې دغه پور هم د کرېډېټ کارت له لارې خلاص کړئ؛ نو د سود کچه به يې ټيټه وي. دوی فوراً دا وړانديز مني او له ترلاسه شويو پيسو د کرېډېټ کارت پورونه خلاصوي. دوی هم ارامه ساه واخلي. اوس يې د ورځنيو لگښتونو پور د کور په گروي کې داخل کړ. دې سره په دوی تاديات کمېږي، ځکه د پور موده يې ډېرش کالو ته غځولې وي. دوی نه کار وکړ، کورنۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



يې خريدارۍ ته لمسوي، ځکه تخفيف ورکول کېږي، دا د پيسو سپمولو وخت دی، دوی ځان سره وايي چې مور به څه نه پېرو، هسې چکر به ووهو، خو بيا يې هم څه خوښ شول؛ نو په کريډېټ کارت يې پېرلی شي.

زه له داسې ډېرو جوړو (ښځې او مېړه) سره مخ شوی يم، نومونه يې که هر څه وي، ستونزه يې شريکه وي. زما ليکچرونو ته راځي، زما خبرې اوري، له ما پوښتنه کوي چې: (موږ ډېرې پيسې ګټلای شو؟) دوی دا فکر کړی چې د لګښتونو په زياتېدو به يې ګټې عايد زيات شي.)

دوی تر اوسه په دې نه دي پوه شوي چې بې فکره يې خپل لګښتونه لوړ کړي دي او همدا د ستونزې سر دی. د دې لامل مالي ناپوهي ده او دوی د شتمنۍ او پور (الزاماتو) تر منځ بيخي توپير نه شي کولای.

د عايد په زياتېدو ډېرې ستونزې نه حل کېږي، خو پوهه يې حل کولای شي. د داسې خلکو په اړه زما يو ملګری وايي: (که پوه شوې چې ځان ته دې کوهي کيندلي دي؛ نو نور يې مه ژوروه.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه چې ماشوم وم پلار به مې ویل چې: (جاپانیان په درېیو قوتونو خبر وو: د تورې، غمیو او هېندارې.

توره د وسله ییز ځواک سمبول دی، امریکا د پوځي ځواک په جوړولو میلیاردونه ډالر ولګول او نن سبا د نړۍ ستر پوځي ځواک دی.

غمې د پیسو د ځواک سمبول دی، دا متل څه ناڅه رښتیا دی چې: (دا یاد ساتئ، څوک چې پیسې لري هغه قوانین وضع کوي.)

هېنداره بیا د ځان پېژندنې د ځواک سمبول دی، ځان پېژندل د جاپاني متل له مخې په دې ټولو ستر ځواک دی.

غریب او د ټیټې طبقې خلک عموماً د پیسو د ځواک په کنټرول کې وي. دوی د سهار وختي پاڅېدو او سخت کار له امله، له ځانه د دې پوښتنې وخت هم نه لري چې دوی دا څه کوي آیا سم دي که نه؟ دوی هر سهار کار ته داسې روان وي لکه له شا چې ورپسې چا ټوپک نیولی وي. زیاتره خلک په پیسو نه پوهېږي او په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دې خاطر د پیسو ستر قوت ته دا اجازه ورکوي چې دوی کنټرول کړي.

که دوی د هېنداري په قوت پوهېدی نو له ځانه به يې پوښتنه کړې وی چې: (دا زه چې څه کوم دا سم دي او څه مفهوم لري؟) بصيرت د انسان دروني ځیرکتیا ده، خو زیاتره خلک په دې باور نه کوي او ډلې پسې روانېږي. دوی کارونه په دې خاطر کوي چې نورو خلکو هم کړي دي. دوی ځان له نورو خلکو سره برابروي، پوښتنه نه کوي، یوازې خبرې مني. دوی زیاتره هغه ذهنیت تکراروي چې نورو خلکو ورته ویلي وي. نور خلک ورته وايي:

- ستاسې کور ستاسې لويه شتمني ده.
- ستاسې کور ستاسې لويه پانگوونه ده.
- که ډېر پور واخلئ، سود به مو ټیټ شي.
- ښه او خوندي دنده واخله.
- تېروتنې مه کوه.
- خطر مه منه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وايي ډېرو خلکو ته (د خلکو د خبرو) وېره د مرګ تر وېرې زياته ده. د اروا پوهانو په وينا د خلکو له خبرو وېره، د دې وېرو له امله پيدا کېږي: د يوازې کېدو وېره، د شړل کېدو وېره، له نيوکې وېره، د خلکو د پسخند [illegible] کېدو وېره... . انسان بيا له دې



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



- زيار وكاږه، ترفيع به وكړې.
- كور دې شتمني ده، پور پرې واخله.
- يوه ورځ به مرستيال شې.
- پيسې وساته.
- زه چې را لوی شم، لوی كور به واخلم.
- د بيمې پيسې خوندي دي.

زياتره اقتصادي او مالي ستونزې هله پېښېږي چې مور په پټو سترګو د نورو تقليد پيل كړو. ځينې وخت بايد مور پخپله هېنداره كې وګورو او د وېرې پر ځای بايد په ځان كې خپله رښتينولي پيدا كړو.

زه او مايك چې د ۱٦ كالو شو، په ښوونځي كې مو ستونزې پيدا شوې، مور بد هلكان نه وو، خو بس له نورو خلكو لږ جلا شوي غوندې وو. مور به له ښوونځي وروسته او رخصتيو كې د مايك پلار ته كار كاوه. زه او مايك به زياتره وخت د مايك پلار سره مېز ته ناست وو او هغه به له خپلو بانكوالو، مديرانو، حسابدارانو، كمېشن كارانو، پانګوالو او كاركوونكو سره جلسې كولې. دا هغه سړی و چې ښوونځی يې په ۱۳ كلنۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې پرېښې و، خو اوس يې لارښوونه کوله، معلومات يې ورکول، امرونه يې کول او له لوستو خلکو يې پوښتنې کولې. همدا لوستي خلک به د دده په امر سمدستي راتلل او چې وخت به يې ور نه کړ، بيا به خپه وو.

دا هغه کس و چې ډلې او جميعت پسې نه ورته. ده له خپل فکره کار اخيسته. داسې خبرې يې بيخي نه خوښېدې چې: (موږ بايد داسې وکړو، ځکه نور خلک هم داسې کوي.) او له (نشم) کليمې يې هم کرکه درلوده. که غواړئ چې يو کار پرې وکړئ، نو ورته ووايئ زه فکر نه کوم چې ته به دا کار وکړی شې.

موږ ده سره په دفتري ناستو او کتنو کې تر ښوونځي ډېر څه زده کړل. د مايک پلار ښوونځی او پوهنتون نه و لوستی، خو بيا يې هم مالي پوهه درلوده او ښه پکې بريالی و. هغه به تل موږ ته ويل چې: «هوښيار انسان، تر ځان هوښيار خلک په کار گوماري.» ما او مايک بيا دې هوښيارو سره ساعتونه تېر کړل او ډېره زده کړه مو ترې وکړه. خو له دې امله موږ دواړه په هغه مروجې لارې لاړ نشو، چې زموږ ښوونکو به را ښودله او دې


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چارې موږ ته ستونزې جوړې کړې. ښوونکي به چې وويل: (که ښې نومرې وانخلئ، عملي ژوند کې به ناکام شئ.) زه او مايک به دې خبرې ته حيران شو. موږ به چې د مروجو او اصولو منلو ته بلل کېدو، دا به مو احساسوله چې ښوونيز سيستم څنګه د نوې خېړنې او ابتکار مخنيوی کوي. موږ ورو ورو پوهېدو چې زموږ د شتمن پلار خبره رښتيا وه، اوسنی ښوونيز سيستم ښه *کارکوونکي* پيدا کولای شي، خو ښه *کارپنځوونکي* نشي پيدا کولای.

ځينې وخت به ما او مايک له ښوونکي پوښتنه کوله چې دا موږ څه لولو، په عملي ژوند کې يې ګټه څه ده؟ يا تاسې موږ ته د شتمنۍ او د هغې د کارولو په اړه ولې نه وايئ؟ ددې په ځواب کې به يې تل راته ويل چې شتمني کوم ارزښت نه لري، که موږ چېرې د زده کړو په ډګر کې ښې لاس ته راوړنې ولرلې شتمني به خپله را مخه کړي.

د پيسو په اړه چې زموږ معلومات څومره زياتېده، هومره موږ له خپلو ښوونکو او ټولګيوالو جلا کېدو. زما لوستي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پلار به په لوړو نومرو تېنګار نه کاوه، خو د پیسو په اړه به مو تل بحث سره کاوه. ۱٦ کلنۍ ته چې رسېدم د مور و پلار په پرتله مې د پیسو د پوهې بنسټ قوي شوی و. د ورځنیو حسابونو په رسولو پوهېدم او د مالي حسابدارنو، سوداګریزو وکیلانو، بانکرانو، د ځمکو د کمېشن کارانو، پانګوالو او نورو خبرې به مې اورېدې.

یوه ورځ مې را سره پلار په دې بحث کاوه چې زموږ کور ولې زموږ تر ټولو لویه شتمني ده او ما ورته دا ویل چې په کوم دلیل زموږ کور زموږ تر ټولو لویه شتمني نه ده، په دې خبرې مو سره شخړه شوه.

په راتلوکي انځور کې ما هڅه کړې چې نبستمن پلار سره، د کور په اړه د خپل فکر مخالفت ثرګند کړم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د عاید صورت حساب

**شتمن پلار**




د مالي توازن پاڼه

**نېستمن پلار**




پورته ډیاګرام د کور په اړه زما د شتمن او نېستمن پلار د لیدلوري بدلون ښيي. یوه پلار به کور خپله شتمني ګڼله او بل پلار به ویل داسې پور باید چې خلاص شي.

ما د دواړو پلرونو د پیسو د جریانو ښودلو لپاره ډیاګرامونه رسم کړل. ما ورته هغه کومکي لګښتونه هم په ګوته کړل چې د کور اخیستو له امله کېږي. کور چې څومره لوییږي لګښت ورسره هومره ډېرېږي او د پیسو جریان د لګښتونو په ستون کې وځي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library






زه وایم چې کور شتمني نه ده او نن هم خلک ما په دې فکر او خبرې يو ډول ننګوي. زه په دې هم پوهېږم چې کور د ځينو خلکو لوی ارمان او لويه پانګوونه ده او خپل کور لرل له نشته کور نه ښه وي. زه د دې عمومي فکر پر ځای يو بل بديل وړاندې کوم. که زه او مېرمن مې پرېکړه وکړو چې لوی او ښايسته کور وپېرو؛ نو هغه به



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خپله شتمني نـه ګټـو. تـر څـو چې دا زمـوږ لـه جیبـه پیسـې باسي دا به پور یا الزام وي.

زه دغـه اسـتدلال کـوم. زه فکـر نـه کـوم ډېـر خلـک بـه زمـا دا خـبره راسره ومنـي، ځکـه چـې لـوی او ښایسـته کـور پـه هـر صـورت یـوه عـاطفي اړتیـا ده او خـبرې چـې د عـاطفې یـا احساسـاتو شي؛ نـو دا چـې څـومره لـوړېږي، د پیسـو پوهـه ورسره ټیټېـږي. دا زمـا خپلـه تجربـه ده چـې پیسـې هـره یـوه پرېکړه عاطفي او احساساتي کوي.

- د کورونـو پـه موضـوع کـې، زیـاتره ټـول عمـر د هغـه کـور لپـاره پیسـې ورکـوي چـې د دوی نـه وي. پـه بلـه وینـا، زیـاتره خلـک پـه څـو کلونـو کـې یـو نـوی کـور اخـلي، دا کـور اخیسـتل پـه اصـل کـې هغـه ۳۰ کلـن اخیسـتل دي چـې دوی یـې بیـا ورو ورو پرې کوي.
- زیاتره خلـک کـه پـه ګـروی سـود ورکـړي، مالیـه یـې کمېـږي، خـو دوی چـې لګښـتونو لپـاره پیسـې ورکـوي، لـه دې یـو ځـل مالیـه ګرځـول شـوې وي،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



که څه هم ګروي ببرته خلاصه کړي، خو له لګښتونو مالیه ګرځول کېږي.

- زما خسرګنی دې خبرې هیښه کړه چې په جایدادونو یې مالیه هره میاشت ۱۰۰۰ ډالره لوړه شوې ده. دا زیاتوونه د دوی له تقاعد وروسته شوې وه، دې سره د دوی د تقاعد په بودیجې فشار راغی او دوی مجبور شول چې کور پرېږدي.
- د کورونو ارزښت نه لوړېږي، زه ځینې ملګري پېژنم چې د کور لپاره یې یو میلیون ډالر پور کړي دي، خو کور یې اوس له دې په ډېره ټیټه بیه پلورل کېږي.
- لوی زیانونه له لاسه وتې فرصتونه دي. که ټولې پیسې مو په کور ورکړې سخت کار ته به اړ شئ، ځکه پیسې ستاسې د لګښتونو له ستونه وځي، خو د شتمنیو په ستون نه ورزیاتېږي. دا د منځنی طبقې د پیسو د جریان بېلګه ده. که چېرې یوه ځوانه جوړه، د خپلې شتمنۍ په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ستون کې پیسې ورزیاتې کړي، راتلونکی ژوند به یې اسانه شي. د دوی د شتمنی ستون به ډک وي او اضافي لګښتونه به په اسانه خلاصولای شي. زیاتره وخت کور یوازې د پور اخیستو د یوې وسیلې په توګه عمل کوي، چې د لوړېدونکو لګښتونو مخه پرې ونیول شي.

لنډه دا چې په اخره کې د کور پېرلو پرېکړه ډېره ګرانه تمامېږي او که په دې برخه کې پانګوونه وشي، په پېرودونکي لاندې درې ډوله اغېز کوي:

۱) **د وخت ضایع**، چې په دې وخت کې د نورو شتمنیو ارزښت لوړېدی شي.

۲) **د اضافي پانګې ضایع**، دا پانګه د کور د ساتنې او رغوونې پر ځای بله برخه کې کارېدی شوه.

۳) **د پوهې ضایع**، زیاتره خلک کور، سپما او د تقاعد پیسې تېولې د شتمنیو په ستون کې حسابوي. دا چې دوی د سپما لپاره پیسې نه لري؛ نو سپما نه کوي. دا یې د پانګوونې له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



تجربې بې برخې کوي. دوی (پوه پانگوال) نشي- کېدای. په دې توگه زیاتره وخت د دوی پانگوونه په (پوهو پانگوالو) پلورل کېږي، دا خلک په تمه وي چې همدا پانگوونه بېرته یو ځل بیا په همدې محتاطو او محافظه کارو خلکو وپلوري.

زه دا نه وایم چې کور مه پېرئ، زه وایم چې د شتمنۍ او پور تر منځ په توپیر پوه شئ. که زه غواړم چې لوی کور وپېرم، لومړی باید داسې شیان وپېرم چې زما د دې لوی کور د لگښتونو لپاره راته پیسې را وگټي.

زما د لوستي پلار د ژوند حالت عیناً د هغه انسان حالت دی چې د موږکانو د ځغاستې په تلک کې گیر شوی وي. لگښتونه یې عاید سره مساوي دي، د شتمنۍ اخیستو فرصت نه لري، په دې خاطر یې نو پوروونه تر شتمنیو زیات دي.

لاندې انځور زما د نېستمن پلار مالي حالت ښیي. دلته گورو چې زما د نېستمن پلار عاید او لگښت سره مساوي دی او پوروونه یې تر شتمنۍ لوړ دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د شتمن پلار مالي بیان




## د نېستمن پلار مالي بیان




د شتمن پلار مالي حالت بیا لاندې انځور کې دی، په دې انځور کې ګورو چې عاید تر لګښتونو لوړ دی، له لګښته په زیاتو شویو پیسو شتمنۍ اخیستل کېږي، هغه شتمني بیا عاید راوړي، په دې توګه عاید یو ځل بیا تر لګښت لوړېږي او په څنګ کې ورسره د شتمنیو حجم هم د پورونو په پرتله زیاتېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## شتمن پلار ولې شتمنېږي؟

د شـتمن پـلار د مـالي حالـت پـه لیـدو دا معلومـات کېـږي چې شـتمن ولـې لا نـور هـم شـتمنېږي. پـه لانـدې انځـور کـې د شـتمنيو سـتون تـر لګښـتونو ډېـر عايـد راوړي او دا اضـافي پیسـې بېرتـه د شـتمنيو پـه برخـه کـې لګـول کېـږي. دې سره د شـتمنيو سـتون وده کـوي او دا خپـل عايـد هـم لـوړوي، لـه دې امله شتمن پلار نور هم شتمنېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د عايد صورت حساب




د مالي توازن پاڼه




## د منځنۍ طبقې خلک ولې مالي ستونزې لري؟

د منځنۍ طبقې خلک عموماً مالي ستونزو سره مخ وي، د دوی د عايد لويه سرچينه تنخوا او مزدوري وي او څومره چې تنخوا لوړېږي، ماليه هم ورسره لوړېږي. ددې تر څنګ يې لګښتونه هم لوړېږي. دا چې له عايد سره يې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لګښت سم لوړېږي، نو دوی د موړک د ځغاستې په تلک کې بندېږي. په دې توګه دوی خپل کور د عاید تولېدوونکي پانګوونې پر ځای خپله اساسي پانګوونه بولي.

د عاید صورت حساب




د مالي توازن پاڼه




دا نمونه دا فکر ښيي چې کور پانګوونه ده، که تاسې دا فکر کوئ چې د عاید په لوړېدو به لوی کور واخيستی شي؛ نو دا د اوسنی پوروړي ټولنې اساس دی. د لګښتونو لوړول، کورنی لوړو پورونه ور بولي او مالي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ستونزې یې زیاتېږي. سره له دې چې د دوی تنخواوې به لوړېږي او پرمختګ به هم کوي، خو د مالي پوهې د نشتون له امله دې ډول ژوند کې خطر زیات وي.

په ۱۹۹۰ز کال کې د مالي بحران په لړ کې، د بې کارۍ زیاتېدو وښوده چې منځنۍ طبقه څنګه له مالي پلوه لړزېدلې ده. دې وخت کې ناڅاپه د کمپنیو د تقاعد برنامې خپل ځای د ۴۰۱ K برنامې ته پرېښود. دا په دې مانا وه چې د ټولنیز تامین سازمان له ستونزو سره و او تقاعد شویو خلکو د امتیازاتو د تامین لپاره په سرچینو پسې ګرځېدل. بلاخره یې وېره په منځنۍ طبقې کېناسته او ګټه یې حداقل دا شوه چې خلک دې موضوع ته متوجه شول او د ګډې پانګونې وندې (Mutual[14] Funds) اخیستو ته یې مخه کړه.

د ګډې پانګونې وندې په دې خاطر مشهورې شوې چې زموږ د خوندیتوب ډاډ راکوي. کوم خلک چې د ګډې پانګونې وندې اخلي، دوی د ګروۍ او سود خلاصولو

[14] یوه مالي اداره ده چې د خلکو نقدې پیسې اخلي، په یوه ځای کې لګوي او هر چا ته د خپلو پیسو له درکه ګټه او زیان رسېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

 [redacted]

لپـاره شـپه او ورځ کـار کـوي، د بچـو د فیسـونو ورکولـو لپـاره هـم بایـد پیسـې وسـپموي او د کرېډېټ کـارټ پورونـه هـم بایـد پـرې کـړي. دوی دومـره وخـت نـه لـري چـې د پـانګوونې پـه اړه معلومـات واخـلي او د پیسـو لـه لګولـو ورانـدې یـې پـه هـره برخـه فکـر وکـړي. دوی د ګـډې پـانګوونې پـه مـدیر یـا مسـئول شـخص بـاور وکـړي، پیسـې ورکـړي، ځکـه پـه دې کـې پـانګوونې ډېـر ډولونـه دي. پـانګوال ډاډه وي چـې پیسې یې د دې (متنوع پانګوونې) له امله خوندي دي.

دغـه لوسـتي د منځنـۍ طبقـې خلـک، د کمېشـن کـارانو پـه وینـا د ګـډې پـانګوونې د ونـډو اسـناد لاسـلیک کـړي، دوی فکـر کـوي چـې دا پانګوونـه خونـدي ده، بیـا وایـي: (پـام کـوه، خطر مه منه!)

اصـــلي غمیـــزه د لـــومړنۍ مـــالي پـــوهې نشـــتون دی او د منځنـۍ طبقـې خلـک د همـدې کمـي لـه املـه سـتونزو سره مـخ کېـږي. دوی پـه دې خـاطر احتیـاط تـه اړ کېـږي چـې مـالي حالـت یـې ضـعیفه وي، د دوی د عایـد او لګښـت تـر منـځ تـوازن نـه وي. پورونـه پـرې پراتـه وي او شـتمنۍ هـم نـه وي چـې د عایـد کومـه لاره چـاره تـرې جـوړه شي. پـه عـامو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



حالاتو کې د دوی د عاید لویه سرچینه تنخوا وي او ژوند يې په بادار تکيه وي. بيا چې دې خلکو ته د (گټورې معاملې) فرصت پیدا شي، نو له دې فرصته هم گټه نشي-اخيستی، ځکه دوی ډېر زيات کار کوي، ماليات پرې ډېر وي، پورونو کې ډوب وي، په دې خاطر د خپلو پيسو په اړه هېڅ ډول خطر نه مني.

لکه څنگه مې چې دې څپرکي په سر کې وویل، تر ټولو مهمه خبره د شتمنيو او پورونو تر منځ توپير دی. په دې توپير چې پوه شئ، بيا د هغو شتمنيو په پېرلو تمرکز وکړئ چې عاید درته ولري. دا د شتمن کېدو لپاره تر ټولو ښه لاره ده. په همدې لاره ځئ او ستاسې د شتمنيو ستون به وده وکړي. خپل لگښتونه او پورونه را ټيټ کړئ، بيا به د شتمنيو د اخيستو لپاره پيسې ولرئ، د شتمنيو ستون مو چې ډک شو بيا به نورې گټورې پانگوونې ته رجوع وکړئ. دا پانگوونه به له ٪۱۰۰ تر لايتناهي پورې گټه ولري او ښايي تاسې د ۵٬۰۰۰ ډالرو پانگوونه يو ميليون يا تر دې هم لوړه شي. دا هغه پانگوونه ده چې د


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



منځنۍ طبقې خلکو ته (خطري) ښکاري، خو که څوک مالي پوهه ولري دا پانګوونه ورته هېڅ خطر نه لري.

که تاسې چېرې د نورو خلکو په پل روان شئ او هغه څه وکړئ چې هغوی یې کوي؛ نو حالت به د لاندې انځور په ډول وي:

**د عاید صورت حساب**

| |
|---|
| عاید<br>شرکت ته کار (معاش) |
| لګښتونه<br>دولت ته کار (مالیات) |

**د مالي توازن پاڼه**

| پورونه | شتمنۍ |
|---|---|
| بانک ته کار (ګروي) | |

که ته چېرې کارمند یې او خپل کور هم ولرې، نو کاري هلې ځلې به دې عموماً داسې وي:

۱) شرکت ته به کار کوئ:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځوک چې په تنخوا کار کوي هغوی خپل بادار یا شریک شتمن وي. ستاسې هلې ځلې به مو بادار ته بریا او تقاعد ورکړي.

۲) دولت ته به کار کوئ:

تاسې به تنخوا لیدلې هم نه وي چې دولت به ترې د وخته خپله برخه کرځولې وي. تاسې چې څومره ډېر کار کوئ، هومره د دولت مالیه لوړوئ. زیاتره په کال کې شپږ میاشتې د دولت لپاره کار کوي.

۳) تاسې به بانک ته کار کوئ:

له مالیاتو وروسته به ستاسې لوی لګښتونه بیا ګروي او د کرېډېټ کارت پور خلاصول وي.

د ډېر کار کولو یوه ستونزه دا ده چې پورته یاد شوي اړخونه به ستاسې د هڅو له برکته لا ډېره برخه ترلاسه کوي. تاسې باید دا زده کړئ چې د خپلو هلو ځلو او منډو ترړو په برکت، خپل ځان او کورنۍ ته هم ګټه ورسوئ.

که تاسې پرېکړه وکړه چې خپل کار به کوئ او هڅې به د لوړې تنخوا پر ځای د شتمنیو د لاس ته راوړلو لپاره کوئ؛ نو موخې به څانته څنګه ټاکئ؟ زیاتره خلک باید کار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وکړي او تنخوا واخلي چې شتمنې پرې ترلاسه کړي. د دوی شتمنۍ چې زیاتې شي، خپله بریا به څنګه اندازه کوي؟ انسان څنګه پوهېږي چې شتمن شوی دی؟ لکه زه، څنګه چې زه د شتمنیو او پورونو لپاره خپل تعریفونه لرم، همداسې د شتمن کېدو لپاره هم یو تعریف لرم.
اصلاً ما دا مفهوم د (باک منستر فولر) په نوم یوه کس نه راخیستی دی، دا سړی ځینې خلک «تګ» او ځینې یې «نابغه» بولي.
دا سړی څو کاله وړاندې په انجینرانو کې یو شور را پورته کړ، ځکه د جوډیسک په نوم د یوې اختراع د ثبت غوښتنه یې وکړه، خو اصلاً (فولر) د شتمنۍ په اړه هم څه ویلي وو. دا موضوع په پیل کې ډېره پېچلې وه، خو څه موده وروسته مې چې ولوسته؛ نو په مفهوم یې پوه شوم. دی وایي: (شتمني د انسان د هغې وړتیا په مانا نه ده چې په راتلونکي کې تر څومره وخته ګوزاره کولای شي او که زه نن کار بس کړم، تر څو ورځو به ګوزاره وکړم.)
ستاسې د شتمنیو او پورونو د تولیز ارزښت برخلاف، چې زیاتره د یوه انسان په اضافي لګښتونو ډکېږي، دا امکان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



رامنځته کوي چې سم سنجشي- واحد ترلاسه کړو. په دې توګه ما وکړی شول دا سنجشي- واحد پیدا کړم چې د مالي استقلال ترلاسه کولو لپاره، خپلې موخې ته څومره نږدې یم.

په شتمنیو (دارایي) کې زیاتره وخت هغه شیان هم راځي چې پیسې درته نه ګټي، مثلاً هغه شیان چې اوس ستاسو په زېرمتون کې پراته دي. شتمني په دې اندازه کېږي چې ستا پیسې څومره پیسې ګټي؟ او ستا مالي بقا په همدې پوزې تړلې ده.

شتمني د شتمنیو (Assets) په ستون کې، د لګښتونو د ستون پر وړاندې، د پیسو جریان اندازه کول دي.

مثلاً زه د شتمنیو په ستون کې زما د پیسو د جریان مقدار ۱۰۰۰ ډالر دی او میاشتني لګښتونه مې ۲۰۰۰ ډالر دي؛ نو زما شتمني څومره ده؟

بېرته به د بناغلي فولر تعریف ته ستانه شو، د هغه د تعریف له مخې زه څو ورځې ګوزاره کولای شم؟ که ۳۰ ورځې یانې یوه میاشت فرض کړو؛ نو زه پنځلس ورځې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



گوزاره وکړی شم. زه به هله شتمن یم چې د شتمنیو (اسېټس) په ستون کې هره میاشت ۲۰۰۰ ډالر ولرم.

نو دا په دې مانا نه ده چې زه شتمني لرم، خو شتمن لا نه یم. تراوسه مې عاید دومره دی چې زما میاشتني لګښتونه پوره کوي. که لګښتونه لوړوم د هغې لپاره باید د شتمنیو نقدي جریان لوړ کړم چې یو توازن رامنځته شي. دېته هم پام کوئ چې په دې وخت کې زه په خپله تنخوا تکیه نه یم، ما د شتمنیو ستون په ودې تمرکز کړی، پکې بریالی شوی یم او مالي ثبات یې راکړی دی. که زه نن هم دنده پرېږدم، نو د شتمنیو ستون له نقدي جریانه خپل لګښتونه پوره کولای شم.

ورپسې هدف مې باید دا وي چې د شتمنیو عاید وسپموم او په دې پیسو په ستون کې یوه بله داسې شتمني ورزیاته کړم، چې هغه هم راته عاید ولري. په دې توګه ورځ تر بلې زما شتمنی زیاتېږي. څومره چې شتمنی زیاتېږي هومره به ورسره نقدي جریان زیاتېږي، څومره چې دا جریان زیاتېږي، هومره به زما عاید تر لګښت لوړ وي او ورځې تر بلې به مالداره کېږم. په دې توګه به زه د



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خپل ډېر کار تر څنګ له یوه بل مدرکه هم عاید لرم، که د پانګوونې دغه دوره همداسې روانه وي، نو زه به هم د شتمن کېدو په لاره روان یم. یوازې دېته پام کوئ چې:

- شتمن، شتمنۍ پېري.
- نېستمن یوازې لګښتونه کوي.
- د منځنۍ طبقې خلک (پورونه) پېري او فکر کوي چې دا ګني شتمنۍ دي.

نو زه څنګه خپل کار پیل کړم؟ ځواب یې راتلونکي څپرکي کې، د مکډونالډ له بنسټګره واورئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# دریم څپرکی

## دریم درس

## خپل کار کوئ

**شتمن د شتمنیو ستون ته ګوري او**
**نور خلک د عاید صورت حساب ته**

۱۹۷۴ز کال کې د مکډونالډ له بنسټګر (ری کروک) غوښتنه وشوه چې په اوسټېن کې، د تکزاس پوهنتون، د سوداګرۍ پوهنځي، د ماسټرۍ دورې زده کوونکو ته وینا وکړي. زما یو ملګری د همدې پوهنځي محصل و. له قوي اغېزناکې وینا وروسته چې خلک خواره شول؛ نو محصلینو (ری) یوې ناستې او څښاک ته دعوت کړ او ده یې په ډېر درنښت دا بلنه ومنله.

تول محصلین ناست وو او د خپل څښاک ګیلاسونه یې په لاس کې نیولي وو، په دې وخت کې ترې پوښتنه وکړه: (زه څه کار کوم؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



محصلینو وخندل چې ری ګنـي ورسره ټوکې کوي، خو ده بیا پوښتنه وکړه: (تاسې څه فکر کوئ چې زه څه کاروبار کوم؟)

محصلینو بیا وخندل او بلاخره یوه زړور هلک وویل: (ری! ټوله دنیا پوهېږي چې ته د برګرو هوټل لرې.)

ری نرۍ موسکا وکړه، شبېه غلی و، بیا یې وویل: (زه پوهېږم چې تاسې به همدا وایئ، خو ښاغلو او اغلو! زه د برګرو کاروبار نه کوم، زما اصلي کاروبار د جایدادونو پېر و پلور دی.)

زما ملګری کیت وایي چې ری ډېر وخت په دې موضوع وغږېده. د (ری) اصلي تمرکز په دې و چې په خلکو د خپل کاروبار څانګې یا نمایندګۍ وپلوري، خو د څانګې موقعیت ته یې ډېر زیات پام کاوه. دی پوهېده چې د هرې څانګې په بریا کې تر ټولو لویه ونډه د ځمکې او موقعیت ده. اصلاً کیسه دا وه چې کوم کس به د مکډونالډ څانګه پېرله، هغه ځمکه به یې هم ورسره پېرله چې د مکډونالډ ملکیت به و.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



نن سبا مکډونالډ په نړۍ کې ډېر زیات جایدادونه لري او د دوی ځانګې په شمېر کې تر کاتولیک کلیساوو زیاتې دي. نن مکډونالډ په امریکا او د نړۍ د نورو هېوادو په مهمو او ارزښتمنو سیمو کې ځمکې لري.

زما ملګري کیت ویل چې دا یې د ژوند تر ټولو مهم درس و، نن کیت هم د موټر مینځلو ځایونه جوړ کړي، خو اصلي کاروبار یې د جایدادونو پېر و پلور دی.

مخکې ځپرکی په دې ختم شو چې زیاتره خلک د ځان په ځای نورو ته ډېر کار کوي. لومړی د شرکت خاوندانو ته کار کوي، بیا دولت ته کار کوي، بیا بانک ته پیسې ګټي او هره میاشت ورته د خپلې ګروۍ او ډیبېټ کارت پورونه لنډوي.

زه چې ماشوم وم مکډونالډ راسره نږدې نه و، خو شتمن پلار زه او مایک داسې روزلي و چې هغه درس بیا په تکزاس پوهنتون کې محصلینو ته ورکړل شو. دا د شتمنو خلکو درېیم (راز) دی او راز دا دی چې: (خپل کار کوه) عموماً مالي ستونزې له دې امله رامنځته کېږي چې



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خلک ټول عمر نورو لپاره کار کوي او بیا چې دا کار بند کړي؛ نو د ځان لپاره ورسره هېڅ هم نه وي.

زموږ اوسني ښوونيز سیستم کې ډېر کار په دې کېږي چې د زده کوونکو علمي وړتیا لوړه شي او د ښې دندې ترلاسه کولو لپاره یې چمتو کړي. د دوی ټول ژوند په تنخوا ولاړ وي او لکه څنګه مو چې وویل یوازې د عاید ستون ته یې سترګې وي. دا خلک بیا د خپلې تعلیمي وړتیا لوړولو لپاره پوهنتونونو ته ځي چې انجینران، ساینسپوهان، آشپزان، پولیس، مامورین، هنرمندان، لیکوال او... شي. دا چې دوی تعلیمي وړتیاوې لري، د کاریګرو ډلې ته ننوځي او پیسو ګټلو ته مخې را بدوهي.

ستا د کاروبار او مسلک تر منځ ډېر زیات توپیر دی. زه زیاتره وخت له خلکو پوښتنه کوم چې: (څه کاروبار کوې؟)

دوی راته وايي: (زه بانکر یم.)

بیا ترې پوښتنه کوم: (نو ته خپل بانک لرې؟)

دوی راته عموماً وايي: (نه! په بانک کې کار کوم.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په دې صورت کې دوی خپل مسلک له کاروبار سره ګډوډ کړی دی. د دوی مسلک دې بانکوالي وي، خو دوی بیا هم کاروبار ته اړتیا لري.

په ښوونځیو کې یوه ستونزه دا ده چې ته څه لولې هماغه درنه جوړېږي، که پخلی دې ولوست؛ نو اشپز به شې. که حقوق دې ولوستل وکیل به شې. که تخنیک دې ولوست مستري به شې. خو د لوست ددې طریقې زیان دا دی چې خلک مسلک ته ګوري او خپل کاروبار ته یې پام نه وي. دوی ټول عمر د نورو خلکو لپاره کار کوي او هغوی شتمنوي.

که څوک غواړي چې مالي ثبات ولري، خپل کار باید وکړي او دا کاروبار د شتمنیو د ستون شاوخوا وي، نه د عاید ستون. مخکې مو وویل چې لومړی قانون د شتمنیو او پورونو تر منځ توپیر کول او شتمنۍ پېرل وو. شتمن خلک د خپلو شتمنیو ستون ته پام کوي، خو نور خلک بیا یوازې د عاید ستون ته ګوري.

له دې امله زه زیاتره وخت اورم چې:

- کاشکې مې تنخوا لوړه شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



- کاشکې ترفیع وکړم.
- زه بېرته ښوونځي ته ځم چې مسلکي زده کړې وکړم او دنده پیدا کړم.
- زه به یو څو ساعته ډېر کار وکړم.
- یو بله دنده هم باید پیدا کړم.
- یوه بله دنده مې پیدا کړې ده، تنخوا یې هم ښه ده.

ځینې کړیو کې دا ښې خبرې دي، خو که تاسې د (ری) خبرې ته پام وکړئ، نو تاسې تر اوسه خپل کاروبار نه دی پیل کړی، ځکه ستاسې له تمرکزه ښکاري چې پام مو لا هم د عاید ستون ته دی او په دې صورت کې انسان یوازې هغه وخت مالي ثبات مومي چې په خپلو سپمول شویو پیسو شتمنۍ واخلي او هغه شتمنۍ دده عاید لوړ کړي.

د ټیټې او منځنۍ طبقې زیاتره خلک د پیسو په لګولو او کار اچولو کې ډېر احتیاط کوي، یانې دوی خطر نشي-منلی او لامل یې دا دی چې مالي بنسټ نه لري. دوی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



يوازې په خپلو دندو پورې نيښتي وي او هېڅ ډول خطر نه مني.

د مالي بحران په وخت کې چې سلګونه زره خلک له دندو وويستل شول؛ نو هغوی پوه شول چې يوازې يو کور لري، همدا يې شتمني وه او دې شتمنۍ هم دوی زبېښل. دا کور د دوی شتمني وه، خو دوی ته يې هېڅ عايد نه درلود او هره مياشت به يې تري پيسې خوړې. موټر يې بله شتمني وه، هغه هم د تېلو او مستري خپل لګښتونه درلودل. د ګلف لوبې لپاره يې وسايلو يو وخت په ۱۰۰۰ ډالر اخيستي وو، خو اوس يې دا بيه نه کوله. بې له کاري خونديتوبه يې نور هېڅ نه لرل. دوی چې کوم شی خپله پانګه بلله هغه هم ورسره اوس د اقتصادي بحران پر مهال بېرته د مالي ثبات په ترلاسه کولو کې هېڅ مرسته نه کوله.

زه فکر کوم موږ ټولو به د کور او موټر لپاره له بانکونو پور اخيستی وي او فورمې به مو لاسليک کړې وي. د پور د مقدار خانې ته به مو هم کتلي وي، دېته پام څکه اوړي چې د حسابدارۍ تجربه نښيي، بانک چې چاته کومې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پیسې ورکوي، شخص کولای شي چې هغه په خپله شتمنۍ کې حساب کړي.

یوه ورځ مې غوښتل پور واخلم، خو خپل مالي وضعیت راته ښه ښکاره نه شو، په دې خاطر مې د ګلف وسایل، هنري کلېکسون، کتابونه، برېښنایي وسایل، جامې، ساعتونه، بوټان او نور شخصي- شیان په دې خاطر د شتمنۍ خانې ته ور واچول چې شمېر یې لوړ شي.

خو هغوی زما د پور وړاندیز رد کړ، ځکه ما د جایدادونو په کاروبار کې ډېره پانګوونه کړې وه. پور ورکوونکو ته دې شي خوند نه ورکاوه چې ما د اپارتمانونو له کرایې ډېر عاید درلود. هغوی یوازې دې پسې ګرځېدل چې زه رسمي دنده ولې نه لرم او هره میاشت تنخوا ولې نه اخلم.

دوی زما د قیمتي جامو، ساعتونو او نورو شیانو په اړه پوښتنه ونه کړه، ځینې وخت چې ستاسې ژوند له مروجه اصولو لږ بدل وي؛ نو ډېرې ستونزې درته جوړېږي.

ځینې خلک چې وایي زه د یو میلیون یا سله زره ډالرو په ارزښت خالصه پانګه لرم، زه ووېرېږم. د خالص ارزښت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ستونزه دا ده چې که ته غواړې شتمنی دې وپلورې، مالیه یې درنه ګرځول کېږي.

زیاتره خلک مالي ستونزو سره یوازې په دې خاطر مخ وي چې عاید یې ټیټ وي او د نقدي پیسو ډېرولو لپاره خپلې شتمنی پلوري. لومړی خبره دا ده، د بېلانس په پاڼه کې چې د دې شتمنیو کومه بیه رسېدلې، دا شیان بېرته هغه بیه نه پوره کوي، خو که چېرې ګټه هم وکړي؛ نو دولت بېرته له دې ګټې خپله مالیه ګرځوي، په دې توګه دولت بېرته له دې ګټې خپله برخه اخلي. خلک د پور خلاصولو لپاره خپله شتمني وپلوري، خو دولت چې ترې مالیه واخلي، د پور خلاصولو لپاره پیسې بېرته لږې شي. په دې خاطر زه وایم چې د خلکو د شتمنی خالص ارزښت د دوی تر اټکله ډېر ټیټ وي.

خپل کار کوه، کاروبار پیل کړه، د ورځې دنده کوه، تنخوا اخله، خو شتمنی پېره، پورونه او مسولیتونه مه پېره، ځکه دا شیان چې تا یو ځل وکارول بیا هغه پخوانی ارزښت نه لري. تاسې چې نوی موټر واخلئ او بهر یې را وباسئ، بیه یې دستي ۲۵٪ ټیټېږي، سره ددې چې بانک دا موټر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ستاسې اصلي شتمني بولي، خو دا شتمني نه ده. نبه بېلګه يې موبايلونه دي، که دې په ۵۰۰ ډالر واخيست او له دوکانه دې راوويست، بېرته يې په هماغه بيه نشې پلورلای.

ځوانان بايد لګښتونه ټيټ کړي، پورونه لږ کړي او د شتمنيو اخيستو لپاره دې هلې ځلې وکړي. په کورونو کې دې مور و پلار ځوانانو ته د پور او شتمنۍ توپير څرګند کړي.

ځوانان پوه کړئ چې له واده، دندې، کور اخيستو، ماشومانو او په پور شيانو اخيستو وړاندې دې، لومړی ځان ته د خالصو شتمنيو يو اساس رامنځته کړي. زه ډېر داسې ځوانان پېژنم چې ودونه يې کړي، خو بيا يې ځان د پور په دام کې نښلولی، په پور يې ژوند برابر کړی، خو که دوی ټول عمر کار وکړي، ځان له دغه شته دامه نشي-ويستی.

د زياتره خلکو بچي لوی شي، خو د مور و پلار يې ايله دې وخت کې پام شي چې د خپل تقاعد لپاره يې سپما نه ده کړې، دوی له دې وروسته د پيسو په سپمولو بوخت شي،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خو بیا چې دا مور و پلار ناروغه شي؛ نو د دوی مسئولیت هم د بچو په غاړه شي.

نو ستاسې بچي کوم ډول شتمنۍ ترلاسه کولای شي؟ زما په نظر اصلي شتمني په لاندې کټگوریو کې راځي:

- داسې کاروبار چې زما وي، خو ماته پکې ډېره اړتیا نه وي. نور خلک یې پرمخ یوسي، ځکه که زه پکې خپله بوخت شم، بیا کاروبار نه شو، دنده شوه.
- ونډې
- تضمین لیکونه
- عاید لرونکي جایدادونه
- د لنډو مهالو پورونو پاڼې (IOUs)
- د فکري ملکیتونو حق، مثلاً سندرې، کتابونه، اختراعات او نور ...
- هر هغه شی چې ارزښت ولري، عاید راوړي یا یې بیه لوړه شي او بازار ولري.

زه چې ماشوم وم، لوستي پلار به مې ویل چې ښه او خوندي دنده پیدا کړم، خو شتمن پلار به مې ویل چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خپلې خوښې شتمنۍ وپېره، ځکه که ستا په خوښه نه وي، پام به هم پرې نه کوې. ما جایدادونه واخیستل، ځکه زما ودانیو او ځمکو سره ډېره مینه ده. زما د دې کاروبار خوښېږي او پام پرې کولای شم. که دې کې ستونزې را پیدا شي؛ هومره به لوېږي نه وي چې له امله دې زما جایداونه بد راشي. کوم خلک چې جایدادونو سره مینه نه لري، نه دې یې پېري.

زما د وړو شرکتونو پانګې هم خوښېږي، خصوصاً په پیل کې، ځکه زه متشبث یم، کاروباري سړی نه یم. پخوا مې له ځینو لویو ادارو سره کار کړی دی، هلته هم کار خوند راکاوه، ښې خاطرې ترې لرم، خو ډېر ژور پرې نه پوهېږم، ځکه اداري سړی نه یم. زما د شرکتونو پیلول خوښېږي، نه پر مخ وړل. په دې خاطر زیاتره وخت د وړو شرکتونو ونډې پېرم. زیاتره وخت زه خپله هم شرکت پیلوم او ونډې یې پلورم. د نویو شرکتونو په ونډو کې کله کله بخت یاري کوي او زما دا لوبه ډېره خوښېږي. ځینې خلک له وړو شرکتونو وېرېږي او وایي چې خطر لري، همداسې ده. خو که ته په پانګوونه پوه شې، علاقه ورسره ولرې او لوبه



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زده کړې، دا خطر خپله ختمېږي. وړو شرکتونو کې زما پالیسي- دا ده چې له یوه کاله ډېر وخت پکې نه تېروم او په جایدادونو کې بیا له وړو پیل کوم، واړه بیا په لویو بدلوم. دا د املاکو او جایدادونو د ارزښت لوړېدو لامل کېږي او زه جایدادونه عموماً له اوو کالو ډېر نه ساتم.

څلور کاله مې بحري ځواکونو او زیروکس سره کار وکړ، هلته مې د شتمن پلار په نصیحت عمل وکړ. ما به د ورځې کار کاوه او په وزګار وخت به مې کاروبار کاوه. د شتمنیو ستون ته مې ډېر پام وکړ، د وړو وړو جایدادونو او ونډو کاروبار به مې کاوه. شتمن پلار تل په مالي پوهې ټینګار کاوه، زه چې څومره په حساب کتاب او د نقدو پیسو په مدیریت پوهېږم، هومره به د ښې پانګوونې لپاره د تحلیل او شرکت پرانیستو وړ کېږم.

که د چا شرکت سره علاقه نه وي، زه یې ورته د جوړولو ورانديز نه کوم. زه چې د شرکتونو په اړه څومره پوهېږم، هېڅوک به دې کار ته اړ نه باسم. ځینې وخت خلک وزګار وي وایي راځه شرکت جوړ کړه، په دې صورت کې د بریا امکان د نشت برابر دی. له لسو نهه شرکته په ۵ کالو



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې بېرته تړل کېږي، بيا چې کوم پاتې شي، په هغوی کې هم نهه سر ته نه رسېږي. نو که چېرې تاسې رښتيا شرکت سره مينه لرئ او غواړئ چې جوړ يې کړئ، زه يې مشوره درکوم، ګنې خپلې دندې ته دوام ورکړئ او خپل کار وکړئ.

خپل کار په دې مانا چې د شتمنيو ستون مو قوي وساتئ، يو ډالر چې ورغی، بېرته اجازه مه ورکوئ چې تري ووځي. داسې فکر وکړئ چې يو ډالر ستاسې د شتمنيو ستون ته لاړ، دا به درته کار او ګټه کوي. د پيسو يوه ښېګڼه دا ده چې شپه او ورځ کار کوي او دا کار يې تر نسلونو دوام کوي. خپله دنده کوئ، ښه زيار وکاږئ، ښه کارمند شئ، خو د شتمنيو ستون ته مو هم پام کوئ.

عايد مو چې لوړ شول بيا ځان ته د سينګار او تجمل توکي اخيستی شی، يو مهم توپير دا دی چې شتمن خلک د تجمل توکي وروسته پېري او د ټيټې و منځنۍ طبقې خلک يې لومړی پېري. د ټيټې او منځنۍ طبقې خلک موټر، لوی کور، ګاڼې او نور شيان په دې خاطر پېرې چې «شتمن ښکاره» شي، دوی شتمن ښکاري، خو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



اصلاً په پورونو کې «ډوب» وي. د ډېرې مودې شتمن خلک لومړی د شتمنیو ستون قوي کوي، بیا چې له دې شتمنیو پیسې را شروع شي، دوی پرې ځانته نور وسایل پېري. د ټیټې او منځنۍ طبقې خلک بیا دا تجمل ځانته په خپله وینو، خولو او د ماشومانو په میراث اخلي.

رښتینی تجمل د رښتینې او پر ځای شتمنۍ ډالۍ ده.

مثلاً یو وخت چې ما او زما مېرمن (کېم) له خپلو اپارتمانونو ښه عاید درلود، هغې ځانته بینز موټر واخیسته. موږ دې موټر لپاره هېڅ خواري ونه کړه او نه مو کوم خطر ومانه، ځکه دا موټر راته اپارتمانونو واخیست.

خو موږ د دې موټر لپاره څلور کاله انتظار کړی و، موږ په تمه وو چې د املاکو د پانګوونې ګټه ډېره شوه او په کافي اندازه عاید تړې راغی، بیا مو په هغه عاید ځانته موټر واخیست او دا موټر د ښې او پرځای پانګوونې برکت و. زما مېرمن پوهېده چې د خپلو شتمنیو ستون ته څنګه وده ورکړي، اوس دا موټر د کیم د مالي پوهې په مانا هم دی.

خو دې په ځای زیاتره خلک ووځي، موټر یا کومه بله وسیله په قسطونو (کریډېټ) واخلي. دوی اصلاً ستړي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شـوي وي او غـواړي چـې يـو نـوی شـی واخـلي. خـو دا پـه قسـطونو د توکـو اخيسـتل انسـان تـه سـتونزه جـوړوي، ځکـه ته بـه هـره ورځ يـو مقـدار پيسـې پـه قسـطونو کـې ورکـوې او دا بيا انسان ذهناً نارامه کوي.

تـه چـې ښايسـته مـوده صـبر وکـړې، پانګوونـه وکـړې او بيـا خپـل کاروبـار پيـل کـړې؛ نـو د شـتمنو خلکـو پـه يـوه بـل راز پوهېـدو تـه بـه چمتـو يـې، دغـه راز شـتمن خلـک لـه نـورو خلکو وړاندې کوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# څلوړم څپرکی

## څلورم درس

## د مالیاتو تاریخ او د سوداګریزو ادارو قوت

زما یادېږي چې په ښوونځي کې به راته د (رابن هوډ) او (میري مین) کیسې کېدې. زما د استاد په فکر دا د یوه اتل ښکلې کیسه وه چې له شتمنو به یې شتمني تروړله او په نېستمنو به یې وېشله. زما شتمن پلار به بیا رابن هوډ اتل نه بلکې ټګ باله.

رابن هوډ مړ شوی خو پلیوني (پیروان) یې اوس هم شته، زه اوس هم ډېر خلک پېژنم چې وایي:

- شتمن خلک یې ولې پیسې نه ورکوي؟
- شتمن د ډېره مالیه ورکړي چې خیرې یې غریبو ته ورسېږي.

د رابن هوډ فکر او کار همدا و چې له شتمنو یې وتروړه او په غریبو یې ووېشه، خو دا فکر د غریبو او منځنۍ طبقې خلکو په زیان دی. منځنۍ طبقه د رابن هوډ د همدې اصولو له لاسه، د مالیاتو په جال کې ښکېل ده. شتمن

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خلک مالیه نه ورکوي، مالیه همدا د منځنۍ طبقې خلک، په تېره بیا لوستي او د ډېر عاید لرونکی قشر ورکوي او همدا پیسې غریبو ته ځي.

خو دا چې دا هر څه ولې کېږي، ددې لپاره باید د مالیاتو تاریخ ته سر ورښکاره کړو. زما لوستي پلار د علم په تاریخ کې تکړه و، خو شتمن پلار مې بیا ځان د مالیاتو د تاریخ په ګانه سینګار کړی و.

شتمن پلار ما او مایک ته وویل چې پخوا په امریکا او انګلستان کې مالیات نه وو، یوازې د جګړو پر مهال به له خلکو لږې پیسې ټولېدې. د پیسو مقدار به پاچا یا ولسمشر اعلاناوه. برېتانیا کې مالیات د ناپیلیون پر وړاندې د جګړو (۱۷۹۹ تر ۱۸۱۶) پورې وضع شول او امریکا کې یې بیا د کورنۍ جګړې (۱۸۶۵ تر ۱۸۶۱) لپاره مالیه ټولېده.

۱۸۷۴ز کال کې د انګلستان پارلمان په خپله خلکو مالیه وضع کړه او په امریکا کې، د ۱۹۱۳ز کال له شپاړسمو قانوني اصلاحاتو وروسته مالیه وضع شوه. امریکایان د مالیاتو مخالف وو. بوستن بندر کې چې پېښه رامنځته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شـوه لامـل يـې پـه چـاپو د مـاليې لـوړول وو او د (بوسـتن هـاربر تـې پـارټي) پـه نـوم يادېـده، لـه همـدې د امريكـا د خپلواكۍ جگـړه هـم پيـل شـوه. دې كـار پنځوس كالـه ونيـول چې عام ولس د مالياتو وركولو لپاره چمتو شي.

لـه دې تاريخـه دا معلومـات كېـږي چـې پخـوا د عايـد ماليـه او د جگـړې ماليـه يـوازې پـه اشرافـو وضـع كېـده او شـتمن پـلار هڅـه كولـه چـې مـا او مايـك پـه همـدې موضـوع پـوه كـړي.

هغـه بـه ويـل چـې لـه دې وروسـته ورو ورو پـه اكثريـت خلكـو ومنـل شـوه، غريبـو خلكـو تـه بـه يـې ويـل چـې دا ماليـات اشرافـو تـه يـو ډول جـزا ده. پـه دې توگـه خلكـو دې قـرارداد تـه رايـه وركـړه او د قـانون برخـه يـې وگرځېـده. كـه څـه هـم دا قـانون د اشرافـو او فيوډالانـو لپـاره جـوړ شـوى و، خـو د وخـت پـه تېرېـدو پكـې د ټيټـې او منځنـۍ طبقـې هماغـه ونښـتل چې دې قانون ته يې رايه وركړې وه.

شـتمن پـلار وويـل: (حكومـت چـې د پيسـو خونـد وليـده، اشتها يـې ورتـه ښـه شـوه. خـو زه او سـتا پـلار سره مخـالف يـو، هغـه د دولـت مـامور دى او زه پـانگوال يـم، دواړو پيسـې ترلاسـه كـوي، خـو زمـوږ د بريـا د انـدازه كولـو طريقـې هـم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



متضادې دي. هغه ته پيسې ددې لپاره ورکول کېږي چې خلک وګوماري، خلک چې وګوماري اداره ورسره پراختيا مومي او په دولت کې تر ټولو ښه اداره ده چې پراخه وي. اپوټه زه بيا لږ خلک ګومارم او لږې پيسې لګوم، زما دا کار بيا د پانګوالو خوښېږي. په دې خاطر مې دولتي خلک نه خوښېږي، د دوی موخې له کاروباري خلکو سره توپير لري. حکومت چې څومره وده کوي، هومره ډېر ماليات وضع کوي او د ملاتړ لپاره يې پيسو ته اړتيا پېښېږي.

زما لوستي پلار به ويل چې دولت بايد غريبو سره مرسته وکړي. جان. اف کېنيډي او د هغه د سولې ځواکونو مفکوره يې خوښېده. د هغه دا مفکوره دومره خوښېده چې ان ماليزيا، تايلنډ او فليپين ته د سولې ځواکونو د روزونکو په توګه لاړل. ده به تل هڅه کوله چې خپله بوديجه لوړه کړي او په خپلو ادارو يانې ښوونيزې څانګې او سولې ځواکونو لپاره نور خلک وګوماري.

زه به د لسو کالو وم چې هغه راهيسې مې راته پلار ويل، دولتي مامورين د لټو غلو يوه ډله ده او نېستمن پلار به مې ويل چې اشراف او شتمن ټګ او حريص خلک دي،



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



له دوی باید ډېره مالیه واخیستل شي. دواړو خپل قوي دلایل لرل. ماته دا کار ډېر سخت و، ځکه په سیمه کې د یوه شتمن انسان له کوره به چې راغلم خپل (دولتي رهبر) پلار سره به مخ شوم، په دې پوهېدل سخت وو چې ثوک په حقه دی او څوک ناحقه.

خو د تاریخ مطالعه د مالیاتو په اړه جالب لیدلوري څرګندوي. لکه مې چې وویل د مالیاتو طرحه په همدې ډول منل کېدای شوه، ځکه خلکو د رابن هوډ په مفکورې باور درلود، هغه به د خپل فکر له مخې شتمني له شتمنو تروړله او په غریبو وېشله. خو ستونزه هله پیدا شوه چې د دولت لوړه او حرص زیات شو او ډېر زر یې دا قانون د اشرافو تر څنګ په منځنی طبقې پلی کړ، تر دې چې ورو ورو پکې غریب خلک هم را ښکېل شول. بل خوا اشرافو فرصت وموند، دوی خپل اصول درلودل، لکه څنګه مې چې درته مخکې وویل اشراف او شتمن د سوداګریزو ادارو په اړه پوهېدل او دا سوداګري ان د بادي بېړیو له وخته مشهوره وه. شتمنو سوداګریزې ادارې په بحري لارو د خپلو مالونو د خوندیتوب لپاره رامنځته کړې. شتمنو په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



سوداګریزو ادارو کې پانګوونه وکړه چې د بحري سفر لپاره اسانتیاوې برابرې کړي. دې شرکتونو یا سوداګریزو ادارو به وروسته د بېړیو ماڼوګان ګومارل چې په بحر کې بېړۍ وچلوي او په نویو ځمکو کې (خزانې) پیدا کړي. بېړۍ به چې ډوبه شوه ماڼوګان به پکې له ژونده خلاص شول او د شتمنو زیان یوازې هغه پیسې وې چې دې سفر لپاره به یې ځانګړې کړې وې.




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لانـدې انځـور دا ښـيي چـې پـه شرکتونـو کـې لګـول شـوې پانګـه، څنګـه ستاسـې د عايـد پـه صـورت حسـاب او د تـوازن په پاڼه کې نشي راتلی.

شـتمن خلـک د ادارو د دولتـي جوړښـت پـه قـوت پـوهېږي او همـدا لامـل دی چـې د منځنـی طبقـې او غريبـو خلکـو پـه پرتلـه ډېـره ګټـه کـوي. زمـا يـو پـلار سوسياليسـت او بـل پـانګوال و، د دې دواړو فکرونـو لـه املـه زه ډېـر زر پـوه شـوم چـې د پـانګوالی فکـر لـه اقتصـادي پلـوه زمـا ډېـر خوښـېده. داسـې ښـکاري چـې د کمونيسـت نظـر لرونکـي خلـک اخـر کـې ځـان تـه خطـر سـاز وي او ځـان ملامتـوي، ځکـه د دوی مـالي پوهـه ټيټـه وي. ولـس کـه پـه هـره لاره لـه شـتمنو پيسـو تـروړل وغـواړي، بريـا پکـې د شـتمنو وي. لکـه مـا چـې وويل پـه پيـل کـې ماليـه پـه شـتمنو وضـع شـوې وه، خـو زور يـې منځنـی طبقـې څخـه وواتـه او دوی هـم پکـې ښـکېل شـول. شـتمنو ډېـر عالمـان او مفکـرين هـم تېرايسـتل، ځکـه هغـوی مـالي پوهـه درلـوده او دا پوهـه پـه ښـوونځيو او پوهنتونو کې نه ښودل کېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمنو عالمان څنګه مات کړل؟ په شتمنو چې مالیه وضع شوه، حکومتي خزانې ته پیسې رواني شوې، په لومړیو کې خلک خوشاله وو، ځکه پیسې به د شتمنو اخیستل کېدې او د تنخواو او امتیازاتو په توګه په دولتي مامورینو وېشل کېدې، همدا پیسې به بېرته د شتمنو له فابریکو سره د دولتي قراردادونو په اساس یو ځل بیا د شتمنو جېبونو ته ورتلې. دولت ښې ډېرې پیسې درلودې، خو مدیریت یې نه و، ځکه د پیسو د بېرته را ګرځېدو هېڅ لاره نه وه. یانې که تاسې دولتي مامور وی، د قانون له مخې مو د پیسو سپمولو حق نه درلود. که یو ځل به درته بودیجه تخصیص شوه او تاسې به ونه لګوله دا امکان و چې دویم ځل بودیجه کمه شوې وی او رسماً بیا ډېر مثمر هم نه ښکارېدئ. بل خوا سوداګر وو، دوی ته به چې هر څومره پیسې ورغلې کار به یې ترې اخیسته او د دوی مثمریت په رسمیت وپېژندل شو.

څومره به چې د دولت لګښت زیاتېده، هومره یې پیسو ته اړتیا پیدا کېده. یوازې له شتمنو د مالیې وضع کولو



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا اړتیا نه پوره کوله، په دې خاطر په منځنۍ او ټیټې طبقې هم مالیه وضع شوه، دا هماغه خلک وو چې دې قانون ته یې رایه ورکړې وه.

شتمنو له مالیاتو د خوندیتوب لپاره سوداګریزو ادارو ته پناه یوړه، ځکه په همدې خوندي کېدل. خو زیاتره خلکو چې شرکتونه او سوداګریزې ادارې جوړې نه کړې، په دې نه پوهېدل چې دا شرکتونه توکي او شیان نه دي، دا یوه موسسه ده چې یوه دوسیه وي چې ځینې رسمي اسناد پکې وي او په اداره یا دفتر کې پرته وي، دا دوسیه په اړونده دولتي اداره کې ثبت و راجستر وي. دا کومه لویه اداره نه وي چې لویه لوحه دې پرې ځړېدلې او شرکت دې پرې لیکلی وي. دا نه فابریکه وي او نه د خلکو ډله وي. دا یو قانوني سند وي چې یو بې ساه قانوني وجود یې رامنځته کړی دی. دې سره یو ځل بیا د شتمنو شتمني خوندي شوه، شرکتونه پیل شول او ددې لپاره یو دایمي قانون هم تصویب شو. په دې قانون کې د شرکتونو په عاید مالیه، د شخص پر عاید تر مالیې لږه وي. ددې تر څنګ شرکتونو اجازه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



درلوده چې تر مالیه ورکولو وړاندې هم خپله شتمني وکاروو.

دا جګړه د شتمن او غریب تر منځ له کلونو را روانه ده. په دې جګړه کې یوې خوا شتمن او بل خوا هغه خلک دي چې وایي: (له شتمنو یې واخلئ). دا قانون چې په هر ځای کې پلی شوی دا جګړه ورسره راغلې ده او تل به وي. ستونزه د بې خبره خلکو ده، دوی سهار منظم راوینښېږي، کار ته ځي، مالیه ورکوي او په دې نه پوهېږي چې شتمن خلک کومه لوبه کوي، که دوی په دې لوبه پوهېدی دوی به هم کولی او یو وخت به یې مالي استقلال درلودی.

ما دا خبره ډېر ځوروي چې کورنۍ خپل بچو ته وایي، ښوونځي ته لاړ شه، ښې نومرې واخله چې ښه دنده پیدا کړې. کارمند که مالي پوهه ونه لري، مناسبه او خوندي دنده یې هېڅکله نشي ژغورلای.

د امریکا منځنۍ طبقه په کال کې پنځه شپږ میاشتې دولت ته کار کوي چې مالیات یې پوره کړي. زه فکر کوم دا موده له اړتیا ډېره اوږده ده. ته چې څومره ډېر کار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کوي، هومره به دولت ته ډېره ماليه ورکوي. نو زه وايم کوم خلک چې وايي له شتمنو يې واخلئ او غريبو ته يې ورکړئ، دوی اصلاً د ماليـاتو د قـانون پلـوي کـوي او دا قانون به ډېر زر په دوی هم وضع شي.

که څوک غواړي چې شتمنو ته زيان واړوي؛ نو شتمن ورته لاس تـر زنـې نـه کېنـي. دوی پيسـې لـري، قـوت لـري او د حـالاتو د بـدلون قـوي هـوډ ورسره وي. دوی تـر ټولـو تکـړه وکـيلان او حسـابداران گومـاري، پـه سياسـيونو فشـار راوړي، قوانين بدلوي يا پکې څانته د گټې يوه لاره پيدا کوي.

د امريکـا د ماليـاتو کـوډ اجـازه ورکـوي چـې د ماليـاتو کمولـو نـورې لارې چـارې هـم ومونـدل شي. دې معلومـاتو تـه هـر څـوک لاسرسـی لـري، خـو يـوازې شـتمن خلـک تـرې گټـه اخلي، ځکـه دوی کاروبـاري فکـر لـري. مـثلاً ۱۰۳۱ راز دی. دا د کـورني عايـد د (۱۰۳۱) کـوډ برخـه ده. د دې قـانون لـه مخـې کـه څېرې د يـوه ملکيـت بيـه لـوړېږي او پلـورونکی غواړي چې دا ملکيت وپلوري او پـه پيسـو يـې بـل وپېري؛ نو پـه دې صـورت کـې تـرې د دې سـودا د گټـې ماليـه نـه گرځـول کېږي. دا گټـه يـوازې پـه جايـداد او ملکيـت کـې



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کېږي. په دې طريقه چې تاسې هر څومره راکړه ورکړه کوئ او قيمتي ملکيتونه پېرې هېڅ ډول عايد دربانديې نه وضع کېږي، تر دې چې تاسې خپله ځان مفلس يا ديواله نه کړئ.

املاک د پانگوونې وسيله او له مالياتي پلوه ډېرې گټې لري. بيې چې لوړې شي، له دې گټه راځي او تاسې دا ماليه نه ورکوئ، البته تر هغې چې تاسې دا شتمني نقده نه کړئ. دا يو قانوني فرصت دی او څوک چې له دې گټه نه اخلي، د شتمنيو د ستون د ودې يو لوی فرصت له لاسه ورکوي.

منځنۍ او ټيټه طبقه دا تدابير نه لري. دوی ځای په ځای ناست دي، دولت لگيا دی وينې ترې زبېښي. زه د هغو خلکو په ليدو حيرانېږم چې ډېره ماليه ورکوي او له معافيو گټه نه اخلي، دا خلک له دولته وېرېږي. زه پوهېږم چې ماليه اخيستونکي څومره ظالم او بې رحمه وي، زه داسې ملگرې پېژنم چې کاروبار يې له منځه تللی، ديواله شوي، خو وروسته يې پام شوی دی، چې تېروتنه حکومت کړې وه. زه دا شی احساسوم. خو که څوک کال کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پنځه شپږ میاشتې دولت ته په دې خاطر کار کوي چې له وېرې يې خلاص شي؛ نو دا ډېره لويه بيه ده.

زما نېستمن پلار دې سره مبارزه ونه کړه، غلی کېناست.

شتمن پلار مې هم داسې وکړل، هغه په دې لوبه کې يو قدم وړاندې و، هغه شرکتونه جوړ کړل او دا شی د شتمنو تر ټولو لوی راز دی.

ستاسو به ياد وي چې ما له شتمن پلاره لومړی کوم درس زده کړ. زه وړوکی هلک وم، ليکه کې په تمه ناست وم چې هغه به ماسره کله خبرې کوي. زه به زياتره د هغه په دفتر کې ورته په تمه ناست وم او هغه به په لوی لاس وخت نه راکاوه. هغه غوښتل چې زه د هغه قوت احساس کړم، ځکه دا قوت بايد ما هم يوه ورځ ترلاسه کړی وي. ماته چې څومره کاله هغه خبرې کړې تل يې راته ويلي چې علم قدرت دی، خو پيسې چې راشي قدرت هم ورسره راځي، بيا ددې قدرت د ساتلو او پراخولو لپاره علم ته اړتيا وي. که علم ونه لرې او پوه نشوې، نړی به مو د فوټبال د توپ په څېر هاخوا دېخوا غورځوي. شتمن پلار به تل ماته ويل چې زورور ستاسې مشر، او رئيس نه دی،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



بلکې زورور د مالیاتو مامور او کارمند دی. که هغه ته مو فرصت ورکړ، ډېره مالیه درنه اخلي.

پیسو ته کار کولو پر ځای، د ځان لپاره پیسو کارولو په برخه کې، لومړی درس د همدې قدرت په اړه دی. که ته د پیسو لپاره کار کوې؛ نو دا قدرت ته خپل بادار ته سپارې او که پیسې د ځان لپاره کاروې؛ نو دا قدرت تاسره پاتې کېږي.

موږ چې ځان لپاره د پیسو په کارولو پوه شو؛ نو دویم گام دا و چې په مالي چارو کې ځیرک واوسو او چاته اجازه ورنه کړو چې زموږ په چارو کې دې مداخله وکړي. ته باید په قانون خبر او په سیستم پوه شې چې څنگه کار کوي. که تاسې په دې برخه کې پوره معلومات ونه لرئ، نو خلک به درته مزاحمت کوي او که په چارو پوه شئ، نو مبارزه ورسره کولای شئ.

په همدې خاطر به زموږ شتمن پلار به لوړو تنخواو ښه تکړه تکړه مدافع وکیلان او حسابداران گومارل. دا تنخواوې د دولت تر مالیاتو ډېرې لږې وې. د هغه تر ټولو ښه درس راته دا و چې که په ځیرکتیا گام پورته کړې، نو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



څوک دربانـدې فشار نشي– راوړي. زما پلار په قانون پوهېده، ځکه قانون منونکی و. له قانونه بې خبري گرانه تمامېږي. که تاسې په قانون پوه شئ، تاسې به په حقه يئ او له مبارزې به هېڅ ډول ويره نه احساسوئ. تر دې که ستاسو په مقابل کې روبن هوډ او دده ډله وي.

لوستي پلار به مې تل ويل چې خوندي دنده پيدا کړه، بيا به يې راته د ډېر کار کولو گټې را په گوته کولې او راته يې ويل چې گام په گام به پرمختگ کوې. ما لوستي پلار په دې نه شو پوهولای چې اداري ته کار کول او واښه ترې اخيستل، داسې دي لکه څوک چې غوا ته واښه اچوي او د لوشلو لپاره يې تياروي.

دا خبره مې چې شتمن پلار ته وکړه هغه راته وويل: (د پرمختگ په زينې له ختلو دا ښه ده چې ټوله زينه خپله کړه.)

زه چې وړوکی وم د شرکت او کاروباري اداري په جوړېدو نه پوهېدم، دا چاره به راته سخته ښکارېده او يو ډول ويره مې ترې احساسوله. په دې اړه به مې چې فکر وکړ، وېښته مې به ځيگ شول، خو بيا مې هم دا باور درلود

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې یو وخت به مې خپل شرکت وي او نور خلک به ما لپاره کار کوي. که زما شتمن پلار سره په وخت مرسته نه وی کړې، نو ما به د لوستي پلار مشوره منلې وی. د شرکت په اړه زما د شتمن پلار همدا وړې وړې خبرې وې چې زما زړه کې یې دا باور ژوندی وساته، هغه باور دا و چې یوه ورځ به زه هم خپل کاروبار لرم او پردی مزدوري به نه کوم. شپاړس کلنی ته چې رسېدم په دې باوري شوم چې زه به د لوستي پلار مشوره نه منم. زه نه پوهېدم چې دا هر څه څنګه کېږي، خو هوډ مې کړی و چې د نورو خلکو په لاره به نه ځم او همدې هوډ زما ژوند بدل کړ.

د شلو کالو چې شوم د شتمن پلار نصیحت راته نور هم روښانه شو. ما په همدې وخت کې د بحري ځواک دنده پرېښې وه زیروکس کورپ ته تللی وم. ما ښې پیسې ګټلې، خو تنخوا به مې چې واخیسته خپه به شوم، ډېره برخه به ترې ګرځول شوې وه او ما به چې څومره ډېر کار کاوه، هومره به راته ډېره برخه ګرځېدله. لږ کار مې چې وکړ او پکې بریالی شوم، نو مشرانو مې د ترفیع او تنخوا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لوړولو په اړه فکر وکړ، زه ډېر خوښ شوم، خو د پلار دې خبرې به مې غوږونو کې انګازه کوله چې: (ته چا لپاره کار کوې؟) او (څوک شتمنوې؟)

په ۱۹۷۴ز کال کې زه لا د زیروکس (فوټوکاپي ماشینونو شرکت) کارمند وم، په همدې وخت کې مې خپله اداره جوړه کړه او خپل کار مې پیل کړ. زما د شتمنیو په ستون کې څو شتمنی زیاتې شوې وې او د پراختیا ورکولو هڅه مې کوله. زما له تنخوا به هره میاشت مالیه ګرځېده، دې سره مې د شتمن پلار هغه خبره ثابته شوه چې دولت هېڅکله نه مړېږي او که زه د لوستي پلار په راکړې لاره تللی وی؛ نو راتلونکی به مې تیاره وی.

زیاتره باداران په دې نظر دي چې که کارکوونکي ته د خپل کاروبار مشوره ورکړې دا په کاروبار بد اغېز کوي. ښایي دا خبره زیاتره خلکو ته سمه وي، خو زما کیسه دا وه چې د شتمنیو په پیدا کولو او شتمنېدو مې دنده هم نه کېده. اوس مې موخه لرله، کار ته به له وخت مخکې راتلم، تر ناوخته به راتاو وم، هڅه مې کوله چې ډېرې پیسې وګټم او ډېرې شتمنۍ وپېرم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



څومره به چې د بریا پوړۍ رانـړدې کېده، هومره به ما ډېر ماشینونه پلورل، څومره به مې چې ډېر پلورل، هومره به مې تنخوا لوړېده، خو مالیه هم تـرې ډېره گرځېده. ما غوښتل چې ځان له دې دامه خلاص کړم، په دې خاطر مې ډېر کار کاوه او دا د یوه کارمند تر ټولو ښه انگېزه وه. په ۱۹۷۸ز کال کې زه د شرکت په ۵ غوره پلورونکو کې وشمېرل شوم او په دوی کې هم تر ټولو وړاندې وم، ځکه ما غوښتل چې د موړکانو له دې منډې باید ځان خلاص کړم.

له درې کالو په لړه موده کې، ما په خپله وړه اداره کې تر تنخوا ډېرې پیسې گټلې. زما اداره د املاکو د پېر و پلور شرکت و او ما چې کومې پیسې گټلې دا د شتمنیو د ستون اړوند وې. ماته دې پیسو کار کاوه او دا اجازه یې نه راکوله چې زه دې د فوټوکاپۍ ماشینونو پلورلو لپاره د خلکو دروازې وټکوم. دلته پوه شوم چې د شتمن پلار نصیحت څومره گټور و. په لنډ وخت کې له جایدادو د پیسو نقدي جریانو دومره ډېر شو چې همدې خپل شرکت مې راته موټر واخیست. زما ملگرو پلورونکو به راته ویل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې تـه خپلـه تنخـوا مصرفـوې، خـو مـا تنخـوا نـه مصرفوله، بلکې د شتمنيو په ستون کې مې اچوله.

زمـا پيسـو راتـه نـورې پيسـې ګټلـې. د شـتمنۍ هـر ډالـر ډېـر زيـات کـار کـاوه، نـوي کـارکوونکي يـې لټـول، د هغـوی لـه تنخوا يې ماليـه ګرځوله او پـه هغـه ماليـه يـې هغـه کولـه چـې خپـل بـادار تـه يـو مـوټر وپېـري. مـا زيـروکس شرکـت تـه ډېـر زيـات کـار وکـړ، زمـا پـلان بريـالی و او د بريـا ثبـوت يـې زمـا موټر و.

مـا د خپـل شـتمن پـلار درسـونه عمـلي کـړل او زر تـر زره مـې ځـان د موړکـانو لـه دې منـډو وويسـته. يـانې دنـده مـې پرېښـوده. مـا کـار يـوازې پـه دې خـاطر وکـړی شـو چـې «مـالي نبـوغ» مـې لرلـو، زه دا شـی (مـالي اسـتعداد) بـولم او کـه دا مـې نـه لرلـی؛ نـو ښـايي هېڅکلـه مـې «مـالي اسـتقلال» نـه وی ترلاسـه کـړی. اوس زه لېکچرونـه ورکـوم، نـور خلـک د مـالي پـوهې پـه ارزښـت پوهـوم او خپلـې شخصي- تجربـې ورسره شريکـوم. پـه لېکچـرو کـې خلکـو تـه وايـم چـې د مـالي استعداد اساس دا څلور تکي دي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱) حسابداري:

زه دا مالي پوهه بولم، که غواړئ چې خپله کاروباري امپراتوري رامنځته کړئ؛ نو دا يې لومړی اړين مهارت دی. پيسې چې څومره ډېرې وي، حساب يې هومره دقت ته اړتيا لري. (دا تحليل د ماغزو په کيڼ اړخ کې کېږي.) د مالي پوهې په مرسته تاسې خپل مالي صورت حساب په ښه‌بو کې لوستی او پرې پوهېدی شئ. مرسته يې دا ده چې د کاروبار له پيله وړاندې يې په قوتونو او ضعفونو پوهېدای شئ.

۲) پانګوونه

دا د پيسو ګټلو علم دی، دا ستراتيژۍ او فورمولونه غواړي، په دې کې د ماغزو ښي اړخ په کار وي او دا اړخ د نوښت وړتيا لري.

۳) بازار پېژندنه

بازار پېژندنه د عرضې او تقاضا پېژندلو علم دی. ته بايد د بازار تخنيکي اړخ وپېژنې او انګېزه يې احساسات او عاطفه ده. ددې تر څنګ بايد د پانګوونې او اقتصادي اساسي اړخونو په اړه هم پوه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شي. په دې باید پوه شئ چې د بازار اوسنیو شرایطو ته په کتو پانګوونه باید وشي که نه؟

٤) قانون

په اداره کې د حسابدارۍ، پانګوونې او بازار تخنیکي مهارتونه د ادارې د چټکې ودې لامل کېدای شي. که یو څوک په مالیاتي ګټو پوه شي او شرکت کې کار کوي، د هغه کس په پرتله زر پرمختګ کولای شي چې خپل وړوکی کاروبار لري. دا مزل کولو او الوتلو هومره توپیر لري. دا توپیر د اوږدمهالي شتمنۍ په برخه کې ډېر زیات مهم دی.

- د مالیې ګټې

شرکت داسې ډېر څه کولای شي چې کارمند یې نشي- کولای، مثلاً د مالیاتو له ورکړې مخکې لګښت کول. دا د مهارت پراخه او په زړه پورې ډګر دی. کارمندان پیسې ګټي، مالیه ترې ورکوي او څه چې پاتې شول هغه مصرفوي، خو شرکتونه بیا پیسې ګټي، څومره یې چې کولای شي هومره مصرفوي او چې پاتې شوي له هغې بیا مالیه ورکوي. دا ډېر لوی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



قانوني ضعف دی او شتمن خلک تري گټه اخلي. که چېرې تاسې داسې پانگوونه کړې وي چې ښه عايد درته لري؛ نو شرکت جوړول دومره سخته خبره نه ده. مثلاً شرکت جوړ کړه، د عامل هئيت جلسې کوه او له خپلو رخصتيو خوند اخله. موټر، ماليه او ترميم ټول د شرکت مسئوليت دی. د کلپ لگښت به شرکت ورکوي، په هوټلونو کې د خوړو پيسې به شرکت ورکوي او داسې نورې ډېرې گټې هم شته، له دې چې څه پاتې شول، له هغه بيا ماليه گرځول کېږي.

- له قضيو خلاصون

زموږ په ټولنه کې قضيې او دعوې ډېرې دي، هر څوک خپله برخه غواړي. شتمن خلک شرکتونه او بنسټونه جوړوي او په دې کې خپله شتمني پکې له پور غوښتونکو پټوي. غريب سړی چې شتمن ته زړه وخوري، خپله پوه شي چې دی خو په دومره قانوني بنديزونو کې راگير دی او هېڅ ډول مرسته راسره نه کوي. دوی په هر څه واکمن وي، خو لاس يې تش وي، اپوته د ټيټې او منځنۍ طبقې خلک بيا هر څه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په لاس کې ګرځوي او په دې خاطر اړ کېږي چې حکومت او خلکو ته ترې برخه ورکړي. څوک چې په شتمنو دعوې کوي هغوی د رابن هوډ همدا دعوه مني چې: له شتمنو يې واخله، غريبو ته يې ورکړه.

د دې کتاب موخه مشخصاً دا نه ده چې خلکو ته د شرکتونو جوړول ور زده کړي، خو دومره وايم چې که تاسې قانوني شتمنی لرئ، د شرکتونو په هغو ګټو او خونديتوب فکر وکړئ چې ډېر زر يې تاسې ته درکولای شي. بازار کې په دې موضوع ډېر کتابونه شته او تاسې به د شرکت جوړولو په لومړيو اړينو ګامونو پوه کړي، په ځانګړي ډول د ناپيليون هيل «فکر وکړئ او شتمن شئ» کتاب به درسره ډېره زياته مرسته وکړي.

مالي استعداد اصلاً د مهارتونو او وړتياوو همغږي ده، خو زه يې د څلورو ذکر شويو مهارتونو ترکيب بولم او دا د بنسټيز مالي نبوغ په مرسته رامنځته کېږي. که ډېره شتمني غواړئ؛ نو ددې مهارتونو ترکيب مو مالي نبوغ ته پراختيا ورکولای شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لنډه دا چې:

| د خپل شرکت او کاروبار خاوندان | د شرکتونو کارکوونکي |
|---|---|
| پیسې ګټي | پیسې ګټي |
| مصرف کوي | مالیه ورکوي |
| مالیه ورکوي | مصرف کوي |

زه درته وړاندیز کوم چې د خپلې مالي پالیسۍ په توګه، له هغه خوندیتوبه ځان خبر کړئ چې قانوني اداري ستاسې شتمنۍ او کاروبار ته ورکولای شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پنځم څپرکی

## پنځم درس

## شتمن پیسې جوړوي

**په عملي ژوند کې زیاتره وخت اصلي هوښیارتیا پرمختګ نه؛ بلکې زړورتیا وي.**

بېګا مې لیکل بس کړل، د دمې په نیت تلویزیون ته کېناستم، تلویزیون کې په الکساندر ګراهم بیل نومي ځوان جوړه شوې خپرونه خپرېده. بیل تازه ټیلیفون اختراع کړی و او زیار مخ په زیاتېدو و، ځکه په بازار کې د ټیلیفون تقاضا لوړېده. دې کار لپاره یوه شرکت ته اړتیا وه. بیل د هغه وخت لوی شرکت (ویسټرن یونین) ته لاړ او ورته یې وویل چې دا زما وړوکی شرکت او اختراع وپېرئ. په هغه وخت کې یې سل زره ډالر بیه غوښتې وه. د شرکت رئیس ورته (نه) وکړه او له سپکاوي په ډکه لهجه یې ورته وویل چې دا بیه ډېره لوړه ده.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وروستي پېښه بيا تاريخي ده، يو ميليارډر شرکت رامنځته شو او د AT & T بنسټ کېښودل شو.

د ګراهم بيل په خپرونې پسې خبرونه پيل شول، په خبرونو کې وويل شول چې يو شرکت د خپلو کارکوونکو کمولو لپاره چانې پيلوي. کاريګر غوسه وو او د شرکت اداره يې په بې عدالتۍ تورنوله. يو مدير يې لرې کړی و، عمر يې نږدې ۴۵ کاله و، د شرکت په دروازه کې ولاړ و، ښځه او دوه بچي ورسره وو او ساتونکو ته يې زارۍ کولې چې ما شرکت ته ورپرېږدئ، غواړم اداري سره وغږېږم، ده غوښتل چې د لرې کولو امر يې بېرته واخيستل شي. دې سړي اوس اوس يو کور هم پېرلی و او وېره يې لرله چې هغه کور يې له لاسه ونه وځي. کامرې ددې سړي خپګان او نهيلی ټولې نړۍ ته ښودله. زما پام هم ور واوښت.

زه له ۱۹۸۴ ز راهيسې رسماً درس ورکوم، دا ډېره ستره تجربه ده او زه ترې ډېر خوند اخلم. ځينې وخت خپه هم شم، تر اوسه مې زرګونه خلک روزلي دي او د ځان په شمول مې ټولو کې يو مشترک ټکی ليدلی دی. موږ



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ډېرې ورتیاوې لـرو، خـدای ډېـرې ښـېگڼې راکـړې دي، خو څه چې زمـوږ مخـه نیسي- هغـه پـر ځـان زمـوږ بـې بـاوري ده. د مسـلکي مهـارتونو او معلومـاتو کمـی زمـوږ مخـه نشي- نیـولای، بلکـې همـدا بـې بـاوري مـو لـه نـورو خلکـو وروسـته کوي، ځینې لږ وروسته پاتې شي او ځینې ډېر زیات.

مـوږ چې لـه ښـوونځي او پوهنتونـه فـارغ شـو، زیـاتره پـوهېږو چـې یـوازې ښـې نـومرې او ډیپلـوم د روښـانه راتلـونکي پـه مانـا نـه دي. لـه پوهنتونـه بهـر ژونـد یـوازې پـه ډیپلـوم او نومرو نـه کېږي، هلتـه ځینـې نـور شیان هـم پـه کـار وي. دا شـیان ډېـر دي: زیـار، شـوق، جـرات، زړورتیـا، چـالاکي، ځیرکتیـا، حوصـله او د خـبرو ښـه وړتیـا. دا شـیان ټـول عمـر انسان ته بریاوې ورکوي او تر ښو نومرو ډېر مهم دي.

پـه مـوږ هـر یـو د زړورتیـا، تکـړه تـوب، ځیرکتیـا او نـورې ځـانگړنې لـرو، خـو د دې اپوتـه داسـې کرکتـر هـم لـرو چـې مـاتېږي، پـه گونـډو کېـږي او زارۍ کـوي. وېتنـام کـې مـې چـې بحـري ځواکونـو کـې دنـده لرلـه، پـه ځـان کـې مـې دا دواړه ډولـه ځانگړتیـاوې احسـاس کـړې. یـوه یـې هـم تـر بلې ښه نه ده.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا زما شخصي- تجربه ده چې د مالي پوهې لپاره زړورتیا او مسلکي پوهه دواړه په کار دي. وېره ورتیاوې وژني. زه خپلو شاګردانو ته تل وایم چې خطر ومنئ، زړور شئ او وېره د ورتیا په مرسته په قوت بدله کړئ. ځینې خلک ترې ګټه اخلي او ځینې ترې وېرېږي. زه ورو ورو پوه شوم چې د پیسو په موضوع کې ډېر خلک وېره نه مني. زه خپل مالي استعداد ولې لوړ کړم؟ زه اقتصادي زده کړې ولې وکړم؟

او زما ځواب ورته دا وي چې: ( نورې لارې درته خلاصې شي او لا ډېر بدیلونه وموميئ.)

ژوند ډېر تېز روان دی، ما کیسه د ګراهم بیل له اختراع پیل کړه، راتلونکي وخت کې به داسې ډېر خلک پیدا شي. سلګونه داسې خلک به پیدا شي چې د بیل ګېټس د مایکروسافټ په څېر شرکتونه به جوړ کړي او تر څنګ به یې ډېر خلک مفلس او دیوالیه شي. خلک به هم له دندو ګوښه شي.

نو بیا د مالي استعداد غوړول څه اړتیا؟ دا ځواب تاسې خپله پیدا کولای شئ، زه به درته دومره ووایم چې ما دا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کار ولې وکړ؟ زه دا استعداد څکه غوړوم چې نن سبا ژوند ډېر په زړه پورې دی او هره ورځ نوي بدلونونه راځي. زه له دې بدلونونو وېره نه احساسوم، بلکې ښه راغلاست ورته وایم. زه دې ته نه خپه کېږم چې ترفیع مې ولې ونه کړه یا شاته ولې پاتې شوم، بلکې د دې پر ځای هڅه کوم چې میلیونر شم. د نړۍ په تاریخ کې به دا زرینه دوره وي، څکه وروستي نسلونه به وایي چې دا څومره ښه زمانه وه، ښه به یې یادوي، دا څکه دې دورې کې پخوانۍ زمانه ختمه شوه او نوې پیل شوه، دا دوره ډېره خوځنده او هیجان پکې و.

نو خپل مالي استعداد غوړولو ته ولې اندېښنه لرئ؟

څکه که تاسې دا کار وکړئ مالي بریاوې به ولرئ او که ویې نه کړئ، نو له کاره به ولوېږئ، بې ګټې به شئ، داسې وخت به راشي چې ځینې خلک به ډېر زیات پرمختګ وکړي، خو ځینې نور به هماغسې ناست وي او سیل به کوي.

۳۰۰ کاله مخکې ځمکه شتمني وه، شتمن هغه و چې ځمکه به یې لرله. له دې وروسته بیا د صنعت او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



فابریکو دوره شوه او امریکا په نړۍ کې ځانته یو ځای پیدا کړ، دې وخت کې شتمني د صنعتکارانو په لاس کې وه. ستونزه دا ده چې اطلاعات په نړۍ کې داسې خورېږي لکه برښنا. نن سبا شتمني د دیوالونو تر شا نه پټېږي، لکه پخوا به چې خلکو په ځمکو او فابریکو کې پټوله، اوس بدلونونه ټولې نړۍ ته ښکاري. اوس به د نویو میلیونرانو شمېر لوړ شي او داسې خلک به هم وي چې په دې ځغاسته کې به وروسته پاتې وي.

نن سبا ډېر خلک د ژوند په کش مکش کې ډوب دي، ډېر زیار کاږي، ځکه دوی اوس هم په پخواني فکر او د بدلون مخې ته ولاړ دي. زه داسې خلک پېژنم چې دندې یې ختمېږي، کورونه ترې اخیستل کېږي او دوی ددې ټولو مسئولیت د خپل بادار په چالاکۍ او پالیسیو اچوي، خو دې ته نه ګوري چې ګناه د دوی خپله ده، ځکه دوی اوس هم پخوانی فکر لري او پخوانی فکر لوی پور دی، ځکه دوی نه پوهېږي چې دغه فکر یو وخت شتمني وه، خو اوس هغه وخت تللی دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



یوه ورځ مې د پانګوونې په اړه لېکچر ورکاوه، په دې ورځ ما د نقدي جریان (کیش فلو) لوبه کوله، دا لوبه ما خپله د خلکو پوهولو لپاره اختراع کړې وه. یوه ملګري ځان سره تولګي ته یوه ښځه راوسته، ښځه نوې طلاقه شوې وه او سخته تري ځوربېده، خو د خپلې ستونزې حل یې نه لتاوه. ملګري یې فکر کاوه چې دا تولګی به ورسره ګني مرسته وکړي.

دا لوبه دې لپاره جوړه شوې وه چې خلک پوه شي پیسې څنګه کار کوي؟ د لوبې په لړ کې به دوی د عاید د صورت حساب او د مالي توازن تر منځ په اړیکه پوهېدل او ترڅنګ یې د دې دواړو تر منځ پر نقدي جریان هم پوهېدل او هم په دې پوهېدل چې که هره میاشت دا هڅه وشي چې د شتمنیو ستون کې میاشتنی عاید تر لګښته لوړ شي، نو دوی ته د شتمنېدو لاره پرانیزي. که تاسې د موږکانو له دې تلک او منډو خلاص شئ؛ نو په خپله لاره به ګړندي ګامونه واخلئ.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځکې مو وويل چې د ځينو خلکو لوبه بده راځي، د ځينو خوښېږي او ځينې پرې نه پوهېږي، نو هغې ښځې د زده کړې يو ښه فرصت له لاسه ورکړ. په لومړۍ پاڼې کې هغې يو کارت راواخيست، په کارت د کښتۍ انځور و، لومړۍ خوشاله وه چې کښتۍ يې پيدا کړه، خو وروسته چې ملګري پوهه کړه چې دا شمېرې د عايد په صورت حساب او د توازن په پاڼې ځنګه اغېز کوي، نو هغه خپه شوه، ځکه رياضي يې نه خوښېده. مېز ته نور خلک هم ناست وو، هغوی د هغه ملګري خبرې واورېدې چې دغه اړيکه يې ورته تشريح کوله. ښځه چې پوهه شوه چې دا شمېرې ځنګه کار کوي، نو ايله ورمعلومه شوه چې دا کښتۍ خو له دې پيسې خوري. په دې لوبه کې يې ماته هم وخوړه، د يوه ماشوم انځور لرونکې کارت هم ورته را ووت، ياني لوبه يې ډېره وېروونکې وه.

له تولګي وروسته يې ملګرې راغی او راته يې وويل چې هغه ښځه خپه ده. تولګي ته ددې لپاره راغلې وه چې د پانګوونې په اړه زده وکړي، خو دا طريقه يې بيخې



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خوښه نه شوه چې په داسې یوه بې ګټې لوبه یې ټوله ورځ ضایع کړه.

ملګري یې ورته ووېل چې له دې لوبې وروسته خپل ځان ته متوجه شه او وګوره چې ستا د حالت ښکارندویي خو به نه کوي؟ له دې وروسته هغې ښځې وېل چې ماته خپلې پیسې بېرته راکړئ، ځکه دا فکر هم ورته هسې ټوکه ښکارېده، پیسې ورته بېرته ورکړل شوې او ښځه روانه شوه.

۱۹۸۴ز کال کې میلیونونه پیسې د هغه کار په کولو وګټلې چې ښوونځي کې یې چا هېڅ درس نه و راکړی. زیاتره استادانو به وېل چې ښه درسونه وایئ چې ښې نومرې واخلئ او راتلونکې مو روښانه شي. زه به له ټولګي وتم، زړه به مې تنګېده او افکار به مې ګډوډېدل. ۱۹۸۴ز کال کې مې د لوبې او انځورونو په مرسته زده کړه پیل کړه، زه ټول ځوانانو ته وایم چې دا لوبه وګورئ، د خپلو تجربو او پوهې په رڼا کې یې تحلیل کړئ او خپل ضعفونه پیدا کړئ. مهمه خبره دا ده چې دا لوبه د هر چا د کرکټر ښکارندويي کوي،


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



انسان دستي پوهوي. دا يوازې د استادانو لېکچر نه دی، دا يوه لوبه ده، په دې کې تاسې روزل کېږئ او دا روزنه به ستاسې له شوق او طبيعت سره برابره وي.

د هماغه ښځې ملګري ماته بيا زنګ را وواهه او وخت يې رانه وغوښت. ويل يې چې ښځه اوس لړه ښه ده او څومره يې چې غوسه سړېده، هومره زما د خبرو په مفهوم پوهېده.

که څه هم دې ښځې او مېړه يې کښتي نه درلوده، خو نور يې هر هغه شی پېرلي وو چې تصور يې کېده، ښځه له طلاق وروسته ډېره غوسه او نارامه وه، ځکه له شل کاله ګډ ژوند وروسته يې ناڅيزه پانګه سپمولې وه او مېړه يې يوې بلې ځوانې ښځې سره واده کړی و. دې شلو کالو کې ښځې او مېړه ښې مزې کړې وې، خو ټول يې يوازې کبار جمع کړی و، هيڅ نقدي ارزښت يې نه درلود.

ښځه پوهه شوه چې په هغه لوبه کې، دا اصلاً خپل ځان ته غوسه شوې وه، ځکه پوهېدله پرې نه او دې کار خجالته کوله. دې فکر کاوه چې مالي مسايل د سړو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دي او ددې کـار يـوازې کـور او مېلمانــه پالــل وو. دا يــې هـم ويـل چـې د واده پـه وروسـتيو ۵ کلونـو کـې تـرې مېـړه پيسـې پټـې کـړې وې. ښـځه پـه دې خپـه وه چـې مېـړه يـې د نـوې ښـځې پـه اړه معلومـات لـرل او پـه دې نـه پوهېدلـه چـې پيسـې يـې چېرې مصرفېږي.

د لـوبې پـه خبـر نـړۍ هـم مـوږ روزي او کـه مـوږ هڅـه وکـړو ډېـر څـه تـرې زده کـولای شـو. څـه مـوده وړانـدې مـې مېرمنــې تـه وويـل چـې پتلـون مـې پـه مينځلـو کـې وړوکـی شـوی دی، هغـه موسـکۍ شـوه، ورو يـې زمـا پـه خېټـه گوتـه تختـه کـړه او وې ويـل چـې پتلـون نـه دی وړوکـی شـوی، تـه غټ شوی يې.

د کـيش فلـو لوبـه داسـې طرحـه شـوې چـې هـر لوبغـاړی ځانتــه متوجــه کــړي او موخــه يــې دا وه چــې بديلونــه درکــړي. کــه چېــرې درتــه د کبنــتۍ انځــور راووت، دا پــه دې مانـا ده چـې تــه پــوروړی يــې، نــو پوښــتنه دا ده چـې: (اوس بـه څـه کـوې؟) او (څـو حلـلارې بـه ورتـه پيـدا کـوې؟)

د لـوبې موخـه دا ده چـې لوبغـاړو تـه فکـر ور زده کـړي او نوې حللارې رامنځته کړي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا لوبه زرګونه خلکو کړې، خو کوم خلک چې د مور له منډې او تلکه راوتي، تر ټولو چټک پکې هغه وو چې په شمېرو پوهېدل او نوښتګر مالي ذهنيت يې درلود. دوی ځانته بېلابېل مالي بديلونه پيدا کړل. شتمن خلک عموماً نوښتګر وي او محاسبه شوي خطرونه مني. ځنډ پکې هغه خلک کوي چې په شمېرو نه پوهېږي او د پانګوونې له زوره نه وي خبر.

په (کيش فلو) لوبه کې زياتره خلک ډېرې پيسې ګټي، خو په دې نه پوهېږي چې څه پرې وکړي؟ سره ددې چې دوی پيسې هم لري، خو ځينې خلک ترې مخکې کېږي او همدا کيسه په رښتيني ژوند کې هم ده. په رښتيني ژوند کې هم داسې ډېر خلک شته چې ښې ډېرې پيسې لري، خو مالي پرمختګ نشي- کولای. خپل بديلونه محدودول داسې دي لکه زړو فکرونو پورې نښتل. زما د ښوونځي د دورې يو ملګرى اوس درې دندې لري. له نن ۲۰ کاله مخکې دا په مورږ ټولو کې ډېر شتمن و. بيا چې زموږ په سيمه کې د ګنيو کر بند شو، نو دده دنده هم ورسره لاړه. دده سرې په ذهن کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



يوازې يوه لاره وه او هغه هم زړه وه (ډېر کار وکړه)، ستونزه دا وه چې بل ځای کې ورته په پخواني موقف نوې دنده نه پيدا کېده. اوس دا سړي ته له خپلو شرايطو سره سمه دنده نه پيدا کېږي، په ټيټو بستونو کار کوي، تنخوا يې لږ ده او اوس هغه خوار د پيسو پيدا کولو او گوزارې لپاره درې ځايه کار کوي.

په لوبه کې به ځينو خلکو زړه خوږ چې په رښتيني ژوند کې ورته داسې فرصتونه نه برابرېږي او دوی ناست وي، زه پوهېږم په ژوند کې ځوک داسې کېني هغوی سم فرصت ته په تمه وي.

زه داسې کسان هم پېژنم چې ښه فرصتونه هم ورغلي دي، خو بيا هم پيسې نه لري، بيا وايي چې لږې نورې پيسې مې لرلی، نو د موږ کانو له دې منډې او تلکه وتلی شوم. په دې خاطر دې حالت کې پاتې دي. زه پوهېږم خلک په عملي ژوند کې داسې کوي، دوی ته ښه فرصتونه او سوداگانې گوري، خو پيسې ورسره نه وي.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په لوبه کې زياتره داسې خلک هم وي چې د ښه فرصت کارت يې لاس ته ورشي، په لوړ غږ يې ولولي، خو په دې نه پوهېږي چې دا ګڼي فرصت دی. دوی پيسې لري، وخت مناسب وي، کارت ورسره وي، خو خپل مخ ته شته فرصت نهويني. دوی نه پوهېږي چې له دې فرصته په ګټنې دوی د موړکانو له دې منډې او تلکه وتلای شي.

زه داسې کسان هم پېژنم چې د دې دواړو ترکيب وي، زياتره خلکو ته فرصت خپله نعرې وهي، خو دوی يې بيا هم نه ويني، يو کال وروسته يې بيا وويني، خو وخت تېر وي او له دې فرصته بل چا ګټه اخيستې وي.

مالي نبوغ دې ته وايي چې انسان نور بديلونه وپېژني. ياني که چېرې سم فرصت نه راځي، نو څه بايد وشي چې مالي استحکام رامنځته شي؟ مثلاً فرصت شته، خو تا سره پيسې نشته، بانک پور نه درکوي، نو په دې صورت کې به څه کوې؟ کومه لاره ګټوره ده؟ که چېرې حالت ښه نه وي، هر څه ستا د اټکل برعکس وي، نو په دې حالت کې بايد څه وشي، چې يوه پيسه سل پيسې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شي؟ مالي نبوغ دا دی چې د اقتصادي ستونزو په حل کې تاسې څومره نوښت کولای شئ.

زیاتره خلک یوازې همدا یوه حللاره لري چې: (ډېر کار وکړه، پیسې وسپموه او پور واخله، نو د مالي پوهې او نبوغ زیاتولو ته یکې څه اړتیا ده؟)

څکه تاسې باید هغه کس شئ چې خپل برخلیک پخپله لیکي. تاسې ته چې هر څه درکړل شي هغه باید ښه کړئ. لږ خلک په دې پوهېږي چې برخلیک داسې جوړېږي لکه پیسې چې جوړېږي. که تاسې غواړئ چې بختور شئ او د ډېر کار پر ځای ډېرې پیسې وګټئ، نو مالي پوهه باید ولرئ. که ته داسې کس یې چې سم وخت ته په تمه وي، نو ښايي ډېره موده په تمه پاتې شې. دا داسې ده لکه سړي چې له کوره حرکت نه وي کړی او دې ته په تمه ناست وي چې دده له ورتګ وړاندې د واټونو ټولې اشارې شنې وي.

ماشومتوب کې ما او مایک ته شتمن پلار څو څو ځله دا ویلي چې: (پیسې رښتیا نه وي.) کله کله به یې راته ویل تاسې چې په ماشومتوب کې هڅه کړې وه سربېره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



سیکې مو جوړولې، هغه وخت د پیسو راز ته ډېر نږدې شوي وئ. بیا به یې ویل چې بېوزله خلک پیسو لپاره کار کوي او شتمن خلک پیسې جوړوي. څومره چې تاسې ته پیسې حقیقي ښکاري، هومره به ورپسې ډېر ستړي یئ او هر څومره زر چې په دې پوه شئ چې پیسې رښتینې نه دي، هومره به زر شتمن شئ.

ما او مایک تري پوښتنه وکړه: (پیسې که رښتینې نه دي نو څه دي؟)

ځواب به یې راکړ: (موږ یې چې څه وګڼو هغه دي.)

زموږ د ټولو اصلي شتمني زموږ ذهن دی، که مو دا سم وروزه، نو د سترګو په رپ کې راته د پیسو ډېري درولای شي. دومره شتمني چې له نن درې پېړۍ وړاندې به کوم پاچا یا ملکې هم نه وي لیدلې. ناروزل شوی ذهن بیا همداسې غربت او بېوزلي زېږوي چې تر نسلونو یوه کورنۍ خرابولای شي.

د نن سبا په معلوماتي زمانه کې پیسې ډېرې ژر ډېرېږي. ځینې خلک د مفکورو او دروغ رښتیا تړونونو په برکت زښته ډېر شتمنېږي. که تاسې دا پوښتنه له هغو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خلکو وکړئ چې د ونډو کاروبار کوي، نو همدا خبره به درته وکړي. ځینې وخت به دې یوه پیسه پانګوونه نه وي کړې او میلیونونه به دې جېب ته راشي، هېڅ دا چې بیخي د پیسو تبادله به هم نه وي شوې او دا ټول د ټرونونو په وسیله کېږي. په سوداګریزو چارو کې یوازې یوه اشاره یا د مونېټور (سکرین) یو بیپ غږ کافي وي. په همدې سکرین کې د ټورنټو سوداګر لیسبون ته ځي او بېرته راځي. کمېشنکار ته په یوه زنګ د توکو د اخیستو او په بل ځل بېرته د پلورلو امر کېږي. نو دا کار په پیسو نه، په اشارو کېږي.

مالي نبوغ یا ړتیا باید ولې لوړه شي؟ د دې ځواب به خپله پیدا کوئ، زه درته یوازې دومره ویلی شم چې ما دې برخې ته ولې ډېر پام وکړ، ځکه ما غوښتل چې زر زر پیسې وګټم، په دې خاطر نه چې ګڼي اړتیا مې وه، په دې خاطر چې غوښتل مې دا ډېر جالب سبق دی. زه خپل نبوغ یا استعداد د دې لپاره لوړوم چې د نړۍ په یوه چټکه لوبه کې برخه واخلم او د خپل بصیرت په مرسته غواړم چې په دې انساني وده کې برخه ولرم. په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دې ځای کې خلک بدني او فزيکي کار نه کوي، يوازې فکري کار کوي، بلـه دا چې دا د اوسنی زمانې ډګـر دی، همداسې پکې کېږي، هيجان هم لري او خطر هم او خوند يې په همدې کې دی.

په دې خاطر زه په خپل مالي استعداد پانګوونه کوم، ځکه دا زما تر ټولو اغېزناکه شتمني ده، زه غواړم په هغو خلکو کې راشم چې مخکې ځي او وروسته پاتې خلکو سره ملګري نه کوم.

د پيسو جوړولو يوه ساده بېلګه درکوم. د ۱۹۹۰ کال په لومړيو کې د فُنکس Phoenix مالي وضع خرابه وه. ما ټلويزيون کې يوه خپرونه ليده، (سهار پخير امريکا)، دې وخت کې يو اقتصادپوه په سکرين راغی او د اقتصادي وضعې د خرابېدو اټکل يې پيل کړ. سړي په سپما ټينګار وکړ او وې ويل که هر سړی هره مياشت (سل) ډالر وسپموي، په څلوېښت کالو کې به ميليونر شي. هره مياشت پيسې سپمول بده خبره نه ده، دا يو بديل دی او ځينو خلکو اختيار کړی دی، خو ستونزه دا ده چې انسان ورسره ډېر بې خبره کېږي. دې سره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



انسان هغه فرصتونه بایلي چې پیسې پکې زر او ډېرې زیاتېږي. دا کس همدلته پاتې وي او وخت ترې روان وي. لکه ما چې وویل هغه وخت د اقتصادي بحران دوره وه. دا پانگوالو ته ښه فرصت و. زما ډېره برخه پیسې د اپارتمانونو د کاروبار په ونډو کې بندې وې او ماسره نغدې پیسې لږې وې، ځکه خلکو ونډې پلورلې او ما اخیستې. سپما پکې نه کېده. ما پانگوونه کوله. ما او زما مېرمن یو میلیون ډالر په داسې بازار کې بند کړي وو چې بیې پکې ورځ په ورځ لوړېدې. دا پانگوونې ته ښه فرصت و، اقتصادي حالت خراب و او ما دا وړې سوداگانې نه پرېښودې.

د سل زره ډالرو کور اوس په پنځه اویا زره و. خو ما کورونه له ځایي کمېشن کارانو نه پېرل، ددې په ځای به مې کورونه د مفلسۍ د دفتر او محکمې په زینو کې سوداگانې کولې او جایدادونه به مې پېرل. دلته به د پنځه اویا زرو کور کله کله په شل زره او تر دې ټیټ هم پیدا کېده. د دې لپاره مې له یوه ملگري دوه زره ډالر، د نوي ورځو لپاره په دوه سوه گټې پورې واخیستل، دا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پیسې مې وکیل ته بیعانه ورکړې او زه ژر لاړم ورځپانه کې مې دا اعلان خپور کړ چې: (د ۷۵٬۰۰۰ ډالرو کور په ۶۰٬۰۰۰ ډالر پلورل کېږي!)

دې سره زنګونه را پیل شول او پېرودونکي را سر شول، تر څو چې مې سم پېرودونکی پیدا کاوه، د کور اسناد زما په نوم شول، بیا مې پېرودونکي د کور لیدو ته هم بېولی شول، خلک د کور لیدو ته خوښ وو، کور په یوه شېبه کې وپلورل شو، ما تري خپل ۲۵۰۰ ډالره وغوښتل، د کور خاوند په خوشالۍ راکړل، نورې چارې زما مسئولیت نه و.

ما خپل ملګري ته دوه زره ډالر له دوه سوه ګټې سره یوړل، هغه خوشاله شو، د کور پېرودونکی هم خوشاله و، وکیل هم خوشاله و او زه هم خوشاله وم، ځکه کور مې په شل زره ډالره واخیست او په شپېته زره ډالر مې وپلوره. دا څلوېښت زره ډالر زما د شتمنیو په ستون کې ورزیات شول او دې ټول کار یوازې په پنځو ساعتونو کې وشو.

دا چې اوس تاسې لږه مالي پوهه پیدا کړې او د شمېرو لوستو مهارت مو په لوړېدو دی، نو زه به درته د انځور په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



مرسته وښيم چې دا د پيسو د اختراع يا جوړولو يوه بېلګه وه.

ځلوېښت زره ډالر مې شتمنۍ په ستون کې پيدا شول، ماليه هم پرې نشته، ځکه نقدي نه وي، د کور نوي خاوند سند راکړی و، دې ځلوېښت زرو په کال کې ۱۰ سلنه ګټه کوله او له دې د عايد په ستون کې څلور زره ډالر ورزيات شول.




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د سرو بازارو په موده کې ما او زما مېرمنې په اضافي وخت کې داسې شپږ سوداګانې وکړې. زمور د شتمنۍ لويه برخه په لويو جايدادونو او د ونډو په بازار کې بنده وه، دې سره بيا هم موږ په شپږو سوداګانو کې نږدې يو سل او نوي زره ډالر شتمني پيدا کړه چې د لس سلنه ګټې له قراره دا تقريباً په هر کال کې ۱۹۰۰۰ ډالر ګټه راتله، دا ګټه زمور د جايدادونو په واړه شرکت کې وه او زمور د موټرو جوړولو، تېلو، چکرونو، بيمې، تفريح او نورو شيانو لګښت له همدې پوره کېده، تر څو به چې دولت په دې پيسو د مالي وضع کولو فرصت پيدا کاوه، موږ به دا وخت په هغو شيانو لګولې وې چې د قانون له مخې ورته ماليه معاف وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library






دا د مالي نبوغ په مرسته د پيسو جوړولو يوه ساده بېلگه وه. د همدې مالي نبوغ په مرسته پيسې هم پيدا شوې او ساتنه يې هم وشوه. تاسې خپله ځان وپوښتئ چې د ۱۹۰۰۰۰ ډالرو سپمول به څومره وخت ونيسي- بانک به درته پرې ۱۰٪ سود درکړي؟ خو ماته چې د کور خاوند کوم سند راکاوه، په هغه لس سلنه سود هم و او دېرش کاله يې دوام هم کاوه. زه خو وايم چې هغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خلک دې هېڅکله ماته زما پيسې نقدې نه راکوي، که يې راکړې نو زه به ترې ماليه ورکوم او که هغوی ماته دا پيسې تر ۳۰ کالو رانه کړي؛ نو نړدې پنځه سوه زره ډالر عايد به ولرم.

ځينې خلکو راته وويل چې هغوی پيسې درنه کړي، بيا به څه کوې؟ زه ورته وايم که داسې وشي، ښه خبر دا دی چې د فُنکس د جايدادونو بازار له ۱۹۹۴ تر ۱۹۹۷ په ټول هېواد کې ښه تود دی، کوم کور چې ما په شپېته زره اخيستی و ښه په اسانه يې په اويا زره بېرته پلورلای شم او د پور د خلاصولو لپاره ۲۵۰۰ ډالر د فيس په توګه راکول کېږي، نوي پيرودونکي ته به دا سودا هم ګټوره وي او دا کيسه به همداسې روانه وي.

په لومړي ځل چې ما هغه دوه زره ډالر بېرته ورکړل، نو ماسره هېڅ نغدې پيسې نه وي، خو په اسنادو کې راسره پيسې ښې ډېرې وي، يانې په دې توګه ما په تش جېب ښه ډېرې پيسې وګټلې.

په دويم ځل خرخولو کې به مې دا ۲۰۰۰ ډالر خپل جېب کې اېښې وی او د پور نېټه به مې ډېرشو کالو ته



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



غځولې وي. کــه د پیسـو جوړولـو لپـاره مـې پیسـې ورکولی، نـو بیـا زمـا د پـور سـند څـه ارزښـت درلـود؟ زه پـه دې نـه پـوهېږم، خـو پـه هـر صـورت، دا پـه میاشـت کـې لـه سل ډالـرو سـپمولو ښـه دی، ځکـه پـه اصـل کـې بایـد مـوږ د سـلو پـر ځـای لـه یـونیم سـلو پیـل وکـړو، ځکـه مـوږ چـې دا پیسـې لـه کـومې پـانګوونې سـپموو، تـر خلوېښـت کـالو بـه پـرې ۵٪ مالیـه ورکـوو او بیـا بـه پـه دې ۵٪، بیـا ځلـي مالیـه وضـع کېـږي. دا خـبره خـو ډېـره هوښـیاره نـه ښـکاري، خوندي فکر به وي، خو اوږدمهالی نه دی.

نـن چـې زه پـه ۱۹۹۷ز کـال کـې دا کتـاب لـیکم؛ نـو د بـازار حالـت د تېـرو پنځـو کلـو پـه پرتلـه بېخـي اوښـتی دی. د فُـنکس جایـدادونو لــه بیــو سره د امریکــا د نــورو ســیمو خلـک رخـه کـوي، کـوم کـور چــې مــوږ پــه شــپېته زره اخیســتی و اوس یــې بیــه ۱۱۰۰۰۰ ډالــر ده. اوس هــم فرصـتونه ډېـر دي، خـو اوس بایـد لـه قیمتـي شـتمنۍ تېـر شـو، وخـت بایـد ورکـړو، پلټنـه بـه کـوو. اوس سـوداګانې لـږې شـوې دي، خـو اوس هـم زرګونـه داسـې خلـک شـته چـې د دې سـوداګانو پـه لټـون سرګردانـه دي او یـوازې څـو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



داسې فرصتونه شته چې له اخیستو یې د گټې تمه کېدای شي. د بازار بنه بدله شوې ده، اوس باید دا ځای پرېږدو، نوي ځایونه باید ولټوو چې هلته سوداګانې وکړو او د خپلو شتمنیو ستون ته پراختیا ورکړو.

زه دلته همدا خبرې اورم چې وایي:

- ته داسې نشې کولای.
- دا قانون سره په ټکر کې ده.
- ته دروغ وایې.

خو هېڅوک دا پوښتنه نه کوي چې:

- تا دا څنګه وکړل؟

حسابداري اسانه ده، الجبر او هندسه ورته نه ده په کار. ما په دې اړه ډېر معلومات نه دي ورکړي چې د پېر و پلور د اسنادو جوړولو د ځانګړو شرکتونو کار دی او هغوی په دې کار بنه پوهېږي. هم دوی د تادیاتو اسناد هم جوړوي. زه په کور کې ترمیم ته هم اړتیا نه لرم، ځکه دا کار پېرودونکی خپله کوي. دا د هغوی کار خپل کور دی. ځینې وخت خلک پیسې نه راکوي، دا بنه ده،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



[redacted]

که یې څنډه وکړ پیسې به زیاتېږي، ګڼي کور به وزګار وي، په دې توګه به کور بیا پلورل کېږي، دا کار د محکمې دی.

ښايي ستاسې په سيمه کې داسې نه وي، هلته به بازار بدل وي. دا يوازې يوه بېلګه ده او موخه يې دا ده چې له مالي پوهې، نبوغ یا ورتیا ځنګه کار واخيستل شي او ګټه لږه ډېره شي. پانګوونه هم لږه وي، خطر يې هم لږ وي. په دې مثال کې موږ د پيسو پر ځای له تړون يا قرارداده کار واخيست، هر لوستی انسان دا کار کولای شي.

بیا به هم لږ خلک داسې کوي، زياتره خلک به په هماغه لاره روان وي چې: (ډېر کار وکړه او پيسې وسپموه.)

په دېرش ساعته کار نږدې ۱٬۹۰۰٬۰۰۰ ډالر پيدا شول، د شتمنيو په ستون کې دومره پيسې جمع شوې او ماليه هم پرې رانغله.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په دې کې کومه طریقه ډېره سخته ده:

۱) زیار وباسه، ۵۰ سلنه مالیه تېرې ورکړه، کومې چې پاتې شوې هغه مصرف کړه، له مصرف چې پاتې شوې، هغه وسپموه او بیا پرې ۵ سلنه مالیه ورکړه.

۲) خپله ذهني پوهه او وړتیا لوړه کړه او ذهني قوت او د شتمنیو ستون ته پراختیا ورکړئ.

تر څنګ یې په دې هم فکر وکړئ چې که په (۱) لاره روان شوئ؛ نو د ۱٬۹۰۰٬۰۰۰ ډالرو سپمولو لپاره به څومره کلونه تېروئ؟

زیاتره خلک چې وایي زما بچی ښوونځي ته ځي او نومرې یې ښې دي؛ نو زه افسوس وکړم، اوس به پوه شئ چې زه دا افسوس ولې کوم؟ ځکه چې دا شی اړین دی، خو همدا کفایت کوي؟

زه پوهېږم پورته ښودل شوې کاروباري ستراتېژي وړه ده، خو موخه تېرې دا وه چې څنګه په لږو، ډېر کولای شو. زه بیا داخبره تکراروم چې ددې بریا اصلي لامل زما قوي «مالي بنسټ» و او دا بنسټ په «پوهې» جوړېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما مخکې هم ویلي او بیا هم وایم چې مالي ورتیا یا نبوغ د څلورو مهارتونو ترکیب دی:

۱) حسابداري:

زه دا مالي پوهه بولم، که غواړئ چې خپله کاروباري امپراتوري رامنځته کړئ؛ نو دا یې لومړی اړین مهارت دی. پیسې چې څومره ډېرې وي، حساب یې هومره دقت ته اړتیا لري. (دا تحلیل د ماغزو په کیڼ اړخ کې کېږي.) د مالي پوهې په مرسته تاسې خپل مالي صورت حساب په شېبو کې لوستی او پرې پوهېدی شئ. مرسته یې دا ده چې د کاروبار له پیله وړاندې یې په قوتونو او ضعفونو پوهېدای شئ.

۲) پانګوونه

دا د پیسو ګټلو علم دی، دا ستراتېژۍ او فورمولونه غواړي، په دې کې د ماغزو ښي اړخ په کار وي او دا اړخ د نوښت ورتیا لري.

۳) بازار پېژندنه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



بازار پېژندنه د عرضې او تقاضا پېژندلو علم دی.
ته باید د بازار تخنیکي اړخ پېژندلی وي او انګېزه یې احساسات او عاطفه ده. ددې تر څنګ باید د پانګوونې او اقتصادي اساسي اړخونو په اړه هم پوه شې. په دې باید پوه شئ چې د بازار اوسنیو شرایطو ته په کتو پانګوونه باید وشي که نه؟

٤) قانون

په اداره کې د حسابدارۍ، پانګوونې او بازار تخنیکي مهارتونه د ادارې د چټکې ودې لامل کېدای شي. که یو څوک په مالیاتي ګټو پوه شي او شرکت کې کار کوي، د هغه کس په پرتله زر پرمختګ کولای شي چې خپل وړوکی کاروبار لري. دا مزل کولو او الوتلو هومره توپیر لري. دا توپیر د اوږدمهالي شتمنۍ په برخه کې ډېر زیات مهم دی.

دا څلور واړه ترکیبونه د مالي ورتیا یا نبوغ اساس دی.
دا نبوغ د شتمنۍ او بریا لپاره ډېر مهم دي. که وړوکی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کور اخلئ، اپارتمان اخلئ، شرکتونه جوړوئ، ونډې اخلئ یا که د ګډې پانګوونې ونډې اخلئ ... یا که بل هر کاروبار کوئ، له مالي ورتیا او نبوغ پرته د شتمنۍ ترلاسه کول سخت دي.

تر ۱۹۹٦ز پورې د جایدادونو بیې یو ځل بیا لوړې شوې او ډېر خلک دې کاروبار ته راغلل. د ونډو په بازار کې د ونډو بیې لوړې شوې او له دې امله پکې ډېرو خلکو برخه واخیسته. د امریکا اقتصادي حالت ښه کېده. په ۱۹۹٦ز کال کې ما پلور پیل کړ او دا ځل مې مخه ناروې، پیرو، مالیزیا او فلیپین ته کړه. پانګوونه بدله شوې وه، ما د جایدادونو د پېر و پلور کار پرېښود.

د شتمنیو په ستون کې د بیو لوړېدو تمایل ته ګورم او ښایي تر راتلونکي کاله ببرته پلور پیل کړم. دا خبره په دې پورې تړلې ده چې کانګرېس کې ښایي ځینې نوي قوانین تصویب شي، زه فکر کوم چې زما د هغه شپږو کورونو سودا به وشي او د پور ۴۰۰۰۰ اسناد به نقد شي، زه باید زر تر زره خپل حسابدار سره اړیکه ونیسم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



او د پیسو د ترلاسه کولو او خوندي کولو لپاره ورسره مشورې وکړم او تیارۍ ورته ونیسم.

زه تاسې ته دا پیغام درکول غواړم چې پانګوونه به کله کېږي او کله به نه کېږي، بازارونه به کله ښه وي او کله به خراب وي. اقتصادي حالت کله ښه وي او کله پکې زیانونه هم کېږي. ژوند تاسې ته هره ورځ د بریا یو فرصت درکوي، دا زموږ ستونزه ده چې موږ ته دا فرصتونه نه ښکاري. دا فرصتونه وي او د وخت په تېرېدو بدلېږي. نوي نوي اختراعات کېږي. دې سره فرصتونه هم زیاتېږي. که تاسې له دې ګټه واخلئ، د خپل ځان، کورنۍ او نسلونو ژوند او راتلونکې جوړولای شئ.

دلته بیا دا پوښتنه را ولاړېږي چې موږ خپل مالي نبوغ یا ورتیا څنګه لوړه کړو؟

د دې پوښتنې ځواب بیا هم تاسې ورکولای شئ، زه پوهېږم چې زه خپل علم ولې زیاتوم ولې خپلې ودې ته ډېر زیات پام کوم، ځکه زه پوهېږم چې راتلونکې پېر د بدلونونو پېر دی، زه تېر وخت پورې نه نښلم، راتلونکې



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ښه بولم، زه پوهېږم چې بازار کې به لوړې ژورې راځي.
زه دا خپله مالي پوهه او وړتیا په همدې خاطر لوړوم چې بازار کې به بدلون راځي، ځینې خلک به په ګونډو کېږي او دندې به غواړي، ځینې خلک به پیسې راټولوي او ځینې نور به لګیا وي له پیسو به ګټه اخلي، میلیونونه به په میلیاردونو بدلوي او همدا مالي وړتیا یا نبوغ دی.
ځینې خلک مې پوښتي چې میلیاردونه څنګه ګټل کېږي، زه تاسې سره خپلې شخصي- تجربې ځکه نه شریکوم چې بیا به تاسې وایئ، د ځان ستاینه درته کوم، خو زما نیت دا نه دی، زما بېلګې تولې رښتیا دي، په دې بېلګو درته زه دا ثابتوم چې دومره سخته نه ده. د مالي وړتیا او نبوغ له څلورو مهارتونو سره چې تاسې بلد شئ دا کیسه نوره هم اسانه کېږي. زه خپله د شخصي- شتمنۍ زیاتولو لپاره په دوو طریقو عمل کوم: یو جایدادونه پېرم او بل وړې ونډې. جایداد د لومړنیو اړتیاوو لپاره کاروم، ورځنۍ وړتیاوې مې د جایداد له عایده وي او کله کله داسې هم کېږي چې ځینې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



جايدادونه ډېره ګټه کوي. ونډې بيا د فوري عايد ترلاسه کولو لپاره کاروم.

زه تاسې ته دا ونه وايم چې ما څه کړي تاسې هم داسې وکړئ، بېلګې يوازې بېلګې دي. که حالت بيخي کړکېچن وي او پانګوونه زما له پوهې لوړه وي؛ نو زه ګوتې نه ور وړم. د دې لپاره ساده رياضي او عمومي پوهه په کار ده، دا شيان د پيسو ګټلو لپاره د ملا د تير حيثيت لري.

دا بېلګې ما د پنځو لاملونو له مخې راوړې:

۱) خلک زده کړې ته هڅول.

۲) خلکو ته دا ويل چې که بنسټ قوي وي ستونزه نشته.

۳) دا ښودل چې هر څوک ډېره ګټه کولای شي.

٤) دا ښودل چې موخو ته رسېدو لپاره ډېرې لارې دي.

٥) او دا ښودل چې دا کومه معجزه نه ده.

۱۹۸۹ز کال کې مې د پورټلنډ، يګان په ګاونډ کې قدم واهه، دلته ښايسته ښايسته واړه کورونه وو. دا ځای

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



افسانوي ځمکه ده، زیاتره به مې واړه ماشومان لیدل چې سرې خولۍ به یې په سر وې او په لارو کې به یې لوبې کولې.

په ډېرو کورونو د خرخلاو لوحې را ځوړند وې، د چارتراشو بازار ښه نه و، د ونډو بازار ناست و او مالي زیان لیدل کېده. په یوه کوڅه مې د پلور یوه زړه لوحه ولیده، کور هم زوړ و، یوه ورځ مې همدلته نږدې د کور خاوند ولید، سړی خپه ښکارېده.

ما وپوښت: (په کور دې څو بیه ایښې ده؟)

سړي ماته مخ را واړاوه، نرۍ موسکا یې وکړه، وې ویل: (ته ووایه څو راکوې، دا یو کال کې مې چې خرڅ اچولی، اوس ورته بیخي څوک ګوري هم نه.)

ما ورته وویل: (زه یې اخلم!)

نیم ساعت وروسته مې کور د هغه له ایښې بیې ۲۰۰۰۰ ډالره ټیټ واخیست، دا ډېر ښایسته وړوکی او د دوو خونو کور و، کړکۍ یې له لرګیو جوړې شوې وې. رنګ یې تت نیلي و، خړ رنګ هم پکې کارېدلی و، دا کور په ۱۹۳۰ کال کې جوړ شوی و، کور کې دننه له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ډېرې جوړه ښايسته بخارۍ هم وه، دوه د خوب خونې يې لرلې او کرايه ورکولو ته ښه جوړ و.

ما د کور خاوند ته ۵۰۰۰ ډالر بيعانه ورکړه او د ۶۵۰۰۰۰ ډالرو کور مې په ۴۵۰۰۰ ډالرو وپېره. خبره پکې يوازې دا وه چې چا نه اخيسته. سړي په يوې اونۍ کې کور وزګار کړ. سړی چې له کوره خلاص شو ايله يې د ارام ساه واخيسته، ما کور د ځايي پوهنتون يوه استاد ته په کرايه ورکړ. د پېر او ګروۍ د اسنادو له لګښتونو وروسته ماته هره مياشت څلوېښت ډالر عايد راته، دا هېڅ هم نه و!

يو کال وروسته بازارونه ښه شول. د کاليفورنيا سوداګرو شمال خوا ته مخه کړه، دوی د کورونو کاروبار کاوه او ښې پيسې يې لرلې، دې خلکو په اوروېګون او واشنګټن کې پانګوونه پيل کړه.

ما دا کور په يوې ځوانې جوړې په ۹۵۰۰۰ ډالر خرڅ کړ. ۴۰۰۰۰ ډالر نقدي سرمايه د ۱۰۳۱ مالي ځنډونې په سيستم واچوله او د نوي کور په اخيستو پسې ووتم. يوه مياشت وروسته مې د ۱۲ اپارتمانونو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لرونکی یو کور پیدا کړ. د دې ځای خاوند په المان کې اوسېده، هغه سړی ددې ځای په سمې بیې نه پوهېده او غوښتل یې چې یو ځل بیا له دې لانجې ځان خلاص کړي. دا جایداد په ۴۵۰۰۰۰ ډالر بیه شوی و، ما پرې ۲۷۵۰۰۰ بولي ووهله او سړی په ۳۰۰٬۰۰۰ راضي شو. کور مې واخیست، دوه کاله مې ځان سره وساته، بیا مې هماغه د ۱۰۳۱ له مادې کار واخیست او په دې کور مې یو بل کور واخیست، دې کور ۳۰ اپارتمانونه لرل او ارزښت یې ۴۹۵۰۰۰ ډالر و. دې وخت مور ځان له بارانه پټاوه، ځای مو باید خرخ کړی وی او بازارونه دلته هم ورغ تر بلې سرېدل. دا وخت ددې کور بیه ۸۷۵۰۰۰ ډالر وه او په پیل کې باید ۲۲۵۰۰۰ ډالره ورکړل شوي وی. له دې ځایه میاشتنی عاید نږدې ۵۰۰۰ ډالر و. له دې وروسته بیا د اریزونا ایالت بازارونه ښه شول او په ۱۹۹۶ز کال کې دا جایداد د کلورودا یوه پانگوال په ۱٫۲ میلیونه ډالر وغوښت.

ما او مېرمن مې غوښتل دا کور وپلورو، خو په تمه وو چې کانگرس ښایي په گټې د مالیاتو قانون بدل کړي،


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په دې صورت کې موږ له جایداده د ۱۵ تر ۲۰ سلنه گټې تمه درلوده او ددې تر څنګ راته هره میاشت ۵۰۰۰ ډالر عاید راته.

په دې ببلګه کې ما وښودل چې لږې پیسې څنګه په ډېرو پیسو اوړي. یو ځل بیا اساسي موضوع هماغه ده. د مالي راپورنو پوهېدل، پانګوونه، د بازار تمایل او قوانین. که په دې خبرو پوه نه شوې، نو هماغه د خلکو مروجې لارې ونیسه، یانې خطر مه منه، نورې لارې ولټوه او یوازې مستحکمې لارې ولټوه. خو داسې ځایونه عموماً ګران وي او ګټه پکې لږه وي.

عموماً د املاکو لوی کاروباریان داسې جایدادونه نه پېري، ځکه هغوی پوهېږي چې د دومره هڅو وروسته به نه د دوی کار وشي او نه به پانګوال ګټه وکړي او دا ښه پالیسي ده.

عموماً ګټورې سوداګانې د نویو پانګوالو لاس ته ورځي، دا د هغو شتمنو لاس ته ورځي چې لا ډېر شتمنېدل غواړي او په دې «لوبه» کې پاخه شوي وي. عموماً دغه سوداګانې ناقانونه وي او کاروباري خلک د داسې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



جایـدادونو اخیسـتل منـع کـوي، خـو بیـا هـم دا هـر څـه کیـږي. زه چـې پـه کاروبـار کـې څـومره پرمختـګ کـوم، هـومره ګټـورې سـوداګانې لاس تـه راځـي. د مـالي ورتیـا او فرصـت طلبـۍ پراخولـو مانـا دا ده چـې وخـت سره د داسـې سـوداګانو شـمېر لـوړ شي. بیـا چـې ستاسـې ورتیـا او نبـوغ څـومره زیـاتېږي، ستاسـې شـپږم حـس بـه درتـه وایـي چـې فلانـۍ سـودا کـې د ګټـې تمـه شـته کـه نـه. دا ستاسـې نبـوغ دی چـې درتـه وایـي فلانـۍ سـودا کـې ګټـه شـته کـه نه؟ یـا دا چـې لویـه سـودا پـه خپلـه ګټـه ځنګـه راتـاوه کـړې. زه چـې څـومره پـوهېږم او پـه دې پـوهېږم چـې نـور هـم بایـد پـوه شـم، دې سره زمـا عایـد هـم همـدومره لـوړېږي، ځکـه څـومره چـې وخـت تېرېـږي، دومـره ورسره زمـا تجربـه او ورتیا هم زیاتېږي.

زمـا ځینـې ملګـري پـه محافظـه کـارۍ د پرمختـګ هڅـه کـوي، پـه خپلـو کـارونو کـې ښـې خـولې تویـوي، خـو مـالي پوهـه او ورتیـا نـه لـري، ځکـه د دې پیـدا کولـو لپـاره وخـت تـه اړتیا ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زما فکر او اصلي پالیسي- دا ده چې د خپلو شتمنیو ستون لاپسې غني کړم، زه پیل لږ کوم او همداسې وړاندې ځم، تخم کرم او بیا یې مېوه خورم، دا تر ټولو ښه لاره ده.

زموږ اصلي شرکت د املاکو کاروبار کوي اوس د میلیونونو ډالرو املاک لري. دا زموږ خپل شرکت دی، په دې کې زیاتره شتمنۍ د ۵۰۰۰ او ۱۰۰۰۰ له وړو پانګوونو پیل شوې دي، له ښه مرغه زیاتره بیعانو پکې ګټه راوړې ده، بیې ورځ تر بلې لوړېږي، مالیه هم نه ورکوو او کلونه کلونه کورنۍ راکړې ورکړې هم کوو.

په شرکت کې زما او (کیم) د ونډو بازار هم شته، دا موږ خپله ګډه پانګوونه بولو. زموږ څو ملګري دي، زموږ په خبر پانګوالو سره یې اړیکې دي، دوی چې هره میاشت څومره پیسې وسپموي او غواړي چې په بل کاروبار کې یې بندې کړي، موږ پرې د امریکا او کاناډا د نویو کمپنیو ونډې اخلو، دا کمپنۍ د ونډو بازار ته نوې راغلې وي، دا خطرناکې بللې کېږي، ځکه د پیسو د ډوبېدو خطر پکې وي. د زر ګټې یوه بېلګه دا ده چې له



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



مشهورتیا ورانـدې ددې کمپنـۍ یـوه ونـډه پـه ۲۵ سـېنټه اخیستل کېږي، شپږ میاشتې وروسته چې دا شرکت د ونډو بازار ته راشي، نو هره ونډه یې ۲ ډالره ارزښت پیدا کوي. که شرکت بنه پر مخ لاړ، نو په بازار کې د ونډو بیه له ۲ ډالرو هم لوړېږي او په دې توګه په یوه کال کې زموږ ۲۵۰٬۰۰۰ یو میلیون ډالرو ته رسېږي.

که تاسې په خپل کار پوه شئ؛ نو دا هېڅکله جواري نه ده. جواري هغه ده چې بې له فکره سودا وکړئ او پیسې بندې کړئ. هر کار خپله طریقه لري. که په تاسې کې وړتیا وي، پوهه وي او په لوبه پوه شئ، نو خطر کمولای او سخت حالات په خپله ګټه بدلولای شئ. خطر هر ځای کې شته او دې خطرونو سره د مخ کېدو لپاره مالي پوهه او وړتیا په کار ده. کوم شی چې یوه کس ته خطري وي، اړینه نه ده چې بل ته دې هم خطري وي. په دې خاطر زه زیاتره وخت خلک هڅوم چې په هره برخه کې له پانګوونې مخکې اول خپلې مالي پوهې ته پام وکړئ، په دې پانګوونه وکړئ. تاسې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې څومره پوه او هوښيار يئ، هومره به نامساعد حالت په ښه طريقه د ځان به ګټه بدلوئ.

زه چې کوم بازار کې ونډې اخلم، دا زياتره خلکو ته خطر وي او زه ورته د دې کار مشوره نه ورکوم. زه په دې لوبه کې له ۱۹۷۹ز کال راهيسې پکې فعال يم او ډېر زيات زيانونه مې هم پکې ليدلي دي. خو که تاسې بيا دا ولولئ چې داسې پانګوونې زياتره خلکو ته ولې دومره خطر لري، نو بيا کولای شئ ژوند کې ځانته يوه بله داسې لاره وټاکئ چې د ۲۵۰،۰۰۰ ډالرو په پانګوونې، په يوه کال کې يو ميليون ډالرو ګټلو ورتيا درته بيخي وړوکی خطر شي.

ما مخکې وويل، تاسې ته نه وايم چې زما ليکلي کارونه تاسې هم وکړئ، دا مې بېلګه ليکلې چې کوم کار اسانه او ممکن دی. نن سبا زياتره خلکو ته بې له ستونزو سل زره ډالر عايد ممکن دی، ځکه دا دې پورې اړه لري چې تاسې له بازاره څومره خبر يئ. دا کار په پنځو کالو کې کېدای شي، که تاسې د خپل ټول عمر لګښتونه معقول وساتئ، ستاسې سل زره ډالر اضافي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



عايــد، پــه ښــه ډول ترلاســه کېــداى شي، اوس بايــد څــه وکړئ او څـه ونـه کـړئ. تاسـې چـې هـر وخـت وغـواړئ کـار کـولاى شـئ او هـر وخـت چـې وغـواړئ ارام کـولاى شـئ، دا هـم کـولاى شـئ چـې د دولـت مـالي قـوانين او پاليسـۍ د ځـان پـر ضـد ونـه کـاروئ، بلکـې ګټـه تـرې واخلـئ. زمـا اصلي بنسـټ امـلاک دي. زه املاکـو سره مينـه لـرم، ځکـه ارام او پـه ثبـات حرکـت کـوي او زه دا بنسـټ قـوي سـاتم. عايـد يـې هـم نسـبتاً د ډاډ وړ دى او کـه ښـه اداره شي، د ګټـې لپـاره ښـه فرصـتونه هـم لـري. پـه املاکـو کـې ښـېګڼه دا ده چـې د ونـډو يـا اسـهامو پـه پرتلـه يـې پـه زړورتيـا پېرلـى شـم. کـه د ونـډو بـازار کـې ښـه ګټـه وکـړم، پـر عوايـدو ماليـه ورکوم او خپل اساسي شتمني بيا هم ساتم.

د املاکـو پـه اړه غـواړم وروسـتۍ خـبره وکـړم، هغـه دا ده چـې مـا د نـړۍ ډېـرو ځـايونو تـه سـفرونه کـړي دي او ډېـرې پـانګوونې مـې زده کـړې دي. پـه هـر ښـار کـې راتـه خلـک وايـي چـې تـه ارزانـه ملکيـت نشـې پېرلـى، خـو زمـا تجربـه راتـه دا نـه وايـي، ان پـه نيويـارک، ټوکيـو يـا همـدې شـاوخوا کـې ښـه تخفيفونـه شـته او زيـاتره وخـت د چـا نـه ور پـام

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کېږي. په سنګاپور کې نن سبا د املاکو بیې ورځ تر بلې لوړېږي، خو تخفیفونه پکې بیا هم شته او په لنډ وخت کې یې سړی موندلای شي. ماته زیاتره خلک وایي: (ته دا کار نشې کولای.) زه ورته وایم چې تاسې باید ووایئ چې: (زه لا نه پوهېږم چې دا کار دې څنګه وکړ.)

**لوی فرصتونه په سترګو نه، په ذهن لیدل کېږي.**

زیاتره خلک هېڅکله نه شتمنېږي، ځکه په مالي برخه کې داسې نه دي روزل شوي چې مخې ته پراته فرصتونه ووینې، زیاتره وخت له ما پوښتنه کوي چې: (څنګه یې پیل کړم؟)

په وروستي څپرکي کې مې د مالي استقلال په اړه هغه لس پړاوونه ښودلي چې ما تعقیب کړي دي، خو دا ټول په یاد ساتئ چې له دې کاره خوند واخلئ. دا لوبه ده، کله به «ګټه» کوئ، کله به «زده کړه» کوئ. زیاتره خلک هېڅکله ګټه نه کوي، ځکه له بایلات وېرېږي. په همدې خاطر ښوونیز سیستم ښه نه بولم. په ښوونځیو کې دا زده کوو چې تېروتنې ښې نه دي او سزا یې وینو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوس کـه هغـې لارې تـه وګـورو چـې د بشر- د روزنـې لپـاره طرحـه شـوې، نـو ګـورو چـې زده کـړه لـه همـدې تېروتنـو کېږي او ګرځېـدل پـه لوېـدو زده کېږي. کـه پـه ځمکـه ونـه لـوېږو، ګـام هـم نشـو پورتـه کـولای. همداسـې د بايسـکل موضـوع هـم ده، زمـا د خپلـو زنګونـو درد اوس هـم يـادېږي، خـو بيـا هـم پـه بايسـکل سـپرېدی شـم او همـدا خـبره د شـتمن کېـدو پـه برخـه کـې هـم صـدق کـوي. دا چـې ډېـر خلـک نـه شـتمن کېږي لامـل يـې دا نـه دی چـې لـه ماتـې وېرېږي، ځکـه ګټـونکي لـه مـاتې نـه وېرېږي، لـه مـاتې تـل بـايلونکي وېرېـږي. ماتــه د بريــا د لارې يــوه برخــه ده، ځوک چې له ماتې تښتي د بريا مخ به هم ونه ويني.

ماتـه پيسـې د ټېنـېس د لـوبې پـه ځېـر ښـکاري، پـه لوبـه کې ډېرې زيـاتې هڅـې کـوم، هڅـه کـوم چـې تېروتنـې مـې اصـلاح کـړم، تېروتنــې ډېـرې کـوم، هغـه هـم بېرتـه اصـلاح کوم او لا ښه يې کـوم. کـه لوبـه مـې وبايللـه جـال تـه ورځـم، سيال تـه مـې لاس ورکـوم، پـه موسـکا ورتـه وايـم: (راتلـونکې يکشنبه به بيا ووينو!)

پانګوال دوه ډوله دي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱) لـومړي او زيـاتره خلـک هغـه عـادي خلـک دي چـې شـوې او حـاضرې پـانگوونې پېـري. دوی د چـارو لار ښـوونې دفـتر سره اړيکـه نيسـي- يـا د ونـډو بـازار تـه ځـي او ځينـې شـيان پېـري، دا شـيان د شرکتونـو ونـډې، تضـمين ليکونـه او نـور شـيان وي. دا د پـانگوونې اسـانه، سـاده او پاکـه طريقـه ده، مـثلاً يـو کـس ځـي، د کمپيـوټرو لـه دوکانـه کمپيـوټر اخـلي او پـه خپلـه الماری کې يې ږدي.

۲) دويـم هغـه خلـک دي چـې پانگوونـه رامنځتـه کـوي، دا خلـک زيـاتره سـوداگانې سره تـړي، مـثلاً د کمپيـوټر پـرزې اخـلي، سره يـې يـو ځـای کـوي، دا داسـې ده لکـه څـوک چـې يـو فرمـايش توليـدوي. زه د کمپيـوټر د پـرزو پـه اړه بيخـي نـه پـوهېږم، خـو پـه دې ښـه پـوهېږم چـې د فرصـتونو پـرزې سره څنگـه يـوازې کـړم او هغـه خلک هم ښه پېژنم چې په دې برخه کې کار کوي.

دويـم ډول خلـک مسـلکي پـانگوال دي. دا پـرزې يـو ځـای کـول ځينـې وخـت ډېـر وخـت نيسـي- او ځينـې وخـت بيخـي يـو ځـای کېـږي نـه. شـتمن پـلار بـه تـل ټينگـار کـاوه چـې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دويـم ډول پـانگوال شــه. دا زده کـړه مهمــه ده چـې پـرزې څنگـه سره يـو ځـای شي، څکـه لـويې بريـاوې لـه همـدې ځايـه پيلېږي او کـه ځينـې وخـت حـالات ستاسـو د مسير اپوټـه وي؛ نـو لـوی زيانونـه هـم پکـې شـته. کـه غـواړئ چـې دويم ډول پانگوال شئ، درې مهارتونه بايد ولرئ:

**۱. داسې فرصت وگورئ چې بل چا بايللی وي.**

داسـې فرصــتونه وگـورئ چـې بـل چـا نـه وي ليـدلي، دا فرصــتونه تاســې پـه خپلـه وړتيـا گـورئ، مــثلاً يـو ملگـري داســې يـو زوړ کـور واخيســت چــې نــور ورانېــده، حتــی د هغـه کـور ليـدو هـم سـړی وېـراوه، ټـول خلـک حيـران وو چې دا کـور يـې ولـې اخيسـتی دی، خـو هغـه سـړي چـې څـه ليـدلي وو، مـوږ نـه وو ليـدلي او هغـه د دې کـور خـوا و شـا تـه تشـې ځلـورې نـومرې وې .دا معلومـات هغـه د چـارو د لاربشــووني دفــتر نــه و اخيســتي . کـور يــې چــې واخيســت، دســتي يــې وران کــړ او پنځــه واړه نــومرې يــې پـه يـوه سـاختماني شرکـت پـه درې چنـده بيـه وپلـورلې. دې کـار تـرې دوه مياشــتې وخــت ونيــوه، خــو ۷۵۰۰۰ ډالر گټه يـې ور ورسـوله. مـنم چـې دا بـه دومـره پيسـې نـه


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وي، خو له تنخوا خو ښې دي او کار هم چنداني سخت نه و.

## ۲. پیسې زیاتې کړئ

زیاتره خلک وایي چې بانک پور نه راکوي یا د پېر لپاره پیسې نه لرم. که تاسې غواړئ دویمه ډله پانگوال شئ، نو په دې باید پوه شئ چې خنډونه څنگه ختم کړئ. زیاتره خلکو نه د پیسو نشتون د سوداگانو مخنیوی کوي. که تاسې دا خنډونه ختم کړئ، له هغو خلکو به میلیونونه ډالر مخکې شئ چې دا مهارت نه لري. زیاتره وخت ما په بانک کې هېڅ پیسې نه لرلې، خو کور، ونډې یا جایداد مې اخیستی دی. یو ځل مې یو اپارتمان په ۱,۲ میلیونه ډالر واخیست، دا کار مې یوازې د پلورونکي او پېرودونکي ترمنځ یوازې د یوه تړون په لیکلو کړی دی. بیا مې په تړون کې سل زره ډالر د بیعانې په توگه قید کړي او نوي ورځې وخت یې راکړ چې نورې پیسې ورکړم.

دا کار مې ولې وکړ؟ ځکه پوهېدم چې د دوو میلیونو کور و. ما دوه میلیونه ډالره ور نه کړل، ددې پر ځای

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه سړي بېرته پنځوس زره ډالر راکړل چې بيعانه مې ورکړې وه، ځکه هغه بل ښه پېرودونکی پيدا کړی او ما هم ورسره ومنله. دې کار درې ورځې وخت ونيوه، بيا هماغه خبره ده چې پوهه او ورتيا تر سودا ډېره مهمه ده. پانګوونه سودا نه ده، دا د پوهېدو او پېژندو علم دی.

## ۳. ځيرک خلک پيدا کړئ

ځيرک خلک هغوی دي چې له ځانه تر ځيرکو خلکو کار اخلي يا يې ګوماري. که مشوره غواړئ هڅه وکړئ چې ښه مشاور ونيا کئ.

زده‌کړې ته شيان ډېر دي، خو مکافات ښايي تر دې هم ډېر وي. که تاسې دا مهارتونه زده نه کړئ؛ نو د لومړي ډلې پانګوال به شئ. په څه چې پوهېږې دا دې لويه شتمني ده او په څه چې نه پوهېږې دا دې لوی خطر دی.

خطر هر ځای کې شته، د خطر مديريت زده کړه، نه ترې مخ اړول.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# شپږم څپرکی

## شپږم درس

## کار زده‌کړې ته وکړئ، پیسو ته یې مه ګوئ

**لوستي پلار ته مې د دندې خوندیتوب او شتمن پلار ته مې د کار زده‌کول مهم وو.**

۱۹۹۵ز کال کې راسره د سنګاپور یوې ورځپاڼې مرکه کوله. ځوانه او ښایسته خبریاله په خپل وخت راغله او سمدستي یې خبرې پیل کړې. موږ د یوه پرتمین هوټل په لابي کې ارام ناست وو، قهوه مو څښله او هغې سنګاپور ته زما د راتګ په اړه رانه پوښتنې کولې. زه دلته زیګ زیګلار سره ګډې وینا لپاره راغلی وم، هغه په انګېزې (Motivation) غږېده او ما باید (د شتمنېدو په راز) خبرې کړې وی.

خبریالې وویل: (زه غواړم چې یوه ورځ ستا په شان لیکواله شم او کتابونه مې ډېر وپلورل شي.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما په ورځپاڼه کې د هغې ځینې لیکنې ولوستې او خوند یې راکړ. د لیکوالۍ سبک یې ښه و او لوستونکي یې ځان ته راجذبول.

ځواب مې ورکړ: (نو ستا خو د لیکلو سبک هم ډېر ښه دی، مخه دې څه شي نیولې ده؟)

ورو یې وویل: (ولا زه فکر نه کوم چې دا کار به سر ونیسي، ځکه ډېر خلک وایي چې ناولونه عالي دي، خو هیڅ نه کېږي. ما په دې خاطر ورځپاڼه کې کار پیل کړ، له دې خو مې لګښتونه پوره کېږي، تاته یې کومه چاره درځې؟)

ومې ویل: (یوه چاره خو شته، زما یو ملګری دلته یو ښوونځي لري او د مشهورو شرکتونو پلورونکو ته یې د دې مسلک روزنه ورکوي، زه فکر کوم که په یوه ټولګي کې ګډون وکړې، د کار کچه به دې لوړه شي.)

هغې زر او په نارامۍ وویل: (یانې ته وایې زه دې اداري ته لاړه شمه او دا پکې زده کړمه چې توکي څنګه وپلورم؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما سر د هو په نښه وخوځاوه. هغې پوښتنه وکړه: (جدي وایې؟) ما بیا سر د هو په نښه وخوځاوه او ورته مې وویل: (ولې دې کې څه خبره ده؟). په نجلۍ زما خبره ښه ونه لګېده، زه هم پښېمانه شوم چې دا خبره مې ولې وکړه، هڅه مې کوله چې د خپلې مشورې بېرته اخیستو لپاره مناسب کلیمات پیدا کړم، هغې وویل: (ما په انګلیسي- ادبیاتو کې ماسټري کړې ده، په ښوونځي کې د پلورنکیتوب درس ولې ووایم؟ زه مسلکي لیکواله یمه. زه یوه ښوونځي ته تللې یمه، د همدې مسلک درس مې پکې ویلی دی، اوس ولې پلورنکې شمه؟ زه له هغو خلکو کرکه لرمه چې پیسو پسې منډې وهي، تاسې ووایی چې زه پلورونکیتوب ته څه اړتیا لرمه؟). ښځې زر زر کاغذونه ټول او د بېرته ستنېدو تیاری یې نیوه، مرکه مو ختمه شوې وه.

په مېز قهوه ایښې وه، په همدې مېز زما هغه کتاب هم پروت و چې په ډېر پلورل شویو کتابونو کې راته. هغې خپل یادښتونه راټول‌ول، ما کتاب را واخیست، په اشاره مې ورته وویل: (دا ګورې؟)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغې راته وویل: (څه؟)

ما د هغې کاغذونو ته په اشارې وویل: (دا ګورې؟)

هغې په کاغذونو خپل لیک ته وکتل، وې ویل: (څه؟)

ما بیا همدې کاغذونو ته اشاره وکړه، هغې د یادښت په کتابچې لیکلي وو: (رابرټ کیوساکي: د ډېر پلورل شوي کتاب لیکوال.)

ومې ویل: (دا وایي چې د «ډېر» پلورل شوي کتاب لیکوال، «ښه» لیکوال یې «نه» دي ویلي.)

هغې زر ماته را وکتل، ورته مې وویل: (زه عام لیکوال یم او ته لویه لیکواله یې، توپیر یوازې دا دی چې ما د پلورونکو ښوونځی لوستی او ته د ماسټرۍ سند لرې، که دواړه سره را یو ځای کړو، نو ته به د ډېر پلورل شوي کتاب ښه لیکواله شې.)

د هغې په سترګو کې غوسه ښکاره شوه، وې ویل: (زه به هېڅکله ځان دومره خوار نه کړمه او پلورونکیتوب به زده نه کړم. تاسې غوندې خلک د لیکوالۍ په کیسه کې نه وي. زه مسلکي لیکواله یمه او ته پلورونکی یې، دا مناسبه نه ده.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغې خپل یادښتونه ور تېول کړل، زر پاڅېده او په ښېښه‌یي دروازې د سنګاپور نمناک سهار ته ووته، خو په سبا یې بیا ورځپانه کې زما په اړه ښه لیکنه کړې وه.

نړۍ له چالاکو، ځیرکو، لوستو او وړتیا لرونکو خلکو ډکه ده، دا خلک زموږ په شاوخوا کې وي او موږ ورسره وینو.

څو ورځې مخکې مې موټر خراب شوی و. زه یوې لویې مستري خانې ته ننوتم او یوه ځوان مستري را ته په څو دقیقو کې موټر جوړ کړ. هغه یوازې د موټر د ماشین غږ واورېد، ستونزه یې پیدا کړه او زه ورته حیران وم، خو یو تریخ حقیقت دا دی چې یوازې استعداد بسنه نه کوي.

زه زیاتره هغو خلکو ته حیرانېږم چې په لږ استعداد ډېرې پیسې ګټي. ما اورېدلي چې د امریکا له پنځو سلنو لږ خلک په کال کې سل زره ډالر عاید لري. ما ډېر لوستي خلک لیدلي چې په کال کې شل زره ډالر عاید لري. یو مسلکي مشاور د طبي وسایلو کاروبار کاوه، ویل یې: (چې ډېر ډاکټران او متخصصین له مالي ستونزو سره مخ دي.) په دې ټوله موده کې ما فکر کاوه چې دوی ځنګه له طب فارغ شي د پیسو به ورته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



رامخــه شي، هغــه مشــاور راتــه وويــل: (دوی لــه ډېــرې شــتمنۍ د يــوه مهــارت د زده کــړې پــه واتــن کــې دي.) دا جمله پـه دې مانـا ده چـې: زيـاتره خلـک يـوازې د يـوه بـل مهارت زده کړې او پوهې تـه اړتيـا لـري چـې عايـد يـې لـوړ شي. لکـه مخکـې مـې چـې وويـل مـالي اسـتعداد د څلـورو مهــارتونو ترکيــب دی. د دې څلــور واړو ترکيــب د پيســو جوړولـو مهـارت اسـانه کـوي. د پيسـو پـه اړه ځينـې خلـک يوازې همدا يو مهارت لري چې وايي ډېر کار وکړه.

د دې ترکيبونـو ژونـدۍ بېلگـه هغـه خبريالـه وه، کـه هغـې نجلـۍ زيـار ويسـتی او پلورونکيتـوب يـې زده کـړی وی؛ نـو عايـد بـه يـې ورخ تـر بلـې لوړېـدی. کـه زه د هغـې پـر ځـای وی، د پلورونکيتــوب د روزنــې تــر څنــگ بــه مــې د کــاپي رايـټ او چـاپ چـارو روزنـه هـم اخيسـتې وی. بيـا بـه مـې د ورځپـاڼې پـر ځـای کـوم تبليغـاتي دفـتر کـې کـار کـولای، هلتـه بـه تنخـوا لـږ وی خـو اړيکـې بـه پراخـې شـوې وی او دا کـار پـه تبليغـاتو کـې کېـږي. همدارنگـه يـې بايـد د خپلـو زده کـړو او ټـولنيزو اړيکـو ودې تـه وخـت ورکـړی وی، ځکـه دا هـم مهـم مهارتونـه دي. دا بـه يـې هـم زده کـړي وی چـې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په ورتیا تبلیغاتو ځنګه میلیونونه ډالر وګټي، بیا یې د شپې او د رخصتیو په ورځو کې خپل غوره ناول هم لیکلی شو او دا ناول چې پوره شوی وي؛ نو د پلور لپاره یې ښایسته کتاب لرلی. بیا به په لنډ وخت کې هغه نجلۍ هم (د ډېر پلورل شوي کتاب لیکواله) وي.

زما د لومړي کتاب عنوان و: (که غواړئ چې شتمن او خوشاله شئ، ښوونځي ته مه ځئ.) دا کتاب مې چې ولیکه، یو خپرندوی راته وویل چې عنوان یې داسې کړه: (په ښوونه او روزنه کې مالي پوهه.)

ما ورته وویل: (په دې عنوان خو به ایله دوه جلده کتاب وپلورم، یو په ملګري او یو په کورنۍ او هغوی یې هم ښايي وړیا رانه وغواړي.)

بیا مې ورته وویل خپل عنوان مې په دې خاطر ټاکلی چې پام به ور وګرځي. زه خپله د زده کړو او د ښوونیز نظام د ودې پلوی یم، که داسې نه وي؛ نو ددې کتاب پر ځای به مې د ښوونیز نظام د ښه کولو لپاره هلې ځلې کولای. دا عنوان مې په دې خاطر ټاکلی دی چې راډیو او ټلویزیون ته ننوځم، ځکه زه باوري یم چې دا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



عنـوان بـه بحثونـه را وپـاروي. زيـاتره خلكـو فكـر كـاوه چې زه په دې برخه كې نـوى يـم، خـو هغـه كتـاب مـې خـرڅ شـو او ښه ډېر خرڅ شو.

پـه ۱۹٦۹ز كـال كـې چـې د امريكـا د مرچينـټ بحـري اكـاډمـۍ نـه فـارغ شـوم، لوسـتى پـلار مـې ډېـر خـوښ و. (سـټنډرډ ايـل اف كاليفورنيـا) شركـت د نفتـي ټـانكرو د مـاڼو پـه توگـه د دنـدې وړانـديز وكـړ. زمـا رتبـه (ترډميـټ) وه او د ټولگيوالـو پـه پرتلـه مـې تنخـوا لـږ وه، خـو دا چـې لـه كـالج وروسـته لـومړۍ دنـده وه؛ نـو دا تنخـوا هـم ښـه وه. لـومړنۍ تنخـوا مـې پـه كـال كـې نـږدې دوه څلوېښـت زره ډالـر كېـده او اضـافه كـاري هـم پكـې وه. البتـه اووه مياشـتې مـې بايـد كـار كـړى وى او پنځـه مياشـتې رخصـت و. كـه مـا غوښـتى پـه دې پنځـو مياشـتو كـې د بېـړۍ چلـوونې يـوې شـعبې سره وېتنـام تـه هـم تلـى شـوم او دوه چنـده پيسـې مـې گټلـى شـوې، پـه دې توگـه مـې د دنـدې راتلـونكى ښـه كېـده، خـو شـپږ مياشـتې وروسـته مـې لـه دنـدې اسـتعفا وكـړه او وسـله والـو بحـري ځواكونـو تـه لاړم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لوستی پلار مې خپه شو، خو شتمن پلار مې مبارکي راکړه.

په ښوونځي او کاري چاپېریال کې مروجه باور (تخصص) دی او په همدې خاطر ترفیع او اداري امتیازات (تخصص) ته اړتیا لري. په همدې خاطر ډاکتران ډېر زر د تخصص هڅه پیلوي، همدا خبره د حسابدارانو، انجینرانو، وکیلانو او پیلوټانو په اړه هم صدق کوي. لوستی پلار مې په همدې باور و. د ډاکترۍ سند یې چې واخیست ډېر زیات خوښ شو او کله کله به یې ویل: (ښوونځي هغو ته انعام ورکوي چې په خاصو مواردو کې ډېر درس ووایي.)

خو شتمن پلار به بیا برعکس خبره کوله: (هڅه وکړه چې په ډېرو مواردو کې لږ لږ درس ووایې.)

په دې خاطر مې کلونه د شرکت په بېلابېلو برخو او څه موده په حسابدارۍ کې کار وکړ. که څه هم زه حسابدار نه شوم، خو هغه وویل چې زه باید ځینې شیان پکې زده کړم. شتمن پلار پوهېده چې زه به ډېر شیان زده کړم، ان که مهم وي که نه. ما په هوټل کې د خدمتگار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



او په ودانیزو چارو کې د مزدور په توګه هم کار کړی دی. همدارنګه مې د پلورونکي، بازارموندونکي او د هوټل د ریزرف کوونکي په توګه هم کار کړی دی.
شتمن پلار به زه او مایک روزلو، په دې خاطر به یې ځان سره د بانکوالو، وکیلانو، حسابدارانو او نورو په ناستو کې کېنولو، غوښتل یې چې موږ یې د کاروبار د ټولو برخو او اړخونو په اړه معلومات پیدا کړو.
په (سټنډرډ) نفتي شرکت کې مې ښه تنخوا اخیسته، خو دنده مې چې پرېښوده، لوستی پلار مې راته په غوسه شو او ګیلې مانې یې پیل کړې. هغه ته هغه دلیل نه ښکارېده چې ما یې له امله دا کار، لوړه تنخوا، امتیاز او رخصتي پرېښې وه. هر وخت به یې راته ویل چې استعفا دې ولې ورکړه؟ ما ډېره هڅه وکړه چې پوه یې کړم، خو نه کېده، زما منطق د هغه له منطق سره نه جوړېده، ځکه زما منطق د شتمن پلار منطق و.
لوستي پلار ته د کاري امنیت مهم و او شتمن پلار ته بیا کار زده کولو ارزښت درلود. لوستي پلار ویل زه ګني ددې لپاره ښوونځي ته تلم چې د کښتۍ کپتان کېدل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پکې زده کړم، خو شتمن پلار پوهېده چې زه کالج ته د نړیوالې سوداګرۍ د زده کړې لپاره تللی یم. ما په دې توګه د بېړۍ کپتاني واخیسته او په نفتو بار کښتۍ به مې لرې آسیا او سویلي اقیانوس ته لېږدولې.

شتمن پلار به مې ویل چې اروپا ته د تللو په ځای په ارام سمندرګي کې پاتې شه، ځکه هغه پوهېده چې آسیایي هېوادونه مخ پر وده وو، نه اروپایي.

د مایک په شمول زما ټول ملګري او ټولګیوال په مېلو او مېلمستیاوو بوخت وو، خو زه د جاپان، تایوان، تایلنډ، سنګاپور، هانګ کانګ، ویتنام، کوریا، هایټي، سوماترا او فلپین د خلکو او کاروباري فرهنګ په اړه، پر مطالعه بوخت وم. زه هم مېلو او مېلمستیاو ته تلم، خو په کورنۍ او ملګرو کې نه وم او ډېره ګړندۍ وده مې کوله.

لوستي پلار مې په دې نه پوهېده چې ما ولې استعفا وکړه او وسلهوال بحري پوځ ته لاړم؟ ما ورته وویل: (زه غواړم چې الوت (پرواز) زده کړم، خو اصل کې ما د ډلې یا ټیم رهبري زده کوله. شتمن پلار مې راته وویل چې په اداره کې تر ټولو سخت کار د خلکو کنټرول دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمن پلار په پوځ کې درې کاله خدمت کړی او لوستی پلار له خدمت معاف و. شتمن پلار به ماته په حساسو شرایطو کې د رهبرۍ ارزښت په ډاګه کاوه چې: (رهبري، هغه دویم شی دی چې ته یې باید زده کړې. که ښه رهبر نه وې په شا تمبول کېږې، همدا کار دوی په سوداګرۍ کې کوي.)

په ۱۹۷۳ز کال کې چې راغلم پوځي دنده مې پرېښوده، سره ددې چې پیلوټي سره مې ډېره مینه وه. بیا مې د فوټوکاپۍ د ماشینونو (زیروکس شرکت) کې دنده واخیسته. زه دې شرکت ته په یوه دلیل لاړم او هغه یې امتیازات نه وو. زه یوازې پاتې شوی وم، چندانې جرات مې هم نه درلود، خو عام خلک د یوه شي اخیستو ته هڅول سخت کار و. په دې برخه کې تر ټولو ښې روزنیزې برنامې هغه وخت دې شرکت لرلې.

شتمن پلار مې رابانددې ویاړ کاوه او لوستی پلار رابانددې شرمېده، ځکه هغه ته پلورونکیتوب وړوکی کار ښکارېده. ما په زیروکس کې څلور کاله کار وکړ، تر دې چې هرې دروازې ته تګ او سودا خرڅولو کې مې هېڅ


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شرم نـه احساساوه، کـه بـه چـا راسره تـریخ چلنـد هـم وکـړ، دا مـې هـم تـوهین نـه بالـه. دلتـه چـې پـه پنځـو غـوره پلورونکـو کـې راغلـم بیـا مـې اسـتعفا ورکـړه. د یـوه ښـه شرکـت دنـده او روښـانه راتلـونکی مـې پرېښـودل او مـخ تـه لاړم.

پـه ۱۹۷۷ز کـال کـې مـې خپـل شرکـت جـوړ کـړ. شـتمن پـلار زه او مایـک شرکـت جوړولـو تـه ښـه چمتـو کـړي وو. زه د شرکـت پـه جوړولـو او چلولـو پوهېـدم، لـومړی تولیـد مـو نـایلون او ویلکـرو بټـوې وې، دا بـه مـو لـرې ختیـځ کـې پـه یـوه شرکـت تولیـدولې، لـه هغـه ځایـه بـه مـو راوړلـې او پـه نیویـارک کـې بـه مـو یـوه زېرمتـون کـې سـاتلې، دا ځـای ښـوونځي تـه نـږدې و. زمـا لـومړنی زده‌کـړې پـوره شـوې وې او اوس یـې ازموینـه وه. کـه اوس هـم ناکـام شـوی وی؛ نـو ملا بـه مـې ماتـه شـوې وه. د شـتمن پـلار پـه وینـا لـه دېـرش کلنـۍ وړانـدې مفلـس کېـدل ښـه دي، ځکـه د بیـا را پاڅېـدو لپـاره وخـت وي. زه ۳۰ کلـن وم چـې د لـومړي ځـل لپـاره مـې سـوداګریز مـال لـه کوریـا- نیویـارک تـه پـه الوتکـه کـې را بـار شـو. اوس لـه نـورو هېوادونـو هـم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



سوداګري کوم. لکه څنګه مې چې پلار را ښودلي وو، نويو ملتونو پسې ګرځم، نن مې هم پانګوونه د سويلي امريکا، اسيا، ناروې او روسيه کې ده.

يو پخوانی متل دی چې وايي: (نوکري تر مفلسۍ ښه ده.) او له بده مرغه ميليونونه کسان په دې وينا عمل کوي. دا ځکه چې اوسنی ښوونيز سيستم مالي نبوغ د مهارت په توګه نه مني. زرګونه کارکوونکي په دې باور ژوند تېروي او کار کوي چې خپل لګښتونه خلاص کړي.

د مديريت يوه بله ناسمه تيوري وايي: (کارمند دومره کار کوي چې اداره يې له دندې ونه شړي او اداره دومره تنخوا ورکوي چې کارمند دنده پرې نه ږدي.) که تاسې د بېلابېلو شرکتونو د تنخوا اندازې ته وګورئ، نو زما خبره به درته سمه ښکاره شي.

زياتره کارکوونکي له دې امله پرمختګ نه کوي چې يوازې ورښودل شوی کار کوي، مثلاً وايي چې خوندي دنده پيدا کړه. زياتره خلک لنډمهالي تنخوا او امتيازاتو ته ګوري، خو دا شی په اوږدمهال کې ستونزه جوړوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د دي پر ځای زه ځوانانو ته دا سلا ورکوم: داسې دنده پیدا کړئ چې له تنخوا پکې زده کړه ډېره وي. هر مسلک چې خپلوئ، په تلک کې له نښتو وراندې یو ځل ښه فکر وکړئ، نظر ترې لرې وځغلوئ او پرېکړه وکړئ چې د فلانۍ دندې او مسلک لپاره کومه پوهه او مهارتونه اړین دي.

انسان چې یو ځل د تنخوا اخیستو او لګښتونو ورکولو دې منډې (د موږکانو) تلک ته ولوېده، نو ټول عمر به پورونه خلاصوئ او هغه حیواناتو ته به ورته یئ چې په یوه څرخ کې دننه منډه وهي او مزل نه کېږي. دوی چې څومره منډه تېزوي هومره ورسره څرخ هم تېز تاوېږي، خو مزل نه کوي، ځای په ځای پاتې وي، سبا چې بیا ورځ شي، دوی په هماغه پنجره ډوله څرخ کې وي او منډې پکې وهي.

د ټام کروز (Jerry Maguire) فلم ډېرې ښې وړې مکالمې لري، تر ټولو جالبه یې دا ده: (پیسې را وښیه!) خو یو ځای پکې داسې دی چې بیخي رښتینی حالت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library


ښيي. صحنه داسې وي چې ټـام کـروز لـه دنـدې شـړل کېږي، دا خپلو همکارانو ته وايي: (څوک راسره ځي؟) ټـول خلـک گـونگي ولاړ وي. يـوازې يـوه ښـځه را ولاړېـږي وايـي: (زه درسره ځمـه، خـو درې مياشـتې وروسـته مـې ترفيـع ده.) پـه ټـول فلـم کـې ښـايي دا رښـتينې خبـره وي، همـدې خبـرې خلـک بوخـت کـړي وي او دولـت تـه غوښـن ماليات ورکوي.

زه پـوهېږم چې زمـا لوستی پـلار هـر کـال ترفيـع تـه پـه تمه و او هـر کـال بـه نهيلـی کېـده. بيـا بـه يـې د يـوه مهـارت زده کولـو لپـاره پـه يـوه ښـوونيز مرکـز کـې داخلـه وکـړه، پـه دې توگـه بـه يـې تنخـوا لوړېـده، خـو هـر ځـل بـه نـوې نهيلـی سره مخامخ کېده.

زه لـه زيـاتره خلکـو دا پوښـتنه کـوم چـې: (دا ورځنـي کـار مـو تاسـې چېـرې بيـايي؟) دا بيخـي هغـه واړه مـوږک تـه ورتـه ده چـې پـه ټـاير کـې تـاوېږي او منـډې وهـي. زه حيـران يـم، دا خلـک نـه گـوري چـې ورځنـی کـار دوی يـو ځـای تـه هـم نـه رسـوي او هېڅـوک نـه پـوهېږي چـې راتلونکي کې به څه کېږي؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



سـيريل (بريکفلـډ) د امريکـا د متقاعـدو د ټـولنې پخـوانی مشر- وايـي چـې: (د سرکـاري تقاعـد اخيسـتونکو حالـت خـراب دی، لـومړی دا چـې نـيم خلـک لـه دنـدې وروسـته تقاعـد نـه لـري، دا ډېـره سـتونزه جـوړوي او پـاتې نيمـو کـې بيـا لـه ۷۰ تـر ۸۰ سـلنه خلـک د تقاعـد نـاڅيزه امتيـاز لـري، يانې د مياشتې ۵۵، ۱۵۰ يا ۳۰۰ ډالر وي.

کريـګ ايـس کارپـل پـه خپـل کتـاب (The Retirement Myth) کې ليکي:

(مـا د متقاعـدو مـامورينو ټولنـه او د هغـوی مشـورتي دفـتر وليـده او مشر- سره يـې وغږيـدم، دوی لوړپـوړو چـارواکو تـه د تقاعـد پلانونـه جـوړول، مـا تـرې پوښـتنه وکـړه: چـې لوړپـوړو چـارواکو تـه لـه تقاعـد وروسـته څـومره تنخـوا ورکوئ؟

هغه ووېل: د سپينو زرو مرمۍ

ما پوښتنه وکړه: د سپينو زرو مرمۍ؟ دا څه شی دي؟

هغـه اوږې پورتـه واچـولې وې ويل:(کـه دا خلـک پـوه شي چې په تېر عمر به د ژونـد کولـو لپاره پيسـې ونـه لـري؛ نـو کولای شي چې ځان يو ډز وولي او مړه شي.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کارپـل راتـه بیـا د تقاعـد د امتیـازاتو د زړې برنـامې او نـوې ۴۰۱k تـر مـنځ تـوپیر وښـوده، وې ویـل: (د اوسـني کارمنـدانو برخلیـک دومـره هیلـه‌من نـه دی، دا خـبرې د هغـو پـه اړه دي چـې د خـدمت مـوده یـې پـوره کـړې ده. ددې تـر څنـګ کـه ورسره د ډاکټرانـو اوږدې نسـخې او د نرسـانو معاوضـه راتولـه شي، نـو انسـان وېرونکـی منظـر جوړوي.)

د ۱۹۹۵ز کـال پـه کتـاب کـې یـې لـیکلي دي چـې: (د نرسـنګ کلنـی لګښـت لـه ۳۰۰۰۰ تـر ۱۲۵۰۰۰ ډالـره دی.) د خپلـې سـیمې د نرسـنګ مرکـز تـه چـې لاړ او د لګښـتونو پوښـتنه یـې وکـړه هغـوی ورتـه وویـل چـې کلنـی فیس یې ۸۸۰۰۰ ډالر و او دا د ۱۹۹۵ ز کال خبره ده.

پـه زیـاتره هېوادونـو کـې سوسیالیسـتي نظـام وي. هلتـه دا پرېکـړې پـه روغتونونـو کـې کېـږي چـې څـوک ژونـد کـولای شي او څـوک نـه؟ دا پرېکـړه ددې لـه مخکـې کېـږي چـې د نـاروغ عمـر څـومره دی او څـومره پیسـې لـري. کـه نـاروغ زوړ وي، نـو طبـي مراقبتونـه زیـاتره وخـت یـوه ځـوان تـه ورکـوي، زوړ او بېوزلـه نـاروغ بایـد پـه تمـه پـاتې شي. نـو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



څومره چې شتمن انسان د زده کړو او مهارتونو لاس ته راوړلو وړتيا لري، دومره به دا وړتيا هم ولري چې ځان ژوندی وساتي، خو څوک چې لږې پيسې لري هغوی به مري.

زه اوس حيران يم چې کارکوونکي ولې د راتلونکي فکر کوي او يوازې تنخوا ته په تمه وي، کله يې له ځانه دا پوښتنه کړې ده چې دوی چېرې روان دي؟

کوم ځوانان چې غواړي شتمن شي زه ورته وايم چې: خپل ژوند ته وګورئ او د پيسو لپاره اسانه او په احتياط کار وکړئ، دا خبره مهمه ده. وړانديز ورته کوم چې يو بل دويم کار دې ولري او مهارتونه دې پکې زده کړي.

زه ورته وايم چې د شبکه يي بازار موندنې شرکت سره دې يو ځای شي، دا شی (مولتي ليول مارکيټينګ) هم بولي. که دوی د خرڅلاو فن کوي، ځينې شرکتونه يې ورته ښه ښوولای شي. په دې توګه به رد کېدو او ناکامېدو وېره هم ترې ووځي، دا وېره د بريا په لاره تر ټولو ستر خنډ دی، البته په اوږدمهال کې زده کړې تر پيسو ډېر ارزښت لري.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه چې دا مشورې ورکوم زیاتره خلک وایي چې: (اوه! دا خو سخت کار دی، زه یوازې هغه کوم چې ماته خوند راکوي.)

دوی چې وایي کار سخت دی، زه ترې پوښتنه کوم: (ښه نو ته غواړې ټول عمر کار وکړې او نیم عاید دې دولت ته ورکړې؟)

د دویمې خبرې په اړه یې وایم: (زما ورزش نه خوښیږي، خو ددې لپاره یې کوم چې صحت مې ورسره ښه وي.)

له بده مرغه دا تر څو چې انسان خپله په ځان کې د بدلون اراده ونه کړي، هېڅوک یې نشي بدلولای.

په تاسې کې به داسې خلک وي چې کار به د زده کړې لپاره کوي او دا فکر به ورسره وي، هغوی ته مې مشوره دا ده چې ژوند داسې دی لکه څوک چې ورزش لپاره لوبغالي ته ځي. سخت کار پرېکړه ده. دا کار چې وشو بیا اسانه کېږي. زیاتره وخت زما جیم ته بیخي زړه نه کېږي، خو چې ورشم او ورزش وکړم، تازه شم ورسره،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



تمرین چې خلاص کړم، ځانته وایم: (هره ورځ ورزش کوه!)

که تاسې په کار کې نوی شی نه زده کوئ او بیا هم غواړئ چې په خپله اداره کې مسلکي کارمند شئ؛ نو بیا د همدې شرکت د کارمندانو ټولنې ته ورشئ، ځکه دا ټولنې د مسلکي خلکو ملاتړ کوي.

زما لوستي پلار چې والي سره شخړه وکړه، په هوایي کې د ښوونکو د ټولنې مشر شو. ماته یې وویل چې دا ډېر سخت کار و، ددې برعکس شتمن پلار هڅه کوله چې په شرکتونو کې ټولنې یا اتحادیې رامنځته نه شي او په دې کې بریالی هم شو.

زه خپله دې مسله کې بې طرفه یم. که تاسې داسې کوی لکه خلک یې چې وایي او په مسلک پسې ګرځې، نو بیا په ټولنو کې ځان خوندي کړه. مثلاً که ما الوتکه چلولای، نو هغه شرکت سره به مې کار کولای چې د پیلوټانو ټولنه پکې قوي وی، ولې؟ ځکه ما په ټول ژوند کې دا یو مسلک زده کړی و او هغه په همدې ځای کې پکاریده. که زه له دې صنعته وتی وی، په بل مسلک



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې چا کار هم نه راکاوه. پیلوټ چې سل زره ساعته پرواز وکړي تقاعد کېږي او کلنۍ عاید به یې یونیم سل زره ډالر وي، په نورو دندو کې دومره تنخوا په اسانه نه پیدا کېږي. ځکه مهارتونه له یوه صنعته بل ته نه لېږل کېږي، ځکه زه پیلوټ یم، الوتکه چلولای شي، خو زما همدا مسلک او مهارت بیا په قضا او قانون کې بې گټې دي.

ډاکټران هم همداسې درواخله. په طب کې دومره بدلونونه راغي چې ډاکټران مجبور دي ځانونه طبي اتحادیو سره راجستر کړي. ښوونکي باید خپلې ټولنې او اتحادیې ولري. نن په امریکا کې د ښوونکو اتحادیه د کاریگرو تر ټولو قوي او شتمنه اتحادیه ده. ملي ښوونیزه ټولنه NEA ملي څېړنیزه ټولنه ده او سیاسي نفوذ لري. ښوونکي د خپلو اتحادیو ملاتړ ته اړتیا لري، ځکه د دوی مهارتونه هم له تعلیمي سکتور پرته، په نورو برخو کې لږ ارزښت لري. نو د بریا یوه لاره دا ده: (په یوه برخه کې تخصص کول او بیا د ټولنې غړی کېدل) دا هوښیاري ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه چې کومې ډلې ته درس ورکوم، زیاتره وخت تري پوښتنه کوم چې: (تاسې کې څوک تر مکډونالډ ښه برگر پخولای شي؟)

ډېر خلک گوتې جيگوي، بيا تري پوښتنه کوم چې تاسې ولې هغومره مشهور نه شوئ؟

ددې اصلي لامل دا دی چې له مکډونالډ ښه برگر هر څوک پخولای شي، خو تر هغوی يې ښه پلورلای نه شي.

زما يو ملگری په هاوايي ايالت کې ستر هنرمند دی او ښه عايد لري. يوه ورځ يې د مور وکيل ورته زنگ وواهه او ورته يې وويل چې مور دې درته دېرش زره ډالر په ميراث کې پرېښې دي. له دې پيسو ماليه او د وکيل فيس هم اخيستل شوی، ياني خالصې پيسې پاتې وې. سړي له فرصت څخه گټه واخيسته او د خپل هنر د بازارموندنې لپاره يې هغه پيسې وکارولې. دوه مياشتې وروسته يې په يوه مجله کې يوه پاڼه اعلان شوه، دا مجله د شتمنو خلکو ډېره خوښېده. دا اعلان درې مياشتې په مجله کې خپرېده، خو هېڅ ځواب يې ونه


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لیــده، پــه دې توګــه یــې ټــول میــراث لاړ، ده غوښــتل چــې په مجلې، د اعلان د ناسم نشر له امله عریضه وکړي.

دا د داســې انســان ښــه مثــال دی چــې برګــر پخــولای شي، خــو پــه کاروبــار ســم نــه پــوهېږي. ملګــري مــې وپوښــت چــې لــه دې کــاره دې څــه درس واخیســـت؟ وې ویــل: (چــې تبلیغــاتي اداري هســې ټګــي کــوي.) مــا ورتــه وویــل کــه کــولای شــې د بازارمونــدنې او خــرڅلاو ټولګیــو تــه لاړ شــه. وې ویــل: (وخــت نشــته او پــه دې عبــث شــیانو پیســې نــه لګوم.)

دنیــا لــه غریبــو، خــو بااســتعداده خلکــو ډکــه ده. دوی زیــاتره وخــت غریــب وي یــا مــالي ســتونزې لــري یــا دا چــې تــر خپــل لیاقــت ټیــټ عایــد لــري. ددې لامــل هغــه شــی نــه دی چــې دا پــرې پــوهېږي، بــل لامــل یــې هغــه دی چــې دی پــرې نــه پــوهېږي. دوی خپــل ټــول مهــارت پــه ښــه برګــر جوړولــو لګــوي، خــو د رســولو او خــرڅلاو مهــارت یــې نــه لــري. پــه دې خــاطر د مکډونالــډ ټیــټ کیفیتــه برګــر لاس پــه لاس خرڅېږي، خو د نورو ښه برګر سوړ پروت وي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زما نېستمن پلار غوښتل چې زه متخصص شم او له دې اړخه يې را کتل چې ډېره تنخوا ځنګه واخلم. ان والي ورته وويل چې ته نور دلته کار نشې کولای، خو بيا يې هم د يوه مسلک ترلاسه کولو لپاره هڅه کوله. بيا د ښوونکو ټولنې ته لاړ او بيا يې د خپل مسلک او تجربو د لا ډېر امتياز ترلاسه کولو لپاره مبارزه پيل کړه.

موږ به زياتره خپلو کې بحثونه کول، خو پوهېدم چې هغه دې ته نه قانع کېده چې مسلک بلاخره انسان په اتحاديې تکيه کوي. هغه په دې نه پوهېده چې څومره يو انسان ډېر متخصص کېږي، هومره د ټولنو او اتحاديو په دام کې ډېر نښلي او پرې تکيه کېږي.

شتمن پلار به ما او مايک ته ويل چې ځانونه چمتو کړئ. زياتره شرکتونه پوهنتونو ته ځي، هلته تکړه شاګردان انتخابوي، هغوی ته روزنه ورکوي او پام ورته کوي چې يوه ورځ د يوه شرکت مشر شي، خو دا نوی کارمند يوازې يوه برخه کې کار نه کوي، له يوې برخې يې بلې ته وړي چې کارونه زده کړي، شتمن خلک زياتره وخت خپل او د نورو خلکو بچي چمتو کوي. په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دې توګه يې بچې له کارونو او اداري اړيکو په برخه کې لا ډېر پوهېږي.

د دويمې نړيوالې جګړې د نسل په نظر له يوه شرکته بل ته تګ ښه نه و، خو نن سبا دا موضوع ځيرکتيا ده. خلک له يوه شرکته بل ته د کار او مسلک لپاره ورځي، ولې د ډېرو ګټو او امتيازاتو لپاره نه ځي؟

دا په دې چې بل شرکت ښايي اوس لږ امتياز درکړي، خو په راتلونکي کې به درته ډېره زياته ګټه در ورسوي.

د بريا لپاره لاندې اداري مهارتونه اړين دي:

1. د عايد مديريت
2. د سيستمونو مديريت
3. د افرادو مديريت

تر ټولو مهم مهارتونه د خرڅلاو او بازارموندنې دي. د خرڅلاو قوت نورو خلکو سره د اړيکو په مهارت ولاړ دی، دا خلک ښايي پېرودونکي، کارکوونکي، مشران، ښځه، خاوند، زوی يا لور وي. دا بريا اساسي مهارتونه دي. د اړيکو مهارتونه لکه ليکل، خبرې او مفاهمه، ژوند کې د بريا لپاره ډېر زيات مهم دي. زه دې مهارت ته ډېر زيات

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پـام کـوم، پـه دې خـاطر زه نـن هـم کورسـونه اخلـم او د ځان پوهولو لپاره يې کتابونه او کيسې اخلم.

لکـه مخکـې مـې چـې وويـل لوسـتي پـلار بـه مـې چـې څومره ډېر کـار کـاوه، پـه کـار بـه يـې ډېـر متخصـص او تکـړه کېـده او معلومـات بـه يـې پکـې زياتېـدل، خـو همـدومره بـه پـه دام کـې هـم نښـته. تنخـوا يـې زياتـه شـوه، خـو ژونـد يـې محـدود، بـې خونـده او خسـته کـن و. لـه دولتـي دنـدې چـې لـرې شـو، پـوه شـو، چـې دا لـه مسـلکي پلـوه څـومره ناخونـدي و. مشـهور سـتوري او لوبغـاړي چـې زاړه يـا ناروغـه شي او لـه ميدانـه ووځـي، نـو بيا يـې هغـه محبوبيـت او مشـهورتيا او امتيـازات نـه وي، دا هـر څـه د تېـر وخـت کيسـه شي. بلـه دا چـې دوی پـه بـل کسـب و مسـلک هـم نـه پوهېږي چـې کـار پکـې وکـړي. زه فکـر کـوم همـدا لامـل بـه و چـې زمـا لوسـتي پـلار لـه تقاعـد وروسـته دسـتي اتحـاديې تـه مخـه کـړه او ځـان يـې پکـې بوخـت کـړ، اوس پوه شو چې دا اتحاديه يې څنگه لاسنيوی کولای شي.

شـتمن پـلار بـه زه او مايـک هڅولـو چـې پـه هـر څـه کـې لږ لږ پـوه شـو. راتـه يـې ويـل چـې تـر څـان تکـړه خلـک راټـول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړئ او يو تيم تري جوړ کړئ. نن سبا دا چاره د (مسلکي مهارتونو ترکيب) بولي.

زه نن سبا د ښوونځيو داسې ښوونکو سره مخ کېږم چې هر کال سلګونه زره ډالره عايد ترلاسه کوي او دا ګټه ځکه کوي چې له مسلک بهر په نورو چارو هم پوهېږي. په دې چارو کې دوی دومره تکړه وي چې درس هم پکې ورکولای شي، پلورونکيتوب هم کولی شي او په بازار يې هم سر خلاصېږي. په خرڅلاو او بازار موندنه کې زياتره خلک له «رد» کېدو وېرېږي، خو ستاسې اړيکې چې څومره پراخېږي، هومره به په سوداګانو کې تکړه کېږئ او دا وېره به مو له زړه وځي چې څوک به مو ګني هسې وځوروي. ژوند کې به مو آساني راشي.

لکه مخکې مې چې وويل هغې جينۍ غوښتل چې د ډېر پلورل شوي کتاب ليکواله شي، خو ما ورته وويل چې پلورونکيتوب زده کړه. زه نن هم وايم. تاسې له مسلکي پلوه يوازې تر يوه مسلکه محدود شئ؛ نو ګټه او زيان دواړه لري. زما ځينې ملګري په نورو چارو کې نابغه ګان دي، خو نورو سره اړيکې نه شي جوړولای او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



له دې املـه يـې عايـد ډېـر ټيـټ دی. زه ورتـه وايـم چـې يـو کـال وخـت دې مهـارت تـه ورکـړئ، ان کـه پيسـې مـو پکـې ونـه ګټلـې، نـو د اړيکـو جوړولـو مهـارت خـو بـه مـو پيـاوړی شي او دا خپله ګټه ده.

د ښـو پلورونکـو او بازارمونـدونکو تـر څنـګ بايـد مـوږ ښـه ښـوونکي او زده کـوونکي هـم شـو. کـه غـواړو چـې ربښـتيا شـتمن شـو، پـه راکـړه ورکـړه بايـد پـوه شـو او د مـالي ستونزې لـوی لامـل دا دی چـې مـوږ پـه راکـړه ورکـړه نـه پـوهېږو، ډېـر خلـک لـه دې املـه غريـب دي چـې نـه ښـه ښوونکي دي او نه زده کوونکي.

زمـا دواړه پلرونـه سـخي خلـک وو. دواړه پـه دې نظـر وو چـې لـومړی بايـد د ورکـړې او بخشـش قـوت ولـرو، مـثلاً ښـوونه يـا درس ورکولـو د ورکـړې يـا بخشـش يـوه لاره ده. دوی چـې څـومره ښـوونه کـړې تـر ډېـره يـې زده کـړه کـړې ده. يـوازې د پيسـو پـه برخـه کـې يـې اخـتلاف درلـود. شـتمن بـه ډېـرې پيسـې ورکـولې، چنـدې او صـدقې بـه يـې کـولې. هغـه پوهېـدو چـې د پيسـو ترلاسـه کولـو لپـاره بايـد پيسـې ورکـړل شي. د ډېـرو شـتمنيو کورنيـو د شـتمنۍ راز

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا دی چې سخاوت کوی، په همدې خاطر د (راک فیلر) او (فورډ) په څېر خیریه بنسټونه رامنځته شوي دي. دا اداري ددې لپاره جوړې شوې چې شتمني را واخلي او زیاته یې کړي او په نړۍ کې یې نوم ژوندی وي.

لوستي پلار به مې تل ویل: (له ما چې پیسې زیاتې شوې، وبه یې وېشم.) خو ستونزه دا وه چې پیسې نه زیاتېدې. ده د پیسو ګټلو لپاره ډېر کار کاوه، خو دې زرین اصل ته یې نه کتل چې: (پیسې ورکړه، چې پیسې ترلاسه کړې.) دی په دې باور و چې: (پیسې دې راشي، چې ور یې کړم.)

لنډه دا چې زه دواړو پلرونو ته ورته یم. یو اړخ مې دا دی چې پوخ پانګوال یم او د پیسو ګټلو لوبه مې خوښېږي. بل اړخ مې بیا د یوه ښوونکي دی چې ځان په ټولنه کې مسئول احساسوي او د شتمن او غریب ترمنځ واټن ته یې اندېښنه وي. زه په دې باور یم چې ددې واټن د زیاتېدو اصلي لامل زموږ زوړ ښوونیز سیستم دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# اووم څپرکی

## خندونه لرې کول

انسان به زده کړې هم وکړي او مالي پوهه به هم پيدا کړي، خو د مالي استقلال په لاره کې ښايي بيا هم له ځينو ستونزو او خنډونو سره مخ شي. د پنځو دلايلو په اساس مالي لوستي خلک لا هم داسې قوي شتمني نشي- را ټولولای چې لوړ عايد ورته ولري، هغه دلايل دا دي:

۱) ويره

۲) بدبيني

۳) لټي

٤) بد خويي

۵) غرور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۱-په وېرې برلاسي کېدل

ما داسې څوک نه دي ليدلي چې د پيسو بايلل يې خوښېږي. په ژوند کې مې داسې شتمن لا نه دي ليدلی چې پيسې به يې نه وي بايللې، خو ډېر داسې غريب خلک مې ليدلي چې حتی يو غيران يې نه دی بايللی.

د پيسو د بايللو وېره شته او په هر چا کې شته، شتمن هم دا وېره لري، خو خبره د وېرې نه ده، اصلي خبره دا ده چې دې وېرې سره مبارزه څنګه وشي؟ او ناکامي څنګه وزغمل شي؟ ناکامي زغمل په ژوند کې د لويو بدلونونو اصلي لامل دی، خو دا خبره نه يوازې په پيسو، بلکې د ژوند په هره برخه کې صدق کولای شي. د پيسو په برخه کې وېره مهمه ځکه نه ده چې بېرته يې ګټلای شئ. موږ ټول په ځينو برخو کې زړور او په ځينو کې بې زړه يو. زما د يوه ملګري مېرمن د روغتون په بېړنۍ خونه کې نرسه ده. دا ښځه چې وينه وګوري دستي لاس په کار شي، خو زه چې ورته د سوداګرۍ او پانګوونې ووايم، نو پښې يې سستې شي، خو زه چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وینه وګورم، پښې سستېدل خو لا پرېږده، دستي را غورځېږم.

شتمن پلار د پیسو په وېره پوهېده، ماته به یې ویل:

(ځینې خلک له مارانو وېرېږي، ځینې د پیسو د بایللو په وېره اخته وي، دواړه د وېرې ډولونه دي.)

او بیا به یې وېرې سره د مبارزې لپاره دا خبره کوله:

(که له وېرې او اندېښنې کرکه لرې، زر پیل وکړه.)

په دې خاطر بانکونه تل وایي چې په ځوانۍ کې سپما پیل کړئ، ځکه که ځوانۍ کې مو پیل کړه، شتمنېدل مو اسانه دي. زه نه غواړم دې موضوع ته ننوځم، خو چا چې په شل کلنۍ کې سپما پیل کړې وي، له هغو سره ډېر توپیر لري چې په دېرش کلنۍ کې یې پیل کړې وي.

په (منهاټن) ټاپو کې جایداد اخیستل د خپل وخت تر ټولو ښه سودا ده. نیویارک د ۲۴ ډالره ارزښت لرونکو غمیو اخیستل شوی دی او دغه ۲۴ ډالر په ۱۹۹۵ز کال کې ۲۸ ټرېلیونه ډالره شول. په دې پیسو اوس منهاټن ټاپو پېرل کېږي او دومره پیسې ترې پاتې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کېږي چې د لاس انجلس ځینې سیمې هم پېږي، خصوصاً د ۱۹۹۵ز کال په بیو. زما یو گاونډی د کمپیوټرو په یوه لوی شرکت کې کار کوي. له ۲۵ کالو را په دې خوا همدلته بوخت دی، ۵ کاله وروسته یې ماموریت ختمېږي او د ۴۰۱k تقاعد له مخې به ورته تقریباً څلور میلیونه ډالر ټول شوي وي. دا پانګوونه زیاتره په ګډې پانګې (میوچول فنډز) کېږي او وروسته به یې بیا دا په بانډونو او دولتي مالي اسنادو اړوي. دا سړی چې دنده پرېږدي عمر به یې ۵۵ کاله وي، که په کور هم کښېني هر کال به ډېرش زره ډالره عاید لري او دا پیسې به یې له تنخوا ډېرې وي او دا کار له پانګوونې پر وړې سربېره هم کېږي.

خو دا په هغه صورت کې کېږي چې تاسې «زر پیل» وکړئ، په ځوانۍ کې سپما پیل کړئ، د تقاعد په پلان کار وکړئ او ددې لپاره به ښه دا وي چې یوه مجرب مالي پلان جوړوونکي سره مشوره وکړئ او د پانګوونې په برخه کې ترې لارښوونه وغواړئ. خو که چېرې درسره



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وخت نه وي او تقاعد مو را نږدې وي بيا به څه کوئ؟
بيا به د پيسو په وېره ځنګه برلاسي کېږئ؟
زما نېستمن پلار هېڅ ونه کړل، بس په دې موضوع يې خاورې واړولې او خبرې يې هم پرې نه کولې.
شتمن پلار به بيا ويل چې زه د تکزاس (Texas) د خلکو په څېر فکر کوم، تل به يې ويل: (زما تکزاس او د تکزاس خلک ډېر خوښېږي د تکزاس هر څه لوی دي. ګټه يې هم لويه وي او بايلات يې هم د ليدو وي.)
ما پوښتنه وکړه: (بايلات يې خوښېږي؟)
وې ويل: (نه هدف مې دا نه و. ماته او بايلات د هېچا نه خوښېږي، په بايلات هېڅوک نه خوشالېږي. زه د ماتې او بريا په اړه د تکزاس د خلکو په فکر او زغم غږېږم. موضوع دا ده چې ژوند ځنګه کنټرولوي. دوی لوی ژوند کوي. د هغوی خلکو ژوند ددې ځای له خلکو سره توپير لري، زموږ خلک د پيسو په موضوع کې بيخي وړوکی زړه لري، په بازار کې چې دوکاندار يو غيران کم ورکړي، دستي ورسره شخړه کوي.)
شتمن پلار خبره وغځوله:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



(د تکزاس د خلکو مې دا کار خوښېږي چې ويې گټي وياړي او چې ويې بايلي غړی دنگه وړي. دوی وايي: (که ماته خوري، هم لويه وخوره.) دا خلک وړه ماته هم نه خوښوي.

شتمن پلار به تل ما او مايک ته ويل: (د زياتره خلکو د اقتصادي وروسته پاتي لامل دا دی چې ډېر احتياط کوي او ماته ځکه خوري چې له ماتې وېرېږي.)

فران تارکنتون (Fran Tarkenton) په امريکا کې د باسکېټبال مشهور لوبغاړی و، دی وايي: (بريا دا ده چې له ماتې ونه وېرېږې.)

ما ژوند کې ليدلي چې زياتره برياوې په ماتو پسې وي. له بايسکل زده کولو مخکې څو ځله لوېدلی يم. د کرکېټ داسې لوبغاړی مې نه دی ليدلی چې په صفر سوځېدلی نه وي، داسې لوبډله نشته چې لوبه يې نه وي بايللې. داسې مئين مې نه دی ليدلی چې زړه يې نه وي مات شوی، همدارنگه مې داسې شتمن نه دی ليدلی چې پيسې يې نه وي تاوان کړې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



نو زیاتره خلک په دې خاطر نه مالداره کېږي چې د پیسو بایللو د وېرې درد یې د پیسو گټلو له خونده ډېر وي. تکزاسیان یو بل متل لري: «جنت ټول غواړي، خو مرگ هېڅوک نه قبلوي.»

شتمن پلار به ما او مایک ته د تکزاس د سفر کیسې کولې ویل به یې چې: (که تاسې رښتیا غواړئ چې د ماتې او بریا په اړه د تکزاس د خلکو په ذهنیت پوه شی؛ نو سین انتوینو ته لاړ شئ او الامو (Alamo) وگورئ. دا د هغو اتلانو کیسه ده چې ښه پوهېدل چې د گټلو امکان نشته، خو بیا یې هم مبارزه کوله. دوی مرگ ومانه، خو تسلیم نه شول. دا ډېره غمجنه کیسه او په زړه پورې سبق دی، خو تراوسه پورې یوه غمجنه پوځي کیسه گڼل کېږي. دوی ماته وخوړه، خو اوس هم چې د تکزاس خلک ماتې سره مخ کېږي، نو دا غږ کوي چې: (الامو را یاد کړئ!)

ما او مایک څو څو ځله دا کیسه اورېدلې وه، هغه به چې هر وخت کوم لوی کار یا سودا کوله او په زړه کې به یې وېره وه؛ نو ما او مایک ته به یې دا کیسه کوله.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



بیا به یې چې ډېر زیار وویسته او کار یا سودا به ختمه شوه، هم دا کیسه به یې کوله. بیا به چې له ماتې یا د پیسو له تاوانه وېرېده بېرته به یې همدا کیسه راته کوله، دې کیسې به ورته قوت ورکاوه او دا به یې وریادوله چې مالي ماتې تل په مالي بریاوو بدلېدای شي. دی پوهېده چې ماته یې قوي او هوښیاروي. هغه ماته نه غوښته، خو پوهېده داسې یو شی شته چې دا ماته په بریا بدلولای شي. په همدې خاطر دا بریالی او نور ناکام وو. دې کار شتمن پلار ته د خطر منلو او له خطره د اوښتو زړه ورکړی و.

تل به یې ویل: (تکزاسیان مې په دې خوښ دي چې لویه ماته یې د توریزم (گرځندوی) په فرصت بدله کړه او میلیونونه ډالره گټه عاید ترې لري.) تکزاسیان په خپلو ماتې خاورې نه اړوي، «انگېزه» ترې جوړوي، سبق ترې اخلي، دوی په خپلو ماتو کار کوي، هر ځای کې یې نعره پورته کوي. تکزاسیانو ته ماته د بریا انگېزه ورکوي، خو دا خبره یوازې تر هغوی محدوده نه ده، بلکې د ټولو بریالیو خلکو همدا فورمول او پالیسي ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



مخکې مې وويل چې له بايسکل غورځېدل، د زده کړې يوه برخه ده. زما يادېږي چې يو ځل به ولوېدم اراده به مې لا پياوړې شوه او بيا به مې ويل چې اوس خو به يې حتماً زده کوم. ومې ويل چې په کرکېټ کې به داسې لوبغاړی نه وي چې په صفر نه وي سوځېدلی، خو يو ځل په صفر سوځېدل هغه ته دا انگېزه ورکوي چې ښه تمرين وکړي، توپ ته ښه ځير شي او په مناسب وخت کې مناسب شاټ وهي، دا ټول د برې وسايل دي. برياليو خلکو ته دا ماتې د «ساه» حيثيت لري، خو ناکام خلک چې ماته وخوري، نو لاس تر زنې کېني.

جون. ډي. راک‌فيلر وايي: (زه تل هڅه کوم چې ناکامي د بريا په فرصت بدله کړم.)

ډېر خلک وايي چې د پېرل بندر (Pearl Harbor) پېښه د امريکا تېروتنه وه، خو زه د (جاپاني الاصله امريکايي) په توگه وايم چې دا د جاپانيانو تېروتنه وه. په (Tora, Tora, Tora) فلم کې د بحري ځواکونو جدي قومندان خپلو خوشاله سرتېرو ته وايي: (زما دا انديښنه ده ويده ښامار مو لکه چې راويښ کړ.) د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



(پیرل بندر رایاد کړه) نعره دردوونکې ده. خو دې د امریکا یوه لویه ماته په یوه فرصت او انګېزې بدله کړه او امریکا ډېر زر په نړۍ کې زبرځواک شو. ماته بریالیو خلکو ته انګېزه ورکوي او ناکام خلک ماتوي. د بریالیو خلکو په همدې ستر راز ناکام خلک نه پوهېږي. د بریالیو خلکو ستر راز دا دی چې ماته یې هڅوي او انګېزه ورکوي، په دې خاطر له ماتې هم نه وېرېږي. د فران تارکنتون خبره بیا تکراروم: (بریا دا ده چې له ماتې ونه وېرېږو.) داسې خلک له ماتې نه ورېږي، ځکه خپل ځان پېژني. دوی له ماتې کرکه لري، خو په دې پوهېږي چې ماته به ورته د بریا فرصت هم ورکړي. له ماتې کرکه او له ماتې وېره توپیر لري. زیاتره خلک پیسې په دې خاطر بایلي چې له بایللو یې وېرېږي. دوی له مالي پلوه ډېر احتیاط کوي، د پیسو بندولو لپاره لوی کورونو او موټرې اخلي، خو اصلاً لویه پانګوونه نه کوي. زموږ ۹۰ سلنه خلک چې بېوزله دي، لامل یې دا دی چې دوی د (نه بایللو) لپاره لوبه کوي، نه د (ګټلو) لپاره.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دوی مالي پلان جوړوونکو، حسابدارانو او د ونډو کمېشن کارانو ته مراجعه کوي، ثابتې او متعادلې ونډې پېري، خو زیاتره پیسې یې په بانکونو کې پرتې وي یا پرې ځینې تضمین لیکونه او نور مالي اسناد پېري، دا به ګټه لري، ښه ډاډه او منطقي پانګوونه به وي، خو د لويې ګټې پانګوونه په هېڅ صورت نه ده. دا هماغه کیسه ده لکه سړی چې د (نه بایللو) لپاره لوبه کوي.

زما خبره ناسمه وانخلئ، ځکه دا پانګوونه له هغه ٪۷۰ خلکو ډېره ښه ده چې بیخي پانګوونه نه کوي یا پرې نه پوهېږي. ځکه محتاطه پانګوونه له (نه پانګوونې) ډېره ښه ده. دا پانګوونه هغو ته ښه ده چې خوندیتوب یې خوښېږي او خطر نه مني، خو په احتیاط لوبېدل او پانګوال شویو پیسو کې زیاتوالی نه راتلل، هم د بریالیو پانګوالو طریقه نه ده. که پیسې درسره لږې وي او غواړئ شتمن شئ؛ نو لومړی باید د (تعادل) پر ځای (تمرکز) وکړئ. بریالي خلک وګورئ، په پیل کې متعادل نه وو. متعادل خلک پرمختګ نه کوي، ځای په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځای ولاړ وي. د بريا لپاره بايد لومړی نامتعادل شو او گام په گام بايد د خپل کړي مزل ځرنگوالي ته وگورو.

توماس اېډيسن متعادل نه و، متمرکز و. بيل گېټس او ډونالډ ټرمپ همداسې در واخلئ. جارج سوروس متمرکز و. جورج پاتين خپل ټانکونه ونه شيندل، سره را ټول يې کړل او د المان د ضعف په ټکو يې بريدونه وکړل. فرانسويانو د ميگي نات جگړې په لومړی کرښې پراخه بريد وکړ او ښه پوهېږئ چې څه وشو.

که غواړئ شتمن شئ، نو لومړيتوبونه بايد وټاکئ او پام وکړئ چې (ټولې هگۍ په يوې ټوکرۍ کې کېږدئ) د ټيټې او منځنۍ طبقې د خلکو غوندې مه کوئ، هغوی په بېلابېلو ټوکريو کې لږې لږې هگۍ ږدي. که له ماتې کرکه لرئ، احتياط کوئ. که ماته مو کمزوري کوي؛ نو په احتياط ولوبېږئ او متعادلې پانگوونې وکړئ. که عمر مو له پنځه ويشتو کالو زيات وي او بيا هم له خطره وېرېږئ؛ نو لاره مو بدله کړئ، په احتياط ولوبېږئ، خو زر يې پيل کړئ. خپله لومړنی سپما زر پيل کړئ، ځکه عمر تېرېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خو که د ازادۍ او د مور له منډو ترړو د وتلو خوبونه ګورئ، نو لومړی له ځانه دا پوښتنه وکړئ چې: (ماتې ته به څنګه غبرګون ښيیم؟) که ماته د بريا انګېزه درکوي، نو ښايي ښه به دا وي چې مخ ته لاړ شئ، خو يوازې (ښايي) که ماته مو کمزوري کوي او د ناکامۍ لامل مو کېږي، نو بيا درته احتياط ښه دی. خپله ورځنۍ دنده کوئ او ځينې ونډې وپېرئ، خو پام کوئ چې په دې کې هم خطر شته، ان که هر څومره خوندي هم وي.

زه درته د تکزاس او نورو کیسې ځکه کوم چې د شتمنيو ستون ډکول اسانه دي، دا لوبه اسانه ده، وړتيا به لږه غواړي، خو زده کړې نه غواړي، ان د ښوونځي په اسانه رياضۍ هم دا کار کولای شئ. خو د شتمنيو قوي ستون بيا داسې لوبه ده چې ذهنيت پکې لويه ونډه لري. ناکام خلک له ماتو تښتي او ماته بريالي خلک ګټونکي کوي. د (الامو) کيسه تل يادوئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۲-په بدبینۍ برلاسي کېدل

د یوه چرګوړي په اړه حکایت کې راځي چې منډې یې وهلې او خلک یې خبرول چې (اسمان رالوېږي! اسمان رالوېږي!)

بدبینه خلک همدې چرګوړي ته ورته وي. موږ تل چې وېرېږو او شک سره مخ شو همدا چرګوړي رانه جوړېږي.

موږ تل دا شکونه کوو چې:

- زه هوښیار نه یم.
- زه تکړه نه یم.
- فلانی تر ما ښه دی.

ددې تر څنګ ځینې نور شکونه هم شته چې زموږ وړتیا وژني، دا د (څه؟ څه؟) لوبه ده:

- که پانګوونه مې ناسم اقتصادي حالت خپل کړي، بیا به څه کوم؟
- که پیسې مې لاسه لاړې بیا به څه کوم؟
- که هر څه پلان سره سم مخ ته لاړ نشي- بیا به څه کوم؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ددې تـر څنـګ زمـوږ ځينــې ملګـري او خپلـوان داســې وي چې زمـوږ زړه تـه نـه ګـوري، خـو ضـعفونه مـو شـماري، زيـاتره وايي:

- ته څنګه پوهېږې چې دا کار کولای شې؟
- ډاډه يې چې دا کار ښه دی؟
- که ښه وی، بل چا ولې نه کاوه؟
- پـه دې کـې ناکـامېږې، ځکـه تـه هـېڅ نـه پـوهېږې چې څه شي ته دې لاس اچوولی دی؟

ځينــې وخـــت دا انديښـــنې، پوښـــتنې او نيـــوکې دومـــره ډېرې او لـويې شي چې مـوږ پـه خپـل کـار پښـېمانه کـړي او يـو بـد احســاس راسره پيــدا کــړي، زړه مــو ورسره خپــه شي. ځينــې وخــت ان خــوب نــه راځــي، پرمختــګ نشــو کــولای، اخــر لــه ټولــو شــته فرصــتونو هــم پــاتې شــو او فرصـتونه رانـه يـو پـه بـل پسـې ضـايع کېږي. عمـر رانـه روان وي او مـوږ ورتـه لاس تـر زنــې ناسـت يـو. مـوږ ټـول پـه ژونـد کـې لـږ تـر لـږه يـو ځـل دا احسـاس کـوو، خـو ځينـې ورسره ډېر مخ کېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پیټر لینچ (Peter Lynch) وايي دا د (اسمان را غورځېدو) کیسه یو (شور) ته ورته ګڼي او موږ ټول يې اورو.

دا غږونه یا په موږ کې دننه وي یا بهر خپلوان، کورنۍ او ملګري راکوي. پیټر د ۱۹۵۰ز کال په اړه وايي، هغه وخت د اټومي وسلې کارېدو اوازې دومره تودې وې چې خلکو د خپلو کورونو په تل‌خونو (تاخانو) کې خوندي خونې جوړې کړې. خواړه یې زېرمه کول او د اوبو لويې زېرمې یې واخیستې، خو که دوی دا پیسې د خونو جوړولو پر ځای بازار کې پانګولای وی، نن به یې مالي خپلواکي درلوده.

څو کاله وړاندې چې لاس انجلس کې بې نظمي شوه، د وسلې بازار ورسره تود شو. په واشنګټن کې یو سړی د غوښې خوړو له امله مړ شو، په اریزونا کې د روغتیا اداري اعلان وکړ چې غوښه له خوراکه مخکې سمه پخوئ. د درملو شرکت د منې په سر کې تلویزیون ته یو اعلان ورکوي چې والګی یا زکام مرګوني ناروغي ده،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دې سره سمدستي ددې شرکت د والګي درمل بازار کې په پراخه کچه خرڅېږي.

زیاتره خلک په دې خاطر غریب دي چې څنګه پانګوونې ته نیت وکړي، نړۍ له داسې چرګورو ډکه ده چې وایي (آسمان را غورځېږي!) د دې چرګورو نعرې اغېز هم کوي ځکه په هر انسان کې یو چرګوړی وي. خو د بدبینۍ او نهیلۍ په دې چیغو سترګې پټول لوی زړه غواړي.

خو ځیرک سوداګر پوهېږي چې تر ټولو بد حالت د پانګوونې لپاره ښه حالت دی.

۱۹۹۵ز کال کې مې د پیټر په نوم یو ملګری له بوسټون - فینکس ته زمونږ د لیدو لپاره راغی. د املاکو کاروبار کې زمونږ پرمختګ ته ګوته په غاښ و. فینکس کې هغه وخت د املاکو بیې په ټیټېدو وې. مونږ ورسره دوه ورځې وګرځېدو او داسې ځایونه مو ورته وښودل چې پکې پانګوونې عاید لوړاوه او د بیو د لوړېدو امکان و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه او مېرمن مې کمېشن کاران نه وو، یوازې پانګوونه مو کوله. اخر د سرې جايداد خوښ شو. سوداګر ته مو زنګ وواهه او تر ماسپښينه مو ځای واخيسته. جايداد د دوو خونو کور و او بيه يې ۴۲٬۰۰۰ ډالره وه. همداسې کورونه په ۶۰٬۰۰۰ هم خرڅېدل، سرې ښه سودا وکړه او مانښام بېرته خپل کور ته ستون شو.

دوه اونۍ وروسته د املاکو کمېشن کار خبر راکړ چې زمونږ ملګرې په سودا پښېمانه دی، ما زر پېټر ته زنګ وواهه او لامل مې ترې وپوښت، هغه راته وويل زه مې ګاونډي سره وغږېدم، هغه راته وويل چې دا څنداني سودا نه ده. ما ترې پوښتنه وکړه چې ګاونډي دې پانګوال دی؟ ويل يې نه. ما ورته وويل: نو ته يې خبره ولې منې؟ پېټر دفاعي حالت ونيو او راته يې وويل چې زه يو څو نور ځايونه هم ګورم.

د فينکس د ځمکو بيې لوړې شوې او په ۱۹۹۴ز کال کې د هماغه واړه کور له ۱۰۰۰ ډالرو ۲۵۰۰ ډالرو ته وختد. بيا په ۱۹۹۵ز کال کې ددې کور بيه ۹۵٬۰۰۰ ډالرو ته وخته. ريچارډ بايد ۵۰٬۰۰۰ پانګوونه کړې وی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



او دا يې د موږکانو له منډې او تلکه د وتو لومړی گام و.

هغه تراوسه هېڅ هم ونه کړل، په فینکس کې اوس هم داسې فرصتونه شته، خو لټول غواړي.

زه د ریچارډ په پښېمانی هېڅ حیران نه شوم، دا پښېماني په ټولو اغېز کوي. دا هماغه زموږ شک دی چې پر موږ برلاسی کېږي، زموږ د پرمختگ مخه نیسي- په دې صورت کې چرگوړی بریالی کېږي او د خپلواکی ترلاسه کولو فرصت له لاسه وځي.

زما موخه دا ده چې دا شک او بدبیني زیاتره خلک بېوزله ساتي. دوی محافظه کاري کوي او گټه يې له لاسه وځي. نړی انسان شتمنوي، خو شک يې مخه نیسي- ما وویل چې: (د موږ له منډې او تلکه وتل، له تخنیکي پلوه اسانه دي، ځکه دا ډېرې زده‌کړې او پوهې ته اړتیا نه لري، خو همدا شکونه يې مخه نیسي- او په دې جال کې مو نښتي ساتي.)

شتمن پلار وايي: (بدگمانه خلک گټه نشي- کولای. بې لامله شکه او وېره بدگماني زېږوي، دا خلک هسې نقطه چیني کوي او بریالي خلک تحلیل کوي. منفي بافي او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



بـــدگماني انســـان ړنـــدوي او تحليـــل و تجزيـــه ســـترګې پرانيـزي. تحليـل بريـاليو خلكـو تـه دا وړتيـا وركـوي چـې د منفــي بافــانو ړنــدې ســـترګې ووينـــي او هغـــه فرصـــتونه ومومي چـې نـورو تـه نـه ښـكاري، ځكـه همـدا لـه نـورو خطا شوي فرصتونه د دوی د بريا لامل كېږي.)

امـلاک او جايدادونـه د پـانګوونې قـوي وسـايل دي، څـوک چـې مـالي خپلـواكي غـواړي دا وسـايل ورتـه بـې سـاري پانګوونــه ده. زه چــې چــا تــه د املاكــو د پــانګوونې خــبره كوم، زياتره راته وايي چې: (زه تشنابونه نشم پاكولای.)

زه ورتـه وايـم چـې: (نـو تـه څـه وايـې چـې زه ګنـي تشـنابونه جــوړوم؟) دا خــبره پــه دې مانــا نــه ده چــې دوی تــه تــر خپلــې مــوخې او غوښــتنې تشــناب ډېــر مهــم دی. زه ورتــه وايـم چـې د موږكـانو لـه منـډې او تلكـه ځـان خـلاص كـړئ، خـو د دوی فكـر پـه تشـنابونو كـې پـروت وي. زيـاتره خلـک د تجزيـې و تحليـل پـر ځـای منفـي بـافي او بـدګماني كـوي او همدا فكر د ډېرو خلكو د شتمنېدو مخه نيسي.

شـتمن پـلار بـه ويـل: (سـتا د بريـا كـلي زه پـه خپـل لاس كې نه ساتم. ځكـه زه هـم سـتا پـه ځـېر تشـنابونه نـه پـاكوم،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه د املاکو لپاره یو تکړه مدیر ساتم، هغه به تشنابونه هم جوړوي. د املاکو چارې به هم سمبالوي او زما عاید به هم ورسره لوړ وي. تر ټولو مهمه دا ده، که مدیر وي هغه به د ودانیو چارې سمبالوي، زه به وزګار یم او نور جایدادونه به پېرم. ښه مدیر د املاکو په کاروبار کې د بریا کونجي ده. د املاکو ښه مدیر، د چارو د لارښوونې له دفتره مخکې په جایدادونو خبرېږي او دا یې ارزښت لا زیاتوي.

د شتمن پلار موخه دا وه. زه همدا نه غواړم چې تشنابونه پاک او جوړ کړم. زه دا حساب کوم چې ډېر املاک وپېرلای شم او ځان د موړک له تلک او منډو خلاص کړم. څوک چې وایي زه تشنابونه نشم پاکولای، دوی اصلاً نه غواړي چې د پانګوونې له دغې قوي وسیلې کار واخلي. دوی ته تشناب له خپلواکۍ ډېر ښه دی.

د ونډو په اړه زیاتره خلک وایي چې: (زه نه غواړم پیسې مې وبایلم) دا خلک ولې داسې فکر کوي چې پیسې به بایلي؟ دوی پیسې نه ګټي، په دې خاطر نه غواړي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پیسې وبایلي. دوی خپله تحلیل نه کوي، یوې بلې تیارې مړی ته ګوري او هغه د ونډو په بازار کې ونډې پېرل دي.

یوه ملګري سره د تېلو پمپ په خوا تېر شو، هغه چې ور وکتل ګوري چې د تېلو بیې لوړېږي. زما ملګری اندېښمن یا هماغه چرګوړی ډوله سړی دی. په ده تل اسمان را لوېږي. موږ چې کور ته راتلو ده د خپل اټکل له مخې ویل چې په راتلونکو څو کالو کې به د تېلو بیې لوړې شي، داسې ارقام یې وښودل چې تر دې دمه مې نه وو لیدلي. سره ددې چې ما د نفتو په بازار کې پانګوونه هم کړې وه او ونډې مې هم لرلې، خو داسې ارقام مې لا هم نه وو لیدلي. دا خبرې مې چې واورېدې، دستي د یوه نوي او کم ارزښته نفتي شرکت په لټه شوم. زما د ونډهوال د نوي شرکت په لیدو حیران و، ما د پنځلس زره ډالرو ونډې پېرلې وې او د هرې ونډې بیه پنځه شپېته سېنټه وه.

درې میاشتې وروسته زه او زما ملګری بیا په هماغه سیمه کې روان وو او دده په ورکړل شویو ارقامو ډاډه


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شو. د تېلو بیه پنځلس سلنه لوړه شوې وه، سړي بیا فریادونه شروع کړل. زه موسکی شوم، ځکه هغه وړوکې شرکت وده وکړه او د پنځه شپېتو سپنتو ونډه دري ډالرو ته پورته شوه. دې کار یوازې زما د ملګري اشارې ته اړتیا درلوده، ما خپل کار وکړ او زما د ملګري په وینا د تېلو بیه لا هم لوړېده.

ځینې خلک تحلیل نه کوي، یوازې اندېښنې شریکوي. که څوک پوهېدی چې د ونډو په بازار کې د (ستاپ) په نوم یو کمپیوټر حاکم دی، ځنګه چې ستا د ونډو بیه په کمېدو شي د دې حاکم له مخې اتومات پلورل کېږي. په دې توګه به ستاسې زیان لږ تر لږه او ګټه ډېره وي. (ستاپ) هغو خلکو ته ښه دی چې له زیانه وېرېږي.

ځینې خلک وایي (زه باید داسې ونه کړم)، زه وایم دوی دې ووایي چې (زه باید داسې وکړم.) خو دا چې (ونه کړم) وایي، اصلاً دوی هماغه غږ اوري او په دوی کې چرګوړی را ژوندی کېږي. له همدې اندېښنو هغه وایي چې (زه باید داسې ونه کړم.) خو ددې کار بیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وروسته ډېره لویه بیه پرې کوي او دوی چې څه غواړي هغه نشي ترلاسه کولای.

شتمن پلار د دې اندېښنو ختمولو یوه لاره را ښودلې وه، ویل به یې: (د کرنیل ساډرز کار کوه، هغه ٦٦ کلن و چې کاروبار یې له منځه لاړ او په تولنیز تامین (سوسیال) یې ژوند پیل کړ، دا پیسې یې نه بس کېدې. په دې خاطر یې ټول هېواد ته سفرونه پیل کړل او غوښتل یې په خلکو د سرو کړیو چرګانو د پخولو طریقه وپلوري، خلکو یې سلګونه ځله دا طریقه رد کړه، خو دا بیا هم په هغه عمر کې میلیونر شو، په کوم عمر کې چې خلک د تقاعد په پیسو ګوزاره کوي، دا ډېر زیارکښ او زړور سړی و.)

شتمن پلار به زیاتره وخت د کرنیل ساډرز کیسې کولې. بیا به یې ویل که ووېرې یا پرېکړې کې سختی سره مخ شوئ؛ نو د کرنیل ساندرز کیسه دریادوئ.

## ۳-په لټی برلاسي کېدل

ډېر بوخت خلک عموماً لټان وي، خو ما د یوه داسې سوداګری کیسې اورېدلې چې د پیسو ګټلو لپاره یې



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library

 [redacted]

سخت کار کاوه او غوښتل يې د خپلې کورنۍ ژوند اسانه کړي. دی به له رسمي وخته وروسته هم په دفتر کې ناست و او رخصتيو کې به يې هم کار سره ځان کور ته ووړ. يوه ورځ چې کور ته راغی گوري چې کور تش پروت دی او ښځه و بچي يې نشته. دی پوهېده چې مېرمنې سره يې شخړه راغلې وه، خو د کورنيو حالاتو د سمولو پر ځای په کار کې بوخت و. له دې وروسته يې کار سره هم زړه نه لگېده، تر دې چې له دفتره ځواب شو.

زه نن سبا داسې ډېر خلک پېژنم چې ډېر زيات بوخت دي ان د خپلو پيسو ساتنې ته هم پام نه کوي، ځينې بيا دومره بوخت دي چې خپلې روغتيا ته پام نشي-کولای. د ټولو لامل يو دی، بوخت دي او دې کارونو ته وخت نه لري، ځانونه نشي- وزگارولای. دا کار دوی په دې خاطر کوي چې نه غواړي ځينو مواردو سره مخ شي، په دې خاطر ترې سترگې پناه کوي. اړينه نه ده چې دا موضوع دې ورته ځوک ووايي، ځکه دوی خپله پوهېږي، بلکې که دې ورته اشاره هم وکړه، غوسه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دربانـدي کـوي. دا خلـک کـه ځـان خپلـو بچـو سره بوخـت نـه کـړي، تلويزيـون بـه گـوري، کبـان بـه نيسـي-، کرکېټ بـه کـوي يـا بـه نـوره خريـداري کـوي. دوی پـه زړه کـې ښـه پـوهېږي چـې پـه مهمـو مسـايلو سـترگې پټـوي او دا لټـې تـر ټولـو معمـول حالـت دی، دوی خپلـه تنـبلي پـه دې بوختياوو پټوي.

د دې لټـې حـل څـه دی؟ حـل يـې لـږ (حـرص) دی. مـوږ ته لـه ماشـومتوبه ويـل کېـږي چـې حـرص بـد شـی دی، مـور بـه مـې راتـه ويـل: (حريصـان ښـه خلـک نـه دي، د حـريص کاسـه نسـکوره ده، لاس يـې تـش خولـه يـې سـپېره ده.) خـو مـوږ ټـول پـه زړه کـې د دغـو شـيانو درلـود تمـه لـرو، مـثلاً نـوي او عصرـي وسـايل. زيـاتره وخـت د دغـه احسـاس د کنټـرول لپـاره، مـور و پـلار د ځپلـو ځينـې لارې پيـدا کـوي او دا تمايلات گناه سره تشبيه کوي.

زمـا د مـور يـوه دا خـبره خوښـېده: (تـه يـوازې د ځـان پـه غـم کې يې، دېته نه گورې چې خويندې او ورونه هم لرې.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پلار به مې ویل: (څه شی درته واخلم؟ پیسې په ونو کې راشنې کېږي؟ په دې سر خلاص کړه چې موږ شتمن نه یو.)

دا خبرې ډېرې نه وې، خو د غوسې او ګناه یو احساس یې درلود چې ماته یې را لېرداوه. یا به دې د ملامتی بنه خپله کړه او ویل به یې: (زه لګیا یم خپل ژوند قربانوم چې تاته دا وسایل واخلم او دا شیان درته ځکه اخلم، چې ما هم ماشومتوب تېر کړی دی او هغه وخت ماته چا دا شیان نه اخیستل.)

زما یو ګاونډی کنګال دی، خو خپل موټر په تمځای کې سم نشي دورلای، ځکه تمځای یې د ماشومانو له وسایلو ډک دی. د ده نازولي بچي چې هر څه وغواړي دی یې ورته اخلي. ګاونډي مې تل وایي: (زه نه غواړم چې دوی نېستي احساس کړي.) دې سړي نه د خپل سپین ږیري توب لپاره څه پرېښي او نه د ماشومانو د زده کړو لپاره، خو تر اوسه چې د لوبو هره وسیله جوړه شوې ماشومانو ته یې اخیستې ده. څو ورځې مخکې یې نوی کریډېټ کارت واخیست او خپل ماشومان یې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لاسویگاس ته بوتلل. بیا یې د قربانۍ په لهجه ویل چې: (زه دا هر څه د بچو لپاره کوم.)

شتمن پلار مې د (نشم کولای) کلیمات منع کړي وو.

خو دا خبرې ما په خپل اصلي کور کې اورېدې. شتمن پلار له خپلو بچو دا تمه لرله چې ووایي: (زه کولای او ترلاسه کولای شم.) هغه به ویل دا چې ته وایې زه یې نشم کولای یا دا شی اخیستل زما په وس پوره نه دي، دا ستاسو ذهن ځای په ځای دروي او تاسې وړاندې فکر نشئ کولای. خو که ودې ویل چې: (زه یې کولای شم.) دا ذهن خلاصوي، فکر ته اړ کېږي، خپلو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کوي او د ناشونو د شونو کولو لپاره نوې لارې چارې لټوي.

شتمن پلار به ویل: (د انسان روح او نفس ډېر قوي دی او پوهېږي چې هر کار کولای شي.) لټ ذهن چې وایي: زه یې نشم کولای، دې وخت کې په تاسې کې یوه جګړه پیلېږي. دا په دې مانا ده چې ستاسې نفس غوسه دی او ستاسې ذهن ورته باید دروغ ووایي او ځان


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



تـرې خـلاص كـړي. ستاسـې نفـس وايـي: (راځـه چـې ورزش ته لاړ شو.)

لـټ ذهـن وايـي: (زه سـتړی يـم، نـن مـې ډېـر كـار كـړی دی.)

يـا د انسـان نفـس وايـي: (زه نـور لـه غريبـی سـتړی يـم، پاځېږه څه كار وكړه، شتمن شه.)

خـو لـټ ذهـن ورتـه وايـي: (شـتمن خلـك حـريص وي، بـل پيسـې سـل نـورې لانجـې لـري، سـړی ورسره انديښـمن وي چـې پيسـې تـرې لاړې نشـيـ، نـو همـدا لـږې سـهي دي او زه خو ډېر كـار هـم كـوم، گـوره رئـيس راتـه وايـي چـې دا كـار بايد تر سبا خلاص كړم.)

بـل دا (زه نشـم كـولای) كليمـه د انسـان د سـتړيا، نهيلـی، زړه مـاتی او نـورو لامـل كېـږي. (څنگـه يـې كـولای شـم) كليمـه درتـه ښـايي د انگېـزو نـوې لاره پرانيـزي. شـتمن پـلار بـه دېتـه نـه وه خپـه چـې زه دا شـی نشـم اخيسـتي، بلكـې هغـه بـه ويـل چـې: (زه يـې څنگـه اخيسـتی شـم.) او پـه دې توگـه بـه يـې ذهـن كـې يـوه خوځنـده روحيـه او انگېزه پيدا كېده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



په دې خاطر به هغه ما او مایک ته ډېرې پیسې نه راکولې، زیاتره وخت به یې راته ویل: (په دې فکر وکړئ چې پیسې څنګه پیدا کولای شئ؟) په دې کې د کالج د درسونو لګښت هم و چې مور به خپله خلاصوه. دا موخه نه وه، خو هدف ته د رسېدو یوه لاره وه او هدف دا و چې هغه غوښتل مور یې په خبره پوه شو.

ستونزه دا ده چې نن سبا سلګونه زره خلک د حرص له امله د ګناه په احساس ککړ دي. ماشومتوب کې ورته همدا ښودل شوي دي چې: (دا شی درته نشم اخیستی، زمور له وسه پوره نه دی.)

ما چې پرېکړه وکړه د مورک له منډو او تلکه به ځان خلاصوم؛ نو یوه ساده پوښتنه وه: (څنګه دومره پیسې ګټلای شم چې هېڅ کار ونه کړم.) دا پوښتنه مې چې وکړه ماغزه مې فعال شول او ددې پوښتنې ځواب یې ولټاوه.

په دې برخه کې تر ټولو سخت کار زما د اصلي مور و پلار له ذهنیت سره مبارزه وه، دوی به ویل: (مور یې نشو کولای، زمور په وس کې نه ده.) یا به یې ویل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



(یوازې د ځان غم مه کوه.) یا به یې ویل: (د دې نورو غم درسره نشته؟) دا کلیمې یوازې د دې لپاره جوړې شوې وې چې زه د ګناه احساس وکړم او غوښتنې مې وځپل شي.

اوس به داسې لټې ته څنګه ماته ورکوئ؟ د دې ځواب دی (لږ حرص). انسان دې پوښتنه وکړي چې دې کې زما څه ګټه ده؟ انسان باید چې کېني، فکر وکړي چې: (که زه روغ یم، زړه راښکونکی ښکاره شم او د خلکو خوښ شم، زما پکې څه ګټه ده؟) یا دا چې (که زه غواړم چې بیا کار ونه کړم، ژوند به مې څنګه وي؟) یا دا چې: (زه چې څومره پیسې غواړم، که دومره پیسې ولرم، څه به پرې کوم؟) ښه که لږ حرص ونه لرئ او د ښو شیانو تمه در پکې نه وي، پرمختګ نشئ کولای. زموږ نړۍ په دې خاطر پرمختګ کوي چې موږ ټول د ښه ژوند تمه لرو. ښه اختراعات په دې خاطر کېږي چې موږ د ښو شیانو تمه لرو. ښوونځي او درس ته په دې خاطر ځو چې ژوند او راتلونکی مو ښه شي. نو که داسې یو کار وي چې ته یې باید وکړې او سترګې پرې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پټوې یا دې ورته زړه نه کېږي، له ځانه دا پوښتنه وکړه چې په دې کار کې زما څه ګټه ده؟ لږ حرص وکړه، همدا د لټۍ درملنه ده.

په حرص کې افراط هم په نورو شیانو کې د افراط غوندې ښه نه دی، خو دا یاد ساتئ چې مایکل ډګلس په خپل فلم (وال سټریټ) کې څه ویلي: (حرص ښه شی دی.)

شتمن پلار راته دا خبره په بله بڼه کړې وه: (جرم تر حرص ډېر بد دی، ځکه د جرم احساس له بدنه روح جلا کوي.) او زه فکر کوم په دې اړه الینور روزویلټ په دې اړه ډېره ښه خبره کړې ده چې: «که یې کوې هم خلک درباندې بد وایي او که یې نه کوې هم.»

## ۴- په بدخویۍ برلاسي کېدل

زموږ ژوند زموږ د زده کړو په پرتله، د خویونو ډېر انعکاس کوي. یو ملګري مې د آرنولد (کینون) فلم وکاته، بیا یې ویل: (کاشکې مې د ارنولد غوندې اندام لرلی.) هلته ناستو ډېرو خلکو ورسره د (هو) په نښه سر وخوځاوه. بل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ملګري ورزیاته کړه: (ما اورېدلي چې یو وخت ډېر وچ کلک و.)

بل وویل: (هو ما هم اورېدلي چې هره ورځ جیم ته ځي او ورزش کوي.)

بل پسې زیاته کړه: (هو نو، داسې خو باید وکړي.)

په موږ کې یو بدبیني او بدګمانه سړی ناست و، فکر کوم له ماشومتوبه به همداسې و، هغه وویل: (تاسې دا د ارنلود خبرې پرېږدئ، راځئ چې ځنباک وکړو.)

دا یوه بېلګه ده چې خویونه یا عادتونه زموږ کړنې څنګه کنټرولوي. زما یادېږي چې یوه ورځ مې له شتمن پلاره، د شتمنو خلکو د عادتونو په اړه وپوښتل، هغه واضح ځواب را نه کړ او هڅه یې وکړه چې په دې مثال مې پوه کړي:

پوښتنه یې وکړه: (ستا پلار پورونه کله خلاصوي؟)

ورته مې وویل: (د میاشتې په لومړۍ نېټه.)

- له پورونو خلاصولو وروسته ورسره څه پاتې کېږي؟
- هو، څه نا څه خو پاتې کېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمن پلار وویل: (د مالي ستونزو لامل یې دا بد عادت دی، ستا پلار لومړی د نورو خلکو پیسې ورکوي، په اخره کې که ورسره څه پاتې شول هغه ځانته سپموي.)

ما ورته وویل: (سپما یې لږه ده، خو پورونه خو خلاصوي کنه؟ ته څه وایې چې پورونه هم خلاص نه کړي؟)

شتمن پلار وویل: (نه نه! زما موخه دا نه ده، زه لومړی شخصي- پورونه خلاصوم او څه چې راته پاتې شول هغه بیا حکومت ته ورکوم.)

ما پوښتنه وکړه: (خو که چېرې ته شخصي- مصارف وکړې او پورونه خلاص کړې او بیا دولتي پورونو خلاصولو ته پیسې پاتې نشي، بیا به څه کوو؟)

هغه وویل: (بیا هم همداسې کوم، که پیسې راسره لږې هم وي، لومړی ځان ته پیسې ساتم، ځکه ماته خپلې شتمنۍ تر دولت ډېرې مهمې دي.)

ما ورته وویل: (نو ته خو د دولت قانون ماتوې، هغوی درته څه نه وایي؟)

وې ویل: (که پیسې یې ورنه کړم راځي، خو ما د پیسو نه ورکولو څه نه دي ویلي. ما ویلي چې اول ځان دی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



بیا جهان. که پیسې هر څومره لږې هم وي، زه اول ځانته پیسې ساتم.)

ما پوښتنه وکړه:( نو دا خنګه امکان لري؟)

شتمن پلار وویل: (داسې مه وایه چې خنګه امکان لري، داسې ووایه چې دا کار ولې کوې؟)

- ښه ولې يې کوې؟
- د انګېزې لپاره، ته څه وايې چې که زه خپلو پورراوړو ته پیسې ورنه کړم، هغوی به شور جوړوي که زه؟
- هغوی به شور جوړوي او که ته ځان ته پیسې پرې نه ږدې، نو څه شور به جوړ کړې.
- اوس متوجه شوې، ته چې لومړی ځانته پیسې پرېږدې، د پورراوړو او غوښتونکو فشار دربانديې زیاتېږي، په همدې خاطر زه هڅه کوم چې نورې لارې چارې ولټوم. دا فشار خپله د انګېزې او تحرک لامل کېږي. زه نورو برخو کې کار کوم، نور شرکتونه جوړوم، ونډې اخلم، پانګوونه کوم او په هره برخه کې فعالیت کوم چې زما د پور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



راوړو او پیسو غوښتونکو د شور مخه نیسي.
همدا فشار ما لا ډېر کار ته هڅوي، فکر ته مې هڅوي او په دې توګه زه په مالي چارو کې تر پخوا ډېر ځيرک کېږم. خو که زه لومړی پورونه خلاص کړم او ځانته يې وروسته پرېږدم، دا به په ما بهرنی فشار کم کړي، خو زه به خپله ورسره برباد شم.

ما ورته وویل: (نو ته د حکومت او نورو پور راوړو له وېرې ډېر زيار کاږې؟)

وې ويل: بالکل! ته نه پوهېږې چې حکومت د مالياتو ټولولو په برخه کې څومره سختي کوي، څوک چې پورونه او قسطونه غواړي هغوی هم ډېره نرمي نه کوي، عموماً خلک له دوی وېره احساسوي، خلک که ځانته پيسې پرېږدي که نه، خو دې خلکو ته په وخت پيسې ورکوي، د هغه ضعيفه انسان کيسه دې اورېدلې چې چا ورته سترګو کې شګې اچولې وې؟

ما په کومېډي کتابونو کې د پهلوانانو هغه اعلان کتلی و، ورته مې وویل: هو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمن پلار وويل: (نو موږ ولې خلک پرېږدو چې زموږ په سترګو کې دې شګې را واچوي؟ ما له زورورو دغه وېره د ځان په ګټه کارولې او ځان مې قوي کړی دی، خو نور خلک ترې وېرېږي. زه ځان د پيسو ګټلو لپاره مجبوروم او دا داسې ده لکه زه چې د بدني روغتيا لپاره هر سهار بايد ورزش ته لاړ شم. زه چې کار کوم، ماغزه مې ورسره قوي کېږي او د نورو پيسو ګټلو طريقې زده کوم، اوس له هغو زورورو «نه» وېرېږم.

ما وويل: (ستا دا خبره مې خوښه شوه چې لومړی ځانته پيسې بېلوي، له هغه چې څه پاتې شوي، بيا ترې ماليات او پورونه ورکوي.)

شتمن پلار سر د (هو) په نښه وخوځاوه

ما خبره وغځوله: (که زه ځانته اخر کې پيسې بېلې کړم يا ځانته بيخي پيسې پرې نه ږدم، نو زه کمزوری کېږم. نو بيا د پور خاوندان، مديران، ماليه اخيستونکي، بيل ټولوونکي، د کور خاوندان او نور خلک په ما فشار راوړي، ځکه زما مالي خويونه ښه نه دي.)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمن پلار وويل: بالکل، ته چې کمزوري يې، نو خلک به درباندې فشار راوړي، زور به درسره غړوي.

## ۵- غرور ماتول

شتمن پلار به تل ويل: (زه چې په څه پوهېږم هغه پيسې راکوي او په څه چې نه پوهېږم هغه رانه پيسې اخلي. ما چې هر وخت کبر يا غرور کړی، پيسې مې بايللې دي. ځکه زه چې ښاځمن(مغرور) شم، بيا داسې فکر کوم چې زه په څه نه پوهېږم، په هغو شيانو پوهېدل ډېر مهم نه دي.

زه فکر کوم زياتره د خپلې ناپوهۍ پټولو لپاره ځان د کبر په پرده کې رانغاړي. زه چې په مالي چارو کې خپلو حسابدارانو يا پانګوالو سره خبرې اترې کوم، دا شی پکې ډېر وينم.

دوی شور جوړوي او غواړي چې خپله خبره رابانددې ومنې، زه پوهېږم چې دوی ان په خپلو خبرو او موضوع نه پوهېږي. دوی دروغ نه وايي، خو رښتيا هم نه وايي. د پانګې، پيسو او پانګوونې په نړۍ کې داسې ډېر خلک شته چې د خپلو خبرو په موضوع نه پوهېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دوی داسې تاوده غږېږي لکه د زړو موټرو پلورونکي، یوازې د خپلې ګټې غم ورسره وي.

که پوهېږئ چې په یوې موضوع کې مو معلومات لږ وي؛ نو سمدستي يې کوم کارپوه سره اړيکه ونيسئ يا کتاب ولولئ، دې سره به ستاسې د معلوماتو تشه ډکه شي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# اتم څپرکی

## پیلول

**«سره زر هر ځای کې شته، خو زیاتره خلک یې د لیدو لپاره نه دي روزل شوي.»**

کاش ما ویلی شوی چې شتمني ګټل ماته اسانه وو، خو داسې نه وه. ځینې خلک پوښتنه کوي چې: (څنګه یې پیل کړم؟) زه به هغه «فکر» در وښییم چې زه پرې هره ورځ عمل کوم. د لویو او ګټورو سوداګانو موندل اسانه دي، دا دومره اسانه ده لکه سړی چې بایسکل زده کوي. بایسکل زده کول په لومړیو کې لږ سخت وي، انسان ترې لوېږي را لوېږي، خو وروسته بیا بیخي اسانه شي، ان ځینې خلک یې توله نیسي- او بایسکل چلوي. خو د پیسو په برخه کې بیا یو توپیر شته او هغه دا چې دغه لوېدو را لوېدو ته باید دوام ورکړئ، حوصله مو باید ډېره وي او دا شخصي خبره ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د ګټورو سوداګانو موندل مالي نبوغ غواړي او زه باوري یم چې په موږ هر یوه کې دغه مالي نبوغ شته. ستونزه یوازې دغه ده چې دغه نبوغ یا ورټیا ویده او ویښولو ته په تمه ده. زموږ مالي نبوغ ځکه ویده دی چې زموږ فرهنګ موږ ته پیسو سره مینه، یو ډول ګناه او د بدیو اصلي جرړه بللې ده. زموږ فرهنګ مو یو کسب یا مسلک زده کولو ته هڅوي چې بیا پرې د پیسو لپاره کار وکړو، خو دا راته نه راښیي چې پیسې څنګه ولرو او هغه راته بیا څنګه کار وکړي. دا فرهنګ راته وایي چې راتلونکي ته مه اندېښمن کېږئ، ځکه موږ چې کار کوو پیسې به ګټو او چې کله زاړه شو؛ نو کوم شرکت یا دولت ته چې کار کوو، هغوی به تقاعد راکوي او ژوند به مو پرې تامینېږي. دا ذهنیت دوام ځکه کوي چې زموږ بچې هم په همدې ښوونځیو او پوهنتونونو کې زده کړې کوي او زه نه پوهېږم چې دا فرهنګ به کله ختمېږي. موږ ته اوس هم دا پیغام راکول کېږي چې: (ډېر کار د پیسو ګټل او مصرفول دي او که پیسې راسره لږې شوې، نو پور به واخلو.)



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



له بده مرغه په لوېديځ کې نوي سلنه همدا ذهنيت دی او لامل يې دا دی چې دنده موندل او پيسو لپاره کار کول اسانه دي. که ته د ټولنې او اکثريت خلکو په څېر نه يې، نو زه درته يو لس هغه تکي وړاندې کوم چې د مالي نبوغ د وينښولو لپاره مهم دي. البته زه درته هغه اسانه لارې چارې درښيیم چې ما خپله عملي کړې دي، که تاسې وغواړئ، ځينې يې عملي کولای شئ او که دا نه نشئ کولای، ځانته پخپله هم لارې چارې تاکلی شئ، ځکه مالي نبوغ دا وړتيا لري چې ځانته پخپله پراختيا ورکړي.

په پيرو هېواد کې مې د سرو زرو د کان پنځه ځلوېښت کلن مالک وپوښته چې: (ته د سرو زرو په پيدا کېدو څنګه دومره ډاډه او بې پروا يې؟)

هغه راته وويل: (سره زر هر ځای کې شته، خو زياتره خلک يې د ليدو لپاره نه دي روزل شوي.)

زه ويلی شم چې دا خبره سل په سلو کې سمه ده. د املاکو او ونډو په برخه کې کولای شم چې هره ورځ له کوره ووځم، څلور پنځه ښه سوداګانې پيدا کړم او بېرته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کور ته راستون شم، خو عادي خلک چې له کوره ووځي ان یوه سودا هم نشي- موندلای. زه چې په خپل چم ګاونډ کې وګرځم هم ډېره ګټوره سودا پیدا کولای شم، توپیر څه دی؟ توپیر دا دی چې هغوی خپلې مالي ورتیا او نبوغ ته وخت نه دی ورکړی.

زه درته لاندې لس لارې ښییم، په دې لارو تاسې خپلې هغه طبیعي ورتیاوې راویښولای شئ چې د مالي حالت په ښه کېدو کې به درسره مرسته وکړي.

### ۱) تر حقیقت لوړ دلیل پیدا کړئ: روحاني قوت

که چاته وایې چې د پیسو ګټلو او مالي ستونزو په ختمولو پوهېده غواړې؟ ځواب به یې هو وي، خو بیا به حقایق رامنځته شي. لاره به سخته او اوږده ښکاري، دې غره ته ختل به ستونزې لري، او اسانه لاره به دا وي چې پیسو ته کار وکړو، سپما وکړو او له دې سپما بیا د ونډو په بازار کې پانګوونه وکړو.

یوه ورځ مې یوه ښځه ولیده چې د المپیک د لامبو په لوبډله کې د شمولیت ارمانجنه وه. دا نجلۍ هره ورځ ۴ بجې پاڅېده، د ښوونځي تر وختـه به یې درې ساعته د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



لمبو تمرین کاوه او په اونۍ کې د رخصتۍ په شپه له ملګرو سره چکر ته هم نه تله، ځکه درس یې باید ویلی وی او په ښوونځي کې یې خپله نومره ساتلې وی.

ما ورته وویل چې تا دا دومره سخت هدف څنګه ټاکلی او دومره زیار ورته څنګه کوې؟ هغې راته لنډ وویل چې: (دا زه د ځان او هغو خلکو لپاره کوم چې ماسره مینه لري. د همدې خلکو مینه ماته دا حوصله راکوي چې زه له دغو خنډونو واوړم، قربانۍ ورکړم او بریا ته ځان چمتو کړم.)

دلیل، انګېزه یا محرک د (غوښتو) او (نه) غوښتو ترکیب وي. له ما چې څوک وپوښتي چې ولې شتمنېدل غواړم، نو زه ورته وایم چې د (غوښتو) او (نه غوښتو) پټه او قوي جذبه وه.

**نه غوښتنې**

لومړی به درته د څه (نه غوښتو) یادونه وکړم چې (غوښتل) رامنځته کوي.

زه نه غواړم چې ټول عمر کار وکړم. هغه کار کول نه غواړم چې مور و پلار مې وایي. یوازې کاري امنیت نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



غواړم. په ښار کې يوازې کور نه غواړم. زه نه غواړم چې د چا کارمند يا مزدور شم. زما د فوټبال لوبه به وه، پلار به مې دفتري کارونو کې دومره بوخت و چې زما لوبې ليدو ته به نشو راتلی او ماته دې ډېر زور راکاوه. زما پلار ټول عمر سخت کار وکړ، خو کله چې مړ شو، دولت راغی او دده ټوله شتمني يې ترې واخيسته، زه دا کار نه غواړم. هغه مړ شو، خو په ژوند کې يې دومره ونه کړل چې دغه شتمني خپلو وارثينو ته ولېږدوي، شتمن خلک بيا داسې نه وي، هغوی ډېر زيات کار کوي، شتمني جوړوي او دا شتمني بيا خپلو بچو ته لېږدوي.

## غوښتنې

اوس به د غوښتنو په اړه وغږېږم:

زه غواړم چې د نړۍ هر هېواد ته په ازاده توګه ورشم، زه غواړم چې په خپله خوښه ژوند وکړم. زه غواړم چې د دې کار پر مهال دې ځوان يم، خپلواک دې يم، زه غواړم چې د ژوند او وخت کنټرول زما په لاس کې وي او غواړم چې زما پيسې ما لپاره کار وکړي.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا ټول د شتمنېدو لپاره زما دلایل دي، ستاسو دلایل څه دي؟ که چېرې ستاسې دلایل قوي نه وي؛ نو بیا به هغه حقایق قوي وي چې په لاره ورسره مخ کېږئ. ما ډېر زیانونه لیدلي، ډېرې ماتې مې خوړلې، ډېر لوېدلی یم، خو د همدې دلایلو قوت بېرته را ولاړ کړی یم، زه یې لوېدو ته نه یم پرېښی. ما غوښتل چې په څلوېښت کلنۍ کې ازاد واوسم، خو دا کار په ۴۷ کلنۍ کې وشو او په دې لړ کې مې تجربه ډېره زیاته شوه.

ما مخکې وویل چې کاشکې مې ویلای وی چې دا اسانه وی، خو اسانه کار نه و، ډېر سخت کار و، خو ناشونی نه و. البته دومره ده چې له قوي دلیل یا هدف پرته، د هر شي ترلاسه کول ډېر سخت وي.

**که قوي دلیل نه لرئ، مخکې مطالعه درته ګټه نه کوي، ځکه ډېر سخت کار به درته ښکاره شي.**

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library


## ۲) روزانه پرېکړه وکړئ: د پرېکړې قوت

په ازاد هېواد کې د اوسېدو تر ټولو لوی دلیل دا دی چې خلک یې په خپله خوښه د ژوند او ټاکنې خپلواکي لري.

له مالي پلوه چې موږ هر ډالر ترلاسه کوو، له مخې یې موږ دا واک لرو چې: شتمن شو، نېستمن شو او که منځني. زموږ د پیسو لګولو عادت، ښيي چې موږ څوک یو؟ د غریبو خلکو د پیسو لګولو عادتونه هم ډېر ضعیفه وي. مونوپلي (Monoply) یوه لوبه ده او په ځوانۍ کې مې هم کوله، لامل یې دا و چې ماته چا نه و ویلي دا ګڼي د ماشومانو لوبه ده، په دې خاطر ما ځوانۍ کې هم کوله. همدارنګه ما یو شتمن پلار درلود چې د شتمنیو او پورونو تر منځ توپیر یې را وښود. په دې خاطر ما هم کلونه مخکې، په ماشومتوب کې پرېکړه وکړه چې باید شتمن شم او ددې لپاره تر ټولو ښه لاره د شتمنیو په راټولولو پوهېدل وو، خو دا شتمنۍ باید واقعي وي. زما ملګري مایک د شتمنیو په ستون کې یوه شتمني ترلاسه کړه، خو مجبور و چې د هغې ساتنه یې باید زده کړې وي. زیاتره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتمني کورنۍ په راتلونکو نسلونو کې خپلې شتمنۍ له لاسه ورکوي او ددې لامل دا دی چې راتلونکي نسلونه يې د شتمنيو په ساتلو او پاللو نه پوهيږي. زياتره خلک بيا شتمني نه خوښوي، په سلو کې نوي کسانو ته شتمني لانجه او درد سر ښکاري، دا خلک بيا وايي:

- پيسې مې نه خوښيږي.
- زه نه شتمنيږم.
- د پيسو غم مه کوه، وبه شي، لا خو ځواني ده.
- چې لږې پيسې پيدا شي، بيا به ورسره ګورو.
- د پيسو چارې مې پلار، مور، مېرمن يا نور … سمبالوي.

دا ډول خبرې له انسانه دوه شيان اخلي: يو (وخت) دی او دويم (زده کړه) ده.

وخت يوه شتمني ده او زده کړه بله. که تاسې پيسې نه لرئ؛ نو دا د دې دليل نه دی چې زده کړه دې هم نه کوئ. خو دا پرېکړه مو ږ هره ورځ کوو، يانې دا چې موږ وخت څنګه تېر کړو؟ په پيسو څه وکړو؟ او په سر کې کوم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



افکار وپالو؟ موږ ټول په پرېکړو کې خپلواک یو، زما پرېکړه دا ده چې شتمن شم او دا پرېکړه هره ورځ کوم.

- **په خپلو زده‌کړو پانګوونه وکړئ**

ستاسې یوازینۍ اصلي شتمني ستاسې ذهن دی. دا زموږ په لاس کې قوي وسیله ده. مخکې درته د (غوښتنې او نه‌غوښتنې) په قوت وغږېدم. موږ دا پرېکړه لرو چې هر وخت خپل ذهن او ماغزو ته یو څه ورزیات کړو. تاسې ټوله ورځ لوبې هم کولای شئ، ټلویزیون هم کتلای شئ، کولال سره شاګردي هم کولای شئ او د مالي پلانګذارۍ ټولګي ته هم تللی شئ، زیاتره خلکو د پانګوونې دا زده‌کړې نه وي کړې، مستقیماً پانګوونه کوي.

زما په یوې شتمنې ملګرې څو ورځې مخکې غل اوښتی وو، ټلویزیون او ویډیو یې تړې وړې وه، خو کتابونو ته یې ګوتې هم نه وې ور وړې. نوي سلنه خلک ټلویزونونه پېري، موږ هم داسې کولای شو، خو لږ خلک د پانګوونې په کتابونو او ښوونیزو کیسټو پیسې ورکوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه څه کوم؟ زه سیمینارونو ته ځم او که دوه ورځې دوام وکړي هم ورته خوښ یم، ځکه زه غواړم چې د موضوع تل ته ښکته شم.

یوه ورځ مې تلویزیون کاته چې د درې ورځنې کنفراس اعلان پکې وشو، موضوع یې دا وه چې بې اډوانسه(پېشکي) ورکولو جایداد څنګه پېرلای شو. ما په دې روزنیزه دوره ۳۸۵ ډالر ورکړل او دې معلوماتو د دوو میلیونه ډالرو ګټلو پوهه راکړه. تر دې مهمه یې لا دا چې زما ژوند یې تامین کړ. همدې درې ورځنۍ دورې په ما یو اغېز وکړ او له دې وروسته بیا کار ته اړ نه شوم. زه په کال کې لږ تر لږه دوه ځله دا ډول روزنیزو پروګرامونو ته ځم.

ښوونیز او روزنیز فلمونه مې ډېر خوښېږي، ځکه د دې په لیدو بېرته انرژي اخلم. د پیټر لینچ یوه وینا مې اورېده، یوې خبرې سره یې زه بشپړ مخالف وم، خو ما نیوکه ونه کړه، کبر مې ونه کړ، وینا مې بېرته له سره کړه او دغه پنځه دقیقې وینا مې نږدې شل ځله واورېده... شاید له دې هم ډېره وه، خو لږ مې چې فکر پراخه کړ،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



نو پوه شوم چې ده دا خبره ولې کوله او دا ماته د یوه جادو په څېر وه. ما داسې احساس کړه د یوه لوی پانګوال ذهن ته مې چې دریځه پرانیستې وي او د هغه د پوهې غني سرچینې ته مې لاسرسی پیدا کړ.

پایله: زه اوس هم مسایلو ته په خپل پخواني نظر ګورم، خو یو لیدلوری بل هم لرم. زه اوس د مسایلو د تحلیل دوه لیدلوري لرم او دا خپل ارزښت لري. زه اوس هم کله کله وایم چې پیټرلېنچ، ډونالډ ټرمپ، وارن بافت یا جورج سوروس به دا کار څنګه کاوه؟ او ددې کار لپاره یوازینی او متواضع لاره دا ده چې زه د دوی خبرې واورم او د دوی له پراخه فکر سره بلد شم.

ښاخمن(کبرجن) خلک زیاتره په ځان باور نه لري او تل خطر احساسوي.

که نوی شی مو زده کړ او غواړئ سم پرې پوه شئ؛ نو په لومړیو کې به د موضوع په اړه ډېر تېروځئ.

که مو دا کتاب تر دې ځایه لوستی وي؛ نو بیا تاسې غرور نومې ستونزه نه لرئ. کبرجن خلک داسې کتابونه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



او کېسټې یا فلمونه لږ پېرې او ولې یې باید واخلي؟ ځکه دوی خپله د نړۍ متفکر خلک دي.

د زیاترو پوهو او ځیرکو خلکو له فکر سره چې نوې مفکوره په ټکر کې راشي، دوی یې دستي دفاعي حالت خپل کړي او استدلال ورسره کوي. په دې وخت کې د دوی پوهه او ځیرکتیا له کبر سره ګډېږي او دا چاره د ناپوهۍ معادل ده. مور ډېر لوستي او پوه خلک پېژنو چې ځانونه ځیرک بولي، خو د صورت حساب پاڼه یې بیا بل حالت ښيي. رښتیني ځیرک خلک نوې مفکورې اوري او د مفکورو په لیست کې یې ورزیاتوي. «اورېدل» تر «ویلو» ډېر مهم دي او که داسې نه وي؛ نو خدای به یوه خوله او دوه غوږونه نه راکولای. زیاتره خلک غوږ نه ږدي، خوله ږدي. دوی نوې خبره او مفکوره نه اوري او سمدستي پکې خبرې او پوښتنې پیلوي.

زه چې خپلې شتمنۍ ته ګورم، نو وایم چې د (زر شتمن کېدو) له فکر سره موافق نه یم. د دې فکر پلویان جوارۍ کوي او د بخت ټکټونه اخلي. زه د ونډو بازار ته ځم راځم، خو په دې برخه کې اوږدمهالې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زده کړې هم لرم. زیاتره خلک په املاکو او ونډو پانګوونه کوي، خو په خپله لویه شتمنۍ پانګوونه نه کوي، دا «شتمني» د دوی «ماغزه» دي. زه داسې خلکو ته حیرانېږم. ځکه په دوو ټکو لوستو سړی نه ملا کېږي.

## ۳.ملګري په دقت وټاکئ

لومړی خو زه خپل ملګري د شتمنۍ له مخې نه ټاکم، زما په ملګرو کې غریب او شتمن دواړه شته، خو مهمه دا ده چې زه له دواړو زده کړه کوم.

د دوی تر منځ توپیر دا دی چې شتمن ملګري د پیسو په موضوع ډېر غږېږي، دوی ځان نه بښيي، خو دې موضوع سره یې علاقه ډېره ده، نو زه له ملګرو زده کړه کوم او هغوی له ما زده کړه کوي. زما تنګلاسي ملګري به بیا په پیسو نه غږېږي، ځکه په دې موضوع غږېدل ورته بد او له ادبه لرې ښکاري. زه له دې ملګرو هم زده کړه کوم او پوهېږم چې څه شي څخه باید ځان وساتم.

زما ډېرو ملګرو په لنډ وخت کې میلیونونه پیسې سپمولې، دا درې واړه یوه خبره کوي: دوی وایي چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ملګرو یې ترې هېڅکله دا پوښتنه نه ده کړې چې تاسې دا پیسې څنګه پیدا کړې، یوازې د دې دوو شیانو پوښتنه یې ترې کړې: ۱) پور ۲) دنده

د غریبو او بې زړه خلکو مشورو ته ډېر مه ګورئ، زما یو څو ملګري دي، په ما ډېر ګران دي، خو هغه د چرګوړو عادت لري. د پیسو او پانګوونې خبره چې راشي، په دوی اسمان رالوېږي. دوی به درته تل د کار نه کېدو دلیل وايي. یانې دوی د هرې «حللار»ې لپاره یوه «ستونزه» لري او غم دا دی چې خلک یې خبرو ته غوږ هم ږدي. څوک چې دغه بې زړه کوونکې خبرې اوري او منې هغوی هم چرګوړي دي، ځکه وايي: مرغان هغه سره کېني چې بنکې یې یو شان وي.

که تاسې CNBS تلویزیون لیدلی وي، په هغه کې د کارپوهانو یو ګردی مېز وي، په دې کې یو وايي چې بازار خرابېږي، بل بیا وايي چې نه بازار پرمختګ کوي.

که تاسې هوښیار یئ، نو د دواړو خبرې واورئ. خپل ذهن پراخه کړئ، ځکه چې دواړه د خپلو خبرو لپاره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



قـوي دلایـل لـري. لـه بـده مرغـه غریـب خلـک داسـې خپروني نه ګوري، خو د چرګوړو خبرو ته غوږ دي.

زما ملګرو څو څو ځله هڅه کړې چې زه په یوه ځای کې سودا یا پانګوونه ونه کړم. څو کاله مخکې مې یو ملګری سخت خوښ و، ځکه چا ورته په پیسو شپږ سلنه ګټه ورکوله، ما ورته وویل چې: (زه له دولتي بانکه شپاړس سلنه ګټه اخلم.) په سبا ورځې یې په دې اړه یوه مقاله را ولېږله چې دا زما پانګوونه کوم خطرونه لري. خو زه د کال په تېرېدو اوس هم شپاړس سلنه ګټه اخلم او هغه هماغه شپږ سلنو ته ناست دی.

په پیسو ګټلو کې تر ټولو سخت کار دا دی چې انسان په «خپل» ځان باور ولري، خپل ځان ته ربښتیني اوسي، د خلکو خبرې په یوه غوږ واوري او په بل یې وباسي.

بازار ته عموماً عام خلک وروسته راځي او همدوی قرباني کېږي. که موږ د مجلې په لومړي مخ کې ښه سودا ولیده؛ نو په دې وخت تېر شوی، په بلې ښې سودا پسې وګرځئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځیرک پانګوال د بازار وخت ته نه په تمه کېږي. که یو فرصت یې له لاسه ووت بل فرصت ته په تمه کېږي، بیا ورته ځان بنه چمتو کوي او ګټه ترې اخلي. زیاتره پانګوالو کې یوه ستونزه دا وي چې د ډېرو نامشهورو شیانو په اخیستو وېرېږي. وېرېدونکي سوداګر داسې وي لکه پسان، د ټولو چې کوم خوا مخه وي دوی هم ورسره روان وي، خو کله چې بل چا د دوی له فرصته ګټه واخیسته، نو په دوی کې حرص پیدا کېږي.

تکړه پانګوال بیا په داسې فرصتونو کې پانګوونه کوي چې لا ډېر عام او مشهور شوي نه وي. دوی پوهېږي چې ګټه د «اخیستو» په وخت کې کېږي، نه د «خرڅلاو» په وخت کې. دوی حوصله لري، صبر کوي، بازار پسې نه ګرځي او راتلونکو فرصتونو ته ځان برابروي.

## ٤. لومړی په یوه فورمول کې استادان شئ، بیا بل زده کړئ: د ژر زده کړې قوت

هره نانوایي د ډوډۍ پخولو خپل لارښود تعقیبوي، که څه هم دا لارښود یې په ذهن کې ناست وي، همدا



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



طریقه په پیسو ګټلو کې هم کار کوي، په دې خاطر زیاتره وخت ډوډۍ ته (خمیره) هم وایي.

بودا وایي موږ د خپلو افکارو زېږنده یو، زه وایم موږ چې څه ولوستل هماغه رانه جوړېږي. نو زده کړه او مطالعه کې احتیاط کوئ، ځکه ستاسې ماغزه دا قوت لري چې هر څه ور واچوئ، هماغه درنه جوړوي. مثلاً که د پخلي درس مو ولوست، پخلي سره مو مینه پیدا کېږي او آشپز درنه جوړېږي، خو که تاسې نه غواړئ چې آشپز شئ، نو بیا بل څه ولولئ. مثلاً که د معلمۍ مطالعه وکړئ ښوونکي به شئ او همداسې نور.... په دې خاطر د خپل کار او مطالعې په ټاکلو کې ډېر احتیاط کوئ.

د پیسو په اړه ښوونځیو کې یوازې یو شی ښودل کېږي چې: (پیسو ته کار وکړئ.) دا فورمول په ټوله نړۍ کې عام دی، په همدې خاطر هر سهار میلیونونه کسان را ویښېږي، چې کار ته لاړ شي، پیسې وګټي او خپل لګښتونه تېر کړي. که له لګښتونو یې پیسې زیاتې شوې ونه یې اخلي، بیا کار ته ځي او په همدې فورمول عمل کوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



که له کاره سترې يې او کافي پيسې نه گټې، نو اسانه طريقه دا ده چې د پيسو گټلو فورمول مو بدل کړئ.

شپږ ويشت کلنۍ کې مې يوه ټولگي کې برخه واخيسته، د درس موضوع دا وه چې: (ضبط شوی جايداد به څنگه پېرئ؟) په دې ځای کې ما يو فورمول زده کړ، بيا مې ډېر وخت د خپل ځان په نظم تېر کړ چې دغه زده کړی فورمول به څنگه عملي کوم. درې کاله مې چې به زيروکس شرکت کې کار کاوه ډېر وخت مې د ضبط شويو زړو کورونو د اخيستو په مهارت زده کولو تېر کړ. له دې فورموله په گټنې به ما ميليونونه ډالر گټل، خو نن دا کار بيخي عام شوی او هر څوک يې کوي.

دا خبره چې عامه شوه زه په نورو طريقو پسې وگرځېدم. ما په ډېرو سوداگانو کې د ټولگيو معلومات مستقيماً نه دي کارولي، خو نوې خبرې مې پکې تل زده کړې دي.

ما په هغو کورسونو کې هم برخه اخيستې چې فرعي سوداگرو، د جنسونو تبادلې او د کړکېچ د تحليل لپاره ځانگړې کړې وې. زه به فزيک او فضايي علومو د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دوکتورانو منځ کې يوازې ناست وم، ځان به راته ډېر عجيب ښکارېده، خو بيا مې هم هڅه کړې چې ټولګيو ته په منظم ډول ورشم. دې ټولو نه ما څه ناخه زده کړي او ګټه يې دا ده چې نن زه د املاکو او ونډو په کاروبار کې ښه ګټه کوم.

زياتره لومړني کالجونه او د زده کوونکو اتحاديې د اقتصادي پلانګذارۍ او مروجه پانګوونې په برخه کې کورسونه جوړوي او په دې کې برخه اخيستل علم ډېر زياتوي.

زه تل د کاري فورمول په لټه يم، په دې خاطر د ورځې دومره ګټم کوم چې عام خلک يې په کار کې هم نشي- کولای. په بله وينا، نن سبا نړۍ بدلېږي، په دې وخت کې انسان هر څومره تازه معلومات ولري حساب پرې نشي کولای. تاسې چې په څه نه پوهېږئ هغه مهم دي او زر تر زره يې بايد زده کړئ. د ژر زده کړې فورمول هيڅ بديل نه لري. نوي فورمولونه چې څومره زر پيدا کوئ، هومره به يې ارزښت لوړ وي. ځکه د ډوډۍ پخولو طريقه چې مو زده وي، اوړه ورته لمدولای او ډوډۍ ترې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پخولای شئ. پیسو لپاره کار کول، ډېره پخوانۍ طریقه ده او د سمڅو د دورې انسانانو جوړه کړې وه.

## ۵. لومړی ځان ته پیسې جلا کړئ: د ځان منظمولو قوت

که په ځان کنټرول نه لرئ، د شتمنېدو تمه هم مه لرئ. لومړی باید پوځ یا دیني ډلې سره یو ځای شئ چې په ځان کنټرول او واکمني زده کړئ. که پیسې گټئ او بېرته یې ضایع کوئ، نو پانگوونه درته هېڅ گټه نه کوي. زیاتره خلک د بخت ټکټ وگټي، میلیونونه ډالر پیدا کړي، خو په لنډ وخت کې بېرته کنگال شي او لامل یې دا دی چې په ځان کنټرول نه لري. دا هم په ځان نه کنټرول دی چې زیاتره خلک تنخوا واخلي، دستي ووځي موټر وپېري یا چکر ته لاړ شي.

دا پرېکړه سخته ده چې په دې لسو لارو کې کومه یوه سخته ده، خو زه فکر کوم چې دا پړاو به سخت وي، ځکه ځان کنټرولول سخت وي. زه په ډاډ ویلی شم چې همدا په ځان برلاسي د شتمنو، منځنیو خلکو او غریبو تر منځ پوله ټاکي.


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



که داسې خلک په ځان باور ونه لري، حوصله پکې نه وي او مالي فشار پرې راشي، نو هېڅکله شتمنېدی نه شي. شتمن پلار به ویل چې: (خلک به دربانديي فشار راوړي.) دنیا چې په خلکو فشار راوړي لامل یې دا نه دی چې نور خلک ګنې بد دي، بلکې اصلي خبره دا ده چې په چا فشار راځي، دا خلک خپله په ځان باور او کنټرول نه لري. څوک چې دروني زړورتیا نه لري، دوی زیاتره د هغو خلکو قرباني کېږي چې په ځان کنټرول لري.

د تشبث په برخه کې، د لېکچر پر مهال خلکو ته وایم چې یوازې خپل تولید، محصول او پراختیا ته پام مه کوئ، بلکې په خپلو مدیریتي مهارتونو ډېر کار وکړئ. د کار د پیل لپاره درې مدیریتي مهارتونه ډېر زیات مهم دي:

1 - د نقدي جریان مدیریت

2 - د خلکو مدیریت

3 - او د شخصي وخت مدیریت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا درې مهارتونه پر تشبث سربېره هر فعالیت کې ګټه لري. تاسې یې په خپل ژوند کې د فرد په توګه یا د کورنۍ، کاروبار یا نورو ټولنو د غړي په توګه عملي کولای شئ او دا پکې د بریا تضمین دی. دا هر مهارت ددې اړتیا لري چې انسان په خپل ځان کنټرول ولري.

جورج کلاس په خپل کتاب (د بابل خان) کې وایي چې: (لومړی ځان ته پیسې جلا کړئ)، دا کتاب میلیونه ټوکه پلورل شوی دی، خو میلیونه خلک دا خبره کوي او لږ پرې عمل کوي. لکه څنګه مې چې وویل لږ خلک دا سواد لري چې اعداد او ارقام ولولي او همدا اعداد او ارقام کیسه ګویانه کوي.

زه چې د یوه کس د عوایدو صورت حساب او د مالي توازن پاڼه وویینم، دستي پوهېږم چې دا رښتیا هم لومړی ځان ته پیسې جلا کوي او که دا خبره هسې په خوله کوي.

دلته دا توپیر په یوه انځور څرګندوم، څکه یو انځور تر زرو کلیمو ډېرې خبرې لري. لاندې تصویر د هغو خلکو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پرتله ده چې څوک لومړی د ځان لپاره پیسې جلا کوي او هغوی چې نه یې جلا کوي.




ومو ولیده؟ دا ډیاګرام د هغو خلکو کړنې ښیي چې لومړی د ځان لپاره پیسې جلا کوي. هره میاشت دوی له لګښته مخکې، د خپلو شتمنیو ستون کې پیسې ځای په ځای کوي. که څه هم میلیونونه خلک (د بابل خان) کتاب لولي او په دې کلیماتو پوهېږي چې: (لومړی ځان



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ته پیسې جلا کړئ.) خو بیا هم په عملي ژوند کې لومړی پورونه خلاصوي او وروسته پاتې شوې پیسې خپله اخلي.

اوس زه د هغو خلکو غبږ اورم چې لومړی (پورونه خلاصوي) او په دې باور لري، په دې کې زه د هغو ژمنو بساریانو خبرې اورم چې حکومتي مالیات په خپل وخت ورکوي. باور وکړئ، زه دا نه وایم چې تاسې مالیات مه ورکوئ او ځان نامسئوله کړئ. زه درته یوازې د کتاب خبره کوم چې لومړی ځانته پیسې جلا کړئ، په پاس انځور کې یې ښه وضاحت شوی دی او لاندې انځور بیا ددې اپوټه کړنه ښيي.

د عاید صورت حساب




د مالي توازن پاڼه




Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



که په نقدي رښتيا هم پوه شوي یاست، نو درمعلومه به شي چې تېر انځور کې څه ستونزه ده. همدارنګه به په دې پوه شئ چې ولې ۹۰٪ خلک ډېر کار هم کوي، خو بیا هم چې له کاره ولوېږي، دولتي مرستو ته اړ کېږي.

زه او (کیم) له داسې ډېرو بانکدارانو او حسابدارانو سره مخ شوي یو چې دغې طریقې (لومړی ځان ته پیسې جلا کړئ) ستونزه لري. دا په دې چې دغه متخصصین د نورو خلکو په لاره روان وي، یعنې لومړی نورو خلکو ته پیسې ورکوي او له هغوی چې پاتې شوې، هغه ځان ته اخلي.

زما په ژوند کې څو ځله داسې حالت راغلی چې د ځینو دلایلو له امله مې لګښتونه تر عاید لوړ شوي، خو ما بیا هم لومړی ځان ته پیسې جلا کړې. زما حسابدارانو او مدیرانو به چیغې وهلې چې:

- بندي به شې.
- دولت به دې ونیسي.
- پوروړی به شې.
- برښنا به دربندې پرې شي.



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ما هر څه اورېدل خو بیا هم لومړی ځان ته پیسې جلا کړې، ولې؟ ځکه چې د بابل خان کیسه په همدې اړه ده. دا د ځان منظمولو او دننني زړورتیا کیسه ده یا هغه ځانګړنې دي چې شتمن پلار راته د کار په لومړی میاشت کې را وښودې. زیاتره خلک په ځان د نړی فشار مني، مثلاً: د مالیاتو یو مامور درسره اړیکه نیسي- او تاسې ورته دستي تادیه کوئ.

په دې توګه تاسې هغوی ته پیسې ورکوئ او ځانته یې نه ساتئ. یو پلورونکی درته وایي: (له اعتباري کارت (کرېډېټ کارت) دي ګټه اخیستی شې. یا درنه د چارو د لارښوونې یو دفتر زنګ دروهي: (اندېښنه مه کوئ، دولت درته دا اجازه درکوي چې په خپل کور د مالیاتو د معافۍ له امتیازه ګټه واخلئ.) هغه کتاب د همدې موضوعاتو په اړه لیکل شوی دی، خو تاسې دا مېړانه لرئ چې د جریان برعکس حرکت وکړئ او شتمن شئ.

تاسې به نبایي کمزوری انسان نه یاست، خو د پیسو په برخه کې ډېر خلک ضعیفه کېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه دا نه وایم چې تاسې بې مسئولیته شئ. په ما چې د کرېډېټ کارت د تادیاتو پېټې نشته لامل یې دا دی چې زه ځان ته پیسې جلا کوم. زه تیت عاید هم په دې خاطر نسیيم چې نه غواړم خپلې پیسې دولت ته ورکړم. چا چې (د شتمنو راز) فلم لیدلی وي، پوهېږي چې زما د شتمنیو ستون عاید پیدا کوي او که زه د پیسو لپاره کار وکړم، دولت به رانه هر څه واخلي.

که زه هم پورونه وروسته پرې کوم، خو په مالي چارو کې دومره ځیرک هم یم چې ځان ته مالي ستونزې نه جوړوم. زه د لګښتونو لپاره پور نه اخلم، زه له ۹۹٪ خلکو په پرتله ډېر پوروړی یم او باید یې پرې یې کړم، خو بیا پیسې نه ورکوم، ځکه نور خلک شته چې زما دا پورونه پرې کوي. دا خلک زما کرایه دار دي.

لومړی قانون دا دی چې لومړی ځان ته پیسې جلا کړئ او د پورونو په جال کې مه نښلئ. که څه هم زه پورونه په اخر کې خلاصوم، خو دا عموماً واړه پورونه وي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



بلـه دا چـې ځینـي وخـت راسره پیسـې لـږې وي، بیـا هـم لـومړی ځانتـه پیسـې بېلـوم، خـو د دولـت او پـور راوړو غوسـه او جـدیت چـې گـورم خوشـالېږم، ولـې؟ ځکـه هغـوی مـاسره دا لطـف کـوي چـې د لا ډېـرو پیسـو گټلـو لپاره یـوه انگېـزه راکـوي. پـه دې خـاطر لـومړی ځـان تـه پیسـې جـلا کـوم او گـورم چـې د پـور راوړو چیغـې پورتـه شي. مـا پـه هـر ډول حـالاتو کـې د دې خلکـو پیسـې وروسـته ورکـړې او لـومړی مـې ځـان تـه پیسـې جـلا کـړې دي. زه او مېـرمن مې ښه باور لـرو، خـو دومـره فشـار پـه ځـان نـه راوړو چـې لـه سـپما پیسـې را واخلـو یـا اعتبـاري پـانې پـه پیسـو بـدلې کړو، ځکه دا چاره له مالي پلوه ډېره ځیرکه نه ده.

کـه غـواړئ چـې لـومړی ځـان تـه پـه بریـالۍ توگـه پیسـې جلا کړئ، لاندې ټکو ته پام کوئ:

۱) دومـره لـوی پورونـه مـه اخلـئ چـې بیـا ورتـه تادیـه وکـړئ. لگښـت ټیـټ کـړئ. لـومړی شـتمني زیاتـه کـړئ، بیـا کـه لـوی کـور اخلـئ او کـه ښایسـته مـوټر. د مـوږک ځغاسـته د هوښیارو کار نه دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



۲) کــه پیســې درسره لــږې وې پــه ځــان فشــار راوړئ، خــو پـانګې او ســپما تــه ګــوتې مــه ور وړئ. لـه فشـاره د خپـل مـالي نبـوغ د را ويښـولو لپـاره کـار واخلـئ چـې د پيسـو ګټلـو نـوې لارې چـارې پيـدا کـړئ، بيـا مـو پورونـه خـلاص کـړئ. پـه دې کـار تاسـې د پيسـو ګټلـو وړتيـا زيـاتولای شئ او همدومره به مو ورسره مالي نبوغ هم زياتېږي.

زه خپلـه څـو ځلـه لـه سـتونزو سره مـخ شـوی يـم، خـو خپـل مـاغزه مـې کـارولي او عايـد مـې لـوړ کـړی دی. حسـابدارانو بـه مـې چيغـې وهلـې چـې حـالات خـراب دي، خـو زه بـه لکـه زړور سرتېـری ولاړ وم او د خپلـو شـتمنيو سـتون تـه بـه مې ګوتې نه ور وړلې، دفاع به مې ترې کوله.

غريـب خلـک ځينـې بـد عادتونـه لـري، يـو يـې دا دی چـې د سـپما مصرفولو تـه هسـې بهانـه ګـوري. شـتمن خلـک پـوهېږي چـې سـپما يـوازې د نـورو پيسـو جوړولـو لپـاره کېږي، نه د پورونو خلاصولو لپاره.

دا بـه سـخته وي، خـو مـا درتـه مخکـې وويـل چـې کـه سستي مـو وکـړه، خلـک بـه دربانـدې فشـار راوړي. کـه مـالي فشـار مـو نـه خوښـېږي، د ختمولـو لپـاره يـې يـو فورمـول پيـدا کـړئ. يـوه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



طریقه دا ده لګښتونه راټیټ کړئ او سپما شوې پیسې په بانک کې کېږدئ، لوړه مالیه ورکړئ، ګډه پانګوونه وکړئ او د منځنۍ کچې ژوند تېر کړئ، خو دا خبره د (لومړی ځان ته پیسې جلا کړئ) د اصولو خلاف ده.

د اصول مو شخصي- قرباني یا مخنیوي ته نه هڅوي، دا درته نه وايي چې لومړی ځان ته پیسې جلا کړه او بیا لوړه تېروه، ژوند د خوند لپاره جوړ شوی دی، خپل مالي نبوغ را ویښ کړئ. د عاید نوې لارې چارې پیدا کړئ، د ژوند هره خوښي به مو نصیب شي، پیسې وګټئ، پوروونه خلاص کړئ او ددې لپاره د خپلې کورنۍ خوښۍ مه تروړئ او همدا مالي نبوغ دی.

## ٦. کمېشن کارانو ته ښې پیسې ورکړئ: د مشورې قوت

ځینې وخت یې په کورونو یوه خبرتیا ځړولې وي چې: (مستقیم خرڅلاو، کمېشن کاران دې زحمت نه کوي) یا په تلویزیونو کې ځینې خلک د کمېشن کارۍ دعوه کوي.

شتمن پلار ماته د دې برعکس لاره را وښوده. هغه به ویل چې مسلکي خلکو ته پوره معاوضه ورکوه او خپله یې هم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا کار کاوه. نن ماسره تر ټولو ښه وکیلان، حسابداران او د املاکو او ودانیو ښه کمېشن کاران کار کوي، ولې؟ ځکه که څوک په سمه مانا مسلکي وي، نو د هغه خدمتونه موږ ته پیسې را گټي او موږ خپله هم پیسې گټو.

موږ د معلوماتو په زمانه کې ژوند کوو او معلومات ډېر ارزښت لري. ښه کمېشن کار چې تاسې ته ښه معلومات درکوي، ترڅنگ یې باید وروزی. زه ډېر داسې مسلکي خلک لرم چې ټوله ورځ ما لپاره کار کوي، ځینو یې زه هم وخت روزلی وم چې یوه پیسه مې هم نه لرله او تراوسه راسره کار کوي.

زه کمېشن کار ته پیسې ورکوم، هغه معلومات راکوي او په دې معلوماتو بیا زه دومره پیسې گټم چې د کمېشن کار معاوضه پکې هېڅ هم نه وي. زما د املاکو او ودانیو کمېشن کاران چې ښې پیسې گټي زه ورته خوشالېږم، ځکه دا په دې مانا ده چې له هغوی یې ډېرې گټلې دي.

ښه او باوري کمېشن کار نه یوازې زما عاید لوړوي، بلکې وخت مې هم سپموي. مثلاً ما یوه ټوټه ځمکه په ۹٬۰۰۰

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ډالـر واخیسـته او دسـتي مـې پـه ۲۵٬۰۰۰ وپلورلـه، پـه دې پیسو مې زر موټر واخیست.

کمېشـن کـاران پـه بـازار کـې ستاسـو د سـترګو او غوږونـو پـه څېـر دي، هغـوی ټولـه ورځ پـه بـازار کـې وي او زه کلـه کلـه ورځم، په نور وخت کې ګلف لوبه کوم.

څوک چـې خپـل کـور پخپلـه پلـوري اصـلاً خپـل وخـت ارزښـت نـه لـري. کـه د یـو څـو پیسـو پـه بـدل کـې وخـت سـپموم او پـه دې وخـت کـې ډېـره ګټـه کـوم یـا دا وخـت خپلـو ګرانـو سره تېـروم، نـو دا یـو څـو پیسـې ولـې مصرف نـه کـړم؟ جالبـه دا ده چـې زیـات غریـب او د منځنـي طبقـې خلـک پـه هوټـل کـې خـدمتګار تـه بخششي- ورکـوي، خـو کمېشـن کـار تـه د کـار لپـاره ۳- ۷ سـلنه کمېشـن نـه ورکـوي. دوی لګښـتونه زیـاتوي او د شتمنیو برخه ټیټوي، دا مالي څیرکتیا نه ده.

ټـول کمېشـن کـاران یـو ډول نـه دي، لـه بـده مرغـه ځینـې یـې یـوازې بازارمونـدونکي دي او د املاکـو بازارمونـدنې کـې بیـا تـر ټولـو بـد خلـک دي. دوی امـلاک پلـوري، خـو خپلـه یـو وړوکـی جایـداد نـه لـري. د املاکـو پلـورنکي او پـانګوال

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کمېشن کار تر منځ ډېر توپیر دی او دا کار خبره د ونډو د بازار به اړه هم صدق کوي.

زه چې له مشاورينو او کمېشن کارانو سره کاري مرکه کوم، لومړی ترې دا پوښتم چې څومره ونډې او املاک لري او څو سلنه ماليه ورکوي؟ همدا پوښتنې له وکيلانو او حسابدارانو هم کوم. زما يو حسابدار خپل کوچنی مشورتي دفتر هم درلود، خو املاک يې نه وو، ما يې له گومارلو عذر وغوښت، ځکه شوقونه مو سره جلا وو.

داسې مشاور او کمېشن کار وگومارئ چې کار سره يې مينه وي. په دوی کې به يې ځينې ډېر څه در زده کړي او دا به ستاسې لويه شتمني شي. که مو عدل وکړ، له هغوی زياتره به هم درسره عدل وکړي. که تاسې يوازې د هغوی د تنخوا په تيټولو فکر کوئ؛ نو هغوی به ولې درته راځي؟ دا بيخي ساده خبره ده. ما مخکې وويل چې د خلکو کنترول يو اداري مهارت دی. ډېر خلک يوازې په هغو خلکو مديريت کوي چې فکر کوي دوی تر هغوی ښه پوهېږي، مثلاً په کار کې مادون. د منځنۍ کچې زياتره مديران به يوازې په دې خاطر پرمختگ نشي- کولای چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دوی یوازې تر خپل لاس لاندې خلکو کار اخیستی، خو له ځان لوړو خلکو ته کار نشي کولای.

اصلي مهارت د هغو خلکو اداره او ښې پیسې ورکول دي چې په ځینو مسلکي برخو کې تر نورو تکړه دي. په همدې خاطر شرکتونه اجرائیوي رئیس لري، تاسې هم باید یو ولرئ او هغه ستاسې مالي نبوغ دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



### ۷. يوازې ورکړه کوئ، غواړئ يې مه

اروپايان چې په لومړي ځل امريکا ته راغلل او دلته مېشت شول؛ نو د ځايي امريکايانو د ځينو رواجونو په ليدو حيران شول. مثلاً که د کوم اروپايي يرغلگر به ساړه وشول، ځايي امريکايانو به ورته کمپله ورکړه، دوی به هغه ډالۍ وگڼله، خو بيا به چې هغوی خپله کمپله بېرته غوښته، اروپايانو ته به غوسه ورتله. په دې کار به يې امريکايان هم خپه شول.

که غواړئ چې شتمن شئ، نو د شتمنيو ستون سره به د امريکايانو په څېر چلند کوئ. د تجربه کار پانگوال لومړی پوښتنه به دا وي چې زما بېرته په څومره وخت کې راکوې؟ دا به هم درته وايي چې زما پکې څومره گټه ده؟

مثلاً ماته زما په گاونډ کې يو وړوکی اپارتمان را وښودل شو. دا اپارتمان بانک سره گانه (گرو) شوی و، خو په وخت يې پيسې نه وې خلاصې کړې او اوس د بانک په ولکه کې و. بانک ۶۰٬۰۰۰ ډالر غوښتل، ما ورته ۵۰٬۰۰۰ وويل، هغوی زما وړانديز ومانه او ما ورته دستي د ۵۰٬۰۰۰ ډالرو چک ورکړ، هغوی پوهېدل چې په سودا



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې جدي يم. زياتره پانګوال به ووايي چې: (په دې پيسې دې ګټي ډېرې پيسې بندې نه کړې؟ که پور دې ورته اخيستی وی ښه به نه و؟) زما ځواب دا دی چې (په دې برخه کې نه). زما د پانګوونې شرکت به دا کور ژمي کې په کرايه ورکړي. اريزونا ته چې د ژمي مرغۍ را مخه کړي، کور به څلور مياشتو لپاره، هره مياشت په ۲۵۰۰ ډالر کرايه ورکړي او په نورو مياشتو کې به يې کرايه زر ډالره وي. په دې صورت کې ما په دريو کالو کې خپلې پيسې بېرته ترلاسه کړې او کور راته په ګټه کې پاتې دی، هره مياشت راته عايد راوړي.

په ونډو کې هم داسې کېږي. د ونډو کمېشن کاران ماسره اړيکه نيسي- او راته وايي چې په فلاني شرکت کې دومره پانګوونه وکړه، ځکه دوی فکر کوي چې که زه ډېرې ونډې واخلم، د ونډو په بازار کې د دې شرکت ارزښت لوړېږي او دا داسې ده لکه نوی توليد چې بازار ته وړاندې کوي. زه د هغو ونډو اخيستو لپاره خپلې پيسې له يوې اونۍ تر يوې مياشتې په هغه بازار کې بندوم، بيا چې د ونډو بيه لوړه شوه، لومړی مې خپلې د سر پيسې له بازار


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



راوباسم او اندېښنه مې ختموم، د سر پیسې مې چې ترلاسه کړې، په دې پیسو بیا بل ځای کې کاروبار پیلوم. یانې زما پیسې چې بازار ته ځي او بېرته راوځي، نو ماته گټه راوړي او دا بیخي وړیا ښکاري.

ما په ځینو ځایونو کې پیسې بایللې هم دي، خو زه دا لوبه په دومره پیسو کوم چې بایللی یې شم. په متوسط ډول ما په لسو سوداگانو او درې څلورو کورونو کې ښه گټه کړې، خو په پنځو شپږو کې مې هېڅ گټه نه ده کړې او درې څلورو کې مې تاوان هم کړی دی. البته زما تاوان یوازې هغه پیسې وې چې بازار کې مې بندې کړې وې.

کوم خلک چې له خطره وېرېږي، پیسې په بانک کې ږدي، دا کار په اوږد مهال کې تر مفلسۍ ښه دی، خو په دې پیسو گټه سخته وي او زیاتره وخت خپلې پیسې هم په سختۍ ترلاسه کېږي. پخوا ښه وو، بانکونو به ځینې وسایل ډالۍ کول، اوس هغه هم لږ شوي.

زما هره پانگوونه به یوه وړیا زیاتونه حتماً لري، مثلاً ضبط شوې جایداد، وړوکې زېرمتون، ځمکه، کور، ونډې، دفتر او دا ټول باید له لږ خطر سره ترلاسه شي. په دې اړه ډېر



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زیات کتابونه دي چې زه يې جزياتو ته نه ځم. د مکډولنډ شرکت مشر- (ری کرک) به برګرې پلورلې، هغه برګرو سره مینه نه لرله، خو غوښتل يې چې په کوم ځای کې دا برګر پلورل کېږي، هغه جايداد وړيا ترلاسه کړي.

نو ځيرک پانګوال يوازې د پيسو ببرته ترلاسه کولو ته نه ګوري، دوی هڅه کوي چې د پيسو له ترلاسه کولو وروسته وړيا جايداد هم ترلاسه کړي او همدا مالي نبوغ دی.

## ۸. په شتمنيو، زينتي شيان وپېرئ: د تمرکز قوت

زما د يوه ملګري زوی ډېر بد عادت خپل کړی و، چې څومره پيسې به يې لرلې ټولې به يې مصرفولې. دی ۱۶ کلن و او خپل شخصي- موټر يې غوښت، بهانه يې دا کوله چې ملګرو ته يې پلرونو موټرې اخيستې دي. دې هلک غوښتل چې له سپما پيسو د موټر لومړی قسط ورکړي، چې په دې وخت کې يې پلار ماته زنګ راوواهه، راته يې وويل:

- همداسې يې پرېږدم که موټر ورته واخلم؟

ما ورته وويل:



Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



- دا ستونزه اوس ختمه کړه، خو د اوږدمهال لپاره دې کوم درس ورکړی؟ ته غواړې چې د زوی د موټر له دې شوقه ګټه واخلې او یوه انګېزه ورکړې؟

دوه میاشتې وروسته د ملګري کور ته لاړم، پوښتنه مې ترې وکړه:

- زوی دې نوی موټر واخیست؟
- نه، ما ورته ۳۰۰۰ ډالر د موټر لپاره ورکړل او ورته مې وویل چې د خپلو پیسو لګولو پر ځای، له دې پیسو د کالج مصارف کوه.
- ښه نو، دا ستا سخاوت ښيي.
- پیسې همداسې نه وې، یو شرط هم ورسره و، ما ستا په خبره عمل وکړ، موټر سره د هغه له شوقه مې ګټه واخیسته او هغه انرژي مې د هغه د زده کړو لپاره وکاروله.
- ښه، څه شرط دې پرې ایښی و؟
- لومړی مو ستا (کېش فلو) لوبه وکړه، بیا مو له پیسو د ښې ګټنې په اړه بحث وکړ، بیا مې ورته په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وال سټریټ ژورنال ورځپاڼه کې ګډون واخیست او ځینې کتابونه مې ورته وپېرل.

- ښه بیا ؟
- ورته مې وویل چې دا ۳۰۰۰ ډالر ستا شول، خو په دې پیسو موټر نشې اخیستی، په دې باید ونډې واخلې او د ونډو کمېشن کار باید پیدا کړې. بیا چې کله دا پیسې دوه چنده (۶۰۰۰) شوې، په هغو پیسو بیا موټر اخیستی شې او د سر درې زره ډالر به د کالج لګښت شي.
- ښه، پایله یې څه ده؟
- په لومړیو کې ښه و، خو خو ورځې وروسته یې هر څه وبایلل او اخر یې ورسره علاقه پیدا شوه. تراوسه یې نږدې دوه زره ډالر زیان کړی دی، خو شوق او انګېزه یې زیاته شوې ده. ما چې ورته کوم کتابونو اخیستي وو، هغه یې ټول لوستي او اوس د مطالعې لپاره کتابتون ته ځي. ورځپاڼه لولي، د ونډو خبرونه ګوري او د فلمونو پرځای سوداګریز تلویزیوني چېنل ګوري. اوس ورسره زر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ډالـر پـاتې دي، خـو زده کـړې سره يـې شـوق زيـات شـوی دی. ښـه پـوهېږي چـې کـه دا پيسـې تـرې لاړې دوه کاله بـه بيـا پلـې گرځـي، خـو فکـر کـوم اوس ورتـه مـوټر چنـدان ارزښـت نـه لـري، لکـه مـوټر سره يـې چـې بيخـي شـوق ختـم شـوی وي، ځکـه اوس يـې تـر مـوټر ډېـره خونـدوره تفـريح پيـدا کـړې ده.

- که دا زر ډالر هم لاړ شي نو بيا ؟
- پـروا نـه کـوي، زه وايـم چـې دا پيسـې وبـايلي ښـه ده، نـه دا چـې زمـوږ عمـر تـه راشي او ژونـد يـې خطـر سره مـخ شي. بلـه دا چـې د زده کـړو لپـاره مـې دا درې زره ډالـر ايلـه پـر ځـای ولگـول. اوس چـې زده کـوي دا بـه ورسره ټـول عمـر وي، فکـر کـوم چـې د پيسـو پـه ارزښـت او قـوت پـوه شـوی دی، اوس بـه بـې ځايـه پيسې نه مصرفوي.

ما پـه لـومړي سر کـې وويـل چـې: (لـومړی ځـان تـه پيسـې جـلا کـړئ.) کـه څـوک ځـان نشيـ- کنټرولـولای د شـتمنېدو هڅـه دې نـه کـوي. ځکـه پـه خولـه د شـتمنيو پـه سـتون کـې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زیاتوالی اسانه دی، خو عملاً په ذهن فشار راوړل او پیسې په سم ځای کې لګول ډېر سخت کار دی. نن سبا ډېر داسې شیان شته چې انسان د پیسو مصرفولو ته هڅوي، د شتمنیو له ستونه پیسې په اسانه وځي او دا د انسان د نفس کمزوري ده چې پیسو ته جریان ورکوی، دا د فقر او مالي ستونزو دلیل دی.

زه درته اوس مالي پوهې او نبوغ یو عدد راوړم، دا به وښيي چې له پیسو د پیسو جوړولو وړتیا څومره مهمه ده.

که موږ سلو تنو ته د کال په سر کې ۱۰٬۰۰۰ ډالر ورکړو، زه باور لرم چې د کال په اخر کې به دا وي:

- ٪۸۰ سره به هېڅ پیسې نه وي پاتې او د موټرو، یخچالونو او نورو وسایلو د پېر لپاره به یې غوښن پورونه هم اخیستي وي.
- ٪۱٦ خلکو به دا دې لسو زرو ډالرو کې له ۵ تر ۱۰ ٪ زیاتوالی راوړی وي.
- ٪۴ خلکو به دا پیسې شل زرو یا میلیونونو ته رسولې وي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



مور ښوونځي ته ددې لپاره ځو چې پيسو ته کار کول زده کړو، خو زه په دې نظر يم چې مور بايد دا زده کړو چې پيسې مور ته څنګه کار وکړي؟

زه هم انتيکو او مجللو شيانو سره مينه لرم، خو توپير پکې دا دی چې زه يې د نورو غوندې په پور نه اخلم، دا سړی په دام کې نښلوي. ما چې موټر اخيسته، کولای مې شول چې بانکر ته زنګ ووهم، پور ترې وغواړم او موټر واخلم، خو ما داسې ونه کړل، ددې پر ځای مې د شتمنيو په ستون تمرکز وکړ، دې سره مې عايد زيات شو او ما پرې موټر واخيسته. د عادت له مخې مې د موټر شوق هم د خپل مالي نبوغ د ويښولو لپاره وکاروه.

خو نن سبا زياتره وخت په پانګوونې فکر نه کوو، د اړتياوو پوره کولو لپاره يوازې په پور فکر کوو، دا خبره د لنډمهال لپاره ښه ده، وروسته بيا ستونزې جوړوي. دا زمور د خلکو او ملت ډېر بد عادت دی، پام کوئ چې لنډې لارې زياتره وخت سختې او اوږدې لارې زياتره وخت اسانې وي.

ځان او نورو ته چې هر څومره زر د پيسو کنټرول ور زده کړې، هومره به درته ښه وي، ځکه پيسه ستر قوت


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



دي. لـه بـدهمرغـه ځینـې خلـک دا قـوت د خـان پـر وړانـدې کـاروي. کـه پیسـې تـر تاسـې هوښـیارې وي، نـو تـول عمـر بـه پیسـو تـه کـار کـوئ، د پیسـو د کنټـرول لپـاره بایـد تاسـې تـر پیسـو ډېـر هوښـیار شـئ، بیـا چـې تاسـې څنګـه وایـئ پیسـې بـه هغسـې عمـل کـوي او ستاسـې درنـاوی بـه کـوي. د پیسـو غلامـي مـه کـوئ، د پیسـو بـاداران شـئ او دېتـه مـالي نبـوغ یـا پوهه وايي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## ۹. اتلان تاکل: د اسطورې قوت

زه چې ماشـوم وم ((ویلـی مـایز))، ((هنـک آرون)) او ((یـوګي بـرا)) تـه مـې ډېـر درنـاوی درلـود او دوی د بیسـبال لوبغـاړي او زمـا اتـلان وو. مـا بـه چـې د ورو میـدانونو لوبـه کولـه، غوښـتل بـه مـې چـې د دوی پـه څېـر شـم. د بیسـبال پـه اړه مـې کارتونـه لـرل او غوښـتل مـې چـې د دوی پـه اړه پـوه شـم، ان د دوی امتیـازات، ارقـام، اوسـط او تنخـواوې ... دا چـې څنګـه یـې لوبـه پیـل کـړې، غوښـتل مـې چـې پـه دې ټولـو شیانو پوه شم، ځکه ما غوښتل چې د دوی په څېر شم.

ما به چې لوبه کوله، د لـوبې هـر حرکـت کـې بـه مـې ځـان لـه همـدې لوبغـاړو یـو احساسـاوه. دا د زده‌کـړې ښـه لاره ده. ځـوانی کـې یـې بیـا نـه تعقیبـوو، ځکـه پـه مـوږ کـې چـې هغـه ماشـومتوب خـتم شي؛ نـو اتـلان هـم ورسره لـه منځـه لاړ شي. نـن سـبا زمـوږ د کـور خـوا کـې ځوانـان پـه لوبـو ګـورم. دوی د لوبـو پـه میـدان کـې ماشـومان نـه وي، بلکـې لـوی اتـلان وي. تقلیـد او اغېـز اخیسـتل د زده‌کـړې تـر ټولـو قـوي وړتیا ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه چې لـوی شـوم اتـلان مـې هـم بـدل شـول، پـه ګلـف کـې مـې اوس نـوي خلـک اتـلان دي او لـه هغـوی تقلیـد کـوم، ددې تـر څنـګ مـې ((ډونالــډ ټرمــپ))، ((وارن بافــت))، ((پیـتر لیـنچ))، ((جـورج سـورس)) او ((جـیم روجـر)) هـم اتـــلان دي. ماتـــه ددې خلکـــو ارقـــام او معلومـــات هـــم د ماشـــومتوب د اتلانـــو غونـــدې زده دي. زه (وارن بافـــت) تعقیبـوم چـې پـه څـه شي پانګوونـه کـوي او تـر خپلـه وسـه پـه پانګوونـه کـې دده نظریـات لـولم. زه د ((پیـتر لیـنچ)) کتابونـه هـم لـولم چـې دوی ونـډې څنګـه ټـاکي. د ډونالـډ ټرمـپ پـه اړه هـم مطالعـه کـوم او هڅـه کـوم پـوه شـم چـې د دوی پـه سوداګریزو معاملاتو کې څه ډول خبرې اترې کوي.

ماشـــومتوب کـــې بـــه مـــې د لوبـــو پـــر وخـــت ځـــان اتـــل احساسـاوه، نـن چـې بـازار کـې سـودا کـوم، پـه ځـان کـې د ټرمـپ زړورتیـا احساسـوم. د ونـډو پـه بـازار کـې چـې حـالات تحلیلـوم داسـې ورتـه ګـورم لکـه پیټرلیـنچ. د اتلانـو پـه مرسـته موږ د ځیرکتیا طبیعي زېرمې ته لاسرسی پیدا کولای شو.

اتـلان یـوازې مـوږ نـه اغېزمنـوي، دوی مـوږ تـه شـیان اسـانه کـوي، مـوږ د خپـل ځـان تقلیـد تـه قـانع کـوي او مـوږ وایـو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې: (که دی دا کار کولای شي، نو زه یې هم کولای شم.)

په پانګوونه کې بیا زیاتره خلک اتلان نه پیدا کوي چې موضوع ورته اسانه کېږي، بلکې ځانته یې نوره هم لویوي.

**۱۰. ښوونه وکړئ چې لاسته راوړنه ولرئ: د ورکړې قوت**

زما دواړه پلرونه ښوونکي وو، شتمن پلار یو درس راکړی و او ټول عمر به راسره وي، دا د نېکۍ او سخاوت اړتیا وه. لوستي پلار «وخت» او «علم» راکړ، خو پیسې ده هم رانه کړې.

ده به ویل چې پیسې راسره ډېرې شوې، در به یې کړم، خو پیسې نه ډېرېدې.

شتمن پلار به «پیسې» او «درس» دواړه راکول. خیریه بنسټونو سره یې ډېره مرسته نه کوله. تل به یې ویل: (که څه غواړې، لومړی باید څه ورکړې.) کله به چې ورسره پیسې لږې شوې، خیریه ټولنې سره به یې مرسته وکړه.

کله مې یوه طرحه درته ویلې شوې؛ نو دا به وي چې: (که لاس دې تنګ شو، لومړی خپله سخاوت وکړه، د دې څو چنده به بېرته ترلاسه کړې.) دا خبره د «موسکا»، «مینې»

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



او «ملگری» په برخه کې هم صدق کوي. زه پوهېږم غالباً دا به یکې تر ټولو اسانه کارونه وي. زه په متقابله اړیکه باور لرم او څه چې غواړم لومړی څه ورکوم. زه پیسې غواړم، په دې خاطر پیسې ورکوم او بیا څو چنده بېرته ترلاسه کوم. زه غواړم چې ډېر خرڅلاو وکړم، په دې خاطر نورو سره د اموالو په خرڅلاو کې مرسته کوم او زما اموالو ته هم خریدار پیدا کېږي. زه اړیکې غواړم، په دې خاطر نورو سره د اړیکو په رامنځته کولو کې مرسته کوم او زما اړیکې خپله ورسره پراخېږي. کلونه وړاندې مې اورېدلي وو چې: (خدای هېڅ شي ته اړتیا نه لري، خو بنده ګان یې اړ دي چې باید ورته وړاندې یې کړي.)

زما شتمن پلار به تل ویل چې: (غریب تر شتمنو ډېر حریص وي.) وضاحت به یې داسې کاوه چې که څوک شتمن وي، د نورو خلکو اړتیاوې به پوره کوي. زما به چې لاس تنګ شو، بهر به ووتم، یا به مې زړه کې ځان سره وویل چې څه شی باید ورکړم، بیا به مې چې هغه شی ورکړل، زما د اړتیا وړ شی به مې هم ترلاسه کړل او لاس به مې ازاد شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



یوه کیسه مې یادېږي چې د ژمي په یخه شپه کې یو سړی د یوې بخارۍ څنګ ته ناست و، لرګي یې په غېږه کې نیولي او بخارۍ ته به یې ویل: (که ته ماته تودوخه راکړې، زه به لرګي در واچوم.) بیا چې د پیسو، مینې، موسکا، اړیکو، خوښیو کاروبار خبره شي، نو دا خبره یاده لرئ چې هر څه ته مو اړتیا وي، لومړی یې ورکړئ، بېرته به د هغه څو چنده ترلاسه کړئ. زیاتره وخت زه داسې احساس کوم چې زما څه شي ته اړتیا وي او زه یې بل چاته ورکړم، نو په ما به را وورېږي. زه چې چا سره مخ شم، که هغوی موسکي نه وي، زه ورته موسکی شم، خبرې چې ورسره پیل کړم ناڅاپه رانه د موسکو خلکو یوه کړۍ را تاوه شي. دا رښتیا خبره ده چې نړۍ هېنداره ده او موږ پکې ځان وینو.

په دې خاطر زه وایم چې: (نورو ته ښوونه وکړه، هغوی به تاسې ته ډېر څه در وښيي.) دا زما خپله تجربه ده چې څومره په اخلاص نور خلک روزم، هومره راته پخپله د لا ډېرې زده کړې فرصت برابرېږي او په ذهن کې مې نوي نوي افکار پیدا کېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځینې وخت داسې هم وشي چې یو څه ورکړم، خو په بدل کې یې څه ترلاسه نه کړم یا هغه ترلاسه نه کړم چې زه یې غواړم، بیا مې چې ځان سره فکر کړی، ځان ته متوجه شوی یم، پوه شویم چې زما ورکړه لږ او سودا ډېره وه، یانې اخلاص پکې لږ و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نهم څپرکی

## بس نه دي؟: ښه دا هم وکړئ

زیاتره خلک به زما په دې لسو اصولو راضي نه وي او دا به ورته د عملي پر ځای ډېر تخیلي ښکاري. زه خو وایم چې هر کار او عمل په یوه فکر کېږي او په دې فکر پوهېدل یې تر عملي کولو هومره مهم دي. زیاتره خلک غواړي چې د فکر پر ځای عمل وکړي او داسې هم شته چې د عمل پر ځای فکر کوي، خو زه د دې دواړو ترکیب یم، زه نوي فکرونه او کارونه دواړه زښته ډېر خوښوم.

څوک چې غواړي کار و عمل پیل کړي، زه به ورسره په لنډ ډول خپل ځینې کارونه شریک کړم:

- څه چې کوې هغه پرېږده. یانې دا چې دمه وکړئ او فکر وکړئ چې ستاسې دا کار، درته کار کوي که نه؟ د کم عقلۍ او لېونتوب یوه نښه دا ده چې کار به یو کوې او پایلې به یې نورې غواړې. کوم کار چې تاسې هدف ته نه رسوي هغه پرېږدئ او په نوي کار پسې وګرځئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



- *نوې مفکورې (اېډياوې) ولټوئ.* زه د پانګوونو نويو لارو چارو پسې ګرځم، په دې خاطر کتابپلورنځيو کې د پانګوونې اړوند کتابونه لټوم او د نويو اېډياوو په لټه کې يم. زه داسې کتابونه پېرم چې د فورمولونو تفصيل پکې راغلی وي.

مثلاً ما د جول ماسکووز يو کتاب واخيست، د کتاب نوم (The ١٦ perecent solution) و. په راتلونکې اونۍ کې مې هغه څه وکړل چې کتاب ويل. زياتره خلک داسې نه کوي. زياتره خلک د کتاب خبره نه مني، د نورو خلکو خبرې اوري، فورمول ته نه ګوري او په دې توګه له زده کړې پاتې کېږي. ګاونډي مې راسره دلايل ويل چې دا فورمول په درد نه خوري، ما يې خبرې ته غوږ ونه نيوه، ځکه لا دا کار يې نه و کړی.

- که تاسې يو کار کوئ، داسې څوک پيدا کړئ چې د دې کار تجربه ولري. هغوی سره کېنئ، مشوره ترې وغواړئ. زه چې کوم نوی فورمول پيدا کړم، زياتره وخت دولتي ادارو ته ورځم، مامورينو سره مشورې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کوم چې قانوني اړخ يې څنګه دی. د شپاړس سلنه مالياتي حبس په اړه يوه مامور هم وويل چې پانګوونه يې کړې، هغه مې مېلمه کړ، ډوډۍ مو چې وخوړه په ډېرو مسايلو او جزياتو يې پوه کړم. په سبا مې د همدې کس په مرسته دوه جايدادونه ترلاسه کړل او په هغو جايدادونو اوس هم ۱۶٪ ګټه کوم. يوه ورځ مې دا خبره کتاب کې ولوسته، بله ورځ مې پرې عمل وکړ، يو ساعت مو ډوډۍ وخوړه، مشوره مو وکړه او په يوه کې مې دوه ګټورې سوداګانې وکړې.

- کورسونو کې برخه واخلئ او روزنيزې سي ډي ګانې وپېرئ. زه داسې ګټور کورسونه په ورځپانو کې لټوم، ځينې يې وړيا وي او ځينې لږ فيس اخلي، کوم سيمينارونه مې چې په خپله خوښ شي ښې پيسې پرې ورکوم. زما ځينې ملګري خپله دې کورسونو ته نه ځي او ماته هم مشوره راکوي چې په دې شيانو پيسې مه ضايع کوه، خو زه ددې په برکت دومره مخکې تللی يم او هغوی لا هم پردۍ مزدوري کوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



- ډېر وړاندیزونه وکړئ. زه چې څمکه پېرم، په ډېرو ځایونو ګرځم او ډېر وړاندیزونه ورته کوم. که تاسې نه پوهېږئ چې کوم وړاندیز ښه دی، زه هم نه پوهېږم، ځکه دا د چارو د لارښووونو دفتر کار دی، بیې هغوی ټاکي او زه هڅه کوم چې لږ کار وکړم.

یوې ملګرې مې غوښتل چې د اپارتمانونو په خریداری یې پوهه کړم، یوه ورځ ما، هغه او کمېشن کار شپږ اپارتمانونه ولیدل. ځلور چندانې نه وو، خو دوه پکې ښه وو. ما ورته د شپږو واړو وړاندیزونه ولیکل او د خاوند د ټاکلې بیې په نیمایي مې تړې وغوښتل. زما ملګرې او کمېشن کار بیخي حیران شول، ویل یې هسې نه چې د کور خاوند په دې دومره لږې بیې خپه نه شي.

خو زه فکر کوم هغه کمېشن کار ته دا کار ډېر جدي نه ښکاریده، هسې ځان یې تړې خلاصوه، په دې خاطر یې سودا ونه کړه او په نویو ځایونو پسې ووتل.

هغو کورونو ته تراوسه بل چا وړاندیز نه دی کړی، خاوند یې اوس هم په ښو بیو پسې ګرځي، خو تر څو چې بل کس بیه ورنه کړي، تاسې نه پوهېږئ چې اصلي بیه یې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



څو ده. زیاتره خلک لوړې بیې وړاندیز کوي، څو کله کله داسې هم وشي چې د کور خاوند له اصلي ارزښته ډېره ټیټه بیه تاکلې وي.

**د کیسې هدف:** وړاندیزونه وکړئ، پانګوال په دې نه پوهېږي چې تاسې څه پلورئ څه دربانديې تېرېږي. ما یوه توټه ځمکه شپږ میاشتې په خرڅ کې اچولې وه، هر چا به چې کومه بیه وویله ما به یې درناوی کاوه. د بیو ټیټوالي راته هېڅ ارزښت نه درلود، زه به ورته خوشاله کېدم. زه د دوی بیو ته نه خوشاله کېدم، بلکې خوشاله په دې وم چې ځینو خلکو علاقه ښودله او ما باید ځواب ورکړی وی ان که بیخي ټیټه بیه یې راکولای. دا د لوبې طریقه ده، د پېر و پلور لوبه خوندوره ده. دا لوبه کوئ، وړاندیزونه کوئ، ځوک خو به درته (هو) وکړي.

زه تل په وړاندیزونو کې شرایط ذکر کوم یا په بله وینا ځانته د تېښتې لار پرېږدم. زه چې وړاندیز ورکوم ورته وایم چې که زما د شریک خوښه وشوه زه هېڅکله د شریک نوم او پته نه ښییم. زیاتره خلک په دې نه پوهېږي چې شریکه مې پیشو ده. که دوی سودا ومنې او زما

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



خوښه نـه وي؛ نـو زه کـور تـه زنـګ وهـم او پیشـو سره مـې خبرې کـوم. دا د خنـدا خبره مـې درتـه ددې لپـاره وکړه چـې دا لوبـه دومـره اسـانه او سـاده ده. زیـاتره خلـک سـاده چـارې ځانته سختې کړي او بیا ورته لاس تر زنې ناست وي.

- د ښـې سـوداګریزې سـودا، ښـه کـار او سـمو خلکـو پیـدا کـول داسـې دي لکـه خپلـوي کـول، انسـان ګرځـي، ډېـر کورونـه لټـوي، اخـر ورتـه یـو ځـای کـې (هـو) کېـږي. کـار هـم کـور کـې پـه ناسـته نـه کېـږي، بهـر ووځـئ، پلټنـه وکړئ، خدای مهربانه دی، په حرکت کې برکت وي.
- میاشت کـې یـو ځـل د لسـو دقیقـو لپـاره پـه یـوه سـیمه ور تېرېـږئ. مـا د املاکـو ډېـرې پـانګوونې سـهار کـې د ورزش او ځغاسـتې پـر مهـال پیـدا کـړې دي. زه یـو کـال پـه خپـل مالـت کـې منـډه وهـم، بدلونونـه ځـارم، ګټـوره سـودا دوه شـیان غـواړي: چټـې وهـل او بـدلون. چټـې خـو ډېـرې وهـل کېـږي، خـو بـدلون داسـې حقیقـت دی چې عامه سـودا درتـه پـه ګټـوره سـودا بـدلوي. زه پـه خپـل مالـت کـې ګـرځم، واړه بدلونونـه ځـارم، پـه کورونـو د پلـور داسـې لـوحې وینـم چـې لـه ډېـره وختـه را ځړېـږي. لـه


Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library


دي پوهېږم چې د دې کور خاوند راضي کول سخت وي. زه هغو خلکو ته ګورم چې کور ته وځي نه نوځي. زه دوکاندارانو سره غږېږم. د پوست کارکوونکو سره غږېږم. د پوست کارکوونکو سره د سیمې په اړه دومره معلومات وي چې ورته حیران به شئ.

- په وړو بازارونو کې چنې ووهئ. مصرفوونکي به تل غریب وي، ځکه که مغازه په تشناب کاغذ کې تخفیف اعلان کړي هم دوی به ورته په لیکو کې ولاړ وي. خو د ونډو په بازار کې که بیې را ولوېږي یا تخفیف اعلان شي، نو خلک ترې تېښته کوي. په مغازو کې چې بیې لوړې شي، مصرفوونکو نورې مغازې لټوي او د ونډو په بازار کې چې بیې لوړې شي، دوی دستي اخیستل پیلوي.
- مناسب ځایونه ولټوئ. یوه ګاونډي کور په سل زره ډالر واخیست، ما ورته مخامخ په پنځوس زره ډالر واخیست. هغه راته ویل چې د بیو لوړېدو ته مې ساتلی، ما ورته وویل چې «ګټه» د مال د «اخیستو» پر «وخت» کېږي، نه د «خرڅلاو» پر وخت. هغه، ځای له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



داسې کمېشن کاره اخیستي و چې خپله یې هېڅ جایداد نه درلود او ما د بانک د ګروی له ځانګې پېرلی و. ما یې په معلوماتو یوازې ۵۰۰ ډالر لګولي وو. زما ملګري به ویل چې په دومره خبره ۵۰۰ ډالر ورکول بې عقلي ده. ویل یې داسې مصرفونو ته نه وخت لرم او نه پیسې. اوس قرار د بیو لوړېدو په تمه ناست دی.

- لومړی پېرودونکی، ورپسې پلورونکی ولټوئ. د یوه ملګري ځمکه خوښه شوې وه، خو وخت او پیسې ورسره نه وې. ما یوه پراخه ځمکه پیدا کړه، د ملګري له اړتیا ډېره وه، شرط مې دا کېښود که د ملګري مې خوښه شوه، نو سودا به کوو. زما د ملګري ځای خوښ شو، د ده چې څومره په کار وه هغه مې ده ته جلا کړه، له ده مې پیسې واخیستې او نوره ځمکه ما ځانته واخیسته. یاني دا نوره ځمکه ماته تقریباً وړیا پاتې شوه. د کیسې موخه دا ده چې پراخه ځمکې واخلئ، په وړو برخو یې وویشئ، ځکه خلک د لویو ځایونو اخیستو وس نه لري او په وړو ځایونو لس

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زیاتې هم ورکوي. د «واړه فکر» خاوند ته «لوی فرصت» نه ورځي. که غواړئ شتمن شئ؛ نو لوی فکر وکړئ، لوړ پلانونه جوړ کړئ او سترې سوداګانې وکړئ.

- لوی فکر وکړئ. پرچون پلورونکي خپلو پېرودونکو ته ډېر تخفیف ورکوي، ځکه سوداګر هغو خلکو ته ډېر خوشاله وي چې ډېره سودا کوي. نو که ته وړوکی یې، فکر لوی کولای شې. زموږ شرکت چې بازار ته کمپیوټرونه راوړل، ما ډېرو خلکو ته زنګونه ووهل او پوښتنه مې ترې وکړه چې کمپیوټرونه اخلئ؟ له دې وروسته بیا عمده پلورونکو ته لاړو او هغوی سره مو خبرې وکړې، ځکه موږ ډېر کمپیوټرونه راوړل. د ونډو په اړه هم زما همدا طریقه ده. واړه خلک په دې واړه وي چې فکرونه یې واړه وي. شک او بدګماني یې په اوږو بار وي، په هېڅ باور نه کوي، یوازې لګیا وي او هېڅ هم نشي کولای.
- له تاریخه زده کړه وکړئ. د ونډو د بازار لوی شرکتونه یو وخت وړې اداري وې. کرنیل سینډرز چې په ۶۰

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



کلنی کې مفلس شو، بیا یې پیسو ګټلو ته مخه کړه او بیل ګېټس تر ۳۰ کلنی وړاندې د نړۍ شتمن انسان و.

- کار، لټي له منځه وړي.

پورته مې ځینې هغه کارونه یاد کړل چې ما کړي او اوس یې هم د فرصتونو د لټون په برخه کې عملي کوم. په کتاب کې مهم ټکي «وکړئ» او «شوي» دي، تاسې باید مالي خپلواکۍ ته له رسېدو وړاندې پیل وکړئ. نو همدا اوس یې پیل کړئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# وروستي خبري

د دې کتاب د لیکلو او بیا له ۲۰۰۰ کال راهیسې د ډېر پلورل کېدو موخه او لامل دا و چې موږ څنګه خپله مالي پوهه لوړه کړو او د ورځني ژوند له عامو ستونزو څخه خلاص کړو.

مالي پوهه چې نه وي زیاتره وخت هڅه کوو چې په مروجه اصولو ژوند برابر کړو، لکه ډېر کار، پور اخیستل یا له اړتیا زیاته مالیه ورکول. نن موږ معلوماتو ته، تر هر وخت ډېره اړتیا لرو.

په لاندې کیسه کې غواړم چې د زیاتره کورنیو مالي ستونزې روښانه کړم. تاسې د تقاعد پر وخت خپلو بچو ته د زده کړو ښه امکانات څنګه برابرولای شئ؟ ددې کار لپاره مالي پوهې او نبوغ ته اړتیا ده، نه سخت کار ته او دا بېلګه همدا مسله رانغاړي.

یوه ورځ مې راته ملګري زړه خوږ چې څلورو بچو ته د زده کړو خرڅ (لګښت) برابرول ډېر سخت کار دی. ده به هره میاشت په منظم ډول ۳۰۰ ډالر په ګډو پانګوونو کې جمع کول او اوس پکې ۱۲٬۰۰۰ ډالر جمع شوي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وو. دده په وينــا د څلــورو واړو بچــو زده کــړو، ۴۰٬۰۰۰ ډالــر لگښــت درلــود او ددې پيســو پــوره کولــو لپــاره يــې ۱۲ کاله وخت درلود، ځکه مشر زوی یې اوس ٦ کلن و.

دا د ۱۹۹۱ز کــال کيســه ده، هغــه وخــت پــه فيــنکس کــې د املاکــو بيــې هــم مــخ پــر ځــوړ وې. خلکــو پــه تيټــه بيــه کورونــه خرڅــول. مــا مــې ملگــري تــه وويــل چــې د ماشــومانو د زده کــړو لــه بــوديجې پيســې را واخلــه او دلتــه پــرې يــو کــور وپېــره. د هغــه دا نظــر خــوښ شــو او پــه دې اړه مــو سره ډېرې خبرې وکــړې. ستونزه يــې دا وه چــې بانــک کــې يــې د دويــم کــور پېرلــو لپــاره ســپما پيســې نــه درلــودې، ځکــه لــه مخکــې لا پــوروړوی و. مــا ډاډ ورکــړ چــې د جايــداد پېرلــو لپاره پر بانک سربېره نور وسايل هم شته.

دوه اونــۍ د خپلــې خوښــې کــور پســې وگرځېــدو، ډېــر زيــات کورونــه خرڅېــدل او مــوږ تــه د کــور لټولــو ســخت خونــد راکــاوه. اخــر مــو پــه يــوه ځــای کــې د درېيــو خونــو او دوو تشــنابونو کــور پيــدا کــړ، دا ځــای مــو خــوښ شــو. د کــور د خاونــد لاس تنــگ و، کــور يــې پــه همــدې ورځ خرڅــاوه،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځکه کالیفورنیا کې یې نوې دنده اخیستې وه، کډه یې ورسره وړله.

سړي په کور ۱۰۲٬۰۰۰ ډالر بیه ایښې وه، مور ورته ۷۹٬۰۰۰ ډالر وړاندیز وکړ، هغه دستي ومنله. په دې کور د بانک پور، هر څوک چې وي دا کور یې په اسانه اخیستی شو، زما ملګری ۷۲٬۰۰۰ پور په ځان ومانه او ۹۰۰۰ ډالر یې سړي ته نغد ورکړل. سړي چې څنګه کور خرخ کړ، زما ملګري په کرایه ورکړ او له ټولو لګښتونو پرته یې هره میاشت ۱۲۵ ډالره نغد عاید پیدا کړ.

پلان یې دا و چې دا کور به ۱۲ کاله ساتي او د میاشتې کرایه یې هم د ګروې په پور کې واچوله چې لږ لږ ترې کمېږي. مور چې حساب وکړ، په دولس کالو کې د ګروې ډېره برخه خلاصېده او د ده زوی چې پوهنتون پیلولای نو ممکن د دې کور عاید هم هره میاشت ۸۰۰ ډالرو ته پورته شوی وي.

درې کاله وروسته بیې لوړې شوې، په دې کور کې چې کوم سړی اوسېده، د هغه کور خوښ شو او د پېرلو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



وړانـدیز یـې ورتــه وکـړ، زمـا ملگـري ورتــه ۱۵٦٬۰۰۰ ډالـر بیه ویلې وه، مـا ورتـه وویـل چـې کـور خـرڅ کـړه، خـو پیسـې یـې مـه اخلــه، بلکــې د کــور لپــاره یــې د ۱۰۳۱ ( Tax Exchange Defred) فقــرې لـــه مخـــې وســـاته، د دې قـانون لـه مخـې کـه تـه نقـدې پیسـې یـوازې پـه دې خـاطر سـاتې چـې بـل جایـداد پـرې اخلـې، بیـا یـې مالیـه ځنـډول کېږي.

ناخاپـه سـړي ۸۰٬۰۰۰ ډالـر ترلاسـه کـړل او لـه دې پیسـو یې بل ځـای کـې کـار اخیسـتی شـو، مـا یـوه بـل ملگـري تـه زنـگ وواهـه، هغـه پـه تکـزاس کـې دغـه پیسـې د یـوه واړه زېرمتـون پـه جوړولـو بنـدې کـړې او پـه درېیـو میاشـتو کـې دننـه یـې تـرې هـره میاشـت څـه کـم ۱۰۰۰ ډالـره عایـد را پیل شو.

دا پیســې یــې ببرتــه د بچــو د زده کــړو لپــاره پــه گــډې پــانگوونې کــې اچــولې، دلتــه هــم بــازار ډېــر ښــه و. پــه ۱۹۹٦ز کـال کـې دا زېرمتـون وپلـورل شـو، لـه دې ځایـه یـې ۳۳۰٬۰۰۰ ډالـر ترلاسـه کـړل، دا یـې پـه یـوه بـل ځـای کـې بنـد کـړل او هیلـه کېـده چـې هـره میاشـت بـه تـرې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



۳۰۰۰ ډالر عايد ترلاسه کوي، ده پيسې د زده کړو لپاره په ګډه پانګوونه کې هم بندې کړې. دې ډاډه و چې د بچو د زده کړو لپاره به ۴۰٬۰۰۰ ډالر ډېر زر راټول شي او دا ټوله کيسه له ۷۰۰۰ ډالرو او لږ مالي استعداده پيدا شوې وه.

اوس به د هغه بچي زده کړې هم کوي او يوه شتمني هم ورته پاتې شوه چې د تقاعد وخت کې پرې تکيه کولای شي. د همدې بريالۍ مالي ستراتېژۍ په برکت به دا سړی له وخت وړاندې تقاعد واخلي.

له کتاب لوستو مو ډېره مننه، هيله ده په دې به پوه شوي ياست چې د پيسو قوت وکاروئ او ځان لپاره ترې ګټه واخلئ. نن سبا داسې وخت دی چې يوازې د ژوندي پاتې کېدو لپاره هم بايد مالي شعور ولرې. هغه پخوانۍ کيسه اوس زړه شوې چې پيسه پيسو ته ځي او په دې باور هماغه خلک باور لري چې نويو افکارو سره ستونزه لري. دا په دې مانا نه ده چې د دوی ګنې سر نه خلاصېږي، خو يوازې دومره ده چې د پيسو ګټلو په علم کې ډېر تکړه نه دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



پیسې مفکوره او که تاسې غواړئ پیسې وګټئ، نو د فکر ښه مو بدله کړئ.

هر چا چې هڅه کړې خپل برخلیک په خپله وټاکي، هغه ورو ورو پرمختګ کړی دی. په پانګوونه کې هم داسې ده. په پیل کې لږو پیسو ته اړتیا وي، وروسته همدا پیسې ډېرېږي. زه ډېر داسې خلک پېژنم چې ټول عمر پیسې سپموي او د لویو سوداګانو په تمه وي، خو دا فکر هسې حماقت دی. ما ډېر ځله داسې خلک لیدلي دي چې یوازې یوې برخې ته ناست وي او یانې ټولې هګۍ یې په یوه ټوکرۍ کې اېښې وي، خو بیا چې یوه چپه راغلې ټولې پیسې یې ورکې کړې دي. دې خلکو به ښه کار کړی و، خو دا ښه پانګوونه نه ده.

د پیسو په اړه پوهه او حکمت اړین دي. پیل زر وکړئ، کتاب واخلئ، سیمینار ته لاړ شئ، په لوبه کې عملاً برخه واخلئ او له لږو یې پیل کړئ. ما له ۵۰۰۰ ډالرو کاروبار پیل کړی و او په شپږو کالو کې مې یو میلیون ډالر وګټل، له دې به راته هره میاشت ۵۰۰۰ ډالر عاید راته. په کور کې مې له ماشومتوبه زده کړه پیل کړې وه،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



زه تاسې دې زده کړې ته ځکه رابولم چې ډېره سخته نه ده، څومره چې مخکې ځئ او تجربه کوئ، هومره به درته اسانېږي.

فکر کوم ما خپل پيغام بيخي واضح کړی دی، چې ستاسې په ذهن کې وي هماغه به مو لاس ته هم درځي. پيسې مفکوره ده. يو کتاب دی: (فکر وکړئ او شتمن شئ) داسې يې نه دي ويلي چې: (ډېر کار وکړئ او شتمن شئ.) دا زده کړئ چې پيسې ولرئ او هغه درته ډېر کار وکړي، بيا به مو «ژوند» «اسانه» او «خوشاله» وي. په «لوبه» کې ډېر احتياط مه کوئ، «ځيرکتيا» وکاروئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



## پیل یې کړئ!

ټول انسانان په دوو نعمتونو نازول شوي دي: ذهن او وخت. دا په تاسې پورې اړه لري چې له دې دواړو څنګه ګټه اخلئ. تاسې ته چې هر ډالر درځي، که وغواړئ خپل برخلیک پرې بدلولای شئ او که ونه غواړئ، فرصتونه بایللی او په مالي ستونزو کې ښکېل کېدلای شئ. که مو پیسې بې پامه مصرف کړې غریب کېږئ، که مو پرې د شتمنیو پر ځای پورونه واخیستل منځنۍ طبقې ته ځئ او که یې په شتمنیو ولګوئ، نو پیسې به درته را سر شي، بریا به وموموئ او له مالي ستونزو به خوندي شئ. پرېکړه ستاسې په لاس کې ده، تاسې چې د ورځې هر څومره ګټئ، دا مو شتمنولی هم شي، منځنۍ طبقې کې مو هم راوړی شي او غریبولی مو هم شي.

بچې هم په دې پوه کړئ او د راتلونکې لپاره ورته درس ورکړئ او د نړۍ په میدان کې لوبېدو ته یې وروزئ. بې تاسې یې بل څوک نشي- روزلای، ستاسې نننۍ پرېکړې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



د هغوی په راتلونکي اغېز کوي، په دې خاطر گامونه په احتياط اخلئ.

زه هيله لرم چې تاسې شتمن شئ، خوښي مو په برخه او ارمانونه مو پوره شه.

رابرټ کيوساکي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



# د لیکوال په اړه

رابـرټ کیوسـاکي د امریکـا پـه هـاوایي ایالـت کـې پیـدا شـوی او لـوی شـوی دی. د رابـرټ غورنیکـه لـه جاپانـه امریکـا تـه کـډه شـوی و. پـه هـاوایي ایالـت کـې یـې پلار د ښـوونې او روزنـې د اداري مشرـ و. رابـرټ لیسـه پـه خپلـه سـیمه کـې ولوسـته او د لـوړو زده کـړو لپـاره بیـا نیویـارک تـه لاړ. لـه زده کـړو وروسـته د امریکـا بحـري ځواکونـو کـې مقـرر شـو او د ویتنـام پـه جګـړه کـې یـې د جنګـي الـوتکې د پیلوټ په توګه برخه اخیستې وه.

رابـرټ چـې لـه جګـړې را سـتون شـو، کاروبـاري شخصـیت یـې پیـل شـو. پـه ۱۹۹۷ز کـال کـې یـې یـو شرکـت جـوړ او بـازار تـه یـې د نیلـون او ویلکـر (سرفـر) بټـوې واردې کـړې. وروسـته یـې بیـا کاروبـار پراخـه شـو او نړیوالـه بڼـه یـې خپلـه کړه.

پـه ۴۷ کلنـی کـې لـه کـاره ګوښـه شـو، اوس پـه خپلـه خوښـه او مینـه کـار کـوي. د شـتمنو او غریبـو خلکـو تـر منـځ واټـن تـه یـې اندېښـنه لرلـه او پـه دې خـاطر یـې د (کـېش

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



فلو) په نوم یوه لوبه جوړه کړه، په دې لوبه کې خلکو ته د پیسو ګټل ورښودل کېږي. البته پخوا یوازې شتمن خلک په دې پوهېدل.

که څه هم د رابرټ کار دا و چې د املاکو په برخه کې یې، په لږې پانګې لوی شرکت رامنځته کړ، خو اصلي مینه یې له ښوونې او روزنې سره وه. دی له ډېرو سترو خلکو مثلاً اوګ ماندیون، زیګ زیګلار، انتوني رابینز او نورو ... سره د خبرو په تریبون کې ناست دی او ویناوې یې کړې دي. د رابرټ کیوساکي پیغام بیخي واضح دی: (د خپل ځان مسئولیت واخله یا تر اخره د نورو په امر روان اوسه، یا به د پیسو بادار یې یا د پیسو غلام.)

د رابرټ ښوونیز ټولګي له یوه ساعته تر درې ورځو دوام کوي او په ټولو کې د شتمنۍ په راز غږېږي. رابرټ ټولو خلکو ته د مالي نبوغ د ویښتیا پیغام ورکوي او وایي چې تا نبوغ او استعداد په تاسې هر یوه کې شته، خو یوازې را ویښول غواړي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner

Downloaded By: Afghan Salar Library



مشـهور وینـاوال انتـوني رابېنـز د رابـرټ د کـار په اړه وايـي:

(د ښـوونې او روزنــې پـه برخــه کــې د رابــرټ کــار ډېـر ژور، قــوي او ژونــد بــدلوونکی دی، زه يــې د هڅــو او سپارښــتنو درناوی کوم.)

پــای

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Scanned by CamScanner